Maktaba Tul Ishaat. com

النحو في الكلام كالملح في الطعام

# اغراض الجامي

## پښتو شرحه د ملا جامي

(کامله معرب)

افادات:
شیخ عطاء الرّحمن مدظله العالی
صدر مدرس تعلیم القرآن باړه گیټ پشاور

مرتب:
مولانا وحید اللّٰه حقانی
مدرس تعلیم القرآن باړه گیټ پشاور

جدید مکتبہ رشیدیہ
قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور
091-2580074

www Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat. com



به منصرف وي.

**وبيان ذالك:** سره اتم غرض بيان دقاعدي كليه. قاعده بناء ده په دي خبره چي مونږ به دا څرنګه معلومه وو چي علتين پکښی يو پاتی دي يا يو هم نشته او يا دواړه شته، قاعده داده چي علميت دسبب آخر دپاره شرط وی نو اسم به منصرف ګرځی په دخول دالف لام او اضافت سره ځکه علميت به هم ختم شی او مشروط به هم اسم به بلا سببه پاتی شی، لکه ابراهيم او که چيرته علميت سبب وو لکه په احمد کښی نو په لام او اضافت سره به صرف علميت ختم شی، نو اسم به علی سبب واحد پاتی شی، نو منصرف به شی، او که دغه اسم کښی علميت نه وو نو علتان به دواړه باقی وي لکه په احمد کښی يو وصفيت دي اوبل وزن فعل دي، نو دغه اسم به غير منصرف وی.

**وهذا القول انسب:** سره بيان دماهو الراجح کوی کوم چي نهم غرض وو، دا آخري مذهب راجح دي ځکه مصنف هم دغير منصرف دا تعريف کړي چي ما فيه علتان.

## بيان د مرفوعاتو

هرکله چي فارغ شو مصنف دبيان دمنصرف او غير منصرف نه نو شروع ئی اوکړه په مرفوعاتو کښی، چونکه مرفوعات منصوبات اومجرورات دا احوال دي، دکلمی او کلمه ذات دي نو بيان دکلمی ئی اوکړو اوس ئی احوال ذکر کوی او مرفوعات ئی په احوالو کښی مقدم کړو، ځکه دا عمده دي او عمده اولیٰ بالتقديم وي، دويمه خبره ترکيب:

**المرفوعات** دا مرفوع دي ځکه دا خبر دي دمبتداء محذوفی لپاره چي هذه دي او يا دا مبتدا او خبر ئی محذوف دي چي المرفوعات هذه. اوس بهر حال مبتدا او خبر دواړه معرفه دي او مبتدا او خبر چي دواړه معرفه وی نو مفيد دحصر وی اوس حصر به دچا په چا پوري راځی دي کښی دوه مذهبه دي، اول مذهب دادي چي حصر په دواړو کښی راتلی شی خو چي قرينه وي لکه زيد المنطلق اوس دلته انحصار دزيد راغلی چي مبتدا ده په انطلاق کښی ځکه چي دلته تعين دزيد کوی چي مراد هغه مسافر زيد دي، او په المنطلق زيد کښی حصر دانطلاق راغلی چي خبر دي په زيد کښی چي مسافر څوك دي. زيد دي او دويم مذهب دادي چي دواړه کلمي معرفه وی نو چي کوم

Maktaba Tul Ishaat. com



یو معرف باللام وی نوهغه به محصور وی اوس دلته هذه المرفوعات کښی انحصار د مرفوعات راغلی په هذه کښی چی مرفوعات صرف هم دادي، خو دا مذهب ضعیف دي ځکه مرفوعات خو نور هم شته او دائی اکثر استعمالاً او مشهور دي، دریم ترکیب چی المرفوعات مبتدا او ما اشتمل علی علم الفاعلیة ورلره خبر دي، پنځم ترکیب دادي چی دا المرفوعات دا نائب فاعل دي دفعل مقدر دپاره چی یبحث یا یبین دي، دریم خبره داده چی المرفوعات ئی معرفه راوړو او مخکښی ئی فالرفع علم الفاعلیة معرفه راوړي وه او قاعده داده چی معرفه معاد شی معرفه نو ثانی عین اولی وي، نو مطلب دادي چی مرفوعات نه هغه مرفوع مراد دي چی کوم درته ما مخکښی وویل.

## بیان دِ یوی قاعدی کلیی

**جمع المرفوع لا لمرفوعة:** سره یو غرض دفع داعتراض او دویم غرض بیان دقاعدي کلیه، **اعتراض:** مرفوعات دا جمع د مرفوع ده او که دمرفوعةٍ که جمع دمرفوع وی نو دمذکر جمع خو په الف او تاء سره نه راځی او که دمرفوعةٍ جمع وی نو مطابقت بین الصفة والموصوف نه راځی ځکه مرفوعةٍ دا صفت داسم دي او اسم مذکر دي؟ **جواب:** داجمع دمرفوع ده او جمع ئی په الف او تاء سره ځکه راوړه چی دا صفت داسم دي او اسم مذکر لا یعقل وی نو مشابهت ئی دمونث سره راغلو.

**ویجمع هذه الجمع:** سره دویم غرض بیان دقاعدي کلیه، قاعده داده چی داسم صفت چی دمذکر لا یعقل صفت وی نو جمع ئی په الف او تاء سره راځی مثلاً صافنات دا جمع د صافن ده او صافن صفت دفرس دي او فرس دا مذکر لا یعقل دي. همدارنګه دجمل جمع جمال راځی او صفت ئی سجلات راځی ځکه چی جمل دامذکر لا یعقل دي او همدارنګه دایام صفت خالیاتٍ راغلی، ځکه ایام دیوم جمع ده او یوم مذکر غیر عاقل دي.

**په کالایام باندي اعتراض:** جمال دا عطف دي په صافنات باندي نو دکاف لاندي راغلو او کالایام عطف دي په صافنات باندي دکاف لاندي راغلو نو په کالایام کښی دویم کاف راوړلو ته څه ضرورت وو؟ **جواب:** دا عطف دي په کالصافنات باندي نو دکاف لاندي رانغلو، او دا دپاره دفرق په مابین دیوم کښی او دنورو مثالونو کښی

Maktaba Tul Ishaat. com



ځکه هغه مخکښې مثالونو د ذو الروح دي او دا وروسته مثال دغير ذوي الروح دي.

**وهو اى المرفوع**: يو غرض تعين دضمير او غرض پکښې دفع اعتراض،

**اعتراض**: هو ضمير مرفوعات ته راجع دي او که مرفوع ته. که مرفوعات ته راجع وى نو يو نقصان دا لازميږي چې مطابقت په مابين دراجع او دمرجع کښې نه راځي ، او دويم نقصان دا راځي چې مرفوعات خو افراد دي نو لازم به شي تعريف دا افرادو او تعريف خو دماهيت کيږي نه دافرادو، او که ضمير راجع شي مرفوع ته يعنى خاص مرفوع ته نو اضمار قبل الذکر لازميږي او که مطلق مرفوع ته راجع شي نو مطلق مرفوع خو هم مخکښې ندي ذکر؟ **جواب**: ضمير خاص مرفوع ته راجع دي او اضمار قبل الذکر هم نه راځي ، ځکه مرفوع دا په ضمن دمرفوعات کښې ذکر دي، دقبيلي د دلالت دجمع نه په جنس باندي،

**لان التعريف**: سره دويم غرض چې دفع داعتراض ده . **اعتراض**: هو ضمير دي رواړو او مرفوع ته دي راجع کړو کوم چې ضمناً ذکر دي (هى) ضمير به دي راړوي وى چې مرفوعات ته راجع شوي دي کوم چې صراحتاً ذکر دي؟ **جواب**: تعريف دفرد په فرد سره نشي کيدي لکه زيد ما هو او ته په جواب يا تعريف کښې ورته عمرو اووائى. ځکه چې دا معرِف به يا عين معرَف وى او يا غير معرَف ، که عين معرف وى نو تعريف دشى راځي په خپل نفس سره او که غير معرف وايي نو تعريف دشى راځي بالمباين ، او تعريف بالمباين هم ندي جائز ځکه معرِف حمل وى په معرَف او حمل دمباين په بل مباين دا نه صحيح کيږي دغه شان تعريف دماهيت په فرد سره هم نه کيږي لکه الانسان ما هو او جواب ورکوى په زيد سره د زيد ځکه تعريف جامع نه ګرځى خپلو لره ځکه انسان لره خو نور افراد هم شته، او دغه شان تعريف دفرد هم په ماهيت سره نه کيږي ځکه تعريف بيا مانع نه ګرځي ، دخول دغير لره لکه تعريف دزيد اوکړي په انسان سره نو انسان عمرو او بکر ته هم وائى، نو تعريف يواځې دماهيت کيږي په ماهيت سره ، لکه تعريف دانسان اوکړي په حيوان ناطق سره، اوس هغه اعتراض پري وارديږي چې معرَف او معرِف عين وائى او که غير وائى.

که عين ئې وائى نو تعريف دشى راځي په خپل نفس سره او که غير ئې وائى نو

Maktaba Tul Ishaat. com



تعریف بالمباین راځی ، ؟ **جواب:** دمعرف او دمعرف په مابین کښې تساوي بحسب المصداق وی یعنی په خارج کښې مصداق یو وي اوتغایر پکښې بحسب المفهوم وی یعنی مفهوم کښې سره مغایر وی لکه دانسان مفهوم دي حیوان ناطق او دحیوان مفهوم دي جسم نام حساس متحرك بالاراده ،او دناطق مفهوم دي مدرك الکلیات والجزئیات ، نو چې بحسب المفهوم پکښې تغیر راغلو نو تعریف دشي په خپل نفس سره رانغلو او چې بحسب المصداق پکښې تساوي راغلو نو تعریف بالمباین نه شو، **ما اشتمل ای اسم:** یو غرض تعین د (ما) کوی چې ما موصوفه او مراد ترینه اسم دي، او غرض پکښې دفع داعتراض ده، (ما) عبارت دي دشی نه، نو تعریف دي مانع نشو دخول دغیر لره داخل شو، پکښې متکلم او یا فم (زبان) دمتکلم ځکه هغه هم مشتمل وي په علم د فاعلیت ؟ **جواب:** (ما) عبارت دي داسم نه.

**ای علامة کون الاسم فاعلاً:** اول تعین دیا تاء مصدري، دویم تعین دعلامو، دریم تعین داستعمال، څلورم دفع اعتراض، پنځم رد په شارح هندي: اول خبره: ای علامة کون الاسم فاعلاً سره اول غرض اوشو،چې یا تاء هغې ته وائی چې کرځوی خپل ملحق به لره خبر دپاره د(کان) محذوفه سره داسم محذوفه نه،

**وهی الضمة والواو والالف:** سره دویم غرض ضمه راځی په مفرد او جمع مکسره منصرف او واو راځی په اسماء ستهٔ کښې او په جموعو کښې او الف راځی په تثنیو کښې

**والمراد باشتمال الاسم:** سره دریم غرض، اشتمال دیته وائی چې اشتمال د کل وی په جزء او بل اشتمال دصفت دي په موصوف او دلته مراد اشتمال دصفت دي په موصوف باندي

**لفظاً او تقدیراً او محلاً:** سره څلورم غرض : **اعتراض:** هلکه تا وویل چې رفع علامه دفاعل ده زه به درته وښایم چې فاعل به وي او رفع به نه وي لکه : قام هٰؤلاء ؟ **جواب:** رفع عامه ده لفظاً وی او که تقدیراً او که محلاً وی . **ولا شک:** سره پنځم غرض رد په شارح هندي، شارح هندي وائی چې رفع په مبنیاتو کښې نه راځی نو شارح پري رد وکړو چې ته معنی درفع محلی نه پیژنی رفع محلی دیته وایي چې اسم مبنی په داسي ځاي کښې واقع شی چې که دغلته معرب اسم وی نو خامخا به پري یو نوع داعراب راغلی وی یا لفظاً او یا تقدیراً اوس چې دامبنی اسم راغلو نو همدا به مرفوع

Maktaba Tul Ishaat. com



محلاً وی او دویمه وجه داده چی وروسته نحاة بحث کوی داحوال هغه فاعل نه چی ضمیر متصل واقع وی نو ضمیر خود مبنیا توڅخه دي که چیرته رفع محلی نه راتللی نو ضمیر به بیا فاعل نه واقع کیدلو، فکیف کښی کیف دپاره داستفهام انکار دي.

**فمنه**: فا تفصیلیه ده او من ابتدائیه ده او من تبعیضی نه ده ځکه من تبعیضی داخلیږي په جمع لکه ( اخذت من الدراهم ) او دلته په مفرد داخل شویدي بعض علماء وائی چی ( من ) تبعیضی دي ځکه چی په منها المبتدا کښی من تبعیضی دي نو هلکه چی من تبعیضی شی نو هغه خو داخلیږي په جمع او مرفوع خو جمع نه ده نو دوي وائی چی مرفوع دا خو جنس دي او په جنس کښی معنی دجمع وی چی هغه تکثر دي خو دا خبره ددوي کمزوي ده ځکه په جنس کښی معنی دجمع وی نو په فرد کښی هم جنس وي نو په فرد کښی به هم تکثر وي اوبل دوي وائی چی من تبعیضی ځکه دي چی موافقت راشی دمنها المبتدا سره نو مونږ وایو چی موافقت ضروري ندي اوس چی من ابتدائی شو بغیر د آلی څخه وی لکه دلته او دیته من ابتدائی اتصالی وائی اویو سره دآلی نه وی او دیته من ابتدائی انفصالی وایی نو دي سره دفع داعتراض هم اوشوه چی هلکه من ابتدائی شو نو آلی کوم دي نوجواب دادي چی من دا اتصالی دي.

**فمنه**: یو غرض تعین دضمیر او دویم ذکر داحتمالین: اول غرض او دویم په یو ځائی کیږي ضمیر یا راجع دي مرفوع ته اویا ما اشتمل علی علم الفاعلیة ته او په دواړو کښی قبح او حسن شته که راجع شی مرفوع ته نو یوه قبحه پکښی داده چی ضمیر بعید ته راجع شو او دویمه قبح پکښی داده چی غیر صریحی ته راجع شو او حسن پکښی دادي چی مقصود ته راجع شو او که ما اشتمل علی علم الفاعلیة ته راجع شی نو حسن پکښی دادي چی قریب او صریح ته به راجع شی او قبح پکښی داده چی غیر مقصود ته به راجع شی.

**وانما قدمه**: یو غرض دفع داعتراض، دویم اختلاف ته پکښی اشاره، دریم دلیل: اول غرض: **اعتراض**: تا دخپل اصل نه مخالفت ولی کړي چی جار الله زمخشري دي هغه مبتدا مخکښی کړي او تا فاعل: ؟ **جواب**: ځکه چی دا اصل دمرفوعات دي عند الجمهور لانه اصل المرفوعات صغري ده او اصل مقدم وی داکبری نتیجه دا شوه

Maktaba Tul Ishaat. com



چې ځکه مو فاعل مقدم کړو کبرئ خو مسلمه ده چې اصل مقدم وی او صغري لپاره دليل چې لانه جزء جملة الفعلية او جمله فعلية دا اصل ده او دا ځکه چې دوه نوعې دي يو خبر اوبل انشاء او دا دواړه په جملة فعليه کښې راځې او جمله اسميه کښې صرف خبر راځې ، دويمه وجه داده چې جملة اسميه جوړيده دجمله فعلي څخه لکه وروسته به درته راشي چې سلام عليك جوړ دي دسلمت سلاماً عليك څخه دريمه وجه داده چې جملة فعليه کښې جزئين وی او حذف د احدهما ندي جائز او په جملة اسميه کښې جزئين وي خو حذف د احدهما جائز دي،

**ولان عامله**: سره دويم دليل ذکر کوی چې فاعل عامل دا اقوی دي ځکه لفظي دي او عامل دمبتدا معنوی وي. **وقيل**: سره دويم مذهب ذکر کوی چې دجار الله زمخشری دي دي وائی چې اصل په مرفوعاتو کښې مبتدا ده اول دليل دادي چې فاعل او مبتدا مسند اليه دي او اصل په مسند اليه کښې تقديم وی او مبتداء په خپل اصل پاتی دی چې هغه تقديم دي ، بل دليل دا چې په مبتدا باندي حکم په مشتق او جامد دواړو سره کولی شی او په فاعل باندي حکم يواځې په مشتق سره کولی شی نو اول غرض دويم او دريم ټول وشو خو دا دويم مذهب ضعيف دي د دوه وجهو نه اول وجه دا ده چې مصنف د په قيل سره ذکر کړي او بل دا چې په مقابله کښې ئې جمهور دي اوس چې ضعيف شو نو ددوي د اول دليل نه جواب دا کوو چې فاعل هم په خپل اصل باندي پاتی دي خو مونږ دعذر له وجهې نه وروسته کړو چې هغه التباس دفاعل دي په صورت دتقديم کښې دمبتدا سره او دويم دليل نه دا جواب کوو چې په فاعل باندي هم په مشتق او جامد دواړو سره حکم کولی شی مشتق سره خو ظاهر دي او دجامد مثال لکه افعال مدح او ذم سره لکه نعم زيد نعم فعل دي او جامد دي او ساء عمرو.

## د فاعل تعريف

**وهو ای الفاعل**: دي ځاي نه تعريف دفاعل کوی يو فاعل لغوی او بل فاعل اصطلاحی ، فاعل لغوی وائی ما صدر عنه فعل ته لکه مات زيد قائماً دلته فاعل لغوی هغه زيد نه دي، ځکه دمات فاعل هغه خو الله ﷻ دي، اوبل فاعل اصطلاحی دي، مصنف تعريف دفاعل اصطلاحی کوي نه دفاعل لغوی، وهو سره تعين دضمير

Maktaba Tul Ishaat. com



کوی چی فاعل ته راجع دي.

**ما ای اسم حقیقة او حکماً:** یو غرض تعریف د (ما) کوی چی ما موصوفة ده او دۀ ترینه تعبیر په اسم سره کړي، نو اعتراض پرې واردیږي چې ما موصوفة نه خو تعبیر په شیئٌ سره کولی شی، نو جواب دادي چی ده ترینه تعبیر په اسمٌ سره اوکړو، دپاره دقصر مسافت دویم غرض دفع اعتراض: **اعتراض:** ته وائی چی فاعل دا هغه اسم دي زه به درته اوښایم چی فاعل به وي او اسم به نه وی، لکه اعجبنی ان ضربت زیدا اعجبنی فعل مفعول به او ان ضربت زیداً دا جمله فعلیه فاعل واقع شوي اواسم نه دي،؟ **جواب:** دا اسم عام دي حقیقتاً وی او که حکماً، حکماً هغه دي چی په تاویل دمصدر سره وي.

**اسند الیه الفعل بالاصلة:** اول دفع اعتراض، دویم تعمیم، دریم دفع اعتراض، اول غرض: زه به درته وښایم چی اسناد فعل به ورته شوي وي او فاعل به ورته څوك نه وائی لکه ضرب زید وعمر، دضرب نسبت عمرو ته هم شوي دي، لکه څرنګه چی زید ته وشوي دي او دیته څوك فاعل نه وائی،؟ **جواب:** دا اسناد دفعل به دغه فاعل ته اصالةً شوي وي او دلته خو عمرو ته اسناد ضرب شوي دي خو په تبع دزید کښی یعنی دا عطف دي په زید.

**وكذا المراد فی جمیع حدود المرفوعات الخ...** سره دویم غرض تعمیم یعنی لکه څرنګه چی شرط په فاعل کښی هغه اسناد اصالةً معتبر دي دا رنګی په منصوباتو او مجروراتو کښی هم لکه ضرب زید عمرو او بکراً دلته دوقوع دفعل نسبت چی څرنګه عمرو ته شوي دا رنګی بکر ته هم شوي او سره ددینه څوك بکر ته مفعول نه وائی ځکه نسبت دوقوع دفعل ورته اصالةً شوي، او همدارنګه په مجروراتو لکه مررت بزید وعمرو کښی عمرو ته څوك مجرور نه وائی بلکه معطوفٌ ئی ورته وویلی.

**بقرینه ذکر التوابع:** سره دریم غرض: چی باالاصالة قید معتبر وو، خو ذکر کړي به دي وی. **جواب:** مونږ ځکه دا قید ذکر نه کړو چی وروسته توابع ذکر دي، که چیرته توابع دلته مراد وی نو وروسته به ئی بیا نۀ ذکر کول.

Maktaba Tul Ishaat. com



## د فاعل اقسام

**او شبهه ای ما یشبهه الخ**... دلته او دپاره دتشکیك ندي بلکه دپاره دتنویع دي چې فاعل په دوه قسمه دي، یو هغه چې عامل فعل وی او دویم هغه چې عامل ئې شبه فعل وی، ای ما یشبهه سره غرض دمصنف ما فیه شبهه ذکر کوی چې مشابه دفعل نه مراد مشابه فی العمل دي، وانما قال: سره مصنف فائده داو شبهه ذکر کوی چې فائده ئې داده چې شامل شي تعریف دفاعل، فاعل داسم فاعل دصفت مشبه او مصدر او اسم فعل او داسم تفضیل او ظرف ته.

**وقدم**: دا دویم قید دفاعل دي، اول غرض تعین دضمیر او غرض پکښې دفع داعتراض، **اعتراض**: دادي چې ضمیر په قدم کښې فعل ته که راجع وی نو شبه فعل پاتې شواو که شبه فعل ته راجع وی نو فعل پاتې شو او که دواړو ته راجع وی نو مطابقت نه راځی بین الراجع المرجع. **جواب**: خلاصه دجواب داده چې ضمیر فعل ته راجع دي او شبه فعل پري عطف دي، او بعضو دا وئیلی دي چې اسند الیه ته راجع دي نو فعل او شبه فعل پکښې دواړه راغلل، **علیه**: اول تعین دضمیر، دویم فائده، دریم دفع داعتراض، څلورم هم دفع داعتراض، پنځم، جواب.

**ای علی ذالك الاسم**: سره اول غرض اوشو چې ضمیر اسم ته راجع دي، **واحترزبه الخ**... سره دویم غرض فائده، فائده د قدم علیه دقید ضمیر زید ته راجع نه دي او اسناد د فعل هغه ضمیر ته شوي دي او اسناد ضمیر دشی ته دا اسناد وی په حقیقت کښې عین هغه شي ته نو ځکه ورته فاعل نه وایو چې دا قید پکښې نشته،

**والمراد تقدیمه علیه وجوباً**: سره دریم غرض دفع اعتراض، په دي ترکیب کښې چې کریم من یکرمك دي، کریم اسم فاعل دي او مقدم دي او اسناد یي من یکرمك ته شوي دي پکارده چې ده ته شبه فعل اووئیلی شي، او دي جملې ته جمله فعلیه خبریه او سره ددیته چې کریم ته خلق خبر مقدم وائی ؟ **جواب**: مونږ وایو چې دتقدیم نه مراد هغه تقدیم دفعل وشبه فعل دي، وجوباً او دلته کریم وجوباً مقدم ندي ځکه که چیرته وجوباً مقدم وي نو په تاخیر سره به په معنی کښې فساد راتلی او دلته فساد نه راځی، من یکرمك کریم هم وئیلی شي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فان قلت**: سره څلورم غرض **اعتراض**: زه به درته اوښایم چې شبه فعل به وي او اسناد به ئې هم اسم ته شوي وی او واجب التقدیم به وي. او څوک به ورته شبه فعل نه وائی. لکه فی الدار رجل کښې فی الدار ظرف دي او واجب التقدیم دي؟ **جواب**: مراد تقدیم نه تقدیم دنوع دما اسند الیه دي، نه خاص تقدیم چې هغه نکارت دمبتدا دي او دا خو په ټوله نوعه دخبر کښې نه جاري کیږي.

**علی جهة قیامه ای اسنادا واقعاً**: اول غرض تعین دمتعلق او غرض پکښې دفع اعتراض، دویم محل دجملې، دریم معنی د جهت، څلورم تعین دضمیر دقیامه. پنځم دفع داعتراض، **ای اسنادا واقعاً**: سره اول غرض اعتراض، **اعتراض**: علی جهة قیامه په قدم علیه پوري متعلق دي او که ما اسند پوري. که قدم پوري متعلق وی نو دوه نقصانه لازمیږي. اول دا چې قدم به متعلق شی او قاعده په متعلق کښې داده چې کله وی او کله نه وی لکه زید فی زید فی الدار نو زید متعلق دي نو زید به کله وی په کور کښې او کله به نه وي، نو اوس په قدم کښې به معنی داسي شی چې کله به تقدیم دفعل او شبه فعل وی او کله به نه وي او دویم نقصان به دا لازم شی چې یو متعلق هغه علیه دي او دویم به علی جهة قیامه شی نو لازم به شی تعلق دمتعلقینو په متعلق واحده پوري بغیر دعاطف نه او که علی جهة قیامه متعلق شی په ما اسند پوري نو د اسند په صله کښې علی نه راځی بلکه الی راځی؟ **جواب**: دا د دواړو پوري متعلق نه دي بلکه په واقعاً پوري متعلق دي.

**اسناداً واقعاً**: سره دویم غرض : علی جهة قیامه دا په اعتبار دمتعلق سره مفعول مطلق واقع شوي دي، د اسند دپاره نو اسند خو مشتمل دي په اسناد باندي نه په واقعاً نو جواب دادي چې واقعاً مفعول مطلق دي خو په اعتبار د موصوف محذوفه سره تقدیر داسي دي چې اسند اسناداً واقعاً نو اسناداً موصوف حذف شو او صفت قائم مقام دهغې شو او شی چې قائمقام شی په ځائی دغیر نو هغه لره حکم دغیر وی نو اسناداً مفعول مطلق وونو واقعاً هم مفعول مطلق شو.

**علی طریقة**: سره دریم غرض معنی دجهت ده. **اعتراض**: ستا دجهت نه کوم جهت مراد دي، آیا جهت لغوی چې امام، خلف، تحت، فوق، یمین، دي او که جهت

Maktaba Tul Ishaat. com



درياضي والامراد دي چې هغه نقطه او خط دي او که جهت منطقي دي مراد دي چې هغه دوام او ضرورت او لادوام او لاضرورت دی ؟ **جواب**: مراد دجهت نه زما طريقه مراد ده نه هغه چې کوم تا ووئيل.

**قيام الفعل اوشبهه**: سره څلورم غرض دي چې ضمير فعل شبه فعل ته راجع دي او پنځم غرض هم اوشو چې هم دغه زوړ اعتراض او جواب دي **به**: اول تعين دمتعلق دبه، دويم طريقه دقيام، دريم فائده دقيد، څلورم اشاره اختلاف ته، پنځم دفع داعتراض، **اى بالفاعل**: سره اول غرض اوشو چې متعلق دبه هغه فاعل دي، **فطريق قيامه**: سره دويم غرض طريقة دقيام داده چې دافعل به يا په صيغه معلوم سره وى او يا په حکم دصيغي د معلوم لکه اسم فاعل او صفت مشبه واحترز بهذاالقيد. سره دريم غرض چې فائده دقيد على جهة قيامه داده چې دا (به) مفعول مالم يسم فاعل نه وى يعنى په صيغه دمجهول سره به نه وي لکه ضُرِبَ زيدٌ.

**والاحتياج الى هذا القيد**: سره څلورم غرض چې اختلاف دي په نائب فاعل کښى اختلاف دادي چې مصنف نائب فاعل او فاعل ځانته ځانته قسمين ګرځولى دي، او جار الله زمخشري دواړه يو قسم ګرځولى دي، او دي سره دفع داعتراض هم اوشوه ستا کتاب ماخوذ دي دجار الله زمخشري نه هغه دا قيد چې على جهة قيامه به دي نه دي لګولى او تا راوړى دي ولى ؟ **جواب**: دي وائى دا ځکه چې زما غرض او دهغه غرض کښى فرق دي زما په نزد فاعل او نائب فاعل جدا قسمين دي او هغه نائب فاعل عين فاعل ګرځولى دي

**مثل قام زيد. اى زيد فى قام زيد، وابوه فى زيد قائم ابوه**: شارح ابوه راوړو او زيد ئې راوړو دپاره ددفع دتوهم چې خلق دا وهم او نه کړي چې فاعل په مجموعى دقام زيد ته او يا مجموعى د زيد قائم ابوه ته وائى. **اعتراض**: توضيح دممثل دپاره يو مثال کافى دي تا دوه ولى راوړل ؟ **جواب**: اول مثال دفعل دي او دويم مثال دشبه فعل دي. **والاصل ان يلى الفعل**: هر کله چې فارغ شو مصنف دتعريف دفاعل نه نو شروع ئې اوکړه په يو څو قواعدو دفاعل کښى اوله قاعده داده چې دا فاعل به فعل ته نزدي وى.

**والاصل فى الفاعل**: اول غرض تعين دالف لام اوغرض پکښى دفع داعتراض ده،

Maktaba Tul Ishaat. com



دویم معنی داصل ، دریم دفع اعتراض ، اول خبره :الف لام په الاصل کښې یا عهدي دي معهودپه دي سره اصل دفاعل دي او یا عوض دي دمضاف الیه نه تقدیر داسي وو چې اصل الفاعل نو مضاف الیه حذف شو او دهغه عوض کښې الف لام په مضاف راوړلی شو، او په دي سره دفع داعتراض هم اوشوه چې الاصل مبتدا ده او ان یلی الفعل ورلره خبر دي او خبر حمل په مبتدا باندي او دلته حمل نه صحیح کیږي ځکه حمل د خاص راځی په عام باندي الاصل عام دي ځکه دا پته نشته چې د چا اصل دي، او خبر خاص دي نو **جواب**: اوشو چې اصل دفاعل مراد دي نو مبتدا هم خاص وو حمل صحیح شو،

**ای ما ینبغی الخ**... سره دریم غرض اعتراض : **اعتراض**: اصل په لغت کښې ما یبتنی علیه غیره ته وائی او په اصطلاح کښې دقاعدي دلیل راجح او اسصحاب الحال په معنی سره راځی ستا کوم مراد دي؟ **جواب**: مراد زمونږ د اصل نه راجح دي، **ان لم یمنع مانع**: سره دریم غرض **اعترض**: تا وئیل چې اصل په فاعل کښې داده چې دا به نزدي وی فعل ته زه به درته اوښایم چې تقدیم دمفعول به واجب وی لکه ضربك زیداً ؟ **جواب**: مونږ خو دا وئیلی ووچې مانه شوي که مونږ فاعل مقدم کړو نو متصل نه به منفصل جوړ شی،

**ان یلی الفعل**: اول اعتراض ږ دویم معنی دلیل ، دریم دلیل ، څلورم دلیل للدلیل ، اول خبره **المسند الیه**: سره اول غرض دفع داعتراض **اعتراض**: تا وئیل چې الا صل فی الفاعل ان یلی الفعل نو دغه رنګه قاعده خو په شبه فعل کښې هم ده هغه دي ولې ذکر نه کړو؟ **جواب**: مراد د فعل نه مسند دي بیا مسند عام دي فعل وی او که شبه فعل . **ای یکون بعده**: سره دویم غرض معنی د یلی ملا صاحب د (یلی) خو یوه معنی داده چې اول فعل وی او وروسي فاعل وی او دویمه دا چې اول فاعل وی او وروسی فعل وی ستا کومه یوه مراد ده، ؟ **جواب**: زما اوله معنی چې اول فعل او روپسي فاعل وی مراد ده .

**لا نه کا الجزء من الفعل**: سره دریم غرض دلیل ذکر کوی، چې دا به ولی نزدي وی ځکه چې فاعل پشان دجزء دي، دفعل نه په شدة احتیاج کښې چې دفعل فاعل ته احتیاج کښې چې دفعل فاعل ته احتیاج چې څرنګه دفعل فاعل ته وی دغه رنګه مفعول ته هم وی ؟ **جواب**: احتیاج په دوه قسمه دي یو په نفس الامر کښې او بل په تعقل

Maktaba Tul Ishaat. com



کښې په نفس الامر کښې اګر چې شته خو لیکن په تعقل کښې احتیاج ورلره نشته. **ویدل علی ذالک:** سره څلورم غرض ذکر کوی چې دلیل دپاره د دلیل چې فاعل ولې جزء دي دفعل نه، دي وائی څکه چې سکون د لام دلالت کوی په ضربتُ کښې په جزئیت باندي دپاره د دي چې توالي داربع حرکاتو را نشی په هغه ځائی کښې چې هغه په منزله د یوی کاسي دي.

**فلذالک ای الاصل الذی الخ**... اول تعین دمشار الیه کوی چې دهغه اصل دوجی نه چې فاعل دهغې دوجی نه تقاضا د تقدیم کوی په ټولو معمولاتو دفعل باندي. جاز ضرب غلامه زیدٌ : مراد په دي سره هر هغه ترکیب دي چې اتصال دضمیر دفاعل راغلی وی، په مفعول پوري او فاعل موخر وی. **لتقدم مرجع الضمیر**: سره دلیل دجواز ذکر کوی دا ترکیب څکه جائز دي چې دفاعل اګرچې لفظاً موخر دي خو مرتبةً مقدم دي نو اضمار قبل الذکر نه راځی ، وامتنع ضرب غلامه زیدا. مراد په دي سره هر هغه ترکیب دي چې اتصال دضمیر دمفعول راغلی وي په فاعل پوري او مفعول مواخر وی، او ل دلیل دامتناع دویم بیان داختلاف ، دریم دلیل دمخالف ، څلورم جواب: **لتاخر مرجع الضمیر**: سره اول غرض دلیل دامتناع ، څکه داترکیب ممتنع دي چې مرجع دضمیر چې مفعول دي موخر دي، هم لفظاً او هم رتبةً نو لازم شو اضمار قبل الذکر ،

**خلافا للاخفش**: سره دویم بیان داختلاف ، امام اخفش او ابن جنی دوي وائی چې څرنګه دفعل ضرورت وی فاعل ته دا رنګه ئی ضرورت مفعول ته هم وی، نو د فاعل صورت کښې اضمار قبل الذکر جائز وو، نو په مفعول کښې هم اضمارقبل الذکر جائز دي، او ددوي دپاره یو دلیل دغه عقلی دلیل وو او دوه دلائل نقلیه وائی او هغه دادي **ومستندهما ذلک** : سره دلیل دمخالف ، دوي دلیل دا شعر وائی چې (**جزي ربه عنی عدي ابن حاتم. جزی الکلاب العاویات وقد فعل** )دي شعر کښې جزي دا فعل دي رب دا فعال دي او (ه) ضمیر ته چې عدي ابن حاتم دي راجع دي . او سدا شعر دوي وائی چې هغه فصیح وو او سره ددیته داسی ئی کړي دي، او دویم ئی دا شعر دي،

**لما عصا اصحابه مصعباً . ادی الیه الکیل صاعاً بصاع**: عصا فعل او اصحابه فاعل او (ه) ضمیر دا مفعول ته چې مصعباً دي راجع دي نواضمار قبل الذکر راغلو.

Maktaba Tul Ishaat. com



## د احتیاج اقسام

**واجیب**: سره څلورم غرض جواب : دلیل عقلي نه خارجی جواب کوو چی احتیاج علی قسمین دي یو په نفس الامر کښی او بل په تعقل کښی، احتیاج په تعقل کښی فاعل ته شته او مفعول ته نشته او دویم داچی فاعل چی ذکر شی نو جمله مفیده دفائدي تامی وی اګرکه مفعول ورسره ذکر هم نشی، او دلیل نقلی نه ئی جواب دادي چی داد ضرورت شعري دوجی نه اضمار قبل الذکر راغلی ، او زمونږه خبره په وسعة دکلام کښی ده یعنی په نثر کښی ده، او دویم جواب دادي چی دا ضمائر مفعول ته نه دي راجع بلکه مصدر د جزاء او دعصا ته راجع دي چی الجزاء او العصیان دي خو دا جواب ضعیف دي ځکه په دي باندي څه قرینه نشته، **اعتراض**: تا دقاعدي دمناظري نه مخالفت ولی او کړو ځکه اول جواب منعی ذکر کیږي او بیا تسلیمي او تاعکس کړي دي، **جواب**: اول خودا دي چی دا قاعده خو ضروري نه ده، او دویم جواب دادي چی مونږه اول جواب تسلیمی ذکر کړو، ځکه په دي کښی اشاره وه قوت دجواب تسلیمي ته.

**واذا انتفی الاعراب**: دي ځاي نه دویمه قاعده دفاعل ذکر کوی او داپه حقیقت کښی څلور قاعدي دی او هغه داچی په کومو صورتونو کښی تقدیم دفاعل واجب دي.

**الدال علی فاعلیة الفاعل**: اول تعین دالف لام او غرض پکښی، دویم دفع داعتراض، دریم رد په شارح هندي، اول خبره : الف لام عهدي او معهود په دي سره هغه اعراب دفاعل دي. دویم غرض هم اوشو چی زمونږه خبره شروع وه په فاعل کښی او ته اعراب ته لاړي نو دا خو خروج عن البحث راغلو،؟ **جواب**: زه اعراب دفاعل ذکر کوم.

## فرق په مابین د اعراب او قرینه کښی

**بالوضع**: سره دریم غرض : چی مصنف وائی اعراب هغه امر ته وائی چی په فاعلیت دفاعل او مفعولیت دمفعول دلالت اوکړي، بالوضع او قرینه وائی هغه امر ته چی دلالت کوی په فاعلیت دفاعل او په مفعولیت دمفعول خو بغیر دوضع نه او شارح هندي وائی چی قرینه عامه ده چی وضع وی او که نه وی او اعراب خاص چی وضع به وی نو شارح پري رد اوکړو چی د دوي دواړو په مابین کښی فرض شته.

**لفظاً فیهما ای فی الفاعل**: یو غرض تعین دضمیر. دویم دفع داعتراض ، اول خبره :

Maktaba Tul Ishaat. com



ضمیر دهما راجع دي فاعل او مفعول ته. **المتقدم ذكره**: سره دویم غرض: فاعل خو مخکښې ذکروو او مفعول نه دي ذکر نو ته څنګه وائې چې ضمیر فاعل ته هم راجع دي، نو اضمار قبل الذکر راغلو، ؟ **جواب**: فاعل مخکښې صراحتاً هم ذکر وو او په ضمن دمثله کښې هم او مفعول په ضمن دامثله کښې ذکر وو نو لا یلزم الاضمار قبل الذکر ،

## معنی او تقسیم د قرینې

**والقرينة الخ**... اول معنی دقرینې ، دویم دلیل ، دریم رد په شارح هندي. څلورم قسمین دقرینې ، **الامر الدال عليهما**: اول غرض: قرینه دا هغه ته وائې چې دلالت کوی په فاعل او مفعول باندې بغیر دوضع نه یعنی وضع دقرینې دپاره د دلالت کولو په فاعل او مفعول نه ده شوې، **اذ لا يعهد**: سره دویم غرض: څکه معلومه نه ده دا خبره چې اطلاق دقرینې اوشی، په هغه شي چې په مقابله دیوشی کښې وضع شوې لکه عبدالله چې علم اوګرځوی دپاره دیو کس اوس دا دلالت کوی په حیوان ناطق مع هذا التشخص خو بالوضع ، نه دا چې دا عبدالله قرینه ده په حیوان ناطق مع هذا التشخص باندې.

**فلا يرد عليه**: دي سره دریم غرض ، رد په شارح هندي : ده اعتراض کړي په ماتن چې قرینه دا عامه ده څکه چې دا په فاعلیت دفاعل او مفعولیت دمفعول باندې دلالت کوی بالوضع وی او که نه ، او اعراب خاص دي څکه دا بالوضع دلالت کوی نو پکار دا وه چې داسي دي وئیلی وی، اذا انتفی القرينة لفظاً فيهما څکه چې انتفا دعام مستلزم وی انتفا دخاص لره نو انتفاء دقرینې سره به انتفاء داعراب هم راغلی وی؟ **جواب**: ده رد اوکړو چې په مابین داعراب او دقرینې کښې نسبت دعموم خصوص مطلق نه دي بلکه نسبت پکښې د تباین دي، نو انتفاء دقرینې سره انتفاء داعراب نه راځی ،

**وهى اما لفظية**: څلورم غرض: قرینه په دوه قسمه ده، اول لفظیة دویم معنویة دلفظیه مثال لکه ضربت موسى حبلى ، اوس دلته لفظي قرینه موجود ده په فاعلیت دحبلى، څکه فعل مونث دي او دمعنوی مثال لکه اكل الكمثري يحيى دلته په فاعليت ديحيى باندې معنوی قرینه شته چې هغه کمثري ده .

**او كان مضمر متصلاً**: اول قسمین دضمیر متصل ، دویم دفع اعتراض ، اول خبره :ضمیر متصل دا په دوه قسمه دي بارز لکه ضربت زيداً . اوبل ضمیر مستتر لکه

Maktaba Tul Ishaat. com



زیداً ضرب : **بشرط ان یکون المفعول:** دویم دفع اعتراض : ته وائی چی ضمیر متصل وی دفاعل تقدیم واجب دي په مفعول باندي زه به درته اوښایم چې ضمیر دفاعل به متصل وی او مقدم به نه وي په مفعول بلکه مفعول به مقدم وی لکه زیداً ضربت . ؟
**جواب:** تقدیم ددغه فاعل واجب په مفعول دي خو په دي شرط سره چی مفعول به په فعل نه وی مقدم ، اودلته خو په فعل هم مفعول مقدم دي .

**اووقع مفعوله بعد:** سره دریمه قاعده ذکر کوی، **شرط توسطها:** سره بیان دشرط چی دا (الا) به واقع وي په مابین دفاعل او مفعول کښی په صورتینو دتقدیم او دتاخیر کښی یعنی چی فاعل مقدم وی او مفعول موخر او یا عکس ددي، او **بعد معناها** : سره څلورمه قاعده ذکر کوی چی یا واقع وی فاعل پس دمعنی د (الا) نه چی انما دي لکه انما ضرب زید عمرو ، او معنی د (الا) داده چی اثبات او نفی پیدا کوی دغه رنګه انما هم دي خو په انما کښی حصر هم دي .

**وجب تقدیمه:** اول بیان دضمائرو، دویم دلائل دڅلورو وارو قاعدو، دریم فائده دقید دبشرط توسطها ، څلورم اشاره اختلاف ته، پنځم دفع اعتراض . **ای تقدیم الفاعل علی المفعول:** اول غرض : تقدیم دفاعل به په مفعول راغلی وی، **اما فی صورة الا نتفاء:** سره دویم غرض دلائل، په اول صورت کښی چی انتفاء داعراب او دقرینې وی نو تقدیم دفاعل واجب وی په مفعول دپاره دځان ساتلو دالتباس نه لکه ضرب موسی عیسي . او په دویم صورت کښی چی فاعل ضمیر متصل بالفعل وی نو ځکه تقدیم دفاعل واجب دي، ځکه که فاعل وروسته کړي شی نوضمیر متصل نه به منفصل جوړ شی او دریم صورت کښی چی مفعول واقع وی پس د(الا) نه لکن بشرط توسط الا بینهما تقدیم دفاعل واجب دي ځکه چی حصر مطلوبه منقلب نشی حصر مطلوبه هغه انحصار دضاربیت دزید دي په عمرو کښی او هر چی عمرو دي نو هغه دنورو دپاره هم مضروب کیدي شی، اوس که مفعول په فاعل مقدم کړو نو انحصار دمضروبیت به راشی په عمرو کښی او هر چی زید دي نو هغه دنورو دپاره هم فاعل ضارب واقع کیداي شی، لکه ماضرب زیدٌ الا عمرواً او څلورمی قاعدي وجه ئی وروسته راوړي چی کله مفعول واقع وی، پس دمعنی د (الا) نه چی انما دي لکه انما ضرب زیدٌ عمرواً اوس

Maktaba Tul Ishaat. com



دلته تقديم دفاعل واجب دي. ځکه دلته حصر هغه په جزء اخير کښې دي اوس که فاعل مؤخر کړي نو هغه حصر مطلوبه او هغه معنى منقلبة شي.

**وانما قلنا بشرط توسطها**: سره دريم غرض فائده دقيد داده چې که مفعول مقدم کړي په فاعل باندې سره د (الا) نه نو ترکيب به داسې شي چې ماضرب الاعمراً زيدٌ نو ظاهره خبره داده په دې ترکيب کښې چې انحصار دضاربيت راځي په زيد کښې ځکه حصر په يلي د الاکښې وي اويلي د الامخکښې او دې منقلب ترکيب کښې عمرو واقع دې نو معنى صحيح شوه.

**ولکنه لم يستحسنه بعضهم**: سره څلورم غرض. بيان داختلاف. عبد القاهر او اخفش او سکاکې، دوي وائي چې دا ترکيب چې ماضرب الاعمرواً زيد دا صحيح نه دې او ددوي دپاره دوه دلايل دي اول دا چې دا قصر دصفت دې فاعل راغلو، مخکښې دتماميدو ددې صفت نه، اوس دلته ضرب دا صفت دې فاعل ئې نه دې ذکر او قصر يکښې په الاعمروا سره راغلو او صفت دا تماميږي په فاعل باندې، او دويم دليل دادې چې مستثنى به راشي مخکښې دتماميدو دمستثنى منه نه، وانما الظاهر: سره پنځم غرض اعتراض: په ماضرب زيد الاعمروادا صورت چې ماضرب عمرواً الا زيد دې کښې تا وئيل ظاهره داده نو دينه معلوميږي چې غير ظاهره خبره به هم وي، ؟

**جواب**: او غير ظاهره خبره هم شته دې چې هغه انحصار دې په طرفينو کښې انحصار دضاربيت په زيد کښې او انحصار دمضروبيت دې په عمرو کښې، خارجي

**اعتراض**: تا په مذکوره مثال کښې اووئيل چې دفاعل اودمفعول په مابين کښې (الا) وي نو دانصحار د فعل دفاعل به راغلې وي، په مفعول کښې او هر چې مفعول دې نو دا دنوره دپاره هم مفعول کيداې شي، اوس يوه مقوله ده ما خلق الله على احسن صورة الايوسف: خلق فعل، الله فاعل دې او يوسف وروسته د الانه واقع دې او صورة الايوسف، دلته معنى دا شوه چې خالقيت دالله ﷻ دا خاص دې په يوسف پورې او هر چې يوسف دې نو هغه به مخلوق دنورو دپاره هم واقع شوې وي او حالانکه خبره خو داسې نه ده ؟ **جواب**: دلته انحصار د خالقيت نه دې بلکه انحصار دحسن دې په يوسف کښې او دا کيداې شي چې په يوسف کښې عارضى حسن بل چا هم راوستى وي، خو دا

Maktaba Tul Ishaat. com



جواب ضعيف دي، اصل جواب دادي چې انحصار دفعل دفاعل به په داسيې مفعول کښې ، خو چې قرائن خارجيه نه وى او دلته خو قرائن خارجيه شته، چې خالق دحسن هغه يواځې الله جَلَّ جَلَالُهُ دي .

**واذا اتصل به ضمير مفعول**: مخکښې هغه صورتونه ذکر شو چيرته چې دفاعل تقديم واجب وو، اوس هغه صورتونه ذکر کوى چيرته چې دفاعل تاخير واجب وى ، **واذا اتصل به**: يو غرض تعين دضمير کوى چې فاعل ته راجع دي يو ځاي داشو چې کله ضمير دمفعول په فاعل پوري متصل شى، او وقع اى للفاعل يو غرض تعين دضمي کوى چې فاعل ته راجع دي او دويم ځائى دي چې فاعل پس د (الا) نه واقع وى **المتوسطه بينهما**: سره غرض بيان دقيد کوى چې الا به په مينځ دمفعول او دفاعل کښې واقع وى په صورتينو دتقديم او دتاخير کښې ، لکه مثال ئى دادي چې ما ضرب عمرواً الازيدٌ .

**وفائده هذا القيد**: سره فائده دقيد ذکر کوى چې الا به ځکه په توسط کښې واقع وى چې هغه انحصار چې مضروبيت دعمرو دي منقلب نه شى ، **اوبعد معناها**: اول معنى د (الا) چې معنى دالاهغه انما دي، دويم مثال لکه انما ضرب عمرواً زيدا **او اتصل مفعولة به**: اول معنى دمتن په داسي شان سره چې وى مفعول ضمير متصل وى په فاعل پوري او فاعل غير ضمير وى لکه ضربك زيد ، وجب تاخيره، اول بيان دضمائرو، دويم دلائل ، دريم فائده دقيد (هو) غير ضمير متصل ، **اى تاخير الفاعل**: سره اول غرض چې دفاعل تاخير په مفعول واجب دي

**اما فى صورة**: بيان د دلائلو: په اول صورت کښې چې فاعل پوري ضمير دمفعول متصل وى، ځکه تقديم واجب دي چې اضمار قبل الذکر رانشي ، او په دويم صورت چې فاعل پس د (الا) يا دمعنى د الانه واقع شى، تقديم ځکه واجب دي چې حصر مطلوبه منقلب نشى، اوپه دريم صورت کښې چې فاعل غير ضمير متصل وى او مفعول ضمير متصل وي نو تقديم ځکه واجب دي چې ضمير متصل به منفصل شى او دي دواړو کښې منافات دي **بخلاف ما اذا**: سره فائده دقيد: فائده دقيد داده که چيرته فاعل هم ضمير متصل وى نو بيا تقديم دفاعل واجب دي لکه ضربتك ،

Maktaba Tul Ishaat. com



**وقد يخلاف الفعل**: سره دريمه قاعده په فاعل كښي ذكر كوي، **الرفع للفاعل**: سره غرض دفع داعتراضينو، اول غرض: ته فعل ته لاړي او زمونږ خبره په فاعل كښې شروع وه، نو خروج عن البحث راغلو، دويم اعتراض: **اعتراض**: ته وائی چی وقد يحذف الفعل نو شبه فعل خو هم حذف كيږي هغه دي ولی ذكر نه كړو ؟ **جواب**: مراد دفعل نه رافع للفاعل دي نو لهذا خروج عن البحث رانغلو او چي مراد دفعل نه رافع للفاعل شو نو برابره خبره ده چی فعل وی او كه شبه فعل.

**لقيام قرينة**: لام دلته وقتيه دي تعليليه نه دي دا خبره ددي پاره اوشوه، چی چا به دا توهم كولو چی لام به تعليليه وي او لام تعليليه نه ما قبل معلول او مابعد علت وي او قاعده په علت او معلول كښی داده چي په دوي كښی تخلف نه وی، تخلف دا معنی چی معلول وی علت به هم وی او چی علت وی نو معلول به هم وی، نو اول دلته به معنی دا وی چی حذف دفعل وی نو قيام دقرينی به وی نو حذف دفعل به هم وي او سره ددينه چی وروسته وائی چی جوازاً كله به حذف وی او كله به نه وی نو دجوازاً تضاد راځی دلام تعليلي سره نو لهذا لام اجليه ده،

**جوازاً ای حذفاً جائزاً**: اول غرض دجه دنصب ، دويم دفع داعتراض، **اعتراض**: جوازاً منصوب دي او دنصب دپاره طرق كثيره دي دلته په كومه وجه سره منصوب دي كه ته وائی چي منصوب دي بناء برمفعول نو يحذف خو فعل مجهول دي او الفعل ورلره نائب فاعل دي مفعول غواړي نه، او كه ته وائی دي بناء برمفعول فيه غير نو مفعول فيه خو په دوه قسمه دي، ظرف زمان او ظرف مكان او جوازاً خو يوهم ندي، او كه ته وائی چی منصوب دي بناء برحاليت نو حال خو يا هئيت دفاعل اويا دمفعول بيانوي، او جوازاً دا يو كار هم نه كوی او كه ته وائی چی منصوب دي بناء برمفعول مطلق نومفعول مطلق خو هغه دي چی فعل مشتمل وی په ده باندي دقبيلي داشتمال دكل نه په جزء باندي او يحذف خو په حذفاً مشتمل دي نه په جوازاً ؟ **جواب**: دا منصوب دي او مفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه چی حذفاً دي نو حذفاً حذف شو او جائزاً دا قائمقام دهغه شو اوشی چی قائمقام شی په ځائ دغير نو هغه لره حكم د غير وی نو هغه مفعول مطلق وو نو دا هم شو،

Maktaba Tul Ishaat. com



**ای فیما کان جواباً**، سره بیان دمثل کوی چی دا به په هغه ځای کښی وي چی جواب وی د سوال محقق نه یعنی صراحتاً سوال ذکر وی ، **سائلاً عمن یقوم**: اول تطبیق دمثال دممثل سره ، دویم دفع اعتراض ، دریم رد په شارح هندي، څلورم توطیه او تمهید دمتن آتی دپاره او غرض پکښی دفع اعتراض. سائلاً: سره اول غرض چی من قام سره سوال وی دهغه کس په باره کښی چی دا قیام په هغه پوري قائم وی.

**وانما قدر الفعل**: سره دویم غرض: **اعتراض**: ته وائی چی زیداً فاعل دي نو دا حذف دخبر نه اوګرځوه ، یعنی زید مبتدا کړه او خبر ئی قام محذوفه اوګرځوه ، داشارح هندي وئیلی دي یو ددي وجی نه چی مخکښی سوال کښی جمله اسمیه ده او په جواب کښی به هم جمله اسمیه راشی، بل دا چی قرآن کریم کښی راځی ، ولئن سالتهم من خلق السموٰت والارض دا سوال دي او جواب کښی چی الله خلقهن نو خلقهن خبر دي او جمهور وائی چی دا دباب دحذف دفعل نه دي نه دخبر ځکه دخبر په صورت کښی حذف دجملی راځی، لکه زید قام کښی قام فعل او ضمیر پکښی فاعل دي، نو جمله شوه او په صورت دحذف دفعل کښی حذف دیو جز دجملی راځی، نوقلت دحذف شو او قلت دحذف دفعل اولی وی دکثرت نه، او دشارح هندي داول دلیل نه جواب دا کوی چی جواب د جمله فعلیه اوګرځوی نو بیا هم مطابقت راځی ، ځکه سوال کښی هم جمله فعلیه ده، اصل کښی داسیی وو چی اقام فلان اقام فلان دتطویل دوجی من قام ته را نقل شو، او ددویهم دلیل نه ئی جمهورو دا جواب کړي ، چی قرآن کریم دا هم راغلی چی ولئن سالتهم من خلق السموت والارض دا سوال دي او جواب کښی راغلی چی خلقهن العزیز العلیم نو دا جمله فعلیه ده.

**وکذا یحذف**: سره څلورم غرض: **اعتراض**: توضیح دممثل دپاره یو مثال کافی دي تا دوه مثاله ولي راوړلی ، یو دي من قام زید اوبل دي شعر راوړو؟ **جواب**: ممثل له هغه دوه دي یو هغه چی قرینه پري سوال محقق وي او دویم دا چی قرینه پري سوال مقدر وی، **لیبک علی البناء للمفعول**: اول غرض تعین دصیغه کوی چی دمجهول صیغه ده، **ضارع ای عاجز**: اول معنی دضارع ، دویم تطبیق دمثال دممثل سره، دریم روایة آخر، **ای عاجز**: سره اول غرض چی معنی دضارع عاجز او خوار ده. **فان قلت**: ضارع کښی

Maktaba Tul Ishaat. com



اعتماد نشته ؟ **جواب:** اعتماد شته چې موصوف مقدر دي ای شخص ضارع .

**وهو فاعل:** سره دويم غرض : ضارع دا فاعل دمحذوفه دپاره چې يبكيه او قرينه په حذف دفعل سوال مقدر دي چې من يبكيه . **واما على رواية:** سره دريم غرض ذكر كوي چې روايت آخر پـه دي شعر كښې دادي چې ليبكـه فعل معلوم شي او يزيد منصوب مفعول شي اوضارع فاعل شي دليبك دپاره نو دا بـه بيا دمانحن فيـه نه نهٔ شي، ځكه ضارع خو مذكور دي او دريم تركيب هم پكښې شته چې ليبك فعل ضارع ئې فاعل او يا يزيد منادي شي، خو دا هم دمانحن فيه نه نهٔ شو ځكه فعل پكښې مذكور دي.

## د شعر معنى

**لخصومة متعلق:** اول تعين دجار مجرور د متعلق ، دويم معنى دشعر ، دريم وجه د ورود د شعر ، اول خبره دا متعلق پـه ضارع پوري دي نو معنـى دا شوه چې دي ژاړي هغه كس چې عاجزي دي د مقابله دخصم نه اويا متعلق دي په يبكى پوري نو معنى دا شوه چې ودي ژاړي هغه عاجز دوجى دخصومت ديزيد نه. او دويم غرض هم اوشو. **لانه ظهر العجزة:** سره دريم غرض دا شعر ئـى ځكـه راوړو چې يزيـد دا مـلا تړوو دعاجزو خلكو، ومختبط مما تطيح الطوائح :دا نيم بيتـى پـه اصل نسخو دكافيو كښى نشته دي او كومو كښې چې شته نو هغه دكاتبينو غلطي ده .

**والمختبط السائل الخ..** يو غرض هغه معنى دلغـاتو، دويم غـرض ربط داول نيم بيتى سره. دريم توطيه او تمهيد دمتن آتي دپاره، څلورم دفع داعتراضينو، اول خبره مختبط هغه سايل ته وايئ چې بغير دتعلق نه سوال كوي يا هغه سائل چې دحياء دوجې دشپې سوال كـوي، او احاطه هلاكـت تـه وايـى ، او طوائح دا جمع دمطيحة ده خلاف القيـاس لكـه لـواقح دا جمـع دملحقـة ده، او ممـا متعلـق دي پـه مختـبط پـوري او ما مصدريه ده .

**يعنى ويبكيه:** سره دويم غرض چې ربط ، يعنـى ودي ژاړي هغه كس چې سوال كوي بغير دمتعلق نه دوجى دهلاكت دهلاك كونكى دمال نه چې يزيد دي او هغه څوك چې څوك وسيلې نيسى په دي يزيد باندي حصول دمال دپاره ځكه چې دا وركونكى ود سوال كوونكو تـه بغيـر دپيژندګلو نـه . **وقـد يحـذف الفعـل:** سره دريم غرض توطيه او

Maktaba Tul Ishaat. com



تمهید دمتن آتی دپاره . **الرافع للفاعل:** سره څلورم غرض ، دي کښې هم هغه اعتراضین دي کوم چې پرون درس کښې تیر شوي دي او جواب ئې هم شوي دي، **وجوبا ای حذفا واجباً:** سره هم هغه اعتراض دي کوم چې په جوازاً کښې وو او جواب هم پرونی درس شوي دي،

**ای فی کل موضع:** اول بیان دمثل یا دقاعدي . دویم وجه دحذف دوجوبی دي، دریم دفع اعتراض ، څلورم تطبیق دمثال دممثل سره. پنځم دفع اعتراض ، ای فی کل موضع: سره اول غرض چې دا حذف د فعل به وجوبی وي په هر هغه ځای کښې چې فعل حذف شوي وي، بیا تغیر درفع دابهام شوي وی، هغه ابهام چې کوم را پیدا شوي دي دهغه فعل نه : **فانه:** سره دویم غرض چې حذف وجوباً ځکه دي چې که مفسر هم ذکر کړي او مفسر هم ذکر وی نو مفسر به حشوه او زائد شی.

**بخلاف المفسر الذي:** سره دریم غرض : **اعتراض:** ته وائی چې جمع په مابین دمفسَر او مفسِر کښې نه ده جائز زه به درته اوښایم چې جمع به ئې راغلی وی، لکه جاءنی رجل ای زید ، رجل دا مفسر دي او زید ئې تفسیر دي، **جواب:** مفسر په دوه قسمه دي یو هغه چې په هغه کښې ابهام دحذف دوجې وی لکه په مذکوره متن کښې چې کوم مثال ذکر دي او بل هغه مفسر دي چې دهغه په لفظ کښې ابهام وی لکه دا مثال چې تا کوم اعتراض کښې اووئیل . داسې مفسَر او مفسر جمع کیدای شی.

**فتقدیر الایة:** سره څلورم غرض : تقدیر دآیت داسې دي چې (وان استجارك احد من المشرکین استجارك فاجره) دلته احدٌ فاعل دفعل دمحذوفه دي چې هغه اول استجارك دي چې دهغه تفسیر په استجارك ثانی سره شوي دي.

**ولا یجوزان یکون:** سره پنځم غرض اعتراض **اعتراض:** دا احد مرفوع کړه بناء برابتدائت او (ان) دا مخفف من المثقل اوګرځوه، ؟ **جواب:** (ان) دا مخفف من المثقل نه ګرځوو بلکه دا (ان) شرطیه دي او (ان) شرطیه نه داخلیږي ، مګر په فعل او دلته تري وروسته احد اسم راغلی نو دینه معلومه شوه چې دلته فعل حذف دي.

**وقد یحذفان معاً:** دفعل او فاعل څلور صورتونه دي، یو صورت دادي چې دواړه مذکوروی لکه ضرب زیدٌ او دویم دا چې دواړه محذوف وی لکه دلته، او دریم فعل

Maktaba Tul Ishaat. com



حذف وي فقط دا دريواړه صورتونه جائز دي، او ځلورم هغه چې فاعل وی دا نه دي جائز، ځکه حذف دجز دجملې راځي او دا ناجائز دي، **اعتراض** حذف دفاعل په صورت کښې هم حذف دجز دجملې راځي نو هغه څرنګه جائز دي **جواب:** دادي چې په حذف دفعل په صورت کښې يواځې فعل نه حذف کيږي بلکه په هغې کښې هغه اسناد دفاعل هم حذف کيږي ، نو ګويا حکماً جمله حذف شوه، خو صرف دري صورتونه دي چې هلته فاعل حذف کيږي يو په تنازع دفعلينو کښې على قول او دويم په مفعول مالم يسم فاعله کښې ، دريم په جمع کښې واو دا په نزد دبعضو نحاتو باندي فاعل دي نو په وخت داضافت کښې دا واو حذف کيږي لفظاً نه کتابةً لکه ضربوا اليوم :

**اى نعم قام زيد:** اول تطبيق دمثال دممثل سره ، دويم تعين دحذف ، دريم دفع اعتراض ، **اول غرض:** لکه په جواب داقام زيدٌ کښې نعم اووئى او حذف دفعل او فاعل دواړو اوکړي چې قام زيدٌ دي . **وهذ الحذف جائز:** سره دا دويم غرض : چې دا حذف جوازاً دي ، د دوو وجهو نه اول دا چې دلته سد مسد نشي کيدي ځکه دا غير مستقل دي که چيرته حذف وجوبى کړو نو دلته اګر چې نعم کړو نو سدمسد نشته په کلام کښې به استدراك راشي ، په صورت د ذکر سره نو بيا به واجبولي ، او دويمه وجه داده چې کله کله مونږ دعربو نه اورو چې نعم قام زيد که چيرته حذف وجوبى وى نو عربو به يکښې تکرار نه کولو، **وانما قدر الجملة الفعلية:** سره دريم غرض : **اعتراض:** دلته تا جمله فعليه چې قام زيد دي په وجواب کښې مقدره کړه، جمله اسميه به دي مقدر کړي دي، ؟ **جواب:** مونږ ځکه جمله فعليه وه نو جواب کښې هم مونږه جمله فعليه مقدره کړه،

## دِ تنازع فعلين بيان

هر کله چې فارغ شو مصنف رحمه الله دبيان دتعريف او داحکامو دفاعل نه نو شروع ئې اوکړه په متعلقاتو دفاعل کښې. **بل العاملان:** اول دفع اعتراض ، دويم دفع اعتراض ، دريم دفع اعتراض ، بل يا د اضراب دپاره دي اضراب وائى ديته چې ذکر ديو فعل شبه فعل اوکړي او مراد ترينه بل فعل شبه فعل واخلى نو دلته هم ذکر دفعلينو او مراد ترينه عاملان دي او يا بل دپاره دترقى دي، چې تنازع په فعلانو کښې څه کوى په عاملانو کښې هم راځي ،اول غرض : تا ووئيل چې تنازع الفعلين نو تنازع خو بغير

Maktaba Tul Ishaat. com



د فعلین څخه هم راځی لکه زید معط ومکرم عمروا دلته معط او مکرم تنازع راغلی ده په عمروا کښې او سره د دینه چې فعلین نه دي بلکه اسم فاعل دي ؟ **جواب:** ذکر دفعلینو مراد ترینه عاملان دي او عاملان عام دي فعلین وی او که نه.

**واقتصر علی الفعل:** سره دویم غرض اعتراض: **اعتراض:** چې مراد عاملان وو نو عاملان به دي وئیلی وای فعلین دي ولی وئیل، ؟ **جواب:** فعلان می ځکه ذکر کړل چې دا اصل دي په عمل کښې. **وانما قال الفعلان:** سره دریم غرض اعتراض: **اعتراض:** تا وئیل چې تنازع دفعلین، زه به درته اوښایم چې تنازع د ډیرو افعالو به راغلی وي، لکه په درود ابراهیمی کښې (اللهم صلی علی محمد وعلی آل محمد کما بارکت ورحمت وترحمت علی ابراهیم) دلته تنازع دډیرو افعالو راغلی ده ؟ **جواب:** موږ فعلین دپاره دحصر نه دي وئیلی بلکه دپاره دښودلو داقل مرتبی دتنازع چې په فعلین کښې راځی او په ډیرو کښې هم راتلی شي.

**ای اسما ظاهرا واقعاً:** اول غرض تعین دموصوف دظاهرا کوی چې ظاهراً صفت دي داسماً دپاره، دویم غرض متعلق دبعدهما ئې ذکر کړو چې واقعاً دي، بعدهما: اوله خبره تعین دضمیرین، دویم فائده دقید دبعدهما، دریم دفع اعتراض، څلورم دفع اعتراض، پنځم فائده دقید داسماً ظاهراً، شپږم دفع داعتراض، اووم دفع داعتراض،

**ای بعد الفعلین:** سره اول غرض اوشو چې ضمیر فعلین ته راجع دي اذا المتقدم علیهما سره دویم غرض که چیرته بعدد فعلین نه اسم ظاهر واقع نه شي نو یا به مقدم وی په دواړو او یا به توسط کښې واقع وی په دي دواړو صورتینو کښې به دغه اسم ظاهر دفعل اول دپاره معمول وی بالاتفاق او دپه دي کښې بیا هیڅ مجال دتنازع نشته دي.

## تنازع فعلین معنی

**ومعنی تنازعهما:** سره دریم غرض دفع اعتراض: تنازع باب تفاعل دي معنی ئې یو دبل سره جنګ کول او دا خاصیت خو د ذوي الروح دي او تا ئې نسبت غیر ذوي الروح ته اوکړو ؟ **جواب:** مراد تنازع نه توجه ده او دا دواړه سره لازم او ملزوم دي، ویصح ان یکون: سره څلورم غرض: تا دا مثال چې ضربت واکرمنی زیدٌ په باب دتنازع کښې ذکر کړي په دي خو دي چې اجراء داعراب اوکړه نو پته اولګیده چې دا یا فاعل

Maktaba Tul Ishaat. com



دي داکرمنی دپاره اویا مفعول دي دضربت دپاره ؟ **جواب**: مراد دتنازع نه دادي چی دا اسم ظاهر به په داسي مقام کښی واقع وی چی دهر واحد دپاره معمول واقع کیدي شی بناء بربدلیت بغیر دجراء داعراب نه.

**فحینئذ لا یتصور**: سره پنځم غرض : فائده داسم ظاهر د قید داده که چیرته دغه اسم، ضمیر متصل وی نو ضمیر متصل چی دکوم فعل پوري متصل وي دهم هغه دپاره به معمول وی، داسي خو نشی کیدي چی متصل دي وی په فعل ثانی پوري او معمول دي وي دفعل اول دپاره. **واما الضمیر المنفصل**: سره شپږم غرض دفع داعتراض. **اعتراض**: ظاهر قید فائده خو په صورت دضمیر متصل کښی شته نو په ضمیر منفصل کښی هم تنازع راتلی شی، لکه ماضرب واکرم الا انا : دلته داسم ظاهر قید ته بیا ضرورت نه وو ؟ **جواب**: مونږ دتنازع هغه صورتونه ذکر کوو چی قطع دتنازع پکښی راتلی شی، اوس دلته قطع دتنازع نشی راتلی ځکه بصریان اضمار دفاعل وائی په فعل اول کښی او کوفیان ئی په فعل ثانی کښی وائی، بهر حال د ((الا انا اضمار یا به سره دالا نه کوی اویا بغیر دالانه که سره د الانه ئی کوی نو الاخو حرف دي او دحرف اضمار خو نه کیږي او که بغیر دالانه ئی کوي نو فساد په معنی کښی راځی، مخکښی معنی مشتبه وه اوس به تري منفی جوړه شی.

**واما التنازع الواقع**: سره اووم غرض دفع داعتراض : **اعتراض**: هلکه اوس به دلته ترکیب څنګه کوو، **جواب**: بعض علماء دا ترکیب حل کړي دي، کسائی وائی چی د اول فعل فاعل حذف دي تقدیر داسي دي چی ماضرب الاانا واکرم الاانا، او امام فراء وائی چی الاانا د دواړو فعلینو دپاره معمول ګرځیدي شی، خودا مذهب ضعیف دي ځکه لازمیږي توارد دعاملینو مستقلینو په معمول واحده باندي، خو دینه جواب شوي دي چی دا فعلین امارات او علامات دي او په علاماتو کښی تعدد راتلی شی، علل حقیقیه نه دي.

**فقد یکون فی الفاعلیة والمفعولیة** : فقد یکون کښی فا تفصیله ده او اذا تنازع دا شرط دي او جزا ورلره مقدره ده چی فیختار البصریون والکوفیون او فقد یکون دا تفصیل دشرط دي، او ځینی عالمان بیا وائی چی شرط اذا تنازع الفعلان دي او جزاء ورلره محذوفه دي، ای تنازع الفعلین : سره غرض دشارح تعین دضمیر او غرض

Maktaba Tul Ishaat. com



پکښې دفع داعتراض، **اعتراض**: یکون ضمیر فعلین ته راجع دي او که اسم ظاهر ته که فعلین ته وی نو مطابقت بین الراجع والمرجع نه راځی او که اسم ظاهر ته راجع وي نو فساد په معنی کښې راځی ؟

**جواب**: ضمیر فعلین ته راجع دي خو په اعتبار دحذف دمضاف سره چې تنازع الفعلین ده، مطابقت بین الراجع والمرجع راځی، فی الفاعلیة: مصنف علیه الرحمة فی الفاعلیة وویل فی الفاعل ئی ونه ویل دپاره ددي چې شامل شی فاعل حکمی ته هم چې مفعول ما لم یسم فاعله دي. **بان یقتضی**: سره صورت دتنازع ذکر کوی، دا تنازع به پداسي طریقه سره وی چې هر یو د فعلین نه تقاضا کوی چې دا مابعد اسم ظاهر دي ورلره فاعل شی، لکه ضربنی واکرمنی زیدٌ، دایوه نوعه دتنازع ده .

## د تنازع فعلین دویم قسم

**والمفعولية بان يقتضى**: دا دویم قسم دتنازع دي، چې هر یو دفعلینو تقاضاه کوی چې مابعد اسم ظاهر دي ورلره مفعول شی لکه ضربت واکرمت زیداً .

**وقد یکون تنازعهما**: دا دریم قسم دتنازع ذکر کوی خو دا په دوه قسمه ده، یو دا چې دوه فعلین وی او وروسته اسمین ظاهرین وی هر یو فعل دا تقاضا کوی چې دایو اسم ظاهر دې ورلره فاعل شی او دویم دي ورلره مفعول شی لکه ضرب واهان زیدٌ عمرواً او دویم هغه دي چې فعلین وی او وروسته یو اسم ظاهر وی خو فعلین مختلفین فی الاقتضاء وي لکه ضربت واکرمنی زیدٌ، اومراد دلته داقسم ثانی دي،

**وهذا القسم لیس قسما ثالثاً**: دا دفع داعتراض ده : **اعتراض**: حصر دي دتنازع په دریو اقسامو کښې صحیح نه دي ځکه قسم ثالث هم شته چې دا ترکیب دي چې ضرب واهان زیدٌ عمرواً نو ده **جواب**: اوګرو چې دا قسم ثالث نه دي بلکه دا مجموعه دقسمین اولینو ده .

**مختلفین لتخصیص**: اول بیان دما هو المقصود کوی. دویم اعراب دریم دفع اعتراض، څلورم تتمیم دمافات دماتن رحمة الله علیه : لتخصیص : سره اول غرض دي چې مختلفین دا مربوط دي په دریم صورت پوري حال دفعلین واقع کیږي نه په تنازع الفعلین کښې یعنی دمضاف الیه نه او حال مضاف الیه نه صحیح کیږي خو په دي شرط سره چې حذف دمضاف جائز وي او اقامة دمضاف الیه صحیح وی په مقام

Maktaba Tul Ishaat. com



مضاف لکه په بل نتبع ملة ابراهيم حنيفاً کښې جواب دادي چې دلته هغه شرط نشته ځکه دا شرط دي چې حذف دمضاف او اقامة دمضاف اليه په مقام دهغه مضاف داهله دي چې مضاف مصدر نه وی او دلته مضاف مصدر دي نو لهذا حال ددغه مضاف اليه نه صحيح کيږي بغير ددغه شرط نه .

**وانما لم يورد مثالاً**: سره دريم غرض دفع اعتراض: **اعتراض**: دتنازع دقسمين دپاره دي مثالونه راوړل او ددي آخري قسم دپاره دي مثال رانۀ وړو ، ؟ **جواب**: ددريم قسم دپاره ئې مثالونه ځکه رانه وړل ځکه داولينو قسمونو نه يو فعل داول قسم او دويم فعل د دريم قسم نه راواخله نو ددريم قسم مثال به ترينه جوړ شي ، لکه ضربت واکرمني زيدٌ : **وذالک يتصور علی وجوه کثيرة**: سره څلورم غرض تتميم دمافات دماتن ذکر کوی ، چې ددي دريم قسم مثالونه په څو صورتونو سره دي.

**فيختار النحاة البصريون**: د النحاة سره شارح اشاره اوکړه ديته چې په بصره کښې قاريان او مفسرين هم شته او مراد دبصرينو نه اوسيدونکی دبصري نه دي ، بلکه هغه کسان تري مراد دي څوک چې متفق وی د دوي سره په دي مسئله کښې لکه امام کسائی دکوفی دي خو دوي سره متفق دي . **اعمال الفعل الثانی**: بصريان فعل ثانی ته عمل ورکوی او ددوي دپاره څلور دلائل دي ، اول دا چې اسم ظاهر قريب دي دفعل ثانی سره ، دويم دا چې که چيرته عمل دفعل اول ته ورکړي نو فصل به راشي په مابين دفعل اول کښې او د اسم ظاهر کښې په فعل ثانی سره ، دريم دا چې قرآن کريم کښې راځي چې (هاؤم اقرؤا کتابيه) دلته هاؤا هم دا تقاضاه کوی چې کتابيه دي ما دپاره مفعول وګرځوی او اقرؤا هم داتقاضا کوی چې کتابيه دي مادپاره مفعول اوګرځي.

دکوفيانو مذهب دا دی چې عمل به فعل اول ته ورکړي ، او فعل ثانی ته به ګوري که تقاضا دفاعل ئی کوله نو هم ضمير به پکښې راوړي ، او که تقاضا د مفعول ئی کوله نو هم ضمير به پکښې راوړي ، اوس دلته اقرؤا فعل ثانی تقاضا دمفعول کوي او ضمير پکښې نشته نو پته اولږيده چې کتابيه دا مفعول داقرؤا فعل ثانی دي اوبصريان وائی چې فعل ثانی ته به عمل ورکړي او فعل اول که تقاضا دفاعل کوله نو ضمير به راوړي او که تقاضا دمفعول ئی کوله نو حذف به ئی کړي ، اوس دلته اقرؤا

Maktaba Tul Ishaat. com



دپاره کتابیه مفعول دي او هاؤا مفعول حذف دي، څلورم دلیل دادي چې قرآن کریم کښې راغې چې (آتوني افرغ علیه قطراً) او په دیکښې هم هغه وجې دي کوم چې په هاؤام اقرؤا کتابیه کښې دي.

**مع تجویز اعمال الاول**: سره نوعه داختلاف ذکر کوی چې اختلاف په اولی او عدم اولی کښې دي، په جواز او عدم جواز کښې نشته، **ویختار النحاة الکوفین**: کوفیان عمل فعل اول ته ورکوي او ددوي دپاره دوه دلائل دي، **لسبقه ولاحتراز**: یو دلیل دادي چې دوجې دسبقت دفعل اول نه او الحق للمتقدم . او دویم دلیل دادي چې که فعل اول کښې ضمیر دفاعل راوړي نو ضمیر به بیا هغه اسم ظاهر ته راجع وی نو اضمار قبل الذکر به لازم شی، خو د دوي د اول دلیل نه بصریانو دا جواب کړي چې مجرد سبقیت دا دلیل دترجیح نشي ګرځیدلی ، او د دویم دلیل نه جواب دادي چې اضمار قبل الذکر راغې په فاعل کښې او فاعل عمده دي او اضمار قبل الذکر په عمده کښې جائز دي، مذهب دبصرینو راجح دي ځکه مصنف رحمه الله علیه هم مخکښې ذکر کړو .

**فان اعملت الثانی**: اول تعین دمذهب کوی، دویم بیان دیوي نکتې کوي، **کما هو مذهب البصرین**، سره اول غرض اوشو چې دامذهب د بصریانو دي، **وبدابه**: سره دویم غرض چې اول ئې دا مذهب ځکه ذکر کړو چې دامختار دي. **اضمرت الفاعل**: سره اول غرض دفع داعتراض ، دویم غرض بیان د دلیل چې عمل دي فعل ثانی ته ورکړو نو فعل ته به ګوري که چیرته ئې تقاضا دفاعل کوله نو اضمار به اوکړي نو اعتراض واردیږي چې اضمار قبل الذکر راغې .

## د وقف معنی

**لجواز الاضمار**: سره جواب چې اضمار قبل الذکر جائز دي په عمده کښې ، وللزوم التکرار، سره دویم غرض چې اضماربه ځکه کوی چې قطع دتنازع دپاره دري طریقې دي که ذکر کوی نو تکرار لازمیږي او که حذف کوی نو حذف دعمده راغې او دا ممتنع دي او اضمار پاتې شو نواضمار به کوی علی وفق الاسم الظاهر . اول تعین دموصوف ، دویم تعین دالف لام، دریم معنی دوقف، الاسم الظاهر، سرم اول غرض اوشو چې الظاهر صفت او الاسم ئې موصوف . **الواقع بعد الفعلین**: سره دویم غرض چې

Maktaba Tul Ishaat. com


الف لام په الظاهر کښې عهدي او معهود په دي سره ظاهر دي چې واقع بعد الفعلين وی. **ای علی موافقة**: سره دريم غرض چې معنی دوقف داده چې دغه ضمير به موافق وی داسم ظاهر سره په افراد تثنيه جمع تذکير او تانيث کښې.

**دون الحذف**: حذف دضمير به نه کوی مګر په دوه ځايونو کښې چې هلته قائمقام موجود وي يو په مفعول مالم يسم فاعله کښې چې مفعول دادفاعل په ځا ی قايم دي او دويم په دي متن دبهر نه اعتراض. **اعتراض**: چې تا ووئيل چې ان اقتضی الفاعل نو اضمرت: نو چې اضمار اوشی نو معلومه به شی چې حذف به نه وی شوي نو دون الحذف ته ضرورت نه وو ؟ **جواب**: مقصود دلته هغه خلاف دکسائی دي يعنی بيان دمذهب دکسائی دي. **وحذف المفعول**: که فعل اول تقاضا دفاعل کوله نو دهغی حکم تير شو اوس که تقاضا دمفعول ئی کوله نو حذف کوی به ي. **تحرزاً**: سره دليل ذکر کوی چې که ذکر کوونو تکرار لازميږي او که ضمار کوو نو اضمار قبل الذکر راځی په فضله کښې او تکرار او مذکوره اضمار دواړه ندي جائز.

**ان استغنی عنه**: که چيرته استغناء دمفعول دذکر نه وه نو حذف به کوی او که نه وه نو ظاهره وی به ئی، لکه حسبنی منطلقا و حسبت زيداً منطلقا، دلته يو تنازع داده چې حسبنی وائی چې زيد دي مالره فاعل شی او حسبت وائی چې زيداً دي مالره مفعول شی. اوس به دلته دغه وروستنی اسم ظاهر چې منطلقا دي مخکښې ذکر کوو، دليل ئی دادي لانه لايجوز حذف: دا دليل دي ځکه حذف ندي جائز چې دباب دحسبت ديو مفعول حذف ندي جائز حذف ديو دمفعولينو دا په حقيقت کښې حذف دجزء دي ځکه مفعولين دافعال قلوب دا مفعول واحد وی، او دويم دا چې اضمار ئی هم ندي جائز ځکه لازم به شی اضمار قبل الذکر په فضله کښې وهذا ايضاً ليس بجائز.

**وان اعملت الفعل الاول**: شارح قيد دالفعل راويستلو پدي سره تعين دموصوف د الاول يي وکړو، **کما هو مختار الکوفين**: سره شارح تعين دمذهب دکوفينو وکړو او دا تصريح بما علم التزاماً دي، **اضمرت الفاعل**: نو فعل ثانی ته به ګوري که تقاضا دفاعل ئی کوله نو ضمير دفاعل به راوړي لکه ضربنی واکرمنی زيد. **واضمرت المفعول**: شارح قاعدي دعطف ته اشاره وکړه چې المفعول عطف دي په الفاعل نو د

Maktaba Tul Ishaat. com



اضمرت لانديِ راغلو، على المذهب المختار اول بيان داختلاف، دويم دليل دمذهب مختار، دريم توضيح بالمثال : ولم تحذفه وان جاز حذفه. سره اول غرض، په مفعول دفعل ثاني كښي دوه مذهبه دي، يو مذهب دادي چې اضمار ئې وكړي او دامختار هم دي او دويم مذهب دا دي چې حذف ئې وكړي ، لئلا يتوهم سره دويم غرض مذهب مختار والاوائي كه چيرته مفعول دفعل ثاني حذف كړو نو خلق به توهم كوي چې مفعول دفعل ثاني دا به مغاير وي دمفعول دفعل اول نه .

**ضربني واكرمته زيدٌ**: سره دريم غرض توضيح بالمثال . الاان يمنع مانع. دا الا استثناء ده دمدلول دكلام سابق نه مخكښې دوه خبري ذكر شوي. يو دا چې بناء برمذهب مختار به حذف كوي كه ددي دواړو نه مانع موجود وو **من الاضمار**: سره شارح بيان دما منه المانع كوي چې داضمار نه مانع وي اوحذف نه مانع وي. **فتظهر المفعول**: اول دليل دفتظهر ، دويم توضيح دمثال . دريم تطبيق دمثال، څلورم بيان اعتراض ، پنځم جواب ، فانه اذا امتنع ، سره اول غرض. اظهار به دمفعول ځكه كوي چې حذف او اضمار ممتنع دي.

**نحو حسبني وحسبتهما منطلقين الزيدان منطلقا**: سره دويم غرض ، **حيث اعمل** : سره دريم غرض تطبيق دمثال دممثل سره كوي پدي تركيب دوه تنازع دي يوه دا چې حسبني وائي زما دپاره دي الزيدان فاعل شي او حسبت وائي زما دپاره دي الزيدان مفعول شي دي سره زمونږ كار نشته. دويمه تنازع داده چې حسبني وائي چې زما يو مفعول شته چې ياء دمتكلم ده او دويم مفعول دي مالره منطلقا شي اوحسبت وائي چې زما دپاره يو مفعول شته چې هما ضمير دي او مفعول ثاني دي مالره منطلقاً شي اوس دكوفيانو په نزد مونږ فعل اول ته عمل وركړو او فعل ثاني تقاضا دمفعول كوي نو كه حذف كوو نو حذف ديو دمفعولينو دافعال قلوبو راځي او دا ندي جائز او كه اضمار كوو نو يا به ضمير دتثنيه راوړو اويا ضمير دمفرد كه ضمير دتثنيه راوړو نو مطابقت په مابين دراجع او مرجع كښې نه راځي ضمير به تثنيه شي او مرجع چې منطلقاً دي مفرد دي او كه ضمير د مفرد راوړو نو مطابقت نه راځي په مابين دمفعولينو كښې يو مفعول تثنيه ده او بل به مفرد شي نو فتعين الاظهار

Maktaba Tul Ishaat. com



**ولا يخفى انه لا يتصور:** سره څلورم غرض بيان داعتراض په حسبني او حسبت باندي هغه داسي چي حسبني او حسبت په مابين کښي خو تنازع نشته ځکه حسبني مفعول غواړي خو مفرد او حسبت مفعول غواړي خو تثنيه او منطلقاً مفرد دي نو دينه معلوميږي چي دا معمول دحسبني دي،**الا اذا لاحظت** : سره پنځم غرض جواب : خلاصه دجواب داده چي دتنازع دپاره دا مفعول ثاني مونږ په درجه دلابشرط الشئ کښي اخلو يعني ذات من له الانطلاق بغير داعتبار دمفرد او دتثنيه نه.

## د شاعرانو اقسام

**ولما استدل الكوفيون:** اول توطيه او تمهيد او غرض پکښي دفع داعتراض، دويم دفع داعتراض ، دريم هم دفع داعتراض ، **اعتراض**: خبره په تنازع کښي وه او ته شاعرانو پسي لاړي، ؟ **جواب**: دا شعر دکوفيانو دپاره دليل وو ځکه مونږ دلته را نقل کړو شاعران په څلور قسمه دي، اول شاعر جاهلي چي دجاهليت په زمانه کښ تير شوي وي ، دويم اسلامي چي داسلام په زمانه کښي تير شوي يوي برابر خبره ده چي مسلمان وي او که نه . دريم شاعر محضرمي چي دواړه زماني پري تيري شوي وي، څلورم شاعر محدث چي وروسته زمانه کښي تير شوي وي په اولنيو دري شاعرانو باندي چي دهر يو قول وی په عربي لغت کښي پدي دليل نيولی شي او په څلورم ئي نشي نيولی او دنبي اکرمﷺ په قول هم دليل په نحوه کښي نيولی شي مطلقاً :

**امرء القيس الذى هو افصح**: سره دويم غرض دفع اعتراض : **اعتراض**: امر القيس خو شاعر دي دده په قول څرنګه دليل نيسيي؟ **جواب**: جواب استدلال دده په خبره ځکه نيسو چي داډير فصيح دي دعربو. **اذ لا قائل بتساوى الاعمالين**: سره دريم غرض دفع داعتراض ، **اعتراض**: استدلال په اوليت دفعل اول سره دا صحيح ندي ځکه کيداي شي چي دده په نزد دواړه فعلين عمل کښي سره برابر وی ؟ **جواب**: پدي خبري هيڅوك قائل ندي چي دامرء القيس په نزد عمل کښي سره برابر دي

**فاجاب المصنف ليس منه اى من باب التنازع**: اول غرض دفع اعتراض :دويم فساد دمعنى ، دريم مبنى دفساد ، څلورم تصحيح دشعر ، پنځم تائيد دخپل قول دپاره ، شپږم معنى دشعر ، اي ليس من باب الخ. سره اول غرض دفع اعتراض تا مخکښي

Maktaba Tul Ishaat. com



وونیل چی کوفیانو دلیل نیولی په قول دامرء القیس او دلته وائی چی دا قول دامر القیس ندي؟ **جواب:** دلیس منع معنی دا نده چی دا قول دامر القیس ندي بلکه معنی ئی داده چی دا دباب دتنازع نه ندي.

**على تقدير توجه:** سره دویم غرض فساد دمعنی دا بناء دي په یوه قاعده او هغه دا چی (لو) خپل مدخول که مثبت وی منفی کوی یی او که منفي وي مثبت کوی نو ددي شعر معنی به داسي شی چی زه سعی او کوشش نه کوم لپاره دادنی معیشت او کافی ندي مالره لږ مال او زه طلب کومه لږ مال نو معنی فاسده شوه او دا فساد معنی دا دتنازع نه راغله.

**وذالک لان لو تجعل:** سره دریم غرض ذکر کوی چی مبنی دفساد هغه (لو) دي، فعلي هذا ینبغی سره څلورم غرض، تصحیح دشعر دا ده چی دلته دسره تنازع نشته قلیل من المال دا فاعل دفعل اول دپاره چی کفانی دي او دلم اطلب مفعول محذوف دي چی هغه العز والمجد دي. **کما یدل علیه البیت المتاخر:** سره پنځم غرض تائید د خپل قول چی حذف دمفعول دفعل ثانی باندي آخرنی بیت دلالت کوی شعر: ولکنما اسعی لمجد موثّل وقد یدریك المجد المؤثل امثالی) **وحينئذ:** سره شپږم غرض ذکر کوی چی معنی دشعر به اوس برابره شی سره دلحاظ د (لو) نه.

## بیان د مفعول مالم یسم فاعله

**مفعول مالم یسم فاعله:** هر کله چی فارغ شو ماتن دفاعل نه نو شروع ئی اوکړه په نائب فاعل کښی نو وي وونیل مفعول مالم یسم فاعله، اول تعین د (ما) کوی، دویم دفع اعتراض، دریم معنی د(لم) یسم ذکر کوی او غرض ئی پکښی دفع داعتراض ده، څلورم دفع داعتراض، **ای مفعول فعل:** اول غرض چی ما موصوفه ده او عبارت ده دفعل او شبه فعل نه، او شبه فعل سره دویم غرض: **اعتراض:** (ما) دچا نه عبارت ده که دفعل نه وی شبه فعل پاتی شو او که دشبه فعل نه وی نو فعل پاتی شو او که د دواړو نه عبارت وی نو (ما) خو لفظاً مفرد دي،؟ **جواب:** (ما) عبارت دي د فعل نه او شبه فعل پري عطف دي نو معنی به داسي شی چی مفعول دهغه فعل او شبه فعل چی نه وی ذکر فاعل د ده.

Maktaba Tul Ishaat. com



**لم يذكر فاعله**: سره دريم غرض : باب دسمی یسمي په دوو معنی ؤ سره راځی په معنی د ذکر سره اوبل په معنی دوضع سره قرینه ئی داده که متعدي وو يو مفعول ته دلته په معنی د ذکر سره راځی لکه پدي ځائی کښی چی متعدي يو مفعول ته دي چی هغه فاعله دي او که متعدي وی مفعولینو ته بیا په معنی دوضع سره وی لکه (هو سمّکم المسلمين) دلته متعدي دوو مفعولینو ته دي يو (کم) دي او بل (المسلمين) دي نو په معنی دوضع سره دي یعنی وضع اسمکم المسلمين لم يسم فاعله ، لم يسم به په معنی دلم یوضع سره وی چی فاعل ئی نه وی وضع شوي نو مفعول به دکوم ځای نه راشی. ؟ **جواب**: لم يسم فاعله دا په معنی دلم يذكر فاعله سره دي.

**وانما لم يفصله عن الفاعل**: څلورم غرض دفع اعتراض، په فاعل کښی ووئيل ومنه الفاعل او وروسته په مبتدا او خبر کښی هم وائی چی ومنها المبتدا والخبر نو دلته به دي هم و يلی وی چی ومنه مفعول الخ... ؟ **جواب**: شته دي په شرحه کښی.

## په لفظ کُل باندی اعتراض

**كل مفعول حذف فاعله**: معنی لغوی ئی دنائب فاعل ذکر کړه اوس معنی اصطلاحی ذکر کوی چی کل مفعول الخ .. دبهر نه په متن دوه اعتراضه واردیږي.

**اعتراض**: منطقیان کل په تعریفاتو کښی نه راوړي ځکه کل راځی دپاره داحاطی دافرادو او تعریف دماهيت کیږي نه دا افرادو تا ولی دلته په تعریف کښی کل راوړي؟

**جواب**: دا دمنطقیانو خبري دي او دا نحوه ده مونږ دلته کل راوړي لپاره دجامعیت او مانعیت چی تعریف جامع مانع شی نه دپاره د احاطه دافرادو، دويم **اعتراض**: ته تعریف دمالم يسم فاعله کوی او وروسته تعریف کښی هم راځی کل مفعول حذف فاعله نو لازم شو اخذ دمحدود په حد کښی او دا ناجائز دي؟ **جواب**: محدود کښی مفعول نه مراد مفعول اصطلاحی دي او وروسته په تعریف کښی چی کوم مفعول دي دهٔ نه مراد مفعول لغوی دي نو مفعول اصطلاحی موقوف شو په مفعول لغوی باندي.

**ای فاعل ذالک المفعول**: تعين دضمير دفاعله کوی چی دا راجع دي مفعول ددغه فاعل ته. **وانما اضيف الی المفعول**: دي سره غرض دشارح دفع داعتراض دهٔ **اعتراض**: ته وائی چی حذف فاعله دفاعل نسبت خو فعل ته کیږي او تا دلته نسبت دفاعل

Maktaba Tul Ishaat. com



مُفعول ته کړو دا ولی ؟ **جواب**: اضافت دفاعل مفعول ته دا له وجی د ادنی ملابست څخه دي او ادنی ملابست دیته وائی چی اضافت دیو شی وکړي داسي یو شی ته چی د اصل مضاف الیه او ددغه مضاف الیه په مابین کښی سره تعلق وی یا ادنی ملابست دیته وائی چی دوه شیان دیو شی دمتعلقاتو څخه وی او دلته هم فاعل او مفعول دمتعلقاتو دفعل نه دي، یا دا مجموعه عبارت دائی فاعل ذالك المفعول نه تر آخره پوري دفع دیو اعتراض ده هغه دا چی دای فاعله کښی دا (ه) ضمیر چا ته راجع دي، فعل ته او که مفعول ته که فعل ته راجع وی نو اضمار قبل الذکر راځی او که مفعول ته راجع وی نو بیا اضافت نه صحیح کیږي ځکه اضافت دفاعل فعل ته کیږي نه مفعول ته ؟ **جواب**: ضمیر راجع دي مفعول ته او دا اضافت دوجی د ادنی ملابست نه دي.

**واقیم هو ای المفعول**: هو ضمیر راجع دي مفعول ته **مقامه**: اول تعین دمرجع دضمیر دمقامه کوی ای مقام الفاعل، دویم وجه دقیام ذکر کوی چی فی اسناد الفعل او شبهه الیه ، **اعتراض په متن**: په بحث د ضمائرو کښی دي وئیلی چی ولا یسوغ المنفصل الالتعذر المتصل او دلته خو ضمیر متصل شته متعذر ندي ځکه اقیم کښی ضمیر شته نو (هو) ته څه ضرورت وه ؟ **جواب**: محشی کړي دي او هغه دا چی مونږه داسي کار وکړو ځکه چا به توهم کولو چي فاعل د اقیم مقامه دي نو بیا خو جمله بلا عائد پاتی شوه ځکه ضمیر نشته چی مخکښی ته یي راجع کړي نو فاعل د اقیم هغه مفعول دي چی دغه (هو) ضمیر هم ورته راجع دي .

## شرط مفعول مالم یسم فاعله

**وشرطه ای شرط مفعول مالم یسم فاعله**: اول بیان دضمیر دویم دفع اعتراض ، دریم دفع داعتراض ، اول خبره چی ضمیر په شرطه کښی مفعول ما لم یسم فاعله ته راجع دي. **فی حذف فاعله**: دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی دا شرطیه دتصور دمفعول ما لم یسم فاعله دپاره وي سره ددینه چی دتصور دپاره ئی دا شرط ندي بغیر ددغه شرط نه هم په تصور کښی راځی ؟ **جواب**: داشرط دي دحذف دفاعل دمفعول دپاره . **اذا کان عامله فعلاً**: دفع داعتراض : **اعتراض**: زه به درته وبنایم ، نائب فاعل به وی او سره ددینه چی صیغه دفعل به فَعَلَ نه فُعِلَ ته او یَفْعَلُ نه به یُفْعَلُ ته نه وي

Maktaba Tul Ishaat. com



متغیر شوي لکه زید مضروب غلامه ؟ **جواب:** دا شرط هلته دي چی عامل به فعل وی او دلته عامل مضروب مفعول دي.

**ان تغیر صیغه الفعل الی فُعِلَ ای الی الماضی المجهول:** دفع داعتراض: زه به درته وښایم نائب فاعل به وی او دفعل نه به صیغه نه وي متغیره شوي فعل ته لکه اکل زیدٌ خبراً زید فاعل حذف کړه نو داسي به شی اکل خبرٌ نائب فاعل شته چی خبرٌ دي او فَعَلَ فُعِلَ ته نده متغیر شوي ؟ **جواب:** الی الی الماضی المجهول ، ۱۲ حاشیه کښی شته ذکر دعلم مراد ترینه وصف دي . **فیتناول مثل افتعل:** دي سره فائده ذکر کوی او دفع دتوهم کوی هغه دا چی دا صیغه دفعل به صرف دفَعَلَ نه فُعِلَ او یَفْعَلُ نه یُفْعَلُ ته منتقل شوي، دي وائی نه نور هم وتلی شی دمجردو نه معلوم نه به مجهول ته لاړ شی بیا مجهول عام دي مجرد وی او که مزید وي، **ولا موقع الفاعل:** دفع داعتراض هغه دا چی تا ووئیل چی نه واقع کیږي مفعول ثانی دباب دعلمت نو تا مفعول معدوم کړو، ؟ **جواب:** په ځای دفاعل نه واقع کیږي .

**لانه مسند الی المفعول الاول:** اول دلیل ، دویم دفع داعتراض : مفعول ثانی دباب دعلمت ځکه په ځاي دفاعل نشی واقع کیدلی چی دا مفعولین په حقیقت کښی مبتدا او خبروي نو دوهم مفعول ئی په منزله دخبر شو او خبر مسند وی نو قائمقام دفاعل به هم شی نو مسند الیه به شی ځکه فاعل مسند الیه وی نو یو شی به مسند او مسند الیه وګرځی او یوشی مسند او مسند الیه نشی ګرځیدلی نو ځکه قائمقام دفاعل نه ګرځی **بخلاف اعجبنی ضرب زید عمرواً: دفع داعتراض:** هغه دا چی زه به درته اوښایم چی یو شی به مسند او مسند الیه ګرځیدلي وی لکه اعجبنی ضرب زید عمرواً دلته ضرب زید فاعل داعجبنی دي نو مسند الیه او مسند دواړه وګرځیده ؟ **جواب:** یو داسنادینو نه چی هغه اسناد دمصدر دي دا غیر تام دي ځکه دا خو ځانله مبتدا اوخبر جمله واقع کیږي داضرب زید دي مسند او مسند الیه نه مراد زمونږ چی یو شی مسند او مسند الیه نشی واقع کیدلی خو په اسناد تام کښی .

**ولا المفعول الثالث من مفاعیل باب اعلمت:** مراد دباب داعملت نه هغه فعل دي چی دري مفعوله غواړي ، **اذ حکمه:** سره دلیل ذکر کوی، **والمفعول له بلا لام:** اول

Maktaba Tul Ishaat. com


دفع داعتراض، دويم دليل ذكر كوى، دريم تصريح بالاعتراض . **اعتراض:** زه به درته وښايم چې مفعول له به وي او په ځاي دفاعل به راغلى وي لكه ضرب للتايب؟ **جواب:** مراد دمفعول له نه هغه مفعول له دي چې بغير دلام نه وي او دا خو سره دلام نه دي لكه ضربت زيداً تاديباً داسي نشي وئيلى چې فاعل حذف كړي او وويي چې ضربً تاديباً

**لان النصب فيه مشعر بالعلية:** دليل ذكر كوى چې مفعول له ولى په ځاي دفاعل نشي واقع كيدلى ، بخلاف ما كان مع اللام . تصريح بالاعتراض او ددي جواب په اول غرض كښې چې دفع داعتراض ده وشو. والمفعول معه كذلك، اى كل من المفعول له اول وجه دشبه، دويم دليل ، اول غرض اى كل من المفعول له سره دي **واما المفعول له فلما عرفت:** دي سره دليل ذكر كوى، **واذا وجد المفعول به:** په متن باندي يو اعتراض دي خو بناء دي په يوه قاعدي: هغه دا چې جمله فعليه كښې حامل دفائدي فاعل وى او په جمله اسميه كښې حامل دفائدي جزاء وى نو كه فائده دشرط نه معلوميده نو جزا ته ضرورت نشته دي او دغه شان كه په مخكينو دوؤ كښې فائده دمبتدا او فعل نه معلوميده نو خبر او فاعل ته ضرورت نشته اوس دلته واذا وجد المفعول به دا شرط دي او وروسته تعين له ورلره جزا دا نو ديته خو ضرورت نشته؟

**جواب:** دجزاء فائده شته ځكه دا هغه صورت دي چې ددي مفعول به سره نور مفاعيل هم وي نو پته نه لګيده چې كوم يو قايمقام دفاعل دي نو ده ووئلو تعين له او چې مفعول به ځانته وى هغه صورت دلته زمونږ ندي مراد ، دتعين دوه معنى دي يو معنى ئى وجوب ده او بله معنى ئى اولويت ده، نو دلته دوه مذهبه دي، اول بصريان دي دويم كوفيان دي، كوفيان وائى چې په دغه صورت كښې چې مفعول به د نورو مفاعيلو سره په كلام كښې راشي نو واجب دي چې دغه مفعول به نائب فاعل جوړ كړي او كوفيان وائى چې اولى ده چې نائب فاعل دغه مفعول به شي. **له: اى لوقع موقع الفاعل:** اول تعين دضمير ، دويم دليل ، دريم توضيح بالمثال . اول غرض دا چې ضمير مفعول به ته راجع دي.

**لشدة شبهه بالفاعل:** دي سره دليل ذكر كوى، دفعل دپاره دوه وجوده دي وجود ذهني او او بل وجود خارجي ، وجود ذهني دفعل صرف فعل او فاعل غواړي او وجود

Maktaba Tul Ishaat. com



خارجي دفعل فاعل، مفعول، علت مکان یس ټول متعلقات غواړي، **فان الضرب مثلاً**: توضیح کوی، **ضرباً شدیداً مفعول مطلق للنوع**: دي سره تعین دمفعول مطلق کوی چي مفعول مطلق کله د تاکید دپاره راځی کله دعدد دپاره راځی او کله دنوع لپاره راځی نو دلته دا ضرباً شدیداً د څه لپاره دي نو دي وائی چي دلته دنوع دپاره دي په اعتبار دصفت سره،

**وفائدة وصف الضرب**: چي ته مفعول مطلق قائمقام دفاعل کرځوی نو یوصفت سره به ئی مقید کوی څکه نفس حدث باندي خو فعل هم دال دي. **وان لم یکن**: که مفعول به په کلام کښي نه وو لکه (والله یدعوا الی دار السلام) مفعول نشته چي هغه کل واحد دي **ای وان لم یوجد**: دي عبارت سره اشاره کوی چي کان تامه دي او غرض پکښي دفع داعتراض ده هغه دا چي یکن فعل دي دافعال ناقصه اسم مرفوع خبر منصوب غواړي نو دا فالجمیع سواءٌ که ورلره اسم شي نوخبر ئی کوم دي او که دائی خبر شي نو اسم یی کوم دي؟ **جواب**: یکن دا تامه دي فالجمیع سواءٌ وزلره اسم دي خبر ته ئی ضرورت نشته، که مفعول به په کلام کښي نه وي بیا ټول مفاعیل برابر دي چي قایم مقام دفاعل شي دا خو جوازاً دي او په اولویت کښي اختلاف دي څوك وائی مفعول مطلق اولیٰ دي اوڅوك وائي ظرف اولیٰ دي.

**والمفعول الاول من باب اعطیت ای الفعل المتعدی**: اول قاعده کلیه هغه دا چي صرف مفعول اول دباب داعطیت ندي مراد چي په مقام دفاعل اولیٰ دي بلکه هر هغه فعل چي متعدي وی مفعولینو ته نو اولی داده چي مفعول اوّل پکښي په مقام دفاعل واقع شي، **وثاینهما غیر الاول**: دفع اعتراض: **اعتراض**: هغه دا چي تا مخکښي ووئیل چي په باب داعطیت کښي مفعول اول قایمقام دفاعل شي نو دیځه خو معلومیږي چي مفعول ثاني دباب داعطیت هم جائز دي چي قایمقام دفاعل شي نو هلته امتناع ده او دلته جواز دي؟ **جواب**: دلته جوازدمفعول ثاني دباب داعطیت معلومیږي دا اول مفعول نه چي قایمقام دفاعل خو لیکن دا مفعول ثاني غیر وی دمفعول اول نه نو اولویت کښي نشو او جواز ئی شته چي قایمقام دفاعل شی لکه اعطیت زیداً درهماً نو درهماً غیر دي دزید نه، او باب دعلمت کښي چي مفعول ثاني قایمقام دفاعل نشي واقع

Maktaba Tul Ishaat. com



کیدلی شی څکه چی مفعول اول او ثانی دواړه عین دي لکه علمت زیداً فاضلاً نو زید فاضل او فاضل زید دي دواړه عین دي.

**اولی ان یقام مقام الفاعل:** دا معنی داولی ذکر کوی. **من المفعول الثانی لان فیه:** اول دلیل ،دویم توضیح دریم دفع اعتراض ، لان فیه دي سره دلیل ذکر کوی او نحو أعطی درهما سره توضیح بالمثال کوی ، **وذالک عند الامن من اللبس:** دا دفع داعتراض ده هغه دا چی ستا داولی نه دا خبره معلومیږي چی مفعول ثانی دباب داعطیت قایمقام دفاعل کیدي شی جوازاً خو اول اولی دي زه به درته وښایم چی مفعول ثانی دباب داعطیت به دفاعل قایمقام نشی کیدي لکه اعطیت زیداً عمرواً دینه فاعل حذف کړه نو داسي به شی چی اعطی زیدٌ عمرواً نو د اخذ نه ماخوذ او دمالك نه به مملوك جوړ شی، ؟ **جواب:** جواز دمفعول ثانی دباب اعطیت په مقام دفاعل باندي خو په وخت دعدم التباس کښې او که التباس موجوُد وو بیا خو واجب دي چی مفعول اول قایمقام دفاعل کړي.

## بیان دُ تعدد دِ نسخو په منه کښې

**ومنها المبتدا والخبر وفی بعض النسخ:** اول غرض تعدد دنسخو. دویم صحت دنسخي، دریم دفع داعتراض، څلورم دفع داعتراض بعضو نسخو کښې دي «ومنه» او په بعضو نسخو کښې دي ومنها ، نو صحت دنسخو کوی چی دواړه صحیح دي نسخه که دي ومنهما شی نو من جملة المرفوعات او که منه شی نو من جملة المرفوع المبتدا او الخبر ، جمعهما فی فصل واحد ، دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی دا دواړه عین دمرفوعاتو نه دي نو پکار ده چی جدا جدا ئی ذکر کړي او تا دواړه په یوه منها او یو فصل کښې راجمع کړي ددي دپاره دوه دلیله دي. اول دلیل په مینځ د دوي کښې تلازم دي، دویم دلیل واشتراکهما فی العامل المعنوي . **علی ما هو الاصل:** دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی ته وائی چي په مابین د دوي کښې تلازم دي نو مبتدا قسم ثانی شته او خبر نشته څکه مابعد فاعل سد مسد دخبر دي؟ **جواب:** تلازم په اصلی مبتدا کښې دي او قسم ثانی خو مجازي مبتدا ده .

Maktaba Tul Ishaat. com



## تعریف د مبتد

**فالمبتداهوالاسم**: تعریف دمبتدا کوی او په لفظاً او تقدیراً سره تعمیم ذکر کوی چې اسم عام دي لفظاً وی او که تقدیراً : **لیتاول**: سره دفع داعتراض کوی هغه دا چې نه وائی چې مبتدا به اسم وی نظر اوکړه (ان تصوموا) نه مبتدا فعل دي او خبر ورلره خیرلکم دي ؟ **جواب**: اسم عام دي حقیقتاً وی او که تاویلاً دا تهول مؤول دي په تاویل د مصدر سره چې صیامکم خیرلکم یا لکه تسمع بالمعید ای دلته هم مبتدا تسمع فعل دي لیکن مؤول دي په ان مصدریه سره چې سماعك بالمعیداو دا تاویل په االنذرتهم ام لم تنذرهم کښې هم دي، قاعده : په بیضاوي کښې قاعده ده چې هر فعل مبتدا واقع کیدي شی چې کله معنی حدثی ورنه واخلی او نسبت او زمانه ورنه کټ کړي .

**المجردعن العوامل اللفظية**: اول دفع اعتراض ، دریم فائده ددي قید. دریم دفع داعتراض : **اعتراض**: المجرد صیغه داسم مفعول ده او الف لام پري داخل شوي دي او دا قاعده ده چې الف لام په اسم فاعل یا اسم مفعول داخل شی په معنی د الذی او اللتی سره وی او اسم فاعل به په معنی دفعل معلوم سره وی او اسم مفعول به په معنی دفعل مجهول سره وی دلته به داسي شی چې الذی جرد مبتدا هغه اسم دي چې خالی کړي شوي وی نو خالی کول مخکښې اعراب غواړي بیا به ئی خالی کوی نو چې ابتدائی مبتدا کوی نو دلته خو عامل نشته ؟ **جواب**: الذی لم یوجد فیه عامل لفظی اصلا .

**واحترزبه**: دي سره فائده دقید ذکر کوی، وکانه اراد بالعامل اللفظی : دفع داعتراض : نه وائی چې مبتدا کښې به عامل لفظی نه وی زه به درته وښایم چې مبتدا به وی او عامل به پکښې لفظی وی لکه بحسبك زیدٌ دلته بحسبك مبتدا ده او عامل پکښې لفظی دي چې هغه باء ده؟ **جواب**: مراد دعامل نه مؤثر فی المعنی دي او دلته خو باء زائده ده که وی او که نه معنی کښې ئی څه فرق نه راځی

**اعتراض په متن**: عوامل جمع ده او دجمع کم از کم افراد دري وي نو معنی دا شوه چې مبتدا به کم از کم د دریو عاملو نه خالي وی نو بیا به مبتدا وی، ؟ **جواب**: په العوامل کښې الف لام جنسی دي او دا چې په جمع داخل شی نو جمعیت ئی باطلوی **مسندالیه**: الاسم دا اسم جنس دي او المجرد عن العوامل اللفظیه دافصل اول شو او

Maktaba Tul Ishaat. com


مسند اليه ورلره فصل ثاني شو دا مخكښې د مبتدا قسم اول وو، او الصفة الواقعة سره قسم ثاني دمبتدا ذكر كوي په متن باندي اعتراض.

**اعتراض**: په اوالصفة كښې (او) عاطفه دي دا په چا عطف دي عام شارحين وائي لكه حاشيه كښې شته چې دا عطف دي په اسم باندي نو دمعطوف عليه نه مخكښې عبارت به دلته هم راوباسي چې فالمبتدا الصفة الواقعة الخ ... دا خبره ضعيفه ده ځكه دا پته ونه لګيدله چې قسم ثاني دمبتدا به هم مجرد وى ددي عواملو لفظيه ؤنه او كه نه به وى او سره ددينه چې داخبره خو په قسم ثاني دمبتدا كښې هم شته چې خالي به وي د عواملو لفظيه نه صحيح وجه عبد الغفور ذكر كړي ده چې دا عطف دي په مسند اليه باندي نو معنى به داسي شي چې مبتدا هغه اسم دي چې مجرد به وي دعواملو لفظيه ؤ نه او واقع به وى وروسته دحرف نفى او يادااستفهام نه او دا قول راجح دي،

**اعتـراض**: او لپـاره دتشـكيك او تعريـف لپـاره دوضـاحت نـو راوړل د (او) پـه تعريف كښې شنيع دي؟ **جواب**: او لپاره دتنويع دي چې مبتدا په دوه قسمه ده يو مبتدا مسند اليـه او بـل مبتـدا صفت دي. **سـواءٌ كـانـت مشـتقة**: دي سره تعميم ذكر كـوى، **الواقعة بعد حرف النفى**: تعين دحرف نفي كوى چې ما او لا دي.

**اوالف الاستفهام او نحوه**: اول تعميم دويم اختلاف ، دريم دليـل دمخالف، څلورم دفع داعتراض : اول خبره : يواځې الف استفهام نه بلكه چې په مثـل ددي وى لكـه (هل ومـا مـن) وعـن سـيبويه بيـان داخـتلاف كـوى پـدي مبتـدا كښـى دري مـذاهب دي، اول جمهور وائي چې صفت به هله مبتدا واقع كيږي چې وروسته دحرف نفي او الف استفهام نه وى ونحـوه دا ورلـره شـرط دي، دويـم سـيبويه وائـى چـې صـفت بغيـر دحـرف نفـى او استفهام نه مبتدا واقع كيداى شي ليكن دا مع قبح، دريم اخفش وايي چې صفت مبتدا واقع كيداي شى كه بغير دحرف نفى او استفهام نه وي او دا مع قبح ندي بلكه حسن دي.

**وعليه قول الشاعر فخير نحن عند الناس منكم**: دي سره دليـل دمخالف ذكر كوى چې اخفش دي تركيب خير اسم تفضيل دي صفت دي مبتداً ثاني ده او نحن فاعل سد مسد دخبر دى پس دحرف نفى نه ندي او وروسته ورنـه الف الاستفهام هم نشته ،

**ولوجعل**: دفع داعتـراض : **اعتـراض**: په اخفش وارديږي چې ستا استدلال پدي شعر

Maktaba Tul Ishaat. com



باندي ندي صحيح ځکه خيرٌ خبر مقدم نشی کرځيدلی ځکه که شی نو خير اسم تفضيل دي او منکم ئی مفعول دي نو بيا به د اسم تفضيل او دده په مابين کښی فصل راشی په نحن سره چی اجنبی دي او فصل بالاجنبی صحيح ندي ځکه اسم تفضيل ضعيف العمل دي او که خيرٌ مبتدا شی نو نحن به ورلره فاعل شی او فصل په فاعل سره دا جائز دي ځکه فاعل کالجزء وی او مبتدا مستقله ده دجمهورو دطرف نه دوي ته دوه جوابونه دي اول جواب دادي چی صفت مبتدا واقع کيدي شی خو وروسته دحرف نفی او استفهام نه به وي دا ورلره پکار دي خو په صحت دکلام کښی او دلته چی مبتدا صفت دي او بغير دحرف نفی او الف استفهام نه راغلی دا دضرورت شعري دوجی نه. دويم جواب دادي چي خيرٌ خبر مقدم دي او نحن مبتدا موخره ده که ته وائی چی فصل راغی په نحن سره منکم معمول دنحن دي دمسئله کحل په شان او په عند الناس ظرف سره فصل چی راغلی دا پشان دکلا فصل دي ځکه په ظروفو کښی توسع وی

**رافعة لظاهر او مايجری مجراه:** اول دفع داعتراض ، دويم فائده ددي قيد ،

**اعتراض:** زه به درته وښايم صفت به وي وروسته دحرف نفی او الف استفهام نه به وي مبتدا به هم وی او رافع به ظاهر لره نه وی بلکه رافع دضمير به وی لکه ( اراغبٌ انت عن آلهتی يا ابراهيم ) اراغب مبتدا ثانی ده او رافع ده ضمير لره چی انت ده، ؟ **جواب:** رفع به ورکوی اسم ظاهر لره ياجاري مجراي دظاهر لره نو دلته انت جاری مجراي ظاهر دي ځکه دا ضمير مرفوع منفصل دي.

**واحترزبه عن نحو اقائمان الزيدان:** دي سره فائده دقيد ذکر کوی چی په اقائمان تول تعريف دمبتدا ثانی صادق دي نو دلته اقائمان نه مبتدا قسم ثانی نه وائي او وروسته ته سد مسد نه وائی دفاعل ځکه به دا رافع نه وي الزيدان لره او که وی نو قاعده داده چی نسبت دفعل شبه فعل وشی اسم ظاهر ته نو وحد الفعل ابداً او دلته فاعل اسم ظاهر دي او بيا هم فعل اقائمان تثنيه ده نو ترکيب به داسي کوی چی اقائمان خبر مقدم او الزيدان ورلره مبتدا موخره ده. **مثل زيد قائم:** اول تعين دممثل له ، دويم دفع داعتراض . هغه دا چی دتوضيح دممثل دپاره يو مثال کافی وي او تا دري مثاله راوړي ؟ **جواب:** ممثلان هم دري دي **فان طابقت:** ددي خبري تعلق مبتدا قسم

Maktaba Tul Ishaat. com



ثانی سره دي دغه صفت چی واقع وی پس دحرف نفی نه الخ .. چی موافق نشی دهغه مفرد سره چی کوم ددي صفت نه وروسته واقع وی لکه اقائم زید نو پدي صورت کښی جاز الامران یو امر دا چی قائم صفت د مبتدا قسم ثانی شی او زید فاعل سدمسد دخبر دا ورلره خبر شی دویم امر دا چی قائم خبر مقدم او زید مبتدا موخر شی .

**الصفة الواقعة**: دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی مطابقت کښی ضمیر چا ته راجع دي که مطلق صفت ته راشی نو بیا پکار ده چی په قایم زید کښی هم جواز د امرینو شی ځکه دلته هم مطلق صفت مطابق دي وروسته مفرد سره او دسره ددینه چی دلته جواز دامرینو نشته بلکه یو امر دي هغه دا چی قائم خبر مقدم دي او زید مبتدا مؤخره ده، او که په مطابقت کښی ضمیر دغه صفت مذکوره ته راجح شی یعنی چی واقع وی وروسته د حرف نفی نه الخ .. نو بیا پکار ده چی اقائم الزیدان کښی هم جواز دامرینو شی سره ددینه چی الزیدان فاعل دي او قائم شبه فعل دي فان طابقت مفرداً ندي؟ **جواب**: مراد دصفت مذکور دي خو دلته وروسته یو قید چی رافعة لظاهر. او دلته داسي ندي ځکه اقائم مفرد دي او الزیدان تثنیه ده. خو الزیدان ته قائم رفع نه ده ورکړي بلکه دا مرفوع دي دفاعلیت په وجه او سد مسد دخبر دا قائم دي . **مذکورا بعدها**: اول تعین دمفرد ، دویم توضیح بالمثال ، دریم فائده دمفرد ، واحترز عمااذا طابقت مثنی . دي سره دریم غرض فائده ذکر کوی کون الصفة مبتدا الخ .. تعین دامرین ، دویم تتمیم دمافات دماتن ذکر کوی ،

**والخبر هو المجرد ای هو الاسم المجرد**: اول تعین دالف لام کوی په المجرد کښی ، دویم قرینه پدي ذکر کوی دریم دفع داعتراض په المجرد کښی الف لام عهدي دي او معهود پدي سره اسم مجرد دي. **لان الکلام**: دي سره دوبم غرض قرینه ذکر کوی. **فلا یصدق علی یضرب**: دریم غرض دفع اعتراض د ه او په **انه المجرد** سره ورود د اعتراض کوی هغه دا چی تعریف دخبر دي مانع نشو داخل شو پکښی یضرب په یضرب زید کښی ځکه مجرد دي دعوامل لفظیه ؤ نه مسند دی او مغایر دي صفت مذکوره لره پکار ده چی یضرب ته خبر ووئیلی شی سره ددي نه چی دیته څوك خبر نه وائی ؟

**جواب**: مراد زمونږ دمجرد نه اسم مجرد دي او داخو فعل دي

Maktaba Tul Ishaat. com



**المسند به ای ما یوقع به الاسناد.** اول معنی دمسند به ذکر کوی، دویم فائده ددي قید. دریم غرض مسند به دا معنی چی ددي خبر دوجه نه به اسناد راغلی وي **المغائر للصفة المذکوره:** فی تعریف المبتدا ددي مبتدا نه مبتدا قسم ثانی مراد ده **واحترزبه:** اول فائده ددي، دویم توجیه آخره دعبارت، دریم دفع داعتراض، څلورم بیان داختلاف په واحترز به سره اول غرض دي او په ولك ان تقول سره دویم غرض ذکر کوی چی دوه توجیه دي پکښی وعلی التقدیرین سره دریم غرض دفع اعتراض هغه دا چی تا دا دوه توجیه ذکر کړي صحیح ده هغه دوه توجیه چی په المسند به کښی دي نو المغایر للصفة المذکوره د دي څه فائده شوه ځکه‌پدغه دوه توجهینو سره مبتدا قسم اول او قسم ثانی وځی.؟ **جواب:** دا به صرف دتاکید لپاره شی دا توجهین صحیح دي خو لیکن ضعیف دي ځکه تاکید به هله راځی چی هلته شك وی او دلته شك نشته.

**واعلم ان العامل فی المبتدا:** دي سره څلورم غرض بیان داختلاف ذکر کوی شارح دري مذهبه ذکر کړي، اول مذهب دجمهورو دي او دا په ټولو کښی غوره دي دجمهورو په مذهب اعتراض واردیږي هغه دا چی تجرید عدمی شی دي عدمی شی څنګه عامل کرځی ځکه دعامل معنی داده چی دا به مؤثر وی او د تاثیر دپاره لابدي وی د وجود نه، اول **جواب:** دادي چی عدمی په دوه قسمه دي، اول مطلق عدمی دویم عدمی خاص، مطلق عدمی مؤثر نشی کرځیدی او عدمی خاص مؤثر کرځیدی شی لکه یو کمره وی او تاسره ځوك نه وی او ته ویریږي چی یا رپیري یا کوم شی به راپاندي راشی نو دلته عدمی شی موثر وګرځیدلو او دا عدمی خاص دي، دویم جواب: دادي چی عوامل دنحوی په کلام دعربو کښی علامات دی او عدمی شی علامه کرځیدی شی لکه ته مدرسی ته ټیلیفون وکړي او ځوك ئې نه اوچتوی مذاهب ثلثه دا په کتاب کښی متن کښی موجود دي او څلورم مذهب هغه عکس د دوهم مذهب دي او پنځم مذهب دکوفیانو دي دوي وائی چی مبتدا کښی عامل هغه ضمیر دخبر وی چی دا راجع وی مبتدا ته.

## معنی د لفظ اصل

**واصل المبتدا ای ما ینبغی:** هر کله چی فارغ شو مصنف دتعریف دمبتدا او دخبر نه نوشروع یي کړه په قواعدو دمبتدا او خبر کښی، اوله قاعده داده چی اصل په مبتدا

Maktaba Tul Ishaat. com



کبنی تقدیم دي ای ماینبغی ، اول تعین دمعنی داصل . دویم دفع داعتراض، اصل په ډیرو معنا ګانو سره راځی اصل په معنی دقاعدي کلیه سره راځی اصل په معنی د دلیل سره راځی اصل په معنی دما یبتنی علیه غیره سره راځی . اصل په معنی داستصحاب الحال سره راځی نو شارح فرمائی چی اصل دلته په معنی دما ینبغی سره دي .

**اذا لم یمنع مانعٌ** : دي سره دوهم غرض دفع اعتراض هغه دا چی زه به درته وښایم چی مبتدا به وي او تاخیر به ئی واجب وی لکه فی الدار رجل ؟ **جواب**: دلته مانع شته تقدیم دمبتدا لره ځکه که رجلُ مبتدا کړو بیا نکارت دمبتدا راځی . **التقدیم علی الخبر لفظاً**: اول متعلق دتقدیم ذکر کوی. دویم دلیل متعلق دتقدیم هغه خبر دي او لان المبتدا ذات سره دلیل ذکر کوی چی دا ئی ووئیلو چی مبتدا ذات وی او خبر حال وی د احوال دمبتدا نه نو انشاء خبر نشی واقع کیدلی ځکه انشاء حال نه وی البته تاویل سره انشاء حال واقع کیدای شی. تاووئیل چی مبتدا ذات وی او خبر حال وی پدي باندي اعتراضات وارديږي ، **اول اعتراض** : تاووئیل چی خبر حال وی زه به درته وښایم لکه هذا زیدٌ هذا مبتدا ده او زید خبر دي دلته خو خبر حال ندي بلکه ذات دي؟

**جواب** : دا مؤول دي په تاویل دهذا مسمی زید سره هذا مبتدا او مسمی زید مضاف الیه خبر حال دي. **دویم اعتراض**: ته وائی مبتدا ذات وی زه به درته وښایم چی مبتدا به وی او ذات به نه وی لکه العلم حسنٌ ، العلم مبتدا او حسنٌ خبر نو العلم مبتدا ذات ندي؟ **جواب**: ذات نه مراد قائم بالذات ندي بلکه د ذات نه مراد چی دهغی نه خبر ورکولی شی او دلته مونږ خبر ورکړو چی العلم حسنٌ ، **دریم اعتراض** دا دلیل دتقدیم دمبتدا بجمیع مقدماتها جاري دي په فاعل کبنی ځکه فاعل هم ذات وی نو پکار ده چی واجب التقدیم شی سره ددینه چی واجب التاخیر دي دا فاعل دفعل نه وروسته وی نو مدعي ترینه مخالفه ده؟ **جواب**: تاخیر دفاعل دمانع دوجی نه دي دفعل نه که موخر نشی نو بیا به ئی التباس راشی دمبتدا سره .

**ومن ثم ای ومن اجل**: ثم اسم اشاره ومن اجل سره مشار الیه ذکر کوی. **جاز قولهم فی داره مع کون الضمیر**: تطبیق دمثال ذکر کوی دممثل سره. **وامتنع قولهم صاحبتها فی الدار لعود المضیر**: تطبیق دمثال کوی **وقد یکون المبتدا نکرة**: اوس دوهمه قاعده

Maktaba Tul Ishaat. com



ذکر کوی چی کله کله به مبتدا نکرة وی نو اصل پکښې تعریف شو **اعتراض**: چې اصل په مبتدا کښې تعریف دي نو پکار ده چې داسې دي وئیلی وي چې الاصل فی المبتدا التعریف وقد یکون المبتدا نکرة ؟ **جواب**: دادي چې بناء دمتونو په اختصار سره وی دلته قد لپاره دتقلیل دي دینه پته معلومیږي چې اکثر به مبتدا معرفه وی

**وان كان الاصل فيه**: اول دفع داعتراض، دویم دلیل . دریم توطیه او تمهید دمتن لپاره **اعتراض**: قد داخل دي په فعل مضارع او دا قد لپاره دتقلیل دي نو تقلیل خو تکثر غواړي ؟ **جواب**: مخکښې شوي دي. **لان للمعرّفة**: دي سره دلیل ذکر کوی خلاصه داده چې په مبتدا حکم شوي وي نو لابدي ده چې هغه شي چې حکم پرې شوي وي هغه به معرفه وی او اصل په خبر کښې تنکیر دي ځکه چې دي سره خبر ورکول کیږي نو ته چې چا ته دیوشی خبر ورکوی نو پکار ده چې هغه بل کس ورنه خبر نه وی که ورنه خبر وی نو بیا ددي خبري څه فائده شوه .

**ولكنه لا يقع نكرة على الاطلاق**: دریم غرض توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته دعلی الاطلاق معنی ده علی التعمیم . بل اذا تخصصت: اول تعین د (ما) دویم معنی دتخصیص ، دریم دلیل (ما) دلته دتعمیم لپاره دي د(ما) خپله معنی نشته بوجه منون دي ددي لپاره تاکید واقع دي که تنوین دتعظیم لپاره وی نو دا ماً تاکید دي په دغه تعظیم کښې دغه شانته که دتحقیر لپاره وی بس دا ما ورلره تاکید دي.

**اذ بالتخصيص**: دوهم غرض معنی دتخصیص . دتخصیص دوه معنی دي، اول دنحویانو په نزد دوي وائی چې تخصیص تقلیل دافرادو ته وائی، دویم دعلماؤ دمعانی په نزد دوي وائی چې تخصیص وائی رفع داحتمال ته دلته شارح دتخصیص معنی دنحویانو ذکر کوی پدي باندي خارجي اعتراض چې دتخصیص کومه معنی اخلی دنحویانو او که دعلماؤ دمعانی معنی اخلی که اوله معنی اخلی نو په ما احد خیر منك کښې تقلیل افرادو نشته دي تعمیم دي پکښې او که دوهمه معنی اخلی نو بیا ترینه ولعبد مومن خیر من مشرك خارج شو ځکه دي کښې خو رفع داحتمال نده راغلی بلکه تقلیل دافرادو راغلی .

**لتخصصه بتقديم الخبر**: تطبیق دمثال دممثل له سره کوی، **ومثل قولك سلام**

Maktaba Tul Ishaat. com



**عليك**: دلته سلام مبتدا نكره ده ځكه تخصيص پكښى راغلى دوجه دمصدر نه، لتخصصه بالنسبه الى المتكلم: اول تطبيق دمثال دممثل سره كوى، دويم دفع داعتراض دريم بيان داختلاف، څلورم ماهو الحق، پنځم توطيه او تمهيد متن دپاره او غرض پكښى دفع داعتراض. **فكانه قال سلامى اى سلام من قبلى عليك**: دويم غرض: **اعتراض**: هركله چى داسي شوه چى سلامى نو اضافت ئى وشو ياء دمتكلم ته نو معرفه شوه نو ديته څه ضرورت دي چى تخصيص پكښى راولى ؟ **جواب**: دا اضافت لفظى دي حقيقى ندي او اضافت لفظى مفيد تعريف نه وى نو جواب ئى وكړو اى سلاما من قبلى عليك سره نو سلام نكرة مبتدا ده .

**هذا هو المشهور فيا بين النحاة**: دي سره دريم غرض بيان داختلاف كوى وائى دا خو مشهوره خبره ده په مابين دنحاتو كښى چى نكره هم مبتدا واقع كيداى شى خو چى تخصيص ئى وشى په يو وجى دوجوهو دتخصيص سره او ذكر كوى چى وقال بعض المحققين چى هغه ابن الديان دي چى دار مدار دمبتدا والى دا په فائدي باندي دي كه مبتدا نكره هم وي خو چى مفيد دفائدي نه وى نو مبتدا واقع كيدي شى او كه مبتدا معرفه هم وى خو چى مفيد دفائدي نه وى نو مبتدا واقع كيدل ئى صحيح ندي لكه زيد شئٌ **هذا القول اقرب الى الصواب**: دي سره څلورم غرض ماهو الراجح ذكر كوى.

**ولما كان الخبر المعرف فيما سبق**: توطيه او تمهيد ذكر كوي لپاره دمتن او غرض پكښى دفع داعتراض ده هغه دا چى تا ووئيلو چى والخبر قد يكون جملةً قد چى په مضارع داخل شى نو تقليل فائده كوى نو تا خو مخكښى ندي ويلى چى خبر به مفرد وى. ؟ **جواب**: مخكښى تعريف كښى خبر قسم د اسم دي او اسم قسم دكلمه دي او په كلمه كښى افراد وى او كله كله خبر جمله هم راتلى شى. **والخبر قديكون جملة اسمية**: شارح قيد داسميت راوويستلو غرض ئى پكښى دفع داعتراض ده هغه دا چى دتوضيح دممثل لپاره مثال واحده كافي وى تا دوه مثاله ولى راوړل ، ؟ **جواب**: دلته ممثل دوه دي .

**ولم يذكر الظرفية**: اول دفع داعتراض ، دويم توطيه او تمهيد متن ته، **اعتراض**: تا ووئيل چى كله به خبر جمله اسميه وى او كله فعليه نو كله خو خبر جمله ظرفيه هم راځى شرطيه هم راځى هغه دي ولى ذكر نه كړو؟ **جواب**: جمله ظرفيه ئى ذكر

Maktaba Tul Ishaat. com



نکره ځکه چې جمله ظرفيه راجع وی جملی فعليي لره لکه دبصريانو په نزد دمتعلق دجار مجرور فعل راوباسي دغه جمله شرطيه هم.

**واذا كان الخبر جملة**: دي سره توطيه او تمهيد ذکر کوی متن ته اوس چې خبر جمله راشي نو لابدي ده پکښی دعائد نه نو په ذالك العائد سره بيان عوائدو کوی چې کله به عائد ضمير وی لکه په مثالين مذکورين کښې چې کوم کتاب کښې دي يا عائد غير وی دضمير نه لکه لام شو په نعم الرجل زيدٌ کښې او يا به عايد وضع دمظهر وی په ځاي دمضمر لکه (الحاقة ما الحاقة) نو د دوهم ماالحاقة په ځای ماهی پکار وو او يا به خبر تفسير وی لپاره دمبتدا دا هم عائد دي لکه (قل هو الله احدٌ) دلته هو ضمير شان مبتدا ده او الله بيا مبتدا ده او احد ورلره خبر دي بيا دا خبر او مبتدا خبر دي لپاره دمبتدا اولی وقد يحذف العائد اذا كان ضميراً القيام قرينة کله کله عايد حذف کولی شی لفظ کښې به نه وی خو مراد به وی اول تعين دعائد کوی چې کوم عائد به حذف کيږي وائی چې که عائد ضمير وی، دويم توضيح بالمثال کوی،

**وما وقع ظرفاً ای الخبر الذی**: اول تعين د (ما) کوی دويم دفع داعتراض، (ما) عبارت دي دخبر نه، **اعتراض**: وقد وقع ظرفاً ظرف دي مطلق ذکر کړو او شی چې مطلق ذکر شی صرف کيږي فرد کامل ته او فرد کامل دظرف نه يا زمان دي او يا مکان دي دا قاعده خو پدي کښې شوه نو په فی الدار جار مجرور کښې به څه کوی ځکه دا خو نه زمان دي او نه مکان؟ **جواب**: دلته مطلق جاري دي په خپل اطلاق باندي ظرف عام دي حقيقتاً وی او که حکماً وی نو فی الدار حکماً ظرف دي.

**فالاكثر من النحاة**: اول تعين داکثرو کوی چې بصرين دي، **اعتراض**: تصريح ولی نکوی چې فالبصريون؟ **جواب**: دي کښې فائده ده ځکه که ده ويلی وی چې دامذهب دبصريانو دي نوبيا به چا اعتراض کولو چې دکوفيانو مذهب دي ولی ذکر نه کړو نو بيا به ده جواب کولو چې مذهب دبصريانو اکثر دي نو ده اولاً فالاكثر وويل. دا اکثر کنايه ده دبصريانو نه او کنايه ابلغ وی دتصريح نه ځکه په کنايه کښې دعوه سره د دليل نه وی.

**وعلى انه ای الخبر**: مرجع د (انه) د ضمير ذکر کوی‌و مقدر ای مؤول دي سره

Maktaba Tul Ishaat. com



غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې خبر ظرف واقع شی نو مقدر به وي په جملی سره نو ظرف خو مقدر نه وی بلکه ذکر وی؟ **جواب:** مراد دمقدر نه مؤول دي **بتقدير الفعل** اول معنی دمتن ذکر کوی، دویم دلیل، دریم اختلاف ته پکښې اشاره ده، څلورم دلیل دجانبین، پنځم توطیه او تمهید دمتن دپاره، اول خبره: هغه خبر چې ظرف واقع شی هغه به مؤول وی په جملی سره ددي معنی ده چې بتقدير الفعل نو فاعل به ورسره هم وی او فعل فاعل نه وی مګر جمله نو مؤول به وی په جملی سره دویم او دریم غرض هم دي سره کتاب کښې شته.

**ووجه الاكثر**: څلورم غرض دليل د جانبينو ذکر کوی، اعتراض دبهر نه، کوفيانو دپاره هم دليل شته او د بصريانو دپاره هم نو ماتن په څه دليل سره دبصريانو مذهب غوره کړي او ترجيح ورکوی، ؟ **جواب**: د دوو وجوهو نه اوله وجه داده چې کوفيان تقدير د اسم کوی خو داسم حقيقی نه بلکه داسم فاعل کوی اوبصريان تقدير دفعل حقيقی کوی، دویمه وجه داده چې کوفيان چې بند راشی په تقدير د اسم کښې نو بيا رجوع کوی تقدير دفعل ته نو مذهب دبصريانو راجح دي.

**ثم ان الاصل فی المبتدا**: دي سره پنځم غرض توطيه او تمهيد ذکر کوی، **واذا كان المبتدا مشتملا على ماله صدر الكلام ای على معنی**: اول غرض تعين د ( ما ) کوی په علی ما کښې او غرض پکښې دفع اعتراض کوی. دویم مصداق ددي ( ما ) دریم دليل دپاره دتقديم دوجوب، اول خبره: مراد د ( ما ) نه معنی ده **اعتراض**: ( ما ) به عبارت وی د لفظ نه نو معنی دا شوه چې مبتدا به مشتمله وی په لفظ باندي نو مبتدا هم لفظ دي او مشتمله هم شوه په لفظ باندي نو اشتمال دشی راغی په خپل نفس وهذا لايجوز ؟ **جواب**: ( ما ) عبارت دي دمعنی نه، نه دلفظ نه، **كالاستفهام**: مصداق دما ذکر کوی **فانه يجب حينئذ**: دي سره بدليل ذکر کوی، دا مبتدا چې مشتمله وی دااشتمال په دوه قسمه دي يو اشتمال هغه په طريقی دجزئيت سره دي لکه من ابوك کښې من مبتدا ده مشتمل دي په استفهام خوجزء دي څکه مبتدا ده، کله به اشتمال په طريقی دمجاورت سره وي لکه اقائمٌ زيدٌ نو همزه داستفهام خو دزيد نه جز ندي بلکه ورسره مجاوره ده.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فان من مبتدا مشتمل**: اول تطبیق دمثال دممثل سره کوی، دویم دفع داعتراض، دریم بیان اختلاف ، اول غرض کتاب کښې شته ، فان معناه، دي سره دفع داعتراض . **اعتراض**: من نکره ده او ته وائي چې مبتدا ده مخکښې خو تاوئیلي چې مبتدا معرفه وی وقد یکون المبتدا نکرة پریږده. ؟ **جواب**: دا من معرفه خو په اعتبار داصل سره چې اهذا ابوك ام ذاك الخ . د اختصار دپاره ټولو نه تعبیر په من سره وشو نو هذا اسم اشاره معرفه ده او دینه تعبیر په من سره شوي نو لهذا من معرفه او صالح للمبتدا وګرځیده.وهذا مذهب سیبویه دي سره دریم غرض اختلاف ذکر کوی.

**او کانا معرفتین متساویین**: اول دفع داعتراض ، دویم هم دفع داعتراض ، دریم توضیح بالمثال ، **اعتراض**: بناء دمتونو په اختصار سره وی تا ووبل او کانا معرفتین بیا وروسته وائی او کانا متساوین داسي وئیل کافي وو چې او کانا متساویین فقط،؟ **جواب**: دمعرفتین او متساویین په مینځ کښې فرق دي ځکه چې معرفتین وی نو مساوات ئې ضروري ندي **ولا قرینة**: دفع داعتراض ، زه به درته وښایم چې دواړه به معرفتین وی او تقدیم مبتدا به واجب نه وی لکه ابو یوسف ابو حنیفة دلته ابو یوسف مبتدا ده او ابو حنیفة خبر دي او دلته عکس هم وئیلی شی ؟

**جواب**: مبتدا او خبر چې معرفتین وی نو مبتدا به واجب التقدیم وی خو چې قرینه نه وی ، او دلته قرینه شته چې ابویوسف شاګرد او امام ابو حنیفة استاد دي او خلك تشبیه دشاګرد خلك داستاد سره ورکوی، لکه زید المنطلق کښې مبتدا او خبر دواړه معرفه دي لیکن تعریف کښې ندي برابر زید کښې تعریف دعلمیت دوجې نه دي او المنطلق کښې د الف لام دوجې نه دي نو دلته زید مبتدا او المنطلق ورلره خبر دي او که داسي شی چې المنطلق زیدٌ نو اول مبتدا او ثاني خبر دي.

**او کانا متساویین**: اول معنی دمتساویین ، دویم توضیح بالمثال ، دصحت دپاره به دواړه صحیح وي اګرکه قدر دتخصیص کښې کمی وی یو بل نه تعریف کښې کم وی لکه غلام رجل صالح مبتدا ده او خیر منك خبر دي صالح مرفوع ووېل شی چې صفت دغلام شی او صالح مجرور ویلی شی چې صفت رجل شی دلته مبتدا او خبر په معرفه والی کښې سره برابر دي خو په قدر دتعریف کښې سره برابر ندي، په مبتدا

Maktaba Tul Ishaat. com



کښی دوه تخصیصه دي يو اضافت دي بل صفت دموصوف شوي او خبر کښی يو تخصیص دي چی اضافت دي

**مثل افضل منی افضل منک**: افضل منی مبتدا ده او افضل منك ورلره خبر دي مبتدا کښی تعریف ډیر دي ځکه ضمیر دمتکلم ته ئی اضافت شوي دي او خبر کښی ضمیر دمخاطب دي او ضمیر دمتکلم دا اعرف وی دضمیر دمخاطب نه. **اعتراض**: ماتن يو مثال راوړي وو نوشارح ولی بل مثال راوړو؟ **جواب**: دماتن مثال کښی اشتباه وه ځکه مبتدا او خبر کښی ضمیر وو او دشارح مثال کښی مبتدا کښی اضافت او صفت وو او خبر کښی صرف اضافت وو نو دشارح په مثال کښی ډیر وضاحت دي،

**رفعاً للاشتباه**: دا مفعول مطلق دي دفعل مقدره دپاره چی یجب تقدیم المبتدا فی الصورتین رفعاً للاشتباه . **اوکان الخبر فعلا له ای للمبتدا**: اول بیان دضمیر ، دویم فائده ددي قید ، دریم توضیح بالمثال مثال زید قائم وجب تقدیمه قام زید نشی وئیلی ځکه التباس راځی فاعل سره، **ای تقدیم المبتدا علی الخبر**: اول بیان دضمائرو کوی، دویم دلایل ذکر کوی، دریم اشاره اختلاف ته : اولنیو دریو صورتونو کښی تقدیم دمبتدا واجب دي پ اولنی صورت کښی ځکه چی صدارت دکلام فوت نشی او په دویم او دریم صورت کښی ځکه چی رفعاً للاشتباه. او په آخري صورت کښی چی زید قام دي چی التباس دفاعل سره رانشی.

**قاما الزیدان**: دلته دوه مذهبه دي يو مذهب والاوائی چی قام فعل (ما) فاعل او الزیدان بدل دفاعل نه، دویم مذهب قام فعل او ما ذا علامه دتثنیه ده او الزیدان فاعل دي نو په اول صورت کښی بدل عن الفاعل سره التباس راځی او په دویم مذهب سره دفاعل سره التباس راځی . دوه صورته دماتن نه پاتی دي چی هلته تقدیم دمبتدا واجب دي يو دا چی خبر بعد الآنه راشی،

لکه مازید الاقائم او تقدیم دمبتدا واجب دي، صدارت غواړي حصر منقلب نه شی او اوبل صورت دتقدیم چی بعد معنی د الانه راشی لکه انما زید قائم دا هم یا صدارت غواړي یا حصر بالعکس نه شی .

Maktaba Tul Ishaat. com



## بیان د تقدیم دِ خبر

**واذا تضمن الخبر المفرد**: هر کله چی فارغ شو مصنف رحمه الله د بیان دهغه مواضعو نه چی هلته تقدیم دمبتدا واجب دي، نو شروع ئی و کړه په بیان دهغه مواضعو کښی چی هلته تقدیم دخبر واجب دي په مبتدا کښی وئیلی وو اشتمل او دلته وائی چی تضمن دا صرف دتفنن فی العبارة دپاره.

**ای الذی لیس بجملة صورة**: اول تعین دمفرد، دویم دفع داعتراض: مراد دمفرد نه هغه مفرد دي چی په مقابله دجمله کښی وی، **اعتراض**: مثال دي مطابق دقاعدي سره نه دي، این زید این خبر مقدم دي او دا خو ظرف دي او مخکښی تا وویل چی وما وقع ظرفاً فالاکثر علی انه مقدر ای مؤول بجملة او ته خو خبره په خبر مفرد کښی کوي؟ **جواب**: چی صورتاً مفرد وی اګرکه حقیقتاً جمله وی.

**ماله صدر الکلام**: اول تعین د (ما) کوی او غرض پکښی دفع داعتراض ده، چی ما عبارت دلفظ نه، نه دي، بلکه دمعنی نه عبارت دي، دریم مصداق د (ما) ذکر کوی، **مثل این زید فزید مبتدا**: اول تطبیق دمثال کوی دممثل سره، دویم احتمالین ذکر کول دي، دریم فایده ددي قید، **وهو ظرف**: دي سره احتمالین ذکر کوی، **واحترزبه**: دي سره فایده دقید ذکر کوی، **اوکان الخبر بتقدیمه مصححا له**: په الخبر سره تعین دکان دضمیر کوی چی هغه راجه دي خبر ته، بتقدیمه سره غرض هغه دفع داعتراض ده، هغه دا چی ته وائی خبر دا مصحح دي مبتدا لره، نو خبر خو ځانته جز دکلام دي؟ **جواب**: خبر مصحح نه دي مبتدا لره بلکه تقدیم دخبر مصحح دي مبتدا لره ذات دخبر نه دي مصحح

**ای للمبتدا**: بیان دضمیر کوی چی (له) کښی ضمیر مبتدا ته راجع دي، **من حیث انه مبتدا**: دفع داعتراض کوی هغه دا چی ته وائی چی خبر به مصحح وی ذات دمبتدا لره نو که خبر وی او که نه وی نو مبتدا به وی چی رجل دي؟ **جواب**: ذات دمبتدابه وی خو ذات دمبتدا دلته ندي مراد بلکه وصف دابتدائیت مراد دي فان الدار سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی. **اوکان لمتعلقه تمهید**: چی مبتدا راشی، دویم داچی ورلره خبر راشی، دریم دا چی دخبر لپاره یو متعلق راشی، څلورم په جانب دمبتدا کښی یو ضمیر وی چی راجع وی متعلق ددغه خبر ته، پنځم دا چی دخبر

Maktaba Tul Ishaat. com



اودمتعلق په مابين کښې داسي تعلق وى چى ددغه تعلق دوجى نه تقديم دمتعلق په خبر نشى راتلى يعنى تعلق پکښې دکل او دجزء وى نه دعامل او اودمعمول ځکه دلته تقديم راتلى شى .

**على التمرة مثلها زبدا:** دي مثال کښې دغه پنځه واړه خبري شته دلته تقديم دخبر واجب دي لپاره ددي چى اضمار قبل الذکر را نشى ځکه په مثلها کښى ضمير التمرة ته راجع دي اوس که مبتدا مقدم کړي نو اضمار قبل الذکر راځى ، اوس راشه او کان لمتعلقه بکسر اللام ته . اول رفع داشتباه خطى کوى، دويم ضمير دلمتعلقه دپاره مرجع ذکر کوى، دريم يو قيد ذکر کوى، څلورم فائده ددي قيد نو بکسر اللام سره غرض اول وشو اى کان لمتعلق الخبر سره دويم غرض وشو، التابع له : دريم غرض قيد ذکر کوى چى دا متعلق به تابع وى دخبر داسي تابع به وى چى تقديم به يي ممتنع وى په خبر باندي .

**فلا يرد نحو على الله عبده متوكل:** څلورم غرض فائده ددي قيد ذکر کوى اعتراض : عبده مبتدا ده متوكل ورلره خبر دي على الله متعلق دخبر دي او پدي مبتدا کښې ضمير متعلق د خبر ته راجع دي دلته شروط شته او تقديم دخبر ندي راغلى
**جواب:** دلته پنځم شرط نشته هغه دا چى دمتعلق او دخبر په مابين کښى به تعلق دجز او دکل وى نه دعامل او دمعمول او دلته چى کوم تعلق دي هغه دعامل او دمعمول دي نو ځکه تقديم دخبر ندي شوي بلکه دمبتدا شوي **ضمير كائن فى جانب المبتدا:** نو په ذات دمبتدا کښى خو ضمير نشته دي وائي نه په جانب دمبتدا کښى به ضمير وى .
واذ لو اخر دي سره وجه د وجوب دتقديم دخبر ذکر کوى مثل على التمرة مثلها زيداً ، فقوله مثلها دي خاي سره تطبيق دمثال کوى دممثل سره. **اوكان الخبر خبراً عن ان المفتوحة:** اول غرض رفع داشتباه خطى ، دويم دفع داعتراض ، دريم دليل ، څلورم دفع داعتراض .

**الواقعة مع اسمها وخبرها:** دوهم غرض دفع داعتراض هغه دا چى ته وائى يا به خبر . خبر د اَنّ وى نو ان به مبتدا وى او دا خو حرف دي دا څنګه مبتدا واقع کيږي دي جواب کوى چى ان سره داسم او سره دخبر نه المؤول بالمفرد دا مبتدا ده او

Maktaba Tul Ishaat. com



مخکښې ورلره خبر دي **اذ فى تاخيره**: دي سره دليل ذکر کوي چې تقديم دخبر ولې واجب دي **لامكان الذهول عن الفتحة**: دي سره څلورم غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې کله ويږي نه زير زبر ئې ورته کړي وى لکه ، انك قائمٌ ؟ **جواب**: کيداى شي دغفلت دوجې نه ياد کتاب نه په هيره پاتې شوي وي.

**وجب تقديمه**: اول بيان دضمايرو کوي، دويم دلايل ذکر کوي. وقد يتعدد الخبر من غير تعدد المخبر عنه ، اوله خبره : دفع اعتراض دويم احتمالين ، دريم استعمالين، اوله خبره :اعتراض مسايل دفن نظري وى چې مبتدا کښې تعدد وى او دا خبره چې خبر کښې تعدد وى دا خو بديهى ده؟ **جواب**: دي وائى چې تعدد دلته دخبر وى نه دمخبر عنه ، **وذالك التعدد اما بحسب اللفظ**: دويم غرض احتمالين ، دلته يو احتمال دي چې دغه تعدد به يا بحسب اللفظ وى والمعنى او وروسته بل احتمال ذکر کوى او په يستعمل سره دريم غرض استعمالين ذکر کوى.

**مثل زيدٌ عالمٌ عاقلٌ**: پدي کښې قسم ثانى داحتمالين ذکر کوى، دويم حکم دهغى ، دريم قول اخر څلورم دفع داعتراض ، پنځم بل جواب يو قسم ذکر شو چې لفظ او معنى دواړو کښې تعدد وى او بل قسم دا چې دا تعدد به په اعتبار دلفظ سره وى فقط لکه هذا حلو حامض فى هذه الصورة حکم د دي ذکر کوى **ونظر بعض النحاة**: سره قول آخر ذکر کوى، **اعتراض**: تاووئيل دلته ترك دعطف اولى دي په قسم ثانى کښې نو داولى نه معلومه شوه چې عطف جائز دي نو دي قول ته څه ضرورت وو چې ( ونظر بعض النحاة ...... وجوز العطف ؟ **جواب**: دلته جواز په معنى داولى سره دي بعضو ترك عطف اولى وئيلى او بعضو عطف ته اولى ويلى دي.

**ولا يبعد**: دفع د اعتراض هر کله چې دوه استعماله وو يو سره د عطف بل بغير دعطف نه نو مثالونه هم دوه پکار وو سره ددينه چې ده يو مثال راوړي چې هغه مثال دترك عطف دي داولى ؟ **جواب**: دوه جوابونه دي اول جواب دادي چې که عطف سره تعدد راشي هغه خو بديهى خبر ده نوځکه ئې يو مثال راوړو. وايضاً سره جواب اخر ذکر کوى

**وقد يتضمن المبتدا معنى الشرط وهو سببية الاول للثانى**: کله چې مبتدا متضمن وى معنى دشرط لره نو دخول دفاء صحيح دي په خبر باندي اول معنى دشرط ،دويم

Maktaba Tul Ishaat. com



قيد، دريم فائده دقيد چې غرض پکښې دفع داعتراض ده. څلورم وجه د ايراد دفاء په خبر کښې، اول خبره: د شرط لپاره دوه معنى دي اول لزوم داول ثاني لره. دويم سببيت د اوله دپاره دثاني لکه ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود **اوللحكم به**: دي سره قيد ذكر كوى چې يا به اول سبب وى دپاره دحكم په ثاني، **فلا يرد عليه**: فائده دقيد اعتراض، وما بكم من نعمة فمن الله، دلته وما بكم من نعمة مبتدا ده او فمن الله خبر دي پديکښې فا راغله سره ددينه چې مبتدا متضمن نده معنى دشرط لره ځکه تا دشرط معنى وکړه چې اول سبب وى دپاره دثاني نو نعمت خو الله ﷻ لره سبب ندي بلکه الله ﷻ سبب دي لپاره دنعمت؟ **جواب**: دا اعتراض نه واردېږي، ځکه دشرطيت مونږ دوه معنى وکړي دلته نعمت وى دا سبب دپاره دحکم ګرځي چې دا نعمت دالله ﷻ دطرف نه دي دلته نعمت ندي لپاره دثاني چې الله ﷻ دي.

**فشبه المبتدا**: وجه د ايراد دفاء ذكر كوى، فيصح دخول الفاء **في الخبر ويصح عدم دخوله**: غرض دفع داعتراض هغه دا چې هر كله مبتدا متضمن وى معنى دشرط لره نو معنى دا شوه چې مبتدا سبب شوه لپاره دخبرنو فيصح وويل نه ؤ پكار بلكه فيجب ويل پكار وو ځكه ستا مقصود دلالت دي په سبب باندي نو دال پري پكار دي او هغه نده مګر فاء ده؟ **جواب**: په ويصح عدم دخوله سره كوى ټول دري صورتونه دي، **وذالك المبتدا المتضمن**: بيان دمشاراليه كوى دلته اته صورتونه دي چې مبتدا متضمن ده معنى دشرط لره څلور صورتونه ماتن رحمه الله ذكر كړي او څلور صورتونه شارح ذكر كوى ددي ټولو مبتداګانو په خبر كښې فاء راځي.

## معنى د موصول

**اما الاسم الموصول بفعل او ظرف اى الذى جعلت**: اول معنى دموصول ذكر كوى، دويم وجه د اشتراط. دريم تتميم دمافات دماتن كوى. اول خبره: موصول نه مراد موصول لغوى دي په معنى ديو ځاي كړي شوي. بله خبره، وماوقع ظرفاً: چې خبر ظرف واقع شي نو فا الاكثر على انه مقدر بجملة نو دجار مجرور لپاره متعلق بصريانو فعل راوويستلو او كوفيانو اسم راووبستلو او راجح مذهب دبصريانو دي ځكه يوه وجه پكښې دا وه چې كوم ځاي تقدير د اسم نه كيږي نو بيا كوفيان تقدير دفعل كوى

Maktaba Tul Ishaat. com



هغه دا ځاي دي چې اسم موصول بفعل او ظرف هغه اسم چې ګرځولی شوي وي صله ددي جملي فعليي يا جمله ظرفيه چې مؤوله وي په جمله فعليه سره نو دلته به ددي جار مجرور دپاره بالاتفاق متعلق فعل راوباسو ځکه که اسم راوباسو نو هغه خومؤول په جملی فعليي سره نه ګرځي نو فعل به راوباسو،

**وانما اشترط**: وجه داشتراط ذکر کوی چې ولې به ئې صله فعل اويا ظرف راوباسي دي سره دوه صورته وشوه. **وفى حكم الاسم الموصول المذكور الاسم الموصوف به**: تتميم دمافات دماتن کوی دوي دوه صورتونه ماتن ذکر کړه او دريم صورت ذکر کوی او دا بيا دوه جوړيږي نو دمخکنيو دوه صورتونو سره به څلور صورتونه جوړ شي **اوالنكرة الموصوفة بهما اى باحدهما**: اول دفع داعتراض ، دويم تتميم دمافات دماتن رحمة الله عليه کوی، **اعتراض**: مثال دي مطابق ندي دممثل سره ځکه خو صفت دواړه په يو وخت کښي نه راځي ، ؟ **جواب**: دا نکره به موصوفة وی په يو ددغه دواړو سره **وفى حكمها الاسم المضاف اليها**: تتميم دمافات کوی وائي چې په حکم ددغه شان نکري کښي دي هغه اسم چې مضاف وی دغه نکري ته ، **مثل الذى ياتينى**: اول تعين دمثال کوی دهر يو ممثل له سره مګر يو قسم دپاره چې وفى حكم الاسم ، الاسم الموصوف به ددي لپاره ئې مثال ندي ذکر کړي چې ظرف پکښي راځي له وجې دبداهت نه لکه ان الموت فى مكة فانه ملاقيكم دنورو مثالونه شته **ونيت وفعل من الحروف المشبهه**: اول دفع اعتراض، هغه دا چې خبره په مبتدا او خبر کښي ده او ته حروفو ته لاړي ؟ **جواب**: په من الحروف سره کوی، **ما نعان عن دخوله عليه**: اول تعين دمانع، دويم دليل، دريم متعلق دبالاتفاق ذکر کوی، **فلا يقال**: اول بيان دمثال، دويم اعتراض ، دريم جواب : فان قيل سره اعتراض دي او دقيل تخصيصهما سره جواب دي

**والحق بعضهم ان المكسورة بهما اى بليت ولعل**: اول بيان دضمير دبهما کوی، دويم مابه الالحاق ، دريم ماهو الراجح ، څلورم دليل ، پنځم اعتراض ، شپږم جواب اووم ما هو الحق يا تتميم دمافات دماتن کوی، والاصح سره دريم غرض ماهو الراجح ذکر کوی. په لانها لاتخرج سره څلورم غرض دليل ذکر کوی، **فان قيل**: دي سره اعتراض او دي نه وروسته قيل سره جواب ذکر کوی،

Maktaba Tul Ishaat. com



**وقد يحذف المبتدا لقيام قرينة لفظية او جوازا اى حذفا جائزاً**: اول اعراب دجوازاً ، دويم معنى دجواز، دريم تتميم ، څلورم دليل ، اول خيره جوازاً مفعول مطلق دي په اعتبار دموصوف محذوفه سره لاواجباً سره دويم غرض معنى دجوازاً ذكر كوى جواز په معنى دامكان خاص سره دي سلب دضرورت پكښى دجانبينو نه دي امكان عام ندي ځكه امكان عام كله كله جمع كيږي دوجوب سره. وقد يجب حذفه : دي سره دريم غرض تتميم كوى دا خبره شارح كوى چى مبتدا كله كله حذف كيږي وجوباًخو ماتن دا خبره نه كوى چى حذف دمبتدا وجوباً هم راځى ځكه دي وائى چى مبتدا ركن اعظم دكلام دي او بعض وائى چى كله كله وجوباً هم حذف كيږي او دشارح هم داقول دي شارح وائى چى مبتدا حذف كيږي وجوباً چى كله قطع دصفت وشى دموصوف خپل نه او دوي وائى په رفع سره لكه الحمد لله اهل الحمد دلته الله ﷻ موصوف دي او اهل الحمد صفت دي، الله ﷻ خو مجرور دي دا هم مجرور وٌوئيل پكار وو چى اهل الحمد دينه معلوميږي چى اهل مرفوع دي نو مبتدا حذف ده چى هو اهل الحمد. وانما وجب حذفه دي سره دليل ذكر كوى، ويجب حذفه ايضاً الخ پديځاي كښى هم حذف دمبتدا واجب دي ځكه چى نعم الرجل زيد، پدي كښى دوه تركيبه دي يو دا چى نعم الرجل خبر مقدم او زيد مبتدا موخره شى دي سره زمونږ كار نشته ځكه دلته خو حذف دمبتدا رانغلو، بل تركيب دا چى نعم الرجل فعل او فاعل ځانته جمله شى او زيد خبر شى او مبتدائى محذوفه وګرځى چى (هو) دي دا تركيب زمونږ مقصود دي.

**كقول المستهل اى المبتدا المحذوف**: اول دفع داعتراض ، دويم معنى دمستهل **اعتراض**: كقول المستهل كه مبتدا وى نو خبر ئى څه شو او كه دا خبر وى نو مبتدائى څه شوه لهذا مثال دى مطابق نشو ممثل سره **جواب**: پدي ټول مثال كښى چى قول المستهل الهلال والله دي مبتدا محذوفه ده الهلال والله اى هذا الهلال والله اول تطبيق دمثال دممثل سره كوى، دويم رد . دريم بيان دفائدي، اول غرض كتاب كښى واضح ذكر دي، وليس من باب حذف الخبر، دي سره رد كوى په بعضو بعضى وائى چى دا دباب دحذف دخبر نه دي چى الهلال هذا.

**وانما اتى**: دي سره دريم غرض بيان دفائدي كوى ددي نه يو جواب په وانما اتى

Maktaba Tul Ishaat. com



سره کړي او اعراب یې ترینه په لئلا یتوهم سره کړي دي. **وقد یحذف الخبر جوازاً:** هر کله چې مصنف فارغ شو دبیان دحذف دمبتدا نه نو شروع ئې وکړه په حذف دخبر کښې، **حذفاً جائزاً:** اول اعراب دجوازاً قرینه په جواز. **مثل الخبر المحذوف فی قولک خرجت فاذا السبع:** اول دفع اعتراض: خبره په مبتدا او خبر کښې ده او ته وائې چې خرجت دا خو فعل دي ؟ **جواب:** دي جمله کښې مثال پروت دي،

**فان تقدیره:** اول تطبیق دمثال دممثل سره کوي. دویم اشاره اختلاف ته کوي، فان تقدیره سره اول غرض ذکر کوي علی المذهب الصحیح، بل تقدیر دا دي چې اذا ظرف مکان دي نو بیا دما نحن فیه نه ندي ځکه حذف دخبر رانغلو، خروج عن البحث راځي ځکه مونږ حذف وجوبي دخبر ذکر کوونه دمبتدا: ځکه اذا ظرف مکان دي او روسته مبتدا ده او ظرف ئې خبر دي بلکه اذا ظرف زمان دي او دا په جمله داخلیږي او السبع مفرد دي نو معلومیږي چې خبر حذف دي چې واقف او ظرف مکان په مفرد داخلیږي

**وقد یحذف الخبر وجوباً ای حذفا واجباً:** دي سره اعراب ذکر کوي، دوجوباً فیما التزم ای فی ترکیب التزم، دفع اعتراض په دي فیما کښې (ما) دځه نه عبارت ده که عبارت شي دمبتدا نو خروج عن البحث راځي ځکه مونږ حذف وجوبي دخبر ذکر کوو نه دمبتدا او که عبارت شي دخبر نه نو وروسته فی موضعه کښې ضمیر ته ضرورت نه ؤ ځکه چې په هغې کښې ضمیر خبر ته راجع ده ؟ **جواب:** (ما) عبارت ده دترکیب نه دمبتدا او خبر نه. **غیره ای غیر الخبر:** اول تعین دضمیر وشو چې خبر ته راجع دي، دویم وذالك سره اجمال ذکر کوي، دریم غرض دفع داعتراض کوي چې مثالونه ئې ځکه څلور راوړل چې ممثلات څلور دي، په متن اعتراض واردیږي، چې فیما کښې ما موصوله ده او التزام ورلره صله جمله ده نو عائد پکښې ضروري دي او دلته عائد نشته، ؟ **جواب:** عائد شته دي چې فیه دي او دا فیه ضمیر عبارت دي دمانه او ما عبارت د فی ترکیب نه.

**مثل لولا زید لکان کذا ای لولا زید:** اول تطبیق دمثال دممثل سره، دویم دفع اعتراض، دریم بیان داختلاف، دلته حذف دخبر وجوباً ځکه قرینه هم پرې شته چې لولا دي او سد مسد ئې هم شته چې هغه جواب دلولا دي لو لا زید لهلك الناس نو موجود

Maktaba Tul Ishaat. com



خبر حذف دي **هذا اذا كان الخبر عاماً**: دفع اعتراض . هغه دا چې زه به درته وښايم چې مبتدا به پس دلولا نه وي نو لولا قرينه به پرې هم وي او سد مسد جواب دلولا به هم وي نو پکار ده چې دمبتدا خبر حذف شي په حذف وجوبي سره او سره ددينه چې خبر مذکور دي لکه پدې شعر کښې. ﴿ ولولا الشعر بالعلماء يزري لکنت اليوم اشعر من لبيد ﴾ دلته الشعر مبتدا پس دلولا نه ده دا قرينه شوې پرې او وروسته يزري ورلره خبر دې او خبر حذف ندي او سدمسد شته دي چې جواب دلولا دي چې هغه لکنت اليوم دي؟ **جواب**: ددې شروطو سره خبر واجب الحذف دي خو چې خبر دافعال عامه ؤ نه وي او دلته خبر دافعالو خاصه ؤ څخه دي او افعال عامه څلور دي، شعر افعال عموم نزد ارباب عقول کون است ثبوت است حصول است وجود است . **اعتراض**: مطلق شعر خو عيب ندي حسان بن ثابت رضي الله عنه څه شاعر نه ؤ ، **جواب**: کامل شاعر هغه دي چې هر نوعه شعر ووئيلی شي که غم وي که دصفت وي که د خوشحالی وي نو داسې شاعر دعيب شعر هم ويلی شي لکه الله جل جلاله فرمائی : والشعرآء يتبعهم الغاؤن ﴾

**هذا على مذهب البصرين**: اشاره کوی اختلاف ته، امام کسائی وائی چې کوم اسم واقع شی پس د داسې مبتدا نه نو دا به فاعل دپاره دفعل مقدره ای لولا وجد زيدٌ خو دامذهب ضعيف دي، اوله وجه دضعف داده چې فعل هلته حذف کيږي چې وروسته ئی تفسير شوي وي لکه ﴿ وان احد المشركين استجارك ﴾ کښې اودلته دوجد فعل تفسير ندي شوي، دويم دضعف داده چې فعل حذف کيږي چې کله جواب دقسم کښې راشي او دلته په جواب دقسم کښې هم ندي، **وقال الفراء**: فراء صاحب وائی زيدٌ خبر دي او لولا اسم فعل دي مبتدا ده لولا رافع دي زيد لره ليکن دده مذهب هم ضعيف دي ځکه اسم فعل يوه کلمه وي او لولا دوه کلمې دی يو لفظ د ﴿ لو ﴾ او بل ﴿ لا ﴾ دي

**وثانيهما كل مبتدا كان مصدرا**: اول قاعده کليه ذکر کوی، دويم تتميم دمافات دماتن رحمه الله ذکر کوی، دريم دماتن خبره چې مثل ضربی زيداً دا په حذف دخبر کښې وه وجوباً بيا شارح اجمال ذکر کړو، چې دا په څلورو بابونو کښې کيږي ، دهغه څلور ځايونو نه يو ځائی ذکر شوي، چې خبر پس دلولا نه راشی، اوس ئی دوهم ځائی ذکر کړو هغه دا چې هره مبتدا چې وي مصدر صورة﴿ حقيقة ﴾ او يا تاويلاً مصدر وي. او

Maktaba Tul Ishaat. com



ددغه مبتدا نسبت شوي وي فاعل ته يا مفعول ته او يا دواړو ته او وروسته د دغه مبتدا نه حال وی، يا به اسم تفضيل وی مضاف به وي دغه مصدر ته چی مضاف وی فاعل يا مفعول او يا دواړو ته او دغه شان وروسته به ورنه حال وی نو دلته بيا حذف دخبر واجب دي او قرينه پري شته چی هغه نسبت ديوشی دي بل شی ته، ددينه ثبوت په خپله معلوميږي او سد مسد هم ورلره شته چی هغه دغه وروسته حال وي.

**وذلک مثل ذهابی راجلاً**: تتميم دمثالونو کوی ځکه ماتن يو مثال ذکر کړي چی ومثل ضربی زيداً قائماً شارح پوره مثالونه ذکر کوی دا پورتنی مثال چی ذکر دي چی ذهابی راجلاً دمصدر صريحي مثال دي مضاف دي فاعل ته دا مبتدا شوه اوخبر محذوف دي وجوباً او راجلاً ئی حال دي نو قرينه هم شته چی هغه نسبت دي او سد مسد هم شته چی دا حال دي. **وضرب زيد قائماً**: دلته هم مصدر صريحي دي مضاف دي مفعول ته دامبتدا شوه خبر ئی حذف دي وجوباً او قائماً حال دي کله چی دا زيد مفعول به شی، **ومثل ضربی زيداً قائماً او قائمين**: دلته اضافت دمصدر فاعل او مفعول دواړو ته شوي دي، وان ضربت زيداً قايماً او قائمين ، دا مثال دمصدر تاويلی دي، دلته اضافت دمصدرفاعل او مفعول دواړو ته شويدي او مصدر هغه ضرب دي،

**واکثر شربی السويق ملتوتاً**: دا مثال داسم تفضيل دي مضاف دي مصدر ته او دا مصدر بيا مضاف دي فاعل او مفعول دواړو ته چی يو يا دمتکلم او بل السويق دي او ملتوتاً حال دي. **واخطب ما يکون الامير قائماً**: دا مثال داسم تفضيل دي اضافت ئی شويدي مصدر تاويلی ته ای کون الامير الخ . او ددي مصدر اضافت شوي فاعل ته چی الامير دي او قائماً حال دي دفاعل نه، ومثل ضربی زيداً نه وروسته يو غرض اتمام دامثله ، دويم مذهب دبصريانو ، دريم ردّ په مذهب دبصريانو، څلورم قول آخر، پنځم ددي نظير، شپږم قول اخر دکوفيانو اووم پدي مذهب دکوفيانو رد . اتم قول آخر. نهم قول آخر اولنی غرض چی امثله مخکښی ذکر شو او دا ترکيب چی کوم ذکر شو نو دامذهب د بصريانو وو.

**قال الرضی هذا ماقيل فيه تکلفات کثيرة**: دي سره رد په بصريانو چی کوم دريم غرض دي امام رضی فرمائی چی بصريانو دري تکلفات کړي دي. اول حذف د اذا

Maktaba Tul Ishaat. com



ظرف راغلو سره دعامل نه چې کان دي او داسې کار چيرته ندي شوي بغير ددي ځاي نه، دويم دا چې متبادر دکان نه کان ناقصه دي او ته کان تامه ته لاړي دريم دا چې حال ته څرنګه قائمقام دظرف ګرځوی دا خو ضعيف دي، راضي رحمة الله عليه په بصريانو رد وکړو مونږ ددي نه جوابونه کوو داولنی خبري نه ئی جواب دادي چې ددي نظائر موجود دي په کلام دعربو کښې ته چې کومه خبره کوی دا دعوه بلا دليله ده چې چيرته داسې ندي شوي بغير ددي ځاي نه، د دويمې خبري نه جواب دادي چې د کان نه هريو اخستې شي او دلته ناقصه دي دريمې خبری نه جواب دادي چې حال قائم مقام دظرف ګرځيدلی شی ځکه حال کښې معنی دظرفيت پرته ده هيڅ بعد پکښې نشته دي.

**والذی يظهر لی:** دي سره امام رضی رحمة الله عليه خپله رأيه پيش کوی د ده درائ نه به مونږ جواب وکړو دبصريانو دري تکلفه ؤ خو ستا يو تکلف دهغوی نه زيات مضر دي ځکه تا چې کومه معنی وکړه دا نه فهم کيږي دمحاوراتو دعربو نه. **وقال الكوفيون:** دي سره شپږم غرض ذکر کوی. ويلزمهم حذف الخبر . دي سره اووم غرض رد په دوي باندي هغه دا چې حذف دخبر په کښې راغلو او بل دا چې تقيد دمبتدا راغلو او مبتدا عامه وی، حذف دخبر راغلو نو سد مسد نشته دي ځکه قائماً دا دمتعلقاتو دمبتدا نه دي او مقدم دي او قايم مقام دشی موخر وي، خو دا مذهب دشيخ په نزد غوره دی ځکه قلت دحذف پکښې دي او د رد نه مونږ دا جواب کوو چې دمبتدا او خبر په مابين کښې شدت اتصال وی نو قائماً چې دمتعلقاتو دمبتدا نه دي دا داسې دي لکه چې دمتعلقاتو دخبر نه وی او متعلق دشی قائم مقام ګرځيدلی شی، او دويم ده وئيل چې مبتدا کښې تقيد راغلو او مراد ددينه عموم دي نو جواب دادي چې دا تقيد لصحة العبارة دي او دا په مقصود کښې معتبر ندي.

**وذهب الاخفش:** سره اتم غرض ذکر کوی چې دلته حذف دخبر شته خو دغه خبر مصدر دي .خو دده مذهب ضعيف دي ځکه دلته مصدر عامل وو پدي حال کښې نو مصدر حذف شو او معمول ئی پاتی دي چې حال دي نو حذف دعامل سره دبقاء دمعمول نه او مصدر ضعيف العمل دي که مذکور وی عمل کوی او که مذکوږ نه وی نو بيا عمل نه کوي، دي رد نه جواب دادي چې خلاف دعامل ضعيفه سره دبقاء دمعمول

Maktaba Tul Ishaat. com



نه هغه وخت منع دي چې قرينه نه وي او دلته قرينه شته چې مخکښې ضربې دي.

**وذهب بعضهم**: دي سره نهم غرض ذكر كوي، قول آخر پكښې دادي چې ضربي زيداً قايماً كښې ضربي زيداً مبتدا ده او قائماً حال دي او خبر يې دسره نشته دي دا پشان دمبتدا قسم ثاني دي خبر نه غواړي دلته مبتدا په معنى دفعل سره ده اصل كښې تقدير دعبارت داسې دي چې ما اضرب زيداً الا قايماً دا مذهب ضعيف دي. اول ځكه چې مبتدا لره چې خبر نه وى هغه خاصه مبتدا ده چې صفت به وي او واقع به وي وروسته دحرف نفي نه، دويم ديكښې حصر نشته او تا پكښې حصر را پيدا كړو. ليكن ظاهراً دا خبره صحيح ده ځكه يو خو داده چې حذف پكښې رانغلو بل دا چې دا مبتدا داسې ده چې خبر نه غواړي كه اعتراض كوى چې دا خو هغه مبتدا قسم ثاني نده نو مونږه جواب كوو چې په اعتبار دمعنى سره خبر نه غواړي، او په اعتبار دلفظ سره يې غواړي او په اعتبار دمعنى سره ځكه خبر نه غواړي چې دا مبتدا بمعنى الفعل ده.

**وثالثهما كل مبتدا**: دي سره قاعده دپاره دمثال ذكر كوى، قاعده داده چې هر هغه مبتدا چې مشتمل وى خبر ددي په معنى دمقارنت سره او عطف شوي وي په خبر يو شى په واو بمعنى مع سره لكه كل رجل وضيعة : **اى كل رجل مقرون وضيعته**: دي سره تطبيق دمثال دممثل سره ذكر كوى ددغه شان خبر حذف واجب دي دوجې دقرينې او دسد مسد نه قرينه دلته واو دي او سد مسد هغه معطوف دي پدي مثال دبهر نه يو اعتراض هغه دا چې وضيعته كښې ضمير چاته راجع دي كل مضاف ته او كه رجل مضاف اليه ته او دا دواړه نه صحيح كيږي اول ته كه راجع شي نو معنى به داشي چې هر سړي دا دهر سړي دځمكي سره مقرون دي او حالانكه دا معنى غلطه ده او كه رجل ته راجع شي نو معنى به داشي چې ټول سړي په ډيو سړي دځمكې سره وى او دا هم صحيح نده؟

**جواب**: دا راجع دي كل ته او كل رجل دا هم جمع ده او ضمير هم دوي ته راجع دي او جمع چې په مقابله دجمع كښې راشي نو مراد انقسام على الاحاد وى نو معنى دا شوه چې هر سړي به دخپل سامان سره وى لكه ركبُوادوَابَهُمْ

## حذف د خبر بيان

**ورابعها**: دي سره قاعده كليه للمثال ذكر كوى چې مبتدا مقسم به وى او خبر

Maktaba Tul Ishaat. com



پکښې قسم واقع وی نو حذف دخبر پکښې واجب دي. **ای لعمرک**: دي سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی، دویم بیان دنکتې کوی والعمر والعمر بمعنی واحد مقسم به مفتوح وائی یعنی عین کلمه ځکه فتحه خفیفه ده او یمین تقاضا دتخفیف کوی.

## خبران و اختواتها بیان

**خبر ان واخواتهـا ای مـن المرفوعـات**: اول اعراب بیانول، دویم دفع داعتراض، دریم بیان داخوات، څلورم بیان داختلاف . ای من المرفوعات کښې اشاره ده دیته چې خبرد ان واخواتها مبتدا ده او من المرفوعات دا خبر مقدم دي، **ای اشباهها**: سره دویم غرض دفع اعتراض هغه دا چې اخوات خو ذوي الروح لره راځی ،؟ **جواب**: مراد داخوات نه اشباه دي.

**وهو مرفوع بهذا الحروف**: دي سره بیان داختلاف کوی، مثال ان زیداً قایمٌ دلته دوه مذهبه دي، اول مذهب بصریانو دي، دویم مذهب دکوفیانو دي، بصریان وائی چې ان په اسم او خبر دواړو کښې عمل کوی، د ان عمل خو په اسم کښې بالاتفاق دي خبر کښې دبصریانو په نزد عامل ان دي، ځکه دا ورلره خبر دي او دکوفیانو په نزد دا مرفوع دي دوجې دخبریت نه خو راجح قول دبصریانو دي، ځکه خبر خو هغه وخت خبر وی چې مجرد عن العوامل وی او دلته خو پرې ان عامل راغلی دي، دویم که مرفوع بنابر خبریت شی نو عامل به پکښې معنوی شی ، او ان عامل لفظی دي او عامل لفظی قوي وي کوفیانو وائی چې انّ ضعیف العمل دي په نزدي کښې عمل کولی شی نه په لرې کښې نو په زیداً کښې ئی عمل کړي نه په قایمٌ کښې چې دا لرې دي دکوفیانو جواب: ان قوي العمل دي ځکه دا حروف مشابه دي دفعل سره لفظاً هم او معنی هم لفظاً مشابهت ئی په ثلاثیت او رباعیت کښې او معناً دا چې دا حروف په معنی دفعل سره دي لکه ان په.

## د فعل لپاره دوه عمله دی

معنی دحقیقت دفعل دپاره دوه عمله دي، اول عمل اصلی چې تقدیم دمرفوع دي په منصوب ، دویم بل عمل فرعی چې تقدیم دمنصوب په مرفوع باندي د اول مثال لکه ضرب زیدٌ عمرواً او د دویم مثال لکه ضرب عمروا زیداً حروف مشبه بالفعل ته

Maktaba Tul Ishaat. com



موعمل فرعی دفعل ورکړو چی تقدیم دمنصوب دي په مرفوع باندي

## تعريف د خبران

**هو خبر ان واخواتها المسند الی شئی اخر:** اول تعریف دخبر دان ذکر کوی په سند کښی دواړه احتماله شته چی ددي اسناد دي بل شی ته شوي وي اويا ديته دبل شی اسناد شوي وي. نو شارح وويل چی الی شئٍ آخر چی دده اسناد به شوي وي بل شی ته **بعد دخول احد هذه الحروف عليها:** شارح قید د احد راویستلو غرض په دي سره دفع داعتراض ده هغه دا چی ته ما ته يو مثال هم داسي نشی ښودلی چی هغه خبر به مرفوع وی پس ددخول ددي ټولو حروفو نه، ؟ **جواب:** چی يو ددي حروفو نه پري شی نو دا خبر به وروسته مرفوع وی. اول غرض فوائد دقیوداتو. دویم دفع اعتراض، دریم رد په بعضو خلقو **والمراد بدخول هذه الحروف:** سره دفع داعتراض هغه دا چی زه به درته اوښايم چی مسند به وي بعد دخول هذه الحروف به وی او خبر د ان نه به نه وی لکه ان زیدا یقوم ابوه ږ ستا په ترکيب کښی پکار ده چی يقوم ته دي خبر وويل شی وخلق ټولي جملې يقوم ابوه ته خبر وائی ؟ **جواب:** مراد د دخول ددي حروفو نه اثر پیدا کول دي او انّ يواځی په دي يقوم کښی اثرنه دي کړي بلکه په دي ټوله جمله کښی يی اثر کړي دي ؛ نو دغه جمله ځکه خبر لپاره د انّ دي،

**لفظاً ومعنیً:** لفظاً اثر دا چی يو مرفوع او بل منصوب ګرځوی او معنی اثر دادي چی ثبوت دمسند دپاره دمسند اليه علي سبيل التحقيق ګرځوی . **فلا يحتاج الی ان يجاب عنه:** دي سره رد کوی په بعض خلقو ددي اعتراض نه جواب کړي دي، چی المسند اسنا به شوي وي اسم د ان ته او دلته خو ديقوم اسناد ابوه ته شوي دي، نو ځکه يقوم ته شوي دي، نو ځکه يقوم ته خبر دان وائی . دا قوي جواب دي ليکن شارح پري رد کوی ځکه دا قيد به بيا مستدرك شی چی بعد دخول هذه الحروف ځکه چی خبر د انّ به مسند وی اسم د ان ته چی ان پري داخل شوي وي که نه نو بعد دخول هذه الحروف ته څه ضرورت نشته دي، ددينه دبهر نه جواب : چی دا بعد دخول هذه الحروف قيد لپاره دتصريح بما علم التزاماً ځکه خبر د انّ اسناد شوي وي اسم د ان ته ددينه ضمناً دخول د ان معلوميږي . ليکن ماتن پري تصريح وکړه او دي تصريح ته ځوك

Maktaba Tul Ishaat. com



مستدرك نه وايي.

**ولا الى ان يجاب بان المراد**: دي سره رد كوي په نورو خلقو باندي، هغوى ددي اعتراض جواب داسي كوي چي مراد دمسند نه اسم مسند دي او يقوم خو فعل دي، دا جواب صحيح نه دي، داسم سره ګرځوي، او دا خو تكلف بعيده دي. **مثل ان زيداً قائمٌ فانه**: دي سره تطبيق دمثال دممثل سره كوي. **وامره كامر خبر المبتدا اى حكمه**: اول دفع اعتراض، دويم بيان دنظائرو، دريم دفع اعتراض. **اعتراض**: ته وائي چي امر دخبر دان الخ... دامر نسبت خو آمر ته كيږي چي امر دفلان او خبر امر نه دي چي مونږ ورته نسبت دامر اوكړو، ؟ **جواب**: مراد دامر نه حكم دي. **والمراد ان امره كامره بعد انّ**: دفع داعتراض ده، هغه دا چي زه به درته اوښايم چي يو شي به خبر دمبتدا جوړيږي او خبر انّ به نه وي او اسناد خبري نه دا معلوميږي چي كوم شي خبر دمبتدا جوړيږي هغه به خبر د انّ هم جوړيږي لكه اين زيدٌ ؟ **جواب**: خبر دمبتدا دا خبر د انّ جوړيږي خو عند انتفاء موانعه او په مذكوره مثال كښي مانع شته چي صدارت داين فوت كيږي ځكه دا خو حرف استفهام دي.

**الا فى تقديمه اى ليس**: اول معنى دمتن، دويم دليل، اوله خبره معنى دمتن داده چي خبر د انّ پشان دخبر دمبتدا دي مګر په تقديم كښي په اسم د انّ باندي ځكه چي تقديم داسم دخبر په اسم د انّ باندي نه دي جائز. **وذالك لان**: دي سره دليل ذكر كوي دپاره دعدم تقديم دخبر د انّ **الا ان يكون ظرفاً**: اول غرض دفع داعتراض ده، دويم بيان دقسمين دي، دريم غرض دليل دمتن. **اى ليس امره**: اعتراض: دلته يوه مستثنى هغه ده چي امره كامرخبر المبتدا ده نه يوه الافى تقديمه استثناء راغلى دويمه استثناء الاان يكون ظرفا، او ديوي مستثنى منه دوه استثناء ګانى نه راځى، ؟ **جواب**: دا دووهمه استثناء د استثناء ده دمابقى من الاستثناء الاول چي وحكمه هذا فى جميع الاحوال الاان يكون ظرفاً:

## د انّ اقسام

**اذا كان الاسم معرفة**: سره دويم غرض بيان دقسمين: اول قسم اسم د انّ چي كله معرفه وي او خبر ظرف وي، نو تقديم دخبر جائز دي لكه: انّ الينا ايابهم: دويم

Maktaba Tul Ishaat. com



او چې کله اسم د انّ په دغه صورت کښې چې ظرف خبر واقع شوي نو تقديم دخبر واجب دي لکه : انّ من الشعر لحکمة **وذالك لتوسعهم:** سره دريم غرض بيان د دليل. چې تقديم دخبر جائز اويا واجب دي چې کله ظرف وي ځکه ظروف کا الاقارب دي يعنې هيڅ يو فعل دظرف نه ، نه خالي کيږي **خبر لا التی لنفی الجنس:** دي ځاي نه شپږم مرفوع ذکر کوي خبر لا اَلتِيْ دا مبتده ده او شارح ورته الکائنة خبر معرفه راوړو او عام طورّ سره داسي ځاي کښې تقدير دنکري کيږي ، ځکه چې ده رعايت د معنی کړي، چې لا دا علم دي دلانفی جنس دپاره نو مبتدا هم معرفه شوه :

**ای لنفی صفته:** دفع داعتراض ده : هغه دا چې ته وائې چې لا دپاره دنفی جنس راځی ، په دي مثال کښې چې لا رجل قائم دلته خو نفی دصفت راغلی چې قيام به وي نه نفی دجنس، ؟ **جواب:** عبارت دلته په حذف د مضاف سره دي چې لنفی صفة الجنس. **هوالمسند الی شئی اخر:** اول رفع داشتباه ، دويم فائده : اول غرض : هلکه ! اسناد به دده شوي وي او که ده ته به دبل شي شوي وي؟ **جواب:** اسناد به دده شوي وي بل شي ته، **هذا شامل:** دي سره دويم غرض فائده ذکر کوي،

**ای بعد دخول لا :** اول مرجع دضمير د (ها) ذکر کوي چې بعد دخول لا ، **والمراد بدخولها:** سره دريم غرض دفع داعتراض : هغه دا چې زه به درته اوښايم دخول دلا به پري راغلی وي اومسند به هم وي او څوك به ورته خبر د (لا) نه وائې لکه لا رجل يضرب ابوه کښې يضرب ته ځانته څوك خبر نه وائې بلکه ټولي جملې ته وائې .؟ **جواب:** مراد د دخول نه ايراث داثر دي او اثر (لا) دلته په يضرب ابوه ټوله جمله کښې کړي ،

**نحو لا غلام رجل ظريف.. وانما عدل:** سره دفع داعتراض هغه دا چې تا ولی دمشهور مثال نه چې لا رجل فمنها نه عدول وکړو؟ **جواب:** په مثال مشهور کښې احتمال دي ددي خبري چې خبر حذف دي او فی الدار صفت شي دپاره دخبر نو د امثال حسن دي او زما مثال احسن دي نو مثالونه په څلور قسمه دي، اول چې نص وي په مقصود کښې او احتمال دغير نه لري دا احسن مثال دي، دويم چې نص وي په غير مقصود کښې او احتمال دمقصود لري او ديته قبيح وائی، دريم چې نص وي په غير مقصود کښې او احتمال دمقصود لري او ديته اقبح وائی او دماتن مثال دا احتمال

Maktaba Tul Ishaat. com



دغیر نه لري ځکه لاغلام رجل دا معرب دي منصوب دي جائز ندي چې ددې صفت مرفوع راشي، بلکه منصوب پکار وو او ظریفٌ مرفوع دي **فیها ای فی الدار**: اول ارجاع دضمیر کوی چې ضمیر راجع دي فی الدار ته، دویم اعراب ذکر کوی دریم دفع داعتراض.

**خبر بعد خبر**: دریم غرض دافیها خبر بعد الخبر دي او ظرف هم نه دي دظرفیت دپاره او حال هم نه دي دضمیر دظرفی نه، ظرف ځکه ندي چې بیا به ظرافت مقید اوګرځی مکان دون مکان نه او ظرافت خو چې وي بیا په هر ځاي کښې وی او حال هم ندي، ځکه حال دا قید وی دپاره دعامل د ذوالحال نو ظرافت به مقید شی بحال دون حال او دا هم صحیح ندي. **وانما اتی به**: سره دریم غرض دفع داعتراض هغه دا چې ملا صاحب بناء دمتونو په اختصار سره وی یو خبر چې ظریف دي کافی وو بل خبر چې فیها دي دیته څه ضرورت دي ؟ **جواب**: دپاره ددې چې کذب لازم نشی ځکه بیا معنی دا کید له چې نشته هیڅ یو کس غلام ظریف، او بل دپاره ددې چې خبر د لا ظرف هم راځی او غیر ظرف هم راځی ،

**ویحذف خبر لا حذفاً کثیراً**: خبر لا سره ئی اشاره و کړه چې یحذف کښې دضمیر مرجع دغه ده او حذفاً کثیراً سره ئی اشاره و کړه ، اعراب دکثیراً ته چې دا مفعول مطلق دي په اعتبار دموصوف محذوفه سره، **اذا کان الخبر**: سره بیان دقید کوی چې فحذف دخبر د لا به په وخت دکیدلو دخبر کښې دافعال عامه ؤ څخه وی. **لدلالة النفی**: دي سره دلیل ذکر کوی چې حذف دخبر باندي قرینه او دال هغه منفی ده، ځکه نفی دلالت کوی په منفی باندي، لکه لااله الاالله کښې لااله موجود ، موجود خبر دي حذف دي دا مذهب دجمهورو دي، جار الله زمخشري وائی چې دلته خبر نشته اصل کښې الله الهٌ وو بیا دپاره دحصر ادوات دحصر را پیدا شو،

**وبنوتتمیم لا یثبتونه**: بنو تمیم وائی چې د لادپاره خبر نه وی دلا یثبتون دوه معنی دي، یو دا چې دوي لفظاً خبر نه منی بلکه واجب الحذف دي، او دویمه معنی ئی دا چې لادپاره نه خبر لفظاً شته او نه معناً، دوي وائی چې لا په معنی دفعل سره ده ځکه خبر نه غواړي لکه لااهل ولامال دا په معنی د انتفی المال والاهل. **وعلی**

Maktaba Tul Ishaat. com



**التقدیرین**: دي سره دویم غرض دفع داعتراض . هغه دا چی کوم ځای کښی چی خبر راشی دلا دپاره نو بیا بنو تمیم تاسو څه وائی دیته؟ **جواب**: په دي صورت کښی به خبر حمل کولی شی په صفت سره.

## بیان دِ اسم ما و لامشبهتین

**اسم ما ولا المشبهتین**: فی معنی النفی والدخول الخ...اول ما به المشابهة بیانوی. چی لیس دنفی دپاره راځی ، اودخول ئی په مبتدا او خبر راځی ، دغه رنګه ما ولاهم دي هذا شامل ، سره فائده ذکر کوی. **وانما اتی بالنکرة**: اول دفع داعتراض، دویم مابه الاختلاف ، دریم ما هوالراجح : اول غرض دفع داعتراض هغه دا چی د(ما) نه وروسته دي معرفه راوړه د (لا) نه وروسته دي نکره راوړه دا ولی ، ؟ **جواب**: دي کښی اشاره ده دیته چی د (ما) نه وروسته معرفه او نکره دواړه راځی او د (لا) په اسم کښی صرف نکره راځی ، بیا پري اعتراض واردیږي چی دما نه وروسته معرفه او نکره راځی نو بیا به دي دواړه راوړي وی ، او یا به دصرف نکره راوړي وی؟ **جواب**: معرفه ئی ځکه راوړا دوجی داصالت نه.

## اختلاف دِ حجاز یینو او بنی تمیمو

**وهذا لغة اهل الحجاز**: دي سره بیان داختلاف ذکر کوی دا مذهب مذکوره داهل حجازو دي، او بنو تمیم وائی چی ما ولا عمل نه کوی اودوي دپاره یودلیل دادي چی دعامل دپاره شرط دادي چی دا به خاص وی دیوي نوعی پوري او ماولا په اسم اوخبر دواړو باندي داخلیږي او دویم دلیل هغه شعر دي چی ومهفهف الخ...

**وعلی لغة اهل الحجاز**: دي سره بیان د ما هو الراجح کوی چی مذهب داهل حجاز غوره دي ځکه چی قرآن کریم کښی ئی عمل کړي چی (ما هذا بشراً) او دهغوی د اول نه جواب دادي چی دا دړته چا ویلی چی دا خاص دي په یوي نوعی پوري او د دویم دلیل نه جواب دادي چی دا مصادره علی المطلوب دد. **قلیل**: اول دفع د اعتراض دویم دلیل ، دریم دفع اعتراض ، اول خبره : دفع اعتراض ، ته وائی چی عمل دلا پشان دلیس نه دي او شاذ دي ستا دشاذ نه که مخالف القانون مراد وی نو لا بیا ولی نحاة راوړي ؟ **جواب**: مراد دشاذ نه قلیل دي نو ځکه ئی نحاة راوړي. **لان لیس**: دي سره

Maktaba Tul Ishaat. com



دلیل ذکر کوی، اعلم ان المراد : سره دفع اعتراض کوی او ددي دوه طریقی دي. اوله طریقه ستا دمسند اومسند الیه نه چی کوم دي ذکر کړل عام مراد دي چی با لاصالة وی او که بالتبعیة وی نو وروسته تابع دي ولی ذکر کول . دویمه طریقه داده چی مرفوع به وي او مسند او مسند الیه به نه وی بلکه تابع به وی ؟ **جواب**: مراد دمسند او مسند الیه نه باالاصالة دي نو دتوابع ذکر کولو ته ضرورت پیدا شو او مراد مسند او مسندالیه نه بالاصالة دي او توابع خو منصوب واقع کیږي یا مجرور خو مسند الیه نه وی بالاصالة .

## د منصوباتو بیان

**ولما فرغ من المرفوعات**: اول تذکیر دماسبق کوی، **شرع فی المنصوبات**: دویم توطیه او تمهید دپاره د متن آتی ، **وقدمها علی المجرورات**: دریم غرض دفع داعتراض هغه دا چی منصوبات ئی ولی مقدم کړل په مجروراتو ؟ **جواب**: دوجی دکثرت نه او دوجی دصفت دنصب نه، **اعتراض**: کثرت خو تقاضا دتاخیر کوی اوقلت تقاضا دتقدیم کوی، پکار ده چی منصوبات ئی وروسته کړي وی،؟ **جواب**: نکات بعد الوقوع دي

## اعرابات خمسه په المنصوبات کښی

**المنصوبات**: په دي کښی پنځه ترکیبه دي په المرفوعات کښی تیر شوي دي، **قدتبین شرحه**: اول دفع اعتراض ، دویم تعین دعلم ، دریم تعین دیا تا ، څلورم تعمیم ، پنځم تعین د علامو، شپږم غرض بیان دمثالونو ، اول غرض دفع اعتراض هغه دا چی تا په منصوبات تشریح او نه کړه، چی دا جمع دچا ده، ؟ **جواب**: ددي شرحه په مرفوعات کښی تیره شوي ده. **والمراد**: علم خو جبل او نوم ته او علامي ته وائی ستا کومه یوه معنی مراد ده ؟ **جواب**: مراد په علم دمفعولیت سره علامه ده.

**کون الاسم مفعولاً**: سره دریم غرض تعین د (یا او تا ) کوی چی یا تا دلته مصدري دي او یا تا مصدري دیته وائی چی کرځوی خپل ملحق به لره خبر دپاره د کان محذوفه سره داسم محذوفه نه. **حقیقة اوحکماً**: سره څلورم غرض تعمیم دمنصوباتو ذکر کوی: **وهی اربع**: سره پنځم غرض تعین دعلامو کوی چی فتحه او کسره او الف او یاء علامی دنصب دي، فتحه په مفرداتو کښی او کسره په جمع مونث سالمه کښی او الف په اسماء سته مکبره کښی او (یا ) په تثنیه او جمع کښی **اعتراض من الخارج**: ته

Maktaba Tul Ishaat. com



وائی چې فتحه علامه دنصب ده، زه به درته اوښايم چې فتحه به وي او علامه دنصب به نه وی لکه مررت باحمد ، او هم دا رنګه زه به درته اوښايم چې يا به وي او علامه دنصب به نه وی، لکه مررت بمسلمين؟ **جواب:** دا فتحه او يا به علامه دنصب وي خو چې قائم مقام دغير نه وی او دلته خو قائم مقام دغير دي چې خبر دي، **نحورايت زيدا ومسلمات واياك:** دي سره شپږم غرض ذکر کوی چې مثالونه دي.

**فمنه اى من المنصوبات او الخ..** اول بيان داحتمالينو کوی دغه کښې ضمير يا راجع دي منصوب ته خو په دي کښې يو حسن دي او يوه قبحه حسن پکښې دادي چې مقصود ته راجع دي او قبحه پکښې داده چې غير مذکور ته راجع دي او يا ضمير ما اشتمل الخ ... ته راجع دي په دي کښې هم يو حسن دي او يوه قبحه ده، حسن پکښې دادي چې مذکور ته راجع دي او قبحه پکښې داده چې غير مقصود ته راجع دي **سمى به لصحة:** دي سره وجه تسميه دمفعول مطلق ذکر کوی. اعتراض من الخارج په مفعول مطلق چې دا هم مقيد دي ځکه المفعول موصوف او المطلق صفت او صفت دا قيد وی دپاره د موصوف ؟ **جواب:** مراد قيد نه عام قيد نه دي مراد بلکه خاص قيد مراد دي چې هغه (له ، به ، معه، فيه،) دي .

**والمراد بفعل الفاعل:** اول دفع داعتراض ، دويم فائده دزيادت دقيد داسم، دريم فائده دټول عبارت تمهيد ، يو فاعل لغوی نحوی ديته وائی ، چې اسناد ئی دفعل ورته کيږي، اوس اعتراض او کړه چې متبادر دفاعل نه فاعل لغوی دي نو معنی داشوه چې فاعل به اثر کړي وی په فعل کښې نو مات زيدٌ موتا کښې دي، موتاً مفعول مطلق نشي ځکه زيد خو مات کښې اثر ندي کړي ؟ **جواب:** مراد دفاعل نه فاعل نحوی دي نفياً او اثباتاً سره دفع ديو اعتراض ده، هلکه ! مفعول مطلق هغه ته وائی چې اسناد دفعل پکښې فاعل ته شوي وي نو ماضرب زيدٌ ضرباً کښې دي ضرباً مفعول مطلق نشي ځکه دلته خو دزيد نه نفی دفعل راغلی؟ **جواب:** مراد د نسبت نه نفياً او اثباتاً دواړه نسبت دي

**وانما زيدٌ لفظ الاسم:** سره دويم غرض ذکر کوی چې هلکه ! اسم قيد دی ولی راوړو، ؟ **جواب:** اصل ما فعله الفاعل خو يوه معنی ده يو غرض دي په هغه چې کوم

Maktaba Tul Ishaat. com



شي دلالت کوی هغه دغه اسم دي **ويدخل فيه المصادر كلها**: سره فائده ددي ټول عبارت ذکر کوی **مذكور صفة للفعل**: اول دفع د توهم دویم دفع د اعتراض ، دریم فائده ددي قيد ، اول غرض متوهم به دا توهم کولو چی مذکوربه صفت دفاعل وی نو دا ترکیب چی ضرب ضرباً کښې چې فاعل نشته ضربا نه دي مفعول مطلق او نه وويل شي، ؟ **جواب**: دا صفة دفعل دپاره دي چی دا فعل به مذکور وی **وهواعم**: دي سره دويم غرض دفع داعتراض هغه دا چی ته وائی چی مذکور صفت دفعل دي نو زه به درته اوښايم چی مفعول مطلق به وي او فعل به نه وی لکه فضرب الرقاب ، ؟ **جواب**: فعل عام دي حقيقتاً وی او که حکماً او دلته مقدر دي چی فاضربوا ضرب الرقاب ،

**وخرج به المصادر**: دي سره دريم غرض فائده ددي قيد فرق بين مفعول المطلق والمفعول به مفعول مطلق متعدي او لازمی دواړو نه راتلی شی او مفعول به صرف متعدي نه دويم فرق مفعول مطلق مفعول لغوی راتلی شی او مفعول به لغوی چی معنی ئی ده : کرده شده: نه شی راتلی **بمعناه صفة ثانية للفعل**: اول اعراب دمتن ، دويم دفع اعتراض، دريم دفع اعتراض، او رد په شارح رضی باندي، اول اعراب دمتن خو دادي چی بمعناه صفة ثانيه للفعل .

**وليس المراد**: سره دويم غرض دفع داعتراض اول تمهيد متبادر داده چی بمعناه به صفة ثانيه للفعل وی په اعتبار د کائن سره او متبادر به دکینونت نه کینونت دلازم او دملزوم وی او یا به متبادر د کینونت نه یو نوعه تعلق وی نو اوس اعتراض : تعريف دي مانع نشو دخول دغير لره داخل شو پکښې مفعول له، لکه ضربته تاديباً ، ځکه تاديباً دا ما فعله فاعل فعل مذکوره هم دي او دضرب سره لازم هم دي او يا يو نوعه تعلق هم شته چی ضرب دپاره دتاديب وی نو ؟ **جواب**: دلته معنی داده چی دافعل به مشتمل وی په مفعول مطلق دقبیلی داشتمال دکل نه په جزء باندي.

**وكذالك خرج به**: سره دريم غرض دفع داعتراض او رد په شارح رضی، شارح رضی په ماتن اعتراض کړي چی تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پکښې مفعول به په دي ترکیب کښې چی کرهت کراهتی ما فعله فاعل فعل مذکور هم دي او فعل مشتمل دي په دي باندي دقبیلی داشتمال دکل نه په جزء باندي ؟ **جواب**: د

Maktaba Tul Ishaat. com



کراهتی دوه اعتباره دي يو اعتبار دادي چې دا قائم شي په فاعل دفعل مذكور پوري او فعل مشتق اوګرځی دده نه نو په دي صورت کښې فعل مشتمل دي په ده باندي نو مفعول مطلق اوګرځيدو، اصل کښې داسي وو کرهت کراهتی، او بل دا اعتبار دي چې دا فعل واقع شي په ده باندي يعنی کرهت کراهتی نو په دي صورت کښې مفعول به دي مفعول مطلق نه دي، ځکه فعل واقع دي په ده باندي فعل مشتمل نه دي په ده باندي، نو تعريف جامع مانع اوګرځيدو.

## د مفعول مطلق بيان

**وقد يكون للتاكيد اى المفعول المطلق**: دي سره تعين دضمير کوی، **ان لم يكن فى مفهومه**: دي سره تاكيد ذكر کوی خو په دي اعتراض وارديږي، چې فائده بيا دتاكيد څه شوه؟ **جواب**: فائده دفع دسهو او دفع دمجاز ده چې خلکو به دا وويل چې دا سهوا شوي او يا په دي سره ئې بل څه شی مراد دي. **فالاول اى الذى لانه**: لانه سره دليل ذكر کوی چې تاكيد تثنيه او جمع ځکه نه راځي چې تاكيد دا دلالت کوی په ماهيت چې معري وی دتعدد نه او تثنيه او جمع خومستلزم للتعدد دي.

**الا اذا قصد به النوع والعدد**: دي باندي اعتراض وارديږي چې کله قصد دنوع او دعدد تري اوشی نو بيا خو دتاكيد دپاره نشو نو تثنيه کيدل او جمع کيدل خوئې صحيح شو؟ **جواب**: دا استثناء دلا يثنى ولا يجمع نه، نه ده بلکه دا استثناء ده د جلست جلوس نه چې جلست جلوسين يا جلوسات وويل شي چې کله قصد دنوع او دعدد او کړي **اللذين هما للنوع والعدد**: دي سره بيان داخوين کوي.

## دمغايرت اقسام

**اي مغاير اللفظ** يو غرض دفع داعتراض، دويم بيان دقسمين دريم بيان دمثالونو، څلورم بيان داختلاف. اول غرض دفع داعتراض هغه ده چې غير په معنی د دون سره راځي نو معنى به دا وی چې مفعول مطلق دا کله بي د لفظ او ذكر دفعل نه وی نو دوه نقصانه پکښی راغلل يو دا چې مثال دي مخالف شو ځکه په مثال کښې دي فعل ذكر دي او بل نقصان دادي چې وروسته ته وائی چې دقد يحذف الفعل نو دا تحصيل دحاصل دي؟ **جواب**: غير په معنى دمغاير سره دي چې فعل کله کله مغاير

Maktaba Tul Ishaat. com



دلفظ دمفعول مطلق نه راځی

**اما بحسب المادة**: سره دويم غرض قسمين دمغايرت ذكر كوی چې دا تغاير به يا بحيث المادہ وی لكه قعدت جلوساً او يا به په حسب د باب سره وی لكه: انبته الله نباتاً او دي سره دريم غرض بيان د امثلهٔ هم اوشو. وسيبويه: سره څلورم غرض بيان داختلاف ذكر كوی چې سيبويه وائی چې داسي تركيب كښې به عامل يا فعل دمحذف راوباسي لكه قعدت وجلست جلوساً. خودا مذهب ضعيف دي ځكه كلام دعربو نه مخالف دي. **الناصب**: سره غرض دفع داعتراض ذكر كوی هغه دا چې زمونږ بحث په مفعول مطلق كښې شروع وو او ته فعل ته لاړې؟ **جواب**: مراد دفعل نه ناصب للمفعول المطلق دي.

**ومصدريته باعتبار الموصوف الخ**... دي سره غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې خبر اسم تفضيل دي. د ده راوړل په مفعول مطلق سره صحيح نه دي ځكه خير ذات مع الوصف دي او مفعول مطلق خو صرف وصف وي؟ **جواب**: دا يا مصدر دي په اعتبار دموصوف محذوف سره چې قدوماً خير مقدم دي او يا مصدر دي په اعتبار دمضاف اليه سره چې مقدم دي او حكم د اسم تفضيل هغه دمضاف اليه وي. نو مضاف اليه دلته مقدم مصدر دي نو خير هم حكماً مصدر شو.

**ای سماعياً**: دي سره غرض دفع اعتراض هغه دا چې سماعاً دا عطف دي په جوازاً نودا هم د يحذف الفعل لاندي راغلو نو دسماعاً چې صرف وصف دي حمل په يحذف الفعل چې ذات مع الوصف دي نه صحيح كيږي؟ **جواب**: سماعاً په معنی دسماعياً سره ای منصوب الى السماع نو اوس ذات مع الوصف شو نو حمل ئې صحيح شو په يحذف الفعل باندي. **لاقاعدة له**: دي سره معنی دسماع ذكر كوی او غرض پكښې دفع اعتراض هغه دا چې دقياسا سمع خو هم شوي؟ **جواب**: مراد دسماع نه داده چې قاعده ورلره نه وی او قياسی لره خو وی.

**ای خاب خيبة**: سره يو غرض وشو چې توضيح بالمثال ده او دويم غرض دبهر نه اعتراضين: اول اعتراض: تاوويل چې خيبة دا دخاب نه دي نو معنی دا شوه چې دامشتق دي دخاب نه نو دامذهب خو كوفيانو دي چې مصدر دا مشتق دي دفعل نه؟

Maktaba Tul Ishaat. com



**جواب**: دلته دا ذکر کوی چي خيبة دا مفعول مطلق دي دخاب نه ، مشتق دخاب نه ندي.دويم اعتراض : داد ي چی ته وائی دخيبة فعل به حذف وی دلته خو ذکر دي؟
**جواب**: دلته فعل دخيبة نه ذکر کوی بلکه مقصد دلته دادي چی عرب خيبة وائی اذا لم يفعل ماطلب فانه لم يوجد ، دي سره معنی دحذف وجوبی سماعی ذکر کوی.

**قيل**: سره اعتراض ذکر کوی هغه دا چی ته وائی چی حمداً او شکراً او عجباً د دوي دفعل حذف دي سماعاً : **فاجاب**: سره جواب کوی چی دا کلام دفصحاؤ نه ، نه دي بلکه د مستحدثينو قول دي، وبعضهم سره دريم جواب کوی هغه دا چی ددغه افعالو حذف واجب دي خو چی سره دلام نه مستعمل وی او دا سره دلام نه مستعمل نه دی،خو په دي اعتراض واردیږي چی ماتن رحمة الله عليه ته هم پکار دی چی لام ئی راوړي وی، نودي نه جواب دادي چی لام يي ندي راوړي دپاره داختصار

**حذفاً قياسياً**: دي باندي هغه اعتراض دي کوم چی سماعيا سره دفع شوي وو.
**يعلم له ضابط کلی**: دي سره معنی دقياسي ذکر کوی. موضع ما: دي سره غرض دفع اعتراض هغه دا چی ما ته عبارت دموضع نه اخلی او که دمفعول مطلق نه که دمفعول نه عبارت وی نو حمل ئی په منها باندي نه صحيح کيږي ، ځکه منها کښی ضمير راجع دي موضع ته او ما به عبارت شی دمفعول مطلق نه او که ما عبارت شی دموضع نه نو حمل خو ئی په منها صحيح کيږي خو په معنی کښی فساد راځی او هغه داسي چی بعض دمواضعو نه هغه موضع دي چی واقع شی مثبت او حالانکه مثبت خو مفعول مطلق واقع کيږي ؟ **جواب**: ما عبارت دي دمفعول مطلق نه خو په اعتبار دموصوف محذوفه سره چی موضع دي نو حمل ئی په منها باندي صحيح شو.

**اريد اثباته**: دي عبارت سره شارح دفع داعتراض کوی او هغه دا چی ته وائی مفعول مطلق به واقع وی مثبت بعد نفی نو پس دنفی نه خو منفی وی نه اثبات؟ **جواب**: اثبات به په دغه نفی سره اراده کړي شوي وي. **فانه لوارید**: دي سره فائده دقيد دمثبتاً ذکر کوی **ای عن ذالک الاسم**: دي سره مرجع دضمير دعنه کوی، **وانما وصف الاسم**: دي سره فائده دقيد دلا يکون خبراً عنه کوی. **وانما قال علی اسم**: دي سره فائده دقيد دلا يکون خبراً عنه کوی، او وقع مکرراً : دي سره دويم موضع او اول موضع سره جدا دي

Maktaba Tul Ishaat. com



ای فی موضع الخبر : دي سره غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چې زه به درته اوښايم چې مفعول مطلق به مکرر وی او حذف دناصب به ئې نه وی راغلی لکه (اذا دکت الارض دکا دکا) ؟ **جواب**: زمونږ مراد هغه مفعول مطلق دي چې پس داسم نه وی په ځائی دخبر واقع وی خو خبر دغه اسم نه واقع کیږي . اودلته دکت فعل دي او الارض نائب فعل دي، اسم نشته چې هغه خبر وغواړي .

**وانما جمع**: سره دفع داعتراض ده او هغه دا چې دا دواړه قاعدي چې جداوی نو په یوه منها کښې دي ولې راوړي؟ **جواب**: دا دواړه قاعدي په یو شرط کښې سره شریك دي چې دا مفعول مطلق به پس دداسي اسم نه واقع وی چې دا به خبر دهغې نه ، نه وی واقع نو ځکه مې په یوه منها کښې راوړل . **نحو ما انت الا سیراً**: الاسیرا دا مفعول مطلق دي واقع دي په ځای دخبر خو خبر نه صحیح کیږي. ځکه حمل دوصف به راشي په ذات مع الوصف ، دویمه خبره داده چې تقدیر دفعل به پس د الانه کوو، ولی که مخکښې د الانه مو وکړي نو استثناء به راشي دخپل نفس نه وهذا ایضاً لا یجوز: فان قیل مستثنیٰ خو اسم وی دلته خو فعل دي ؟ **جواب**: اصل کښې عبارت داسي دي ما انت الاشخص تیسر تیسرا .

**وانما اورد مثالین**: دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چې دوه مثاله ماتن ولی راوړل ؟ **جواب**: په دریو طریقو سره دي اول دا چې دي کښې اشاره وده دیته چې هغه، مفعول مطلق چې واقع دي په موضع دخبر نو دامعرفه او نکره دواړه راتللی شی خو اول دنکري مثال دي او دویم دمعرفی مثال دي ،دویمه طریقه دجواب داده چې دغه مفعول دمبتدا دا په معنی دفعل دمبتدا سره هم راځي لکه ما انت الاتیسر تیسرا نو سیرا دا معنی دتسیرا ده، اویا دا مفعول مطق مشابه دفعل دمبتدا سره راځي لکه ما انت تیسرا لا سیرالبرید دي مثال کښې فعل مخکښې د الانه هم راوړي شی، ځکه استثناء دخپل نفس نه نه راځي ځکه مخکښې تیسر عام دي او سیر البرید کښې خاص سیر مراد دي. او دریمه طریقه دجواب داده چې په راوړلو د دواړو مثالونو کښې اشاره ده دیته چې داسي مفعول مطلق مفرد او مضاف دواړه راتللی شي .

**وانما انت الاسیرا**: دامثال دهغه مفعول مطلق دي چې پس دمعنی دنفی نه واقع

Maktaba Tul Ishaat. com


وی چی انما دي. **وزيد سيرا سيرا**: دا مثال دهغه مفعول مطلق دي چی مکرر واقع وي.
**ای موضع ما**: سره غرض دفع داعتراض سابقه ده.

## معنی د مضمون د جملی

**تفصيلاً لاثر مضمون جملة متقدمة**: اول معنی دمضمون دجملی ، دویم معنی داثر. دریم معنی دتفضیل داثر. **والمراد بمضمون الجملة**: مراد په مضمون دجملی سره هغه مصدر دي چی فهم کړي شوي وي. ددغه جملی نه او مضاف وی فاعل یا مفعول ته. **وباثره**: سره دویم غرض چی معنی داثر دمضمون دجملی غرض مطلوب ددي جملی دي.

**وتفصيل الاثر**: سره دریم غرض چی تفصیل د اثر معنی داده چی دا جمله څومره احتمالات لري **فشدوا الوثاق الخ... فقوله**: سره غرض تطبیق دمثال دممثل سره کوی. **ومنها**: دي سره څلورم موضع ذکر کوی، ای موضع سره زوړ اعتراض دي ، **للتشبيه ای لان يشبه**: دي سره معنی دتشبیه ذکر کوی چی دا مفعول مطلق به مشبه به وی او دبل شی تشبیه به ورسره ورکړل شوي وي. **واحترزبه**: سره فائده دللتشبیه ذکر کوی چی که مفعول مطلق دتشبیه دپاره نه وو، نو حذف دفعل ئی واجب نه دي، لکه لزيد صوتٌ صوتاً حسناً دلته صوت حسن مفعول مطلق دي خو بدل دي دمخکښی جملی نه، علاجاً ای حال کونه. وجه دنصب او معنی دعلاجاً ذکر کوی چی دا مفعول مطلق به دافعال جوارحو نه وی، واحترز به عن نحو: دي سره فائده دقید دعلاجاً ذکر کوی چی که دا مفعول مطلق دافعال جوارحو نه وو نو حذف دناصب ئی واجب ندي لکه لزيد زهد زهد الصلحاء اوس زهد الصلحاء مفعول مطلق دي خو فعل دي دقلب.

**بعد جملة**: دا دریم شرط دي چی دا مفعول مطلق به پس دجملي نه واقع وی، واحترز به: سره فائده ددي قید ذکر کوی چی کله بعد دجملي نه نه وو واقع نو حذف دناصب ئی نه دي واجب لکه صوت زيد صوت حمار څکه صوت زيد خو جمله نه ده.
**مشتملة على اسم بمعناه**: دا څلورم شرط دي چی دا جمله به مشتمل وی په داسي یو اسم چی په معنی ددغه مفعول مطلق سره به وی **واحترزبه**: دي سره فائده ددي قید ذکر کوی چی که جمله کښی داسي اسم نه وو نو حذف دناصب واجب نه دي لکه مررت به فاذا له ضرب صوت حمار دلته ضرب اسم شته خو په معنی دمفعول مطلق سره نه دي

Maktaba Tul Ishaat. com



وعلی صاحبه دي سره پنځم شرط ذکر کوی چې دا جمله به مشتمله وی په صاحب دد غه اسم باندي، واحترز به سره فائده ذکر کوی دد غه قید چې که صاحب دد غه اسم په دغه جمله کښې نه وو نو حذف دناصب ئې نه دي واجب لکه مررت بالبلد فاذا به صوت صوت حمار دلته فاذابه کښې ضمیر بلد ته راجع دي

**نحو مررت به فاذا له صوت صوت حمار**: صوت حمار دا مفعول مطلق دي او واقع دي دپاره دتشبیه او د افعال جوارحو نه هم دي او پس دجملې د (له) صوت نه هم دا مشتمل دي په یو اسم چې په معنی دمفعول مطلق سره دي چې صوتاً دي او همدارنګه دي جمله کښې صاحب دا سم هم شته چې له دي. **ونحو مررت به فاذا له صراح صراح الثكلی**: دا دویم مثال دي ماتن رحمه الله دوه مثاله راوړل اول دنکري او دویم دمعرفی مثال دي. **ومنها**: دي ځاي نه څلورم غرض ذکر کوی موضع ما: سره زوړ اعتراض او جواب دي لامحتمل لها غیره: دلته دوه ترکیبه دي یو دا چې لائی نفی جنس محتمل لها ورلره اسم او غیره ورلره خبر، او بل دا چې محتمل اسم او لها خبر او غیره بدل عن الخبر شي.

**ای اعترفت اعترافاً**: توضیح دمثال کوی فاعترافاً: دي سره تطبیق دمثال کوی چې اعترافاً مصدر دي او واقع دي مضمون دجملې چې علی الف درهم څکه ددي جملې معنی هغه اعتراض او اقرار دي او بغیر داعتراف نه څه احتمال هم نه لری **ای لنفس المفعول المطلق**: دا به تاکید دپاره دخپل نفس وی، څکه دا مفعول مطلق خپل ذات موکد کوی نه دا امر مغایر اګرکه دا امر مغایر بالاعتبار وی، بعضو دلته معنی داسي کړي چې مفعول مطلق تاکید دخپل ذات راولی نه د امر مغایر اګر که بالاعتبار به مغایر وی، خو دا معنی صحیح نه ده څکه مخکښې سره ئې تضاد راځي، چې یؤکد نفسه لاامراً مغایراً دي.

**ومنها ما وقع**: سره پنځم نمبر قاعده ذکر کوی خو بعضو دلته (منها) نه ده راوړي او مخکښې څلورمه او دا قاعده ئې یوه ګرځولې په دي اعتبار سره چې دواړه مضمون دجملې واقع کیږي او چا چې منها راوړي هغوي دیته کتلې دی چې څلورمه قاعده کښې مفعول مطلق تاکید لنفسه راوړی او جملې لره احتمال دغیر نه وي او پنځمه قاعده کښې مفعول مطلق تاکید دغیر راولی او جمله احتمال دغیر لري من حق

Maktaba Tul Ishaat. com



یحق . دي سره معنی لغوی دحقا ذکر کوی. فحقاً مصدر دي سره تطبیق دمثال ممثل سره کوی

**لانها تحتمل الصدق والکذب والحق والباطل**: صدق وائی چی کلام مطابق شی دواقع سره او کذب ددي برعکس .او معتزله وائی چی صدق وائی چی، کلام مطابق شی دعقیدي سره اګرکه په واقع کښی داسي نه وي او کذب ددي برعکس ده، او جاحظ وائی چی صدق دا هغه کلام دي چی مطابق وي د واقع او عقیدي دواړو سره شی او کذب ددي برعکس دي، او حق وائی چی واقع مطابق شی دکلام سره او باطل ددي برعکس دي **لانه من حیث هو منصوص علیه**: دي سره غرض دفع اعتراض او هغه دا چی تاکید لغیره خو په دنیا کښی نشته دي ځکه تاکید وائی دیته چی یو شی مکرر او دوباره ذکر شی؟ **جواب**: دا مفعول مطلق ددي حیثیت نه چی راوړل شو ي وي په لفظ دمصدر سره دا تاکید دخپل نفس کوی ځکه دا مخکښی جمله دا احتمال دصدق هم لري او دي حیثیت ته ئی چی اوګوري چی احتمال دکذب هم لري، دا جمله نو بیا تاکید لغیره شو.

**ویحتمل ان یکون المراد**: دي سره جواب آخر ذکر کوی چی دا احتمال هم شته چی لغیره کښی لام اجلیه شی نو معنی به داسي شی . چی دا مفعول مطلق نه راځی تاکید دپاره د دفعی دغیر .

**وعلی هذا ینبغی**: سره ضعف دجواب ثانی ته اشاره کوی چی بیا دي په تاکید لنفسه کښی هم لام اجلیه شی چی تقابل پکښی راشی او یادا قول دشارح دي اودجواب ثانی حسن ته اشاره کوی چی تاکید لنفسه کښی هم لام اجلیه دي، ځکه تاکید به مکرر او ثابت شی، او تقابل به ئی هم راشی، ومنها ما وقع مثنی ، سره شپږمه قاعده ذکر کوی چی مفعول مطلق مثنی واقع شی **ای علی صیغة التثنیه**: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چی تا ووئیل چی مفعول مطلق تثنیه وی او مثال کښی دي لبیك راوړو ددي په معنی کښی خو تکثیر دي؟ **جواب**: دا به په صیغه دتثنیه سره وی اګرکه معنی کښی تکثیر وی او ددي مثال قرآن کریم کښی هم شته دي لکه القیا فی جهنم کل کفار عنید

**ولابد فی تتمیم هذه القاعدة**: سره غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چی زه به درته وښایم مفعول مطلق به وي تثنیه به هم وی او ناصب به ئی حذف نه وی لکه

Maktaba Tul Ishaat. com



﴿ فارجع البصر كرتين ﴾ ؟ **جواب**: دلته يو قيد شته چې دا مفعول مطلق به مضاف وي فاعل ته يا مفعول ته او د كرتين اضافت يو ته هم نه دي شوي ، نو په دي اعتراض واردېږي چې دا قيد معتبر وو نو ذكر كړي به دي وي؟ **جواب**: اكتفاء ئې وكړه په امثله سره **وفي جعل المثال**: سره په دي آخري جواب باندي اعتراض كوي چې په مثال سره تتميم دقاعدي كول دا تكلف دي خو په شارح اعتراض واردېږي چې ښه ته راته جواب اوكړه؟ ده جواب كړي چې دا قيد ظاهر وو خو ده ته به ظاهر نه وو.

**مثل لبيك اصله**: يو غرض توضيح دمثال واقيم لخد متك سره معنى ذكر كوي او فحذف الفعل سره تطبيق دمثال دممثل سره كوي. ويجوز ان يكون سره قول آخر ذكر كوي، **سعديك**: اى اسعدك سره اصل ذكر كوي بمعنى اعينك سره معنى ذكر كوي ، **الا ان اسعد**: سره فرق ذكر كوي چې اسعد دا متعدي بنفسه راځي او البته دا متعدي كيږي په لام سره .

## مفعول به

**المفعول به**: مفعول به ئې مقدم كړو په نورو باندي ځكه دا معمول دي دفعل دپاره بغير دواسطى نه او مفعول فيه اوله او معه وغيره دا معمول دي دفعل دپاره سره دواسطى نه چې هغه له، او معه او فيه دي، په ﴿ به ﴾ كښې با دپاره دملابست ده او يادپاره دسببيت ده،

**اى هو اسم**: دي سره غرض تعين د ﴿ ما ﴾ كوي چې ما موصوفه ده او غرض پكښې دفع اعتراض ده هغه دا چې تاوويل مفعول به دا به هغه وي چې وقع عليه فعل الفاعل او په مثال كښې دي راوړو چې ضربت زيداً نو تا لفظ د زيد ته مفعول وويل، بلكه مفعول به خو ذات دزيد دي، ؟ **جواب**: هغه اسم چې واقع وي په هغه فعل دفاعل مراد دي **ولم يذكر الاسم**: اول دفع داعتراض، دويم دفع داعتراض، دريم فائده دقيد، ځلورم دفع داعتراض، پنځم هم دفع داعتراض، دا رنګه شپږم هم دفع اعتراض ، اووم رد په شارح باندي. اول غرض هر كله چې دا قيد مراد ؤ بيا ئې ولې نه ذكر كولو؟ **جواب**: اكتفاء ئې او كړه په ذكر دمفعول مطلق كښې

**والمراد بوقوع فعل الفاعل**: دي سره دويم غرض تعريف دمفعول به كښې مجرور

Maktaba Tul Ishaat. com



داخل شو. په دي ترکیب کښې چې مررت بزید، ځکه بزید ماوقع علیه فعل الفاعل دي او سره د دینه ځوك ورته مفعول به نه وائی؟ **جواب**: مرادپه وقوع دفعل دفاعل سره تعلق دفعل دي دمفعول به سره بغیر دواسطي دحرف جر نه. او دلته واسطه حرف جر ده. **فخرج به**: سره فائده ددي قید ذکر کوی چې مفاعیل ثلاثه باقیه په دي سره خارج شو ځکه هغه وقع فیه وقع له او معه دي **والمفعول المطلق**: سره څلورم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې په تعریف دمفعول به کښې دي مفعول مطلق داخل شو ځکه تا دوقوع معنی دا اوکړه چې تعلق به ئی وی دمفعول به سره بغیر دواسطی نه. او داسي مفعول مطلق هم دي لکه ضربت ضرباً؟ **جواب**: مونږه وایو چې دوقع نه دا معلومیږي چې دفعل او مفعول به په منځ کښې به تغایر وی او دفعل او مفعول مطلق معنی خو یوه وی.

**والمراد بفعل الفاعل**: دي سره پنځم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې تعریف دي مانع نشو دخول دغیر نه داخل شو پکښې زید په ضُرِبَ زیدٌ کښې، ځکه دا مفعول مالم یسم فاعله دي اووقوع دفعل پري راغلی؟ **جواب**: مراد په فعل دفاعل سره هغه اسناد دفعل دي فاعل ته حقیقتاً او دلته اسناد دفعل حقیقتاً ندي بلکه مجازاً دي او بیا دا فاعل عام دي حقیقتاً وي لکه ضربت زیدا کښې ضمیر متکلم او که حکماً وي لکه اعطی زیدٌ درهماً کښې زید. **ولا یشکل بمثل**: دي سره غرض شپږمه خبره دفع داعتراض کوی چې تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه درهما پدي ترکیب کښې چې اعطی زید درهما ځکه اسناد دفعل فاعل ته مجازاً دي؟ **جواب**: فاعل په دوه قسمه دي حقیقتاً او حکماً او دلته فاعل حکمی دي

**وبما ذکرنا ظهر**: سره اووم غرض رد په شارح هندي شارح هندي وائی چې په کلام کښې استدراك دي هغه دا چې الفاعل دي نه وی ذکر کړي نو بنه وه نو ده رد وکړو چې الفاعل سره دا فائده حاصله شوه چې مجرور خارج شو او درهما په تعریف دمفعول به کښې داخل شو **فان زیداً**: دي سره غرض تطبیق دمثال دممثل سره کوی. **العامل فیه**: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چې خروج عن البحث لازم شو زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښې او ته لاړي فعل ته؟ **جواب**: مراد دفعل نه عامل دمفعول به دي **اما جوازواما وجوباً**: سره قسمین دتقدیم دمفعول به ذکر کوی چې یا به جواز لکه (الله

Maktaba Tul Ishaat. com



اعبد) ووجه الحبيب اتمنى او يا به وجوباً وي لكه من رايت. من تكرم يكرمك

**وهذا اذا لم يكن**: سره دفع داعتراض ده هغه دا چې زه به درته وښايم چې تقديم به ممتنع وي لكه من البر ان تكف لسانك؟ **جواب**: دا هله واجب او جائز دي چې مانع نوي او دلته مانع شته چې هغه ان مصدريه دا (تكف) جمله په تاويل دمصدر سره اړوي او داضعيف العمل دي په معمول متقدمه كښې عمل نشي كولى.

**العامل فيه**: سره بيا زوړ اعتراض او جواب **مقاليه او حاليه**: دي سره قسمين دقرينې ذكر كوي. **تخصيصها ليس للحصر**: دي سره غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې ته وائې چې دا څلور ځايونو وجوبي دي زه به درته اوښايم چې نور به هم وي لكه باب داغراء كښې (برانګيخته كول) لكه اخاك اخاك يا منصوب على المدح يا ذم ياد ترحم لكه الحمد لله الحميد. اتاني زيد الفاسق الخبيث. يا مررت بزيد المسكين.

**جواب**: تخصيص پدي څلورو دپاره دحصر دي. **بل لكثرة**: سره دفع داعتراض هغه دا چې بيا دي ولې دا څلور خاص كړل **جواب**: دا څلور مو ځكه خاص كړل چې ديكښې مباحث ډير دي **اعتراض**: سماعي كښې خو مباحث ډير ندي صرف دري ځايونه دي **جواب**: دا متقدمينو راوړي نو ما هم راوړل اى اتيت اهلاً دي سره معنيين ذكر كوي، **والثاني**: دي سره دويم ځاي ذكركوي چيرته چې حذف دفعل قياساً واجب دي شارح قيد دالموضع راوويستلو دا موصوف او الثاني صفت دي من لك المواضع سره بيان دثاني كوي.

**هو المطلوب الخ**.. دا هغه قسم دي چې مطلوب وي اقبال د ده . **يوجهه او بقلبه** يو غرض معنى داقبال او غرض پكښې دفع اعتراض، دويم دفع اعتراض دريم هم دفع اعتراض، څلورم رد دي په ماتن باندي، پنځم تاكيد دخپل رد . **اى توجهه اليك**: دا اول غرض چې معنى داقبال ده. او دفع اعتراض هغه دا چې تعريف ومنادي نه دي خارج شو هغه سړي چې مخامخ وي.

**جواب**: اقبال عام دي بوجهه وي او كه بقلبه وي وجها خو به مخامخ وي خو قلب به ئې په ندا سره متوجه كيږي **حقيقتاً او حكماً**: دي سره دويم غرض دفع اعتراض هغه دا چې تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه يا سماء او يا ارض

Maktaba Tul Ishaat. com



ځکه ددي قلب او وجه نشته؟ **جواب**: وجه عام دي حقيقتاً وي لکه یا زید او یا حکماً وی لکه یا سماء . دا سماء اول نازل شو په منزله دهغه چا چی صلاحیت دندا لري بیا دهغی وروسته پري حرف ندا داخل شو نو حکماً د دوي اقبال مطلوب دي **اعتراض**: [ددي اعتراض نه مخکښی دا خبره یاد لره چی په قرآن کریم کښی الله ﷻ لره (ید او وجه) ثابت دي او مونږ پري ایمان لروچی دا دالله ﷻ صفات دي او مونږه دا خبره کوو چی الله ﷻ لره وجه شته خو لکن لا کوجهنا او الله ﷻ لره ید شته خو لاکایدنا کما یلیق بشانه تعالی] اوس اعتراض ته راشه : هلکه تعریف نه دي الله ﷻ خارج شو ځکه الله ﷻ لره خو وجه او قلب نشته. **جواب**: دلته قلب او توجه دا په اعتبار دمنادي سره دي چی دي وایي دویم جواب چی مقصود ندا نه وی بلکه مقصود اجابت د ندا وی

**بخلاف المندوب**: دي سره دریم غرض دفع اعتراض . هغه دا چی ندا عامه شوه حقیقتاً وي او که حکماً وی نو یا جبال الخ... پکښی داخل شو نو مندوب دي هم داخل شی په منادي کښی نو بیا ددي لپاره ئی وروسته مستقل بحث ولی راوړي ؟ **جواب**: مندوب باندي چی کله یا داخله شی نو هلته اقبال مقصود نه وی نه بوجهه او نه بقلبه بلکه هلته یادپاره دتفجع او د غم وی . **وفیه تحکم**: سره څلورم غرض رد په ماتن باندي تحکم وائی خبره بلا دلیل ته مندوب دي په منادي کښی داخل نه کړو سره ددینه چی دیکښی صلاحیت د اقبال شته او یا سماء کښی صلاحیت داقبال نشته او هغه دي په منادي کښی داخل کړي پکار ده چی مندوب دي داخل کړي وي **کما فعله صاحب المفصل**: دي سره پنځمه خبره ذکر کوی چی دخپل رد تاکید دي دي وائی دا کار صاحب مفصل هم کړي او چا ویلی چی هغه ویونکی امام رضی دي چی دسیبویه دکلام نه هم معلومیږي چی مندوب په منادی کښی داخل دي

خو مونږ دماتن ملګرتیا کوو او دشارح نه جوابات کوو چی مندوب داخل نه دي په منادي کښی عرفاً لکه یو سړي قسم وخوري چی زه به تا ته آواز نه کوم نو چی هغه سړي مړ شی او آواز ورته کوی نو دا سړي نه حانث کیږي ځکه دا عرفاً ندا نده، دویم جواب دادي چی مندوب که داخل شی په منادي کښی نو حروف ندا به شپږ شی دریم جواب دادي چی زه منم چی مندوب په منادي کښی داخل دي خومندوب باب وسیع

Maktaba Tul Ishaat. com



دي ددي لپاره ځانته احکام دي نو ځکه ئی وروسته مستقل ذکر کوی

**بحرف نایب مناب ادعوا**: اول بیان دنائب کوی دویم فایده ددي قید ، اول غرض بیان دنائب خوئی وکړه چی حروف خمسه دي او په واحترز به سره فایده دقید ذکر کوی چی یقبل زیدٌ نه احتراز راغی ځکه دلته مطلوب اقبال دي خو په حرف ندا سره نه دي .

**لفظا او تقدیراً لتفصیل الطلب**: اول دفع اعتراض . دویم دفع اعتراض، دریم هم دفع اعتراض ، څلورم بیان دمثال، پنځم قول آخر، شپږم دفع داعتراض، اووم قول آخر ، اتم بیان دمثال ، نهم اختلاف ، لسم ثمرتین د اختلاف . اول غرض . لفظا او تقدیراً منصوب دي او وجه دنصب لره طرق کثیره دي که ته وائی چی دامنصوب دي بناء بر مفعول به خودا نه صحیح کیږي ځکه د المطلوب دپاره خو یو مفعول شته چی اقباله دي بل مفعول به خو نه غواړي او که ته وائی چی منصوب دي بناء برمفعول مطلق نو هم نه صحیح کیږي ځکه المطلوب خومشتمل دي په طلباً نه په لفظاً او تقدیراً باندي او که ته وائی چی دا منصوب دي بناء برمفعول فیه نو مفعول فیه خو یا زمان وی او یا مکان نو لفظاً او تقدیراً خو نه زمان دي او نه مکان .

**جواب**: دا منصوب دي بناء بر مفعول مطلق خو په اعتبار دموصوف محذوفه سره چی طلباً لفظیاً او تقدیریاً لفظاً او تقدیراً صرف اوصاف دي نو دا ئی مؤول کړل په لفظیا او تقدیریاً سره نو دي سره دویم غرض چی دفع داعتراض وشوه چی مفعول مطلق دا هغه دي الخ ... **بان تکون آلة الطلب لفظیة**: سره دریم غرض دفع داعتراض هغه دا چی تا وئیل چی طلب به یا لفظی وي او یا تقدیري نو طلب خو یو امر معنوی دي لفظی او تقدیری خو نه شی کیدي ؟ **جواب**: دا نسبت مجازي دي کله به آله دطلب لفظی وي او که به تقدیري وی. **نحو یا زید**: دي سره څلورم غرض بیان دمثال . یا زید مثال دهغه دي چی اله دطلب پکښی لفظی وي او دهغه مثال چی اله دطلب پکښی تقدیري وی لکه یوسف اعرض عن هذا .

**او للنیابة**: پنځم غرض قول آخر چی دا مفعول مطلق دي دناب دپاره ای ناب نیابة لفظیة او تقدیریة **بان یکون النائب ملفوظاً او تقدیراً**: سره شپږمه خبره دفع اعتراض هغه دا چی نیابت خو امر معنوی دي هغه څرنګه لفظی او تقدیري شی نو دي

Maktaba Tul Ishaat. com



وائی چی هغه نائب به ئی یا لفظي وی او یا تقدیري چی هغه یاء ده **اوللمنادی**: سره اوومه خبره قول آخر ذکر کوی هغه دا چی لفظاً او تقدیراً دا منصوب دي بنابر حالیت او دا حال د اقبال د (ۀ) ضمیر نه چی راجع دي منادیٰ ته نو حال دمضاف الیه نه راغلو او حال دمضاف الیه نه صحیح وی خو چی حذف دمضاف جائز وي او مضاف الیه دا قائمقام دمضاف کیداي شی نو تقدیر به داسي شی چی والمطلوب هو لفظاً الخ...

**مثال یا زید والمقدر مثال**: دي سره غرض اتمه خبره بیان دمثال کوی.

## اختلاف په منادی منصوبه کښی

**وانتصاب المنادیٰ عند سیبویه**: سره نهمه خبره اختلاف د منادیٰ چی منصوبه وی دا نصب ئی دچا ذ وجی نه دي په دیکښی دري مذهبه دي اول مذهب د سیبویه دي دي وائی چی منادیٰ منصوب وی او ناصب ئی فعل مقدر وي لکه یا زید اصل کښی وو ادعوا زیداً اصل ئی منصوب دي او مرفوع ئی ځکه وایو چی محل دمبنی کښی دي، دویم مذهب دامام مبرد دي دي وائی چی منادیٰ منصوبه وی او عامل ئی همدغه یاء وی نه فعل ځکه دا یاء قائمقام ددغه فعل ده او شئ چی قایمقام شی په ځائی دغیر نو هغه لره حکم دغیر وی، دده مذهب ضعیف دي ځکه دار مدار دقواعدو دعربیه په سماع دي او دا مونږه نه دي اوریدلی چی دا منادی منصوبه ده دیاء دوجی نه او نه دا چی یاء عامل ناصبه دي ، دریم مذهب دامام ابو علی دي ، دي وائی دا یاء اسم فعل ده. دامذهب ضعیف دي ځکه اسم فعل به یو حرف وګرځی اوبل دا چی اسم فعل په معنی دامر حاضر یا ماضی سره وی.

**فعلی هذین المذهبین**: سره لسم غرض ذکر کوی چی ثمرتین د اختلاف ، یو ثمره داده چی دټولو مذهبونو په نزد یا زید جمله ده بالاتفاق او جمله خو عبارت وی دمسند او مسند الیه نه نو دسیبویه په نزد پکښی نه مسند او نه مسند الیه شته فعل او فاعل دواړه دده په نزد مقدر دي او دامام مبرد په نزد ( یاء ) قائمقام دفعل ده نو مسند شته چی فعل دي او مسند الیه چی فاعل دي هغه مقدر دي، اودابوعلی په نزد یودجزئین نه اسم فعل دي او فاعل ئی مقدر دي چی هغه ضمیر مستتر دي په دي اسم فعل کښی.

Maktaba Tul Ishaat. com



**ویبنی ای المنادیٰ**: بیان دضمیر دیبنی . دویم دفع داعتراض . اول ضمیر راجع دي منادی ته. **قدم بیان البناء**: سره دفع اعتراض هغه دا چی بحث په منصوباتو کښی دي او ته بحث کوی په احوالو دمنادیٰ کښی نو پکار ده چی دنصب حال ئی مخکښی ذکر کړي وي ځکه دمقام سره ئی مناسبت نشته ؟ **جواب**: دا بحث دمرفوع او دمجرور دواړو نه وو نو ځکه ئی مقدم کړل او دنصب بحث اوږد وو نو هغه ئی موخر کړو. **جواب ثانی**: مقصود زمونږ اختصار وو نو اول مو دا ذکر کړل چی مرفوع به وی پدي شی مجرور به وی پدي شی او ینصب ماسواهما .

**علی ما یرفع به ای علی الضمة** : اول تعین د ( ما ) کوی دویم دفع داعتراض . دریم جواب ذکر کول، څلورم رد په بعضو خلقو. نو ( ما ) عبارت دي دحرف یا حرکت نه چی ضمه او الف او یاء دي. **التی یرفع بها**: سره اول غرض دفع داعتراض هغه دا چی ستا په کلام کښی تعارض دي یو طرف ته وائی چی منادی به مبنی کولی شی او بل طرف ته وائی چی منادي به علی ما یرفع به وي.نو رفع خو په معرب کښی راځی .**اعتراض ثانی**: دا منادی به مبنی کولی شی په علی ما یرفع به سره چی کوم ځائی کښی معرب وی ما عبارت شو دحرف یا حرکت نه او یرفع به کښی هم به ضمیر عبارت شي دحرف یا حرکت نه نو حرف او حرکت.ته تا بناء او حرکت وویل؟ **جواب**: دادي چی یرفع فعل مسند دي جار مجرور ته چی به او دي جار مجرور کښی ضمیر حرف یا حرکت ته نه دي راجع .

**وارجاع الضمیر الی الاسم غیر ملایم لسوق الکلام**: دي سره څلورم غرض رد په بعضو خلقو ذکر کوی دلته دوي ددي اعتراض نه بل جواب کړي هغه دا چی دا ( به ) کښی ضمیر اسم ته راجع دي نو معنی به داسي شی چی مبنی کولی دا منادي په هغه حرف یا حرکت باندي چی مرفوع کولی شی دا اسم په هغه باندي نو شارح پري رد کوی چی دا جواب معنیٰ صحیح دي خو ملایم ندي دسوق دکلام سره ځکه انتشار به ضمائرو کښی راشی ځکه مخکښی ضمایر منادیٰ ته راجع وو او دلته به اسم ته راجع شی.

**ان کان المنادی مفرداً ای لا یکون مضافاً**: معنی دمفرد غرض پکښی دفع داعتراض ده. دویم معنی دشبه مضاف او غرض پکښی دفع داعتراض ده، مفرد دلته

Maktaba Tul Ishaat. com



په مقابله دمضاف شبه مضاف کښې دي يعنې دا منادئ به داسي نه وی. **اعتراض:** تاوونيل چې منادی مفرده معرفه وي نو بيا به مبنی وی په ضمی سره زه به درته وښايم منادیء به مفرده معرفه نه وی او دا اعراب به ئی وي لکه يا زيدان ؟ **جواب:** مفرد نه مراد دادی چې مضاف شبه مضاف به نه وی نو تثنيه پکښې داخله شوه

## معنی د شبه مضاف

**ولا شبه مضاف:** معنی دشبه مضاف داده چې هر هغه اسم چې نه تماميږي معنی ددي مگر په انضمام د امر آخر سره لکه طالعاً جبلاً . **اعتراض:** زه به درته وښايم شبه مضاف به وي او اعراب به ئی نه وی لکه يا رجل العالم رجل موصوف دي او عالم ورلره صفت دي مشابه دي دمضاف سره او صفت مشابه دي دمضاف اليه سره. **جواب:** مراد دشبه مضاف نه هغه دي چې معنی ئی نه تماميږي په غير دانضمام د امر آخر سره او ددي معنی خو تماميږي.

**معرفة قبل النداء او بعده:** اول دفع داعتراض، دويم دليل ذکر کول، دريم هم دفع داعتراض ، **اوله خبره دفع داعتراض:** هلکه ! ته وائی چې منادیٰ مفرده معرفه مبنی کولی شی په ضمی سره ستا دمعرفی نه کومه معرفه مراد ده چې قبل النداء وی او که بعد النداء که قبل النداء وائی نو يا زيدٌ ترينه خارج شو او که بعد النداء وائی نو يارجل ترينه خارج شو ؟ **جواب:** که قبل النداء معرفه وی او که بعد النداء دواړه زمونږ مراد دي، **وانما بنی المفرد المعرفة:** هغه دويمه خبره ذکر کوی چې دليل دي، ، منادي مفرده معرفه مبنی وي په ضمی سره ځکه دا واقع دي په ځای د کاف اسمی باندي، کاف اسمی هغه ته ويلی شی چې دهغه په ځاي اسم ظاهر راوړلی شی او دا کاف اسمی مشابه دي د خطابی سره لفظاً هم او معناً هم ، لفظاً دا چې دواړه مفرد دي او معناً ځکه چې دا دواړه معرفی دي، او کاف حرف خطابی ديته وايی چې په منزله دکاف اسمی باندي چې هغه ادعوك دي او دا کاف اسمی مشابه دي دکاف حرفی خطابی سره لفظاً هم او معناً هم نو کاف اسمی مشابه شو دمبنی الاصل سره نو دا هم مبنی شو.

**وانما قلنا:** سره دفع داعتراض ده هغه دا چې خبره دي دومره اوږده کړه داسي به دي ويلی وو چې منادی مفرده معرفه ځکه مبنی ده په ضمی سره چې دامشابه دکاف

Maktaba Tul Ishaat. com



اسمی سره او هغه مبنی دي نو دا هم مبنی شوه ز

**جواب:** یو اسم چې د بل اسم سره مشابه شي نو دي مبنی نه ګرځي له وجې دمشابهت نه بلکه ترڅو پوري یې چې دمبنی الاصل سره مشابهت نه وي راغلی.

**اعتراض:** دا حصر زه نه منم چې مبنی به صرف مشابهت سره ګرځي. **جواب:** مراد داسم نه اسم مرکب دي دا مبنی نشي ګرځیدلی ترڅو پوري ئې چې مشابهت دمبنی الاصل سره نه وي راغلی. **مثل یا زید ویا رجل**: اول تعین دممثل له کوی. دویم دفع داعتراض هغه دا چې دوه مثاله دي ولې راوړه یو مثال کافي وو **جواب:** چې ممثل له دوه وو ځکه مې دوه مثاله راوړل. **ویخفض ای وینجر المنادی**: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چې خفض یخفض متعدي صفت دخافض دي دمتکلم نو دا څنګه حال ګرځي د احوالو دمنادی نه؟ **جواب:** دا متعدي مونږ ورنه تعبیر وکړو په لازمی سره چې ینجر نو داحال دي دکلام نه.

**بلام الاستغاثة ای بلام**: اول دفع داعتراض، دویم دلیل، **اعتراض:** استغاثة فریاد ته وائی نو داستغاثة په لام سره خو څوك فریاد نه کوی؟ **جواب:** دا نسبت د ادنی ملابست دي چې په وخت دفریاد کښې ئی راوړي دلته هم دا مستغیث دا مستغاث تولو خلقو پوري خاص کوي با الدعاء. **مثل یا لزید وانما فتحت**: اول دفع داعتراض، دویم دهم دفع داعتراض. دریم مسئله اخري. څلورم دفع داعتراض، پنځم هم اعتراض شپږم جواب، اووم جواب آخر، اتم رد دي په جواب آخر باندي. **اعتراض:** څه وجه ده چې دلته تا لام مفتوح کړو او سره ددینه چې دا لام تخصیص دي اولام تخصیص خو مجرور وی لکه المال لزید؟ **جواب:** مستغاث کښې دا لام مفتوح کړي شو ځکه چې التباس ئی را نشی مستغاثٌ له سره چې کله مستغاث حذف وی لکه مستغاث کښې لام مفتوح دي یا لزید اومستغاث له کښې لام مجرور وی لکه یا لِلمظلوم اصل کښې یا لَلقوم لِلمظلوم.

**ولم یعکس الامر**: سره دویم غرض دفع داعتراض هغه دا چې عکس به دي کړي وی مستغاث کښې لام مکسور او مستغاث له کښې به دي لام مفتوح کړي وي؟ **جواب:** منادی مستغاث واقع ده په خاي دکاف ضمیري باندي لکه (لكَ) او ددي کاف

Maktaba Tul Ishaat. com



ضميري سره لام مفتوح راځي **فان عطفت على المستغاث بغير ياء**: دي سره دريم غرض مسئله اخري ذکر کوی هغه دا چې په مستغاث عطف وکړي بغير د ياء نه لکه يالزيد ولعمرو. نو لام به لعمرو کښې مکسور وائی ځکه فرق راغی په مابين دمعطوف او په مابين دمستغاث له کښې په عطف کولو ددي معطوف کښې په مستغاث باندي

**وانما اعرب المنادی**: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چې تا ووئيل چې منادي مفرده معرفه به مبنی وي په ضمی سره دلته يا لزيد کښې صرف لام راغلو او تا مجرور کړو نو معرب دي کړو کسره خو دي ونه ووئيله ؟ **جواب**: منادی مفرده معرفه مبنی دده له وجی دمشابهت نه نو دلته د لام د وجی نه مشابهت دحرف سره کمزوري شو ځکه لام خاصه داسم ده نو خپل اصل ته را معاد شوه چې هغه اعراب دي ځکه اصل په اسماؤ کښې اعراب دي.

**قيل قد يخفض المنادی**: سره پنځم غرض اعتراض هغه دا چې لام تعجب او لام تهديد سره هم منادی مجرور ګرځی دائی ولی پرينښودل دويمه طريقه داعتراض لام تعجب په ينصب کښې داخل دي او منصوب نه دي ؟ بلـه خبره دا چې په وينصب ماسواهما لام تعجب او لام تهديد ترينه خراج شو سره ددينه چې په دي سره خو منادی مجرور ګرځی.

**واجيب**: سره جواب کوی چې دا دواړه داخل دي په لام استغاثه کښې ځکه ئی ندي ذکر کړي **واجيب عن لام التعجب بوجه آخر**: دي سره اووم غرض جواب آخر هغه دا چې لام تعجب کښې منادی ماء او دواهی ندي بلکه دا مستغاث له دي او منادی قوم دي او لام تهديد قليل ؤ نو ځکه ئی ذکر نه کړل. **ولا يخفی**: دي سره اتم غرض رد ذکر کول هغه دي دا چې دا ماء او دواهی مستغاث له شو نو مخکښې دمستغاث فرق وشو چې لام دمستغاث به مفتوح وی او لام دمستغاث له به مجرور وی نو که يا للماء او يا للدواهی تا پکښې لام مفتوح ووئيلو نو دا خو بيا مستغاث له نشی ګرځيدلی ځکه ددي لام خو مکسور وی او که لام پکښې مکسور وائی نوبيا خو خبره ظاهره ده ځکه ددي دپاره لام مکسور راځی.

**ويفتح ای يبنی المنادی علی الفتح**: دي سره معنی ديفتح ذکر کوی اول مرجع دها

Maktaba Tul Ishaat. com



دضمیر او غرض پکښې دفع داعتراض، ، دویم دلیل ذکر کول. **اعتراض**: الف خو خاتته مستقل حرف دي ، دي سره خو استغاثه نه کیږي دي وائی چی مفتوح کولی شی منادی چی کله الحاق دالف د استغاثي راشي دآخر دمنادی سره . **لاقتضاء الالف ماقبل**: دي سره دویم غرض دلیل وشو. **ولا لام فیه حینئذ**: دي سره دلیل ذکر کوی چی ولی به پکښې لام نه وی. **مثل یا زیداه الحاق الهاء به للوقف**: اول دفع داعتراض، هغه دا چی مثال دي مطابق نه شو دممثل سره ته وائی چی په آخر کښې به ئی الف وی داستغاثه او دلته خو هاء راغلی نو دي جواب کوی چی دا په حالت دوقف کښې .

**وینصب ماسواهما ای وینصب بالمفعولیة**: اول دلیل یا وجه دنصب ، دویم دفع داعتراض ، دریم دفع اعتراض، ځلورم بیان دماسوا. پنځم توطیه او تمهید متن ته او غرض پکښې دفع اعتراض، اول وجه دنصب ، دا منادي به منصوب بناء برمفعولیت او دلیل ئی دوهمه کرښه کښې لان علة النصب سره ذکرکړیدي.

**ماسوی المنادی المفردة المعرفة**: سره دویم غرض دفع اعتراض هغه دا چی مخکښې دري صورتونه ذکر دي یو منادی مفرده معرفه بله منادی مستغاثه باللام او دریم منادی منادی مستغاثه بالالف او هما ضمیر دي تثنیه هر دوو ته ئی چی راجع کړي نو یو پاتی کیږي . **جواب**: هما ضمیر دوو ته راجع دي یو منادی مفرده معرفه او بله منادی مستغاثه بیا دا منادی مستغاثه عامه ده که مع اللام وی او که مع الالف وی لفظا او تقدیراً دا دینصب سره لګیږي . **ان کان معرباً قبل دخول حرف النداء**: دي سره دریم غرض دفع داعتراض هغه دا چی زه به درته وښایم چی ماسواهما به وي او ینصب به نه وی لکه خمسة وعشرك نو جواب دادي چی دلته یو بل قید دي چی دا هغه وخت کښې چی معرب قبل دخول حرف النداء وی او دا خمسة وعشرك خو قبل الدخول حرف النداء مبنی دي .

**وماسوی المفرد العامة**: دي سره غرض بیان دماسواکوی چی ځلور دي دري ماتن ذکر کړي او شارح یو ذکر کړي. **فالقسم الاول**: سره پنځم غرض توطیه متن ته، اعتراض : یومثال کافی وو دري مثاله ماتن راوړي او یو شارح راوړلی دي دا ولی ؟ **جواب**: ممثلات هم ځلور دي. **یاطالعاً جبلاً**: **اعتراض**: هغه دا چی طالعاً صیغه داسم

Maktaba Tul Ishaat. com



فاعل ده او دا هله عمل کوی چی اعتماد ئی کړي وی په یو داشیاؤ سته ؤ باندي او دلته ئی عمل کړي په جبلاً کښی او اعتماد ئی نشته دي؟ **جواب**: دلته موصوف مقدر دي دا به دباب ددینه شی چی یا رجلاً صالحاً طالعاً جبلاً . نودلته دطالعاً اعتماد راغلی دي په موصوف او صفت باندي چی رجلاً صالحاً دي خو دا جواب ضعیف دي ځکه طالعاً جبلاً معرفه ده ځکه صفت ئی معرفه راځی او رجلاً صالحاً نکره موصوف دي نو ته څنګه دصفت معرفه دپاره موصوف نکره راوړي دویم جواب دادی چی ددي اسم فاعل اعتماد راغلی په موصوف مقدره معرفه باندي نو تقدیر به داسي شی چی یا ایها الطالع نو موصوف هم معرفه شو.

**دریم جواب**: خارج نه دي هغه دا چی موصوف اسم فاعل هلته ضروري دي چی دعمل کولو په وخت به ئی اعتماد کړي وی په یو داشیاؤ سته ؤ باندي چی بغیر دحرف نداء نه وی او که مستعمل سره دیاء نه وی نو بیا ئی احتیاج نشته په عمل کولو کښی اعتماد ته . **مثل یا رجلاً مقولاً لغیر معین ای لرجل غیر معین**: شارح قید د مقولاً راویستلو اشاره ئی وکړه دي خبري ته چی لغیر معین جار مجرور متعلق دي دمقولاً پوري. اول دفع داعتراض ، دویم تتمیم دما فات دماتن کوی. دریم اعتراض ، څلورم جواب : پنځم بل جواب ، شپږم دفع اعتراض

**اعتراض**: تاووئیل یارجلاً مقولاً لغیر معین نو دغیر معین قید دي ولی ولګولو ځکه قید لګول هله پکار وی چی احتمال دمعین پکښی وي او دلته نشته ځکه رجلاً نکره ده. **جواب**: داقید نه دي بلکه دا توقیت دي دپاره دنصب درجلاً ځکه دا منصوب دي احتمال دغیر شته دي. **والقسم الرابع**: دي سره دویم غرض تتمیم دمافات دماتن ذکر کوی چی قسم رابع هغه دي چی نه مفرد وی او نه معرفه مثل یا حسناً وجهه ظریفاً دا مشابه بالمضاف شو نو مفرد نه شو او معرفه هم نده ځکه حسناً نکره ده.

**ولم یورد المصنف لهذا القسم مثالاً**: دریم بیان داعتراض هغه دا چی ماتن ددي قسم رابع دپاره مثال ولی نه دي راوړي. **اذ حیث**: دي سره څلورم غرض جواب : چی کله انتفاء دیو قید راغله چی مفرد به نه وی او بیا انتفاء دبل قید راغله چی معرفه به نه وی دهغی مثالونه می راوړل نودبل قسم چی رابع دي دمثال پته پخپله ولګیده. **مع ان**

Maktaba Tul Ishaat. com



**المثال الثانی یحتمله**: سره پنځم غرض جواب آخر هغه دا چې په طالعاً جبلاً کښې احتمال شته چې طالعاً نه عام واخلو که معین وی او که غیر معین وی که معین واخلو نو مثال دقسم ثانی شو ځکه یا طالعاً جبلاً مفرد دي معرفه نده اګرچه معین دي لیکن دنحویانو په نزد معرفه نده او که غیر معین ورنه واخلو نو نه مفرد دي او نه معرفه نو مثال دقسم رابع شو.

**وهذه الامثله کلها**: سره شپږم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې مصنف وویلو چې وینصب ماسواهما نو منادی مفرده معرفه وه اوبله منادی مستغاثه وه نو مصنف خو ماسوا دمنادی مفردي معرفی مثالونه راوړل او دماسوا منادی مستغاثی مثالونه خو ئی را نه وړل ؟ **جواب**: دا مثالونه دماسوا منادي مستغاثی دپاره هم دي

## توابع د منادیٰ

**وتوابع المنادی المبنی علی ما یرفع به المفردة حقیقتة او حکماً**: کله چې فارغ شو مصنف دمنادی نه او دهغې داحوالونه نو شروع ئی وکړه په توابعو دمنادی مبنی کښې اعتراض دخارج نه، وروسته خو دتوابعو مستقل بحث شته دي دلته دي ولی راوړلو؟ **جواب**: ددي توابعو حکم ترفع او تنصب دي خو دا حکم یوائې دتوابع ندي بلکه منادي ورسره پکښې شریکه ده نو دي وجه نه ئی توابع په بحث دمنادی کښې راوړل . معنی دا شوه چې توابع دمنادی داسي منادی چې مبنی به وي الخ. نو هغه اعتراض هم دفع شو هغه دا چې یو طرفته وائی چې توابع دمنادي مبنی او بل طرف ته وایی چې علی مایرفع به المفردة نو رفع خو معرب کښې راځی ؟ **جواب**: مخکښې د دخول دحرف ندا نه مرفوع وو اوس مبنی دي.

**حقیقةً او حکماً**: اول تعمیم دمفرد، دویم فائده دقید دمبنی، دریم دقید دعلی مایرفع، څلورم فائده دقید دمفرد، پنځم فائده دتعمیم، شپږم مثال، اووم دفع داعتراض. اول خبره: مفرد عام دي حقیقتاً وی او که حکماً وی مفرد حقیقی دیته وائی چې نه مضاف په اضافت لفظی سره وی او نه معنوی سره او نه شبه مضاف وی او مفرد حکمی دیته وائی چې مضاف وی په اضافت لفظی سره یا شبه مضاف وی او نه مضاف وی په اضافت معنوي سره .

Maktaba Tul Ishaat. com



**وانما قيد المنادى بكونه مبنياً:** دي سره فائده دقيد دالمبنى ذكر كوى. **وانما قيد المبنى بكونه على مايرفع:** دي سره فائده دقيد دعلى مايرفع به ذكر كوى مخكښى ئى ووئيل انما قيد المنادي الخ ... او دلته وائى انما قيدنا المبنى، نسبت ئى خانته وكړو دتقييد چى دا تقيد شارح وائى ما هم كړي او ماتن هم كړي ديكښى اشاره ده ديته چى المبنى كښى الف لام جنسى دي او يا عهدي دي مراد ترينه هغه مبنى ده چى مخكښى مصنف رحمة الله عليه ووئيلى وو چى ويبنى على ما يرفع به

**وقيد التوابع بكونه مفردة:** خلورمه خبره فائده دقيد دمفردةً ذكر كوى. **وانما جعلنا المفرد اعم:** پنځمه خبره فائده دتعميم دمفرد ذكر كوى بل دفع داعتراض هغه دا چى زه به درته وښايم مفرد به نه وى او حكم به ئى ترفع او تنصب وى لكه يازيدُ حسنُ الوجه يا زيد حسنَ الوجه.

**جواب:** مفرد عام دي حقيقتاً وى او كه حكماً وى دلته حسن الوجه حكما مفرد دي اضافت معنوى پكښى نشته او اضافت لفظى دي پكښى وى لاباس به. **نحويا زيد الحسن الخ..** سره شپږم غرض بيان دمثالونو ذكر كوى، اولنى دوه مثالونه داضافت لفظى دي او دوه آخرنى دا مثالونه دشبه مضاف دي هر يو ترفع او تنصب دي اضافت پكښى لفظى دي او دا په حكم دمفرد كښى دي.

**وانما لم يجر الحكم الاتى فى التوابع كلها:** سره اووم غرض دفع اعتراض هغه دا چى منم دمنادي توابع ذكركوى خو ټول ذكر كړه تا دري ولى ذكر كړل چى تاكيد، صفت او عطف بيان دي او دوه دي پريښودل چى بدل او عطف بالحرف دي. **جواب:** وروسته چى كوم حكم دي چي ترفع وتنصب هغه په دي ټولو كښى نه جاري كيږي كومو كښى چى جاري كيده هغه مو راوړل

**فقال من التاكيد اى المعنوى:** اول دفع داعتراض ، دويم دفع داعتراض، **اعتراض:** زه به درته وښايم چى تابع دمنادى مبنى به وي او ترفع او تنصب به نه وى لكه يا زيدُ زيدُ دلته دوهم زيد تاكيد دي اول لره او ترفع او تنصب خو نه دي. **جواب:** مراد تاكيد نه تاكيد معنوى دي او دلته تاكيد لفظى دي **وقديكون اعرابه رفعا ونصبا وكان المختار عند المصنف ذالك:** سره دويم غرض دفع اعتراض هغه دا چى مراد

Maktaba Tul Ishaat. com



دتاکید نه تاکید معنوي وي نو دا قید به دي لګولی وی چی من التاکید المعنوی **والصفة مطلقاً**: صفت عام دي که صفت مادحه وی لکه بسم الله او که صفت ذامه وی لکه اعوذ باالله . الخ....

**وعطف البیان کذالک**: یعنی که سره دلام نه وی او که بغیر دلام څخه وی. **والمعطوف بحرف الممتنع دخول یا علیه . یعنی المعرف باللام**: اول غرض تعین دمعطوف کوی چی هغه معطوف چی دخول دیا پري ممتنع وی. دویم بخلاف البدل سره دفع اعتراض هغه دا چی نور دي ذکر کړل او بدل او معطوف چی دخول دیاء پري ممتنع نه وی دي ذکر نه کړل دا ولی ؟ **جواب**: دا ځکه چی د دوي حکم غیر دي دهغی نه چی کوم منږ بیانوؤ . **ترفع حملاً علی لفظه الظاهر والمقدر**: شارح قید دحملاً راوویستلو ، اشاره ئی وکړه دي خبري ته چی علی لفظه جار مجرور متعلق دي تر حملاً پوري اول دفع داعترا ض، دویم دلیل . **اعتراض**: زه به درته وښایم منادي مفردة معرفه به راغلی وي تابع به ئی راغلی وی او ترفع علی لفظه به نه وی لکه یا فتیً والغلام نو دلته والغلام تابع دي معطوف دي او دهغه معطوف چی دخول دیاء پري ممتنع وی. **جواب**: رفع عامه ده که ظاهره وی او که مقدره وی نو فتیً کښی مقدره ده،

**لان بناء المنادی عرضی**: سره دلیل، منادی مبنی مونږ ویلی وه چی دا ځکه مبنی ده چی مشابه ده دکاف اسمی سره نو بناء پکښی عارضی راغلی نو مشابهت ئی دمعرب سره شته دي ځکه چی تابع دمعرب تابع دلفظ دمعرب وی او تابع دمبنی تابع دمحل دمبنی وی. **وتنصب حملاً علی محله**: علی محله متعلق دي دحملاً پوري **لان حق تابع المنادی** : دي سره دلیل ذکر کوی چی ولی به منصوب وی علی محله **ومثل یاتیم اجمعون واجمعین**: تعین دممثل له کوی، تیم منادی مفرده معرفه ده، اجمعون تابع دي تاکید دي اجمعون هم وئیلی ځکه دا به تابع دلفظ دمنادی شی او هغه مرفوع دي دا به هم مرفوع شی ځکه تیم منادی مفرده معرفه ده بوی پکښی دمعرب شته دي او اجمعین هم ویلی شی ځکه تابع دمحل دمنادی به شی چی ادعوا تیماً نو منصوب به وي بنابر مفعول به .

**ویازید العاقلُ والعاقلَ**: اول تعین دممثل له. دویم دفع اعتراض، **اعتراض**: نور

Maktaba Tul Ishaat. com



مثالونه دي ولې ذکر نه کړل دعطف بيان او معطوف بحرف الممتنع دخول ياء عليه
**جواب**: دتاکيد او دصفت مثالونه مشهور دي نو دائې ذکر کړل او دنورو ئې پريښودل شارح وائې هغه به درته زه ذکر کړم . يوه مسئله ختمه شوه هغه دا چې ترفع او تنصب دواړه جائز دي خو غوره کوم يو دي پدي معطوف کښې نو پدي کښې دري مذهبه دي
**والخليل بن احم وهواستاذ سيبويه**: تعين دخليل کوی **يختار الرفع مع تجويزه النصب**: اول دفع اعتراض . دويم دليل. **اعتراض**: يختار کله په معنی دوجوب سره راځي. نو مطلب داشو چې رفع پکښې واجبه ده نو ته ولې وائې چې ترفع وتنصب ؟ **جواب**: دي جواب کوی چې يختار په معنی د راجح سره او نصب پکښې هم جائز دي

**لان المعطوف**: دويم دليل. يازيد والحارث کښې والحارث دا په حقيقت کښې منادی مستقله دد نو داسې شوه چې يا پري وی نو منادی مفرده معرفه ده نو منادی مفرده معرفه مبنی وی په ضمې سره نو دا هم مبنی شوه په ضمې سره چونکه ياء حرف نداء ورسره نشته دي نو دغه بناء په ضمه سره مونږه اعراب بالرفع وګرځولو مطلب دادي چې يازيد مبنی شو او الحارث معرب شو دخليل په نزد معرب دي نو ځکه وائې چې رفع پکښې غوره ده. **وابو عمروابن العلاء النحوی القاري المقدم على الخليل**: مراد دتقدم نه زمانی تقدم دي، اول تعين دابو عمروکوی. دويم اشاره ئې وکړه قاعدي دعطف ته متن داسې دي وابو عمرو النصب ، النصب عطف دي په پورته الرفع باندي نو دا لرفع نه چې مخکښې کوم عبارت دي هغه دلته هم راوباسی ځکه کوم شی چې مراد وی په معطوف عليهٔ کښې هم هغه شی معطوف کښې هم مراد وي

**يختار فيه الرفع مع تجويزه النصب**: اول دفع داعتراض ، دويم دليل د اعتراض،
**اعتراض**: هغه دا چې يختار کله په معنی دوجوب سره راځي الخ . **جواب**: يختار په معنی دراجح سره دي **فانه لما امتنع تقدير حرف النداء**: دي سره دليل ذکر کوی يا زيد والحارث باندي ياء نشی داخليدي ځکه بيا جمع راځي په مابين دآلتينو ، دتعريف کښې چې لام اوياء ده نو منادی مستقله نشوه بلکه خالصه تابع وګرځيده نو زيد مبنی دي او محل ئې دنصب دي نو دي هم منصوب دي **وابوالعباس المبرد**: تعين دابوالعباس کوی دي وائې چې که دا معطوف پشان دحسن يعنی الف لام ورنه لري

Maktaba Tul Ishaat. com



کيدي شو بيا دخليل ملګري يم يعنى رفع پري بهتره دد ځکه دا بله مستقله منادى شى او نصب پري جائز دي او که چيرته ددغه معطوف مذکوره نه لام نه شو لري کيدي يعنى الف لام ورسره وضعاً راغلى وو نو بيا دابو عمرو ملګري يم يعنى نصب پکښى بهتر او رفع پکښى جائز ده.

**اى كاسم الحسن**: اول دفع داعتراض ، دويم وجه دشبه. **اعتراض**: ته وائى چى دا معطوف مذکور پشان دحسن وو نو حسن خو دسړي نوم دي او معطوف خو لفظ دي نو دا معطوف خو پشان دهغه سړي نه دي. دي جواب کوى چى دامعطوف مذکور پشان داسم حسن دي په جواز دلري کيدلو دلام کښى چى لام ورنه لري کيدي شو. **اى فابو العباس مثل الخليل**: اول دفع داعتراض هغه دا چى ابو العباس دا خو صورت دخليل پشان ندي جواب فى اختيار رفعه او دا وجه دشبه هم شوه کوم چى دويم غرض دي. **والا اى وان لم يكن**: اول معنى د الا ، دويم دفع اعتراض ذکر کوى. **والمضافة عطف على المفردة**: اول تعين دمعطوف عليه، دويم اشاره کوى قاعدي دعطف ته ، دريم يو قيد لګوى، اول خبره: المضافة عطف دي په على المفردة باندي او توابع المنادي دي سره اشاره وشوه قاعده دعطف ته. بالاضافة الحقيقة دا دريم غرض چى قيد دي مضاف به وي په اضافت حقيقي سره ځکه که مضاف په اضافت حکمى سره وى نو بيادا منادى مستقله نده نو ځانته تنصب به نه وي بلکه ترفع بيا هم راتلى شى.

**تنصب لانها اذا واقعت**: اول دليل، دويم توضيح بالمثال . مثل ياتيهم کلها فى التاکيد سره دويم غرض ذکر کوى. **والبدل والمعطوف غير ماذكر**: حکم د دوي دمنادى مستقلى دي. **اى غير المعطوف**: تعين دغير ما ذکر کوى. **حكمه اى حكم كل واحد**: سره دفع اعتراض هغه دا چى حکمهما پکار وو ځکه مخکښى يو بدل او بل معطوف ذکر کوو ، ؟ **جواب**: ضمير په حکمه کښى هر واحد ته راجع دي **حكم المنادى المستقل ، الذى باشره حرف النداء**: اول معنى دمستقل په ذالك سره دليل ذکر کوى .

**مطلقاً**: اى حال کون کل واحد منها ، اول وجه دنصب دمطلقاً ذکر کوى، دويم معنى دمطلقاً ،دريم بالمثال ، اول غرض، مطلقاً منصوب دي ځکه دا حال دي ضمير نه چى مضاف اليه دي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**ای سواء کانا مفردین**: دي سره معنی دمطلقاً ذکر کوی. **فالبدل**: سره توضیح بالمثال کوی او بدل اودمعطوف غیر ماذکر حکمه دهر یو دپاره ځلور ځلور مثاله راوړي. **والعلم ای العلم المنادی**: اول بیان دقیدینو کوی، دویم دفع داعتراض، ای العلم المنادی سره قید اول او المبنی علی الضم سره قید ثانی ذکر کوی أما کونه، دي سره دفع داعتراض هغه دا چې دا دوه قیده دي دکوم ځای نه راوویستل ، دي په واما کونه سره جواب کوی. **الموصوف بابن مجرد عن التاء**: اول دفع اعتراض، دویم بیان دیو قید ، دریم دفع داعتراض، ځلورم دفائده دهغه قید ، **اعتراض**: ته وائی موصوف به وي په ابن سره زه به درته وښایم چې موصوف به نه وي په ابن سره بلکه موصوف به وي په ابنة سره او حکم به ئی دا وی، ؟ **جواب**: ابنة ملحق د ابنٌ دي.

**بلا تخلل واسطة بین الابن وموصوفه**: دي سره دویم غرض بیان دقید وشو، **کما هو المتبادر الی الفهم**: دي سره دریم غرض دفع داعتراض، هغه دا چې دا قید دکوم ځای نه راوویستلو ، ؟ **جواب**: دا متبادر دفهم نه چې دموصوف او صفت په مابین کښې فصل ندي جائز، **فیخرج عنه**: سره ځلورم غرض فائده دقید ذکر کوی چې خلل او فصل راغلی په دغه موصوف بابن کښې نو بیا به فتحه واجب وی. **مضافاً**: ای حال کون، وجه دنصب دمضافاً ذکر کوی چې دا منصوب دي بناء برظرف زمان. **الی علم اخر فکل علم**: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته ځکه ته وائی یختار فتحه نو دینه معلومیږي چې بل قول هم شته.

**یختار فتحه لکثرة وقوع المنادی**: اول دلیل، دویم دفع اعتراض **اعتراض**: مونږه اوریدلی دي چې اخف الحرکة خو کسره ده ځکه الساکن اذا حرك الخ .. **جواب**: کسره خو خفیفه ده خو دا منادي مفرده معرفه او ددي اعراب محلی هغه نصب دي بنابر مفعول به نوځکه مو منصوب کړه. **واذا نودی المعرف باللام ، ای اذا ارید**: غرض دماتن په اذا نودي سره دفع داعتراض ده هغه دا چې تا مخکښې ووئیل چې یا او الف لام نه جمع کیږي نو چه یو شی معرف باللام وی او ندا ورته کوی نو څه به کوی، **جواب**: دحرف ندا لکه یا شوه او دمنادی په مینځ کښې به فاصل راوړي لکه یا ایها الرجل.

**ای اذا ارید**: نو دا صیغه دماضی مجهول ده چې کله آواز وکړي شي بیا څه له

Maktaba Tul Ishaat. com



یاایها الرجل وائی **جواب**: نو دا فعل اختیاري دي او هر فعل اختیاری نه مخکښې اراده پته وی **مثلاً یا ایها الرجل**: شارح قید دمثلاً راوویستلو لپاره ددفع دتوهم چې دا به خاص وی په رجل پوري دي وائی نه په مؤنث کښې هم راتلی شی. **والتزموا**: غرض دماتن دفع اعتراض هغه دا چې تا وویل چې توابع دمنادی مفرده معرفه دا به ترفع او تنصب وی نو په ایها الرجل کښې ای حرف منادی دي او الرجل تابع دي پکار ده چې ترفع او تنصب شی سره ددینه چې دا به صرف مرفوع وی؟ **جواب**: ځکه مقصود باالنداء هغه رجل دي او منادی مفرده معرفه مبنی وي په ضمي سره نو الرجل دا مونږه مرفوع کړو دپاره ددي چې موافقت دحرکت اعرابیه راشی دحرکت بنائی سره.

**لانه ای الرجل**: دي سره مرجع دضمیر (ه) ذکر کوی، **فالتزم**: سره اتمام د دلیل کوی کوم چې مخکښې ذکر شی. **وهذا بمنزلة المستثنی**: دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چې مخکښې دي ویل چې توابع دمنادی دا ترفع او تنصب وی او دلته داسي او ترفع او تنصب ندي. **جواب**: دا په منزله دمستثنی دي دمخکښې قاعدي نه، معنی دا چې مخکښې یوه قاعده راشی او دهغی نه یو جزء مخالف راشی نو دا جزء مخالف دي، دي وجې نه مصنف هلته داسي ونه ووئیل چې وتوابع المنادی الخ ترفع وتنصب الاالصفة المبهم.

**وتوابعه**: تابع ددغه رجل به هم مرفوع وی **بالجر عطف**: دي سره تعین دمعطوف علیه کوی چې الرجل دي. **والتزموا رفع**: دي سره قاعدي دعطف ته اشاره کوی چې کوم شی په معطوف علیه کښې مراد دي هغه په معطوف کښې هم مراد دي. **نحو یا ایها الرجل ویا ایها الرجل ذوالمال**: دي سره مثالونه ذکر کوی اول مثال دهغه تابع دی چې مفرد وی او ثانی چې مضاف وی. **لانها توابع منادی معرب**: دي به مرفوع وی او منصوب به نه وی ځکه دا تابع دمنادی معربی دي او جواز دوجهین په تابع دمنادی مبنی کښې دي. **وقالوا یا الله خاصة**: غرض دماتن دفع داعتراض هغه دا چې تا مخکښې ووئیل چې کوم شی معرف باللام وی نو یا پري نه داخلیږي زه به درته وښایم دلام اویاء په مینځ کښې به فصل هم نه وی او راغلی به وی یو ځائ؟ **جواب**: دا یا الله خاص دي ګویا کښې دا هم په منزله مستثنیٰ دي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**بناء علی قاعدة**: شارح قاعده ذکر کوی چی اجتماع د الف لام او د یا حرف ندا دا جائز دي خو چی الف لام لازم وی د کلمی سره او بل دا چی الف لام عوض وی د محذوف نه **لان اصله الاله**: سره اول غرض اثبات دامرینو، دي سره اصل دلفظ الله ذکر کوی چی اصل یا الاله ئانی همزه حذفه شوه او الف لام عوض وګرځیدو د همزي او لام په لام کښې مدغم شو او الف لام په عوض کښې راوړل شول **ولما لم یجتمع**: دي سره دویم غرض توطیه او تمهید متن ته ذکر کوی هغه دا چی دا امرین په غیر دلفظ دالله ﷻ نه بل ځای کښې نه وو جمع شوي نو دغه جواز داجتماع دیاء او دالف لام په دغه اسم پوري خاص شو،

**واما النجم والصعق**: سره دفع داعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم چی لازم به وي د کلمی سره او جواز داجتماع به نه وی ؟ **جواب**: دلته اګرچه لام لازم د کلمی سره دي لیکن عوض ندي د محذوف نه **واما الناس**: دي سره دفع داعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم عوض به وي لام د محذوف نه او (یاء) به ورسره نه جمع کیږي لکه الناس اصل کښې اناس وو همزه حذفه شوه او عوض کښې الف لام راوړل شول ؟ **جواب**: دلته اګرچه لام عوضی دي خو لازم الکلمة ندي **ولعدم جریان**: دریم خبره دفع داعتراض، هغه دا چی زه به درته وښایم چی لام به عوضی نه وي لازم الکلمة به وي او دخول دیاء به پرې راغلی وي لکه یا التی پدي شعر کښې :

**من اجلک یا التی تیمت قلبی**

**جواب**: دا قاعده پکښې نده جاري او نحاتو دیته شاذ وویلی دي. **وفی الغلامان**:سره دفع داعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم چی لام به نه وی عوضی او نه به لازم الکلمة وی او دخول دیاء به پرې شوي وي لکه پدي شعر کښې :

**فیا الغلامان اللذان فرا: ایاکما ان تکسبان شر**

**جواب**: دا اشذ شذوذاً دي.

**ولک ای وجازلک**: دي سره معنی د ولك ذکر کوی. **ای فی ترکیب**: سره قاعده کلیه ذکر کوی چی هر هغه ترکیب چی په هغی کښې تکرار دمنادی مفردي معرفی صورة شوي وي او دثانی سره نزدي یو اسم مجرور وی چی مضاف وی منادی اولی ته نو په اوله کښې ضمه او نصب دواړه جائز دي او په ثانی کښې نصب فقط. **اما الضم فی**

Maktaba Tul Ishaat. com

**الاول**: اول بيان ددلائلو دويم بيان داختلاف ، دريم تتميم دشعر، څلورم تعين دشاعر، پنځم معنى دشعر : اول غرض : په اوله منادى کښې ضمه ځکه جائز ده چې منادي مفرده معرفه ده او نصب ځکه جائز دي چې اضافت ئي شوي دي عدي مذكور ته نو منادى مضافه شوه نو دا خو منصوب وى او ثانى منادى کښې نصب متعين دي ځکه ثاني منادئ يا خو تابع ده دمضاف چې منادى اوله ده هغه منصوب وه نو دا هم منصوب شوه او يا دا په خپله تابع مضاف ده نو منادى مضافه شوه نو ځکه منصوب ده فقط .
**وذلک مذهب سيبويه**: دي سره دويم غرض بيان ادختلاف كوم چې ذكر شو دا مذهب د سيبويه دي، دويم امام مبرد دي، دي وائى چې منادي اوله به مضاف وى عدي محذوف ته نو تقدير دعبارت داسي شي يا تيم عدي تيم عدي، دريم مذهب صيرافي دي. دي وائى چې فتحه هم جائز ده دنصب په ځائى په منادى اوله کښې دوجه د اتباع دنصب دمنادى ثانى ، **وتمام البيت**: سره دريم غرض تتميم دشعر كوى: **والبيت لجرير**: سره څلورم غرض تعين دشاعر كوى چې دا شعر په مقابله دعمر تيمى کښې جرير وئيلى دي.
**لا تتركوا عمر**: سره پنځم غرض معنى دشعر كوى چې اي بنو تميم تاسي عمر مه پريږدي چې زما بد بيان كړي ځکه بيا به زه ستاسي بد بيانوم. **والمنادى المضاف الى ياء المتكلم**: هغه منادى چې مضافه وى ياء دمتكلم ته نو په هغى کښې څلور وجوه جائز دي اول فتحه دياء لكه يا غلاميَ ، دويم سكون دياء لكه يا غلاميْ ، دريم اسقاط دياء او اكتفاء په كسري دماقبل خو چې كله كسره وى په ماقبل دياء كه كسره نه وه په ماقبل دياء نو اسقاط دياء ندي جائز لكه يا فتایَ څلورم قلب دياء په الف سره لكه غلاما **وهذان الوجهان يقعان**: اول فرق ،دويم دليل، دريم دفع داعتراض ،څلورم تتميم دمافات. دا آخرنى دوه وجهى اكثر واقع كيږي په نداء کښې
**لان النداء**: دي سره دليل ذكر كوى، **وهما اى هذان الخ..**: دي سره دريم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې زه به درته وښايم چې منادى مضافه به وى ياء دمتكلم ته او دا دوه آخرنى وجى به پکښې نه وى جائز لكه يا عدوى اويا عدوا ، **جواب**: دا دوه آخرنى وجى په هره منادى کښې نه دي جايز بلكه په هغه منادى کښې چې اضافت ياء دمتكلم

Maktaba Tul Ishaat. com



ته مشهور وی او دلته مشهور ندي. **وقد جاء شاذاً فی المنادیٰ**: دي سره څلورم غرض تتمیم دمافات دماتن کوی چی حذف دالف او اکتفاء په فتحه دالف سره جائز ده په غلام کښې خودا شاذ دي.

**ویکون ای المنادیٰ**: سره شارح تعین دضمیر کوی چی راجع دي منادی مضاف الی یاء المتکلم ته، **وقفا ای فی حالة الوقف**: اول وجه دنصب دوقفا ذکر کوی چی دا منصوب دي بنابر ظرفیت، او دریم غرض بیان د امثله ؤ کوی. **وقالوا یا ابی ویا امی**: سره غرض دفع اعتراض، هغه دا چی ستا په کلام کښې تکرار دي ځکه دا خودي مخکښې وویل چی غلامی کښې څلور وجوه جاري کیږي، اویا ابي او امی خو هم په شان دغلامی دي نو بیا دي دا څه دپاره ذکر کړل؟ **جواب**: زما مقصد داندي چی دا څلور وجوه پکښې جاري کیږي بلکه پدیکښې دوه وجوه نور هم جاري کیږي **فتحاً وکسراً ای حال کون التاء مفتوحة**: اول وجه دنصب ددي فتحاً او کسراً ، دویم دلیل ، دریم تتمیم دمافات دماتن کوی، څلورم دفع داعتراض، اوله خبره: فتحاً اوکسراً دا منصوب دي بناء برحالیت او حال دي دیاابت او یاامت کښې دتاء نه او تاء دا مفعول به واقع ده دقالوا دپاره

**مفتوحة علی وفق**: سره دلیل ذکر کوی چی مفتوح به ئی وائي چی موافق شی دحرکت دیاء سره او مکسور ئی هم ووئیلی شی دوجی دمناسبت دیاء نه. **وقد جاء الضم**: دي سره دریم غرض تتمیم دمافات ذکر کوی هغه دا چی ضمه هم په ابت او یاامت باندي ووئیلی شی ځکه دا قائم دي په مقام دمنادیٰ مفردي معرفی او منادی مفرده معرفه دا مبنی وی ضمی سره نو دا به هم مضمومه وی. **ولم یذکر للقلة**: دا دفع داعتراض ده هغه دا چی دا دضمی صورة ماتن ولی ندي ذکر کړي ؟ **جواب**: استعمال ئی قلیل دي په کلام دعربو کښې

**وقالوا یا ابن عم الخ هذا الاختصاص**: دي سره غرض دفع اعتراض هغه دا چی دا خاصة وویلی صحیح ندي ځکه یا بنت ام هم ووئلی شی لکه څنګه چی یا ابن ام ووئیلی شی؟ **جواب**: دا اختصاص په نظر سره ام او عم ته دي چی دا نه شی بدلولی او د ابن په ځائی بنت وویلی شی.

Maktaba Tul Ishaat. com



# ولما كان من خصائص النداء الترخيم شرع فی بيانه

دي سره توطيه او تمهيد ذکر کوی دمتن آتی دپاره . **جائز ای واقع**: سره غرض معنی دجائز چی دا په معنی دواقع سره دي او غرض پکښی دفع داعتراض ده هغه دا چی جواز مترادف د امکان دي او متبادر دامکان نه امکان خاص دي او ديکښی سلب دضرورة راغلی وي دجانبينو نه نو معنی دا شوه چی نه ئی ترخيم او نه ئی عدم ترخيم ضروري دي او حالانکه په ضرورة شعري کښی ضروري دي

**اعتراض من الخارج**: چی جواز په معنی دامکان عام سره دي نو د امکان عام نه خو تعبير په لا يمتنع سره کيږي نه په واقع سره؟ **جواب**: لا يمتنع دا لازم دي دجواز سره نو چی جواز يی راغلو نو بيا به يا ضروري وی او يا نه **وهو فی غيره ای غير المنادی**: سره تعين دضمير کوی، اعتراض په متن : شارحه تا مخکښی وويل چی ترخيم دا خو دخواصو د منادی څخه دي او دلته ماتن وائی چی وهو غير المنادی ، نو تعارض راغی؟ **جواب**: دا خاصه دمنادی ده خو په غير ضرورت کښی او ضرورت کښی په بل ځای کښی هم موجوديدی شی، او يا جواب دادي چی خاص په معنی دکثرت سره چی کثير دي ترخيم په منادی کښی .

**ضرورة**: اول وجه دنصب ، دويم معنی دضرورت. **ای لضرورة** : سره اول غرض چی ضرورة منصوب دي ځکه دا مفعول له دي دپاره دترخيم . **لضرورية شعرية**: سره دويم غرض چی دضرورة معنی ضرورت دي چی هغه داعی ددغه ترخيم دي. **اعتراض**: قاعده داده چی عامل دفعل او دمعلل له دا يو وی لکه ضربت زيداً تاديباً دلته دضرب عامل هم (تُ) ضمير دي او دتاديب عامل هم (تُ) دي او دلته عامل دجواز هغه ترخيم دي او عامل دضرورة هغه شاعر دي. ؟ **جواب**: دا مفعول له دي دپاره دفعل دترخيم او ترخيم دا مصدر دي او مصدر چی کله عامل وی نو هغه مؤل دي په تاويل د انْ مع الفعل سره نو تقدير داسي شو چی ان يرخم المنادی ضرورة نو عامل په منادی کښی او په ضرورة کښی ان يرخم يعنی عامل ئی يو شو.

**وهو ای ترخيم المنادی**: دي سره تعين ضمير کوی. **حذف فی آخره ای**: دي سره هم تعين دضمير کوی، **ای لمجرد التخفيف**: اول وجه دنصب دتخفيفاً چی دا مفعول له

Maktaba Tul Ishaat. com



دي، دويم دفع داعتراض ، دريم دفع داعتراض، څلورم جواب اخر: **لا لعلة اخرى:** تعريف كښې دي محذوفات قياسيه داخل شول ځکه ددوي په آخر كښې هم حذف راغلى وى لتخفيف لکه قاضٍ ؟ **جواب:** حذف به ئى په آخر كښې راغلى وي دپاره دتخفيف خو نه دقاعدي دوجې نه او محذوف قياسى كښې خو دقاعدي دوجې نه راغلى وي.

**فعلى هذا يكون الخ..** دي سره دريم غرض دفع داعتراض هغه دا چې تعريف دترخيم دمنادى كښې دي مطلق ترخيم داخل شو ځکه دمطلق ترخيم هم دا تعريف دي اويا اعتراض داسي دي چې دمطلق ترخيم تعريف راته وکړه ؟ **جواب:** ترخيم مطلق قياساً دترخيم دمنادى نه معلوميږي. **ويمكن حمله:** دي سره څلورم غرض جواب آخر هغه دا چې دا مذكوره تعريف دمطلق ترخيم دي چې وهو ضمير راجع کړي مطلق ترخيم ته او فى آخره كښې ضمير راجع کړي اسم ته نو معنى داشوه چې مطلق ترخيم دا حذف دي په آخر داسم كښې.

**وشرطه:** يو غرض ذكر داحتمالين په مرجع دضمير كښې چې شرط دپاره دترخيم دمنادى يا شرط دپاره دمطلق ترخيم خو کله چې په منادى كښې واقع شي. **امور اربعة:** سره اجمال ذكر كوى. **حقيقتاً او حكماً:** اول خبره دا چې دا اضافت عام دي حقيقتاً وى او که حكماً **فدخل فيه:** سره فائده دتعميم ذكر كوى. **اذ لا يمكن:** دريم غرض دليل دي هغه دا چې ترخيم که په منادى كښې وى دا به مضافه نه وى ځکه که حذف په مضاف كښې كوى نو په اعتبار دمعنى سره حذف په وسط دمنادى كښې راځي او که حذف دمضاف اليه په آخر كښې كوي نو په اعتبار دلفظ سره خو مضاف اليه جدا كلمه ده

**وان لا يكون مستغاثا لا مجروراً:** اول دليل .دويم دفع داعتراض، اول خبره منادى مستغاثه كښې ترخيم ځكه نشى كولى كه مجروره باللام وى نو پدي كښې خو اثر د ندا چې نصب او ضمه ده نشته نو خواص دمنادى چې ترخيم دي دا به پکښې څرنګه راشي . ار که مستغاثه بالالف وى نو هغې كښې خو زيادت دالف راغلى او زيادت منافي وى دحذف سره. **ولم يذكر المندوب:** اول دفع داعتراض . **اعتراض:**

Maktaba Tul Ishaat. com


ماتنه! ستا کلام کښې نقصان دي داسې به دي هم وونيلی وو چې وان لا يکون مندوبا :
**جواب:** مندوب داخل ندي په منادی کښې او په بعضو نسخو کښې چې راغلی هغه غلطي دکاتبانو ده او که په منادی کښې که بالفرض داخله شی نو په مندوب کښې زيادت دالف وی دپاره دمدالصوت او زيادت او حذف منافی وی .

**وان لا يكون جملة:** دا منادی به جملة نه وی ځکه که جمله کښې ترخيم وکړي نو هغه قصه باندي بيا دلالت نه کوی لکه تابط شراً . **والشرط الرابع:** سره اول توطيه او تمهيد ، دويم دليل، دريم دفع داعتراض . **لانه لعلميته:** سره دويم غرض دليل ذکر کوی. **بلا علة موجبة:** سره دريم غرض دفع داعتراض ده زه به درته وښايم چې دوه حرفه به پکښې وی او معرب به وي ؟ **جواب:** دلته دوه حرفه دوجې د قاعدي څخه دي . **واما اسماً:** سره يو غرض موصوف ئی ذکر کړو چې اسماً او بل متعلق دبتاء التانيث ئی ذکر کړو چې همدا اسماً دي .

**لان وضع التاء:** دي سره اول دليل ذکر کوی، دويم دفع اعتراض، دريم هم دفع داعتراض . لان وضع التاء سره دليل ذکر کوی، **ولم يبالوا:** سره دويم غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې واما بتاء التانيث سره به دي هم چې زائدا على الثلاثة ځکه چې دا تاء زائده چې حذفه شی نو قدر صالح دکلمې به ختم شی، يا اعتراض دادي چې ثبة او يا شاةً ديوکس نوم وګرځوه او عند النداء دا تاحذف کړي نو معرب باقی پاتې کيږي په حرفينو باندي ؟ **جواب:** که دا تاء وی او که نه نو دا اسمين به باقی وي په حرفينو باندي ځکه تاء دا خو کلمه ده ځانته . **ولا يرخم لغير ضرورة:** دي سره غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې زه به درته وښايم دغه شروط مذکوره به په منادی کښې نه وی او ترخيم به پکښې شوي لکه يا صاح په ياصاحب کښې ؟ **جواب:** داسې واقعي شاذ وی .

## ولما فرغ من بيان شرائط الترخيم

دي سره توطيه او تمهيد دمتن دپاره ذکر کوی دلته دوه قاعدي دي يو دا چې فان فی اخره زيادتان فی حکم الواحدة او دويمه دا چې او کان حرف صحيح فی آخره وقبله مدة. نو حذفتا دا ئی حکم دي **ای آخر المنادی:** دي سره تعين دضمير داخره کوی، **كائنتان:** دي سره شارح متعلق دفی حکم وښودلو . **فی انهما زيد تامعاً:** سره

Maktaba Tul Ishaat. com



غرض اول معنی دحکم واحد ، دویم فائده ددي اول غرض زید تامعاً سره وشوه چی یو ځای زیاتی کړي شوي وي ، او واحترز به سره فائده ذکر کوی چی په ثمانیة او مرجانه کښی اول یا نون زیات شوي بیا تاء وروسته زیاتی کړي شوي نو لهذا صرف حرف اخیر چی تاء ده دا به حذف کیږي . **اذ جعلتها فعلاء** : دفع اعتراض، دویم اشاره اختلاف ته، اعتراض مثال دي مطابق نشو دممثل سره ځکه اسماء دا خو دقاعدي ثانی مثال دي اوستا غرض د اولی قاعدي مثال دي ؟ **جواب**: دا د اولی قاعدي مثال دي چی کله دا دفعلاء په وزن وی د وِسامة نه په معنی دحسن سره لکه څرنګه چه مذهب دسیبویه دي او دا چی دا فعالاً په وزن سره شی چی جمع داسم شی لکه دا مذهب دبعضو دي نو دا به بیا دقاعدي ثانی مثال شی، دي سره بیان د اختلاف چی دویم غرض هغه هم وشو.

**اوكان في آخره**: دي سره معطوف علیه ذکر کوی. **صحیح اصلی**: اول دفع داعتراض ، دویم هم دفع داعتراض ، دریم دفع داعتراض : اول غرض دفع داعتراض : قاعده : یو حرف صحیح دي حرف علت نه وی او بل حرف اصلی دي چی په مقابل د(ف ع ل) کښی وي نو اعتراض زه دا کوم زه به درته وښایم چی حرف صحیح به وي او مخکښی به ترینه مده وی او حکم به ئی حذفتا نه وی بلکه صرف خرف صحیح به حذف کیږي لکه سعلاة ؟ **جواب**: مراد دحرف صحیح نه اصلی دي اودلته تاء زائده ده اصلیه نده.

**لتبادره الى الذهن**: دي سره دفع داعتراض : هلکه دا قیود چی صحیح او اصلی دي دکوم ځای نه راوویستل ؟ : **جواب**: ځکه متبادر دحرف صحیح نه اصلی وي. **وهو اعم**: دي سره هم دفع داعتراض ده، هغه دا چی زه به درته وښایم چی حرف صحیح به ئی په آخر کښی نه وي بلکه حرف علت به وي او سره ددینه حکم به ئی حذفتا وی لکه مدعُو او مرمِیّ کښی ؟ **جواب**: دا صحیح عام دي که حقیقتاً وي لکه منصور او که حکماً ، حکماً دا معنی چی حرف علت وی او ماقبل حرکت دده موافق وی لکه مدعو اومرمی کښی.

**قبله مدة اى الف**: اول تعین دمده، دویم دفع داعتراض ، اول خبره تعین دمده، نو هغه ای الف او واو او یاء سره اول غرض وشو. **والمرادبها**: دویم دفع داعتراض ، زه به درته وښایم حرف صحیح به په اخر کښی وی او قبله مده به هم وی او حذفتا به نه وي

Maktaba Tul Ishaat. com



لکه مختار؟ **جواب:** مراد دمده نه مده زائده دي اومختار کښې الف بدل عن الياء راغلی **وهوای والحال:** اول تعين دضمير کوی چې مافی آخره حرف صحيح ته راجع دي او دويم غرض تعين د واو کوی چې دا حاليه دي **اکثر من اربعة:** اول بيان دمثال ، دويم دليل، دريم دفع داعتراض، اول خبره : منصور عمار مسکين ، دا اول غرض شو دري مثاله ئی ځکه راوړل چې حروف مده دري دي.

**لئلا يلزم:** دويم خبره : هغه دا چې دليل ذکر کوی. **وانما لم ياخذ هذه القيد:** دريم خبره هغه اعتراض : **اعتراض:** دا قيد داکثر من اربعة به دي اوله قاعده کښې هم لګولی وي ؟ **جواب:** په قلون او ثبون کښې دا قيد ونه لګولو ځکه دلته بقاء دکلمې په حرفينو باندي دوجې دترخيم نه نده که دا زائد تان وی هم نو ثبون او قلون علی حرفين دي ځکه واو نون خو جدا کلمه ده . **ای الحرفان الاخيران:** اول بيان دضمير کوی، دويم دليل ذکر کوی داما الاول سره، **ويعلم:** سره دفع داعتراض مخکښې دي ووئيل چې منادي مرخمه به جمله نه وی او اوس وائی وان کان مرکبا نو مرکب خو جمله وی؟ **جواب:** دا به مرکب اسنادی او اضافی نه وی بلکه مرکب ناقص به وی.

**فيقال:** سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی، **لنزوله منزلة:** دليل ذکر کوی، **وان کان غير ذلک المذکور:** دفع داعتراض، مخکښې دري قواعد ذکر دي او تا ذلک اسم اشاره دمفرد ولی راوړه؟ **جواب:** دا په اعتبار دمذکور سره . **فيحذف حرف واحد:** دفع داعتراض، دويم دليل ذکر کول دي، **اعتراض:** وانکان فی غيره دا شرط دي او حرف واحد دا ورله جزاء ده او جزاء جمله وی او حرف واحد موصوف صفت دي جزاء دجملې دي؟ **جواب:** دلته دا جزاء واقع ده خو فعل ئی حذف دي چې يحذف حرف واحد دي . **لحصول الفائدة:** سره دويم غرض دليل ذکر کوی. **بجميع اجزائه:** سره معنی دمنادی ثابتی ذکر کوی چې منادي مرخمه دا په حکم دمنادی ثابتی کښې ده ګويا ترخيم پکښې ندي شوي نوقبل الترخيم چې کوم اعراب پري وو نو اوس به هم په هم هغه حال وی لکه يا جارية يا حارث کښې مثلاً . **وقد يجعل:** اول تعين دقد ، دويم تعين دمرجع نو قد دباره دتقليل دي او يجعل کښې ضمير منادی مرخمې ته راجع دي، **کانه لم يحذف:** سره معنی د اسما براسه ذکر کوی چې دا منادی مرخمه به منادی

Maktaba Tul Ishaat. com



مستقله وی او اعلال او عدم اعلال او بناء دا په نفس منادي مرخمه کښې کولی شی نو یا حارُ به وائی په یا حارث کښې ځکه یا حارُ منادی مستقله شوه نو منادی مفرده معرفه ده مبنی علی الضمة به وي.

**وقد استعملوا يعنى العرب:** اول تعین دضمیر ئی وکړو، هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف او داحکامو دمنادی نه نو دماتن په نزد مندوب داخل نه وو په منادی کښې او دشارح په نزد داخل وو نو بهر حال دمنادی دبحث نه وروسته ئی راوړو. **يعنى ياء خاصة:** سره دفع داعتراض هغه دا چې اضافت دصیغه شوي دي نداء ته نو که دا اضافت عهدي وی نو فاين المعهود ځکه صیغه دنداء خو معهوده نده او که اضافت استغراقی وی نو معنی دا شوه چې عرب صیغی د نداء ټولی استعمالوی په مندوب کښې او حالانکه دا خو دروغ دي ؟ **جواب:** اضافت عهدي دي او معهود يدي سره ياء ده او معهود ياء ځکه ده چې نور حروف دندا نه صحیح کیږي په مندوب کښې **لانه لا يدخل عليه سواها:** دي سره دلیل ذکر کوی چې یاء ولی خاص ده په مندوب کښې

## مندوب په لغت او اصطلاح کښې

**والمندوب فى اللغة:** سره يو غرض معنى لغوى او غرض پکښې دفع اعتراض هغه ده چې دا تعریف لغوی دي او که اصطلاحی دي که لغوی وی نو اصطلاحی څه شو او که اصطلاحی وی نو لغوی څه شو؟ **جواب:** ماتن تعريف اصطلاحی کړي او زه درته لغوی کوم. **فالمفتجع عليه:** علیه کښې علی بنائیه دي په معنی دلام اجلیه سره او صله دمتفجع دپاره ندي **وجوداً اوعدماً:** دفع داعتراض ده هغه دا چې متبادر دمتفجع علیه نه عدمی دي لکه یو سړي مړ شی نو دا معدوم شو او چې تفجع دوجه نه دوجود دیوشی نه راشی نو هغه پکښې دا داخله نه شوه ؟ **جواب:** متفجع علیه عام دي عدمی وی او که وجودي

## د تفجع اقسام

**فالمتفجع عليه عدماً:** دي سره قسمين دتفجع ذکر کوی. **فاحد شاملٌ:** دي سره رد په شارح رضی ذکر کوی هغه وویلی وو چې دا تعریف متفجع علیه عدمی ته یواخي شامل دي او وجودي ته نه؟ **جواب:** وشو چې علیه کښې علی اجلیه دي نو معنی دا شوه

Maktaba Tul Ishaat. com


چی تفجع کول دده دوجی نه بیا دا عام دي که موجود وي او که عدم، **واختص المندوب بوا:** تعین ضمیر وکړو چی راجع دي مندوب ته دفع اعتراض او اعتراض بناء دي په یوه قاعده هغه دا چی په صله داختصاص او یا اقتصار کښی چی باء راشی دابه داخلیږي په مخصوص علیه او مقصور علیه باندي لکه: نخص العبادة باالله او مجازاً دا باء داخلیږي په مخصوص یا مقصور باندي لکه: نخص الله بالعبادة . نو اوس اعتراض دادي چی اصل په باء کښی دادي چی دا داخلیږي په مقصور علیه باندي نو په واختص بوا کښی معنی دا شوه چی مندوب به خاص وی صرف په (وا) پوري او مخکښی ده وویل چی وقد استعملوا صیغة النداء فی المندوب نو کلام کښی تعارض راغلو

**جواب:** یو جواب دخارج نه دي هغه دا چی دلته باء داخله ده په مقصور مجازاً یعنی دا خاص دي په مندوب پوري ، **دویم جواب:** شارح کړي چی اختص په معنی دممتاز سره چی مندوب دا ممتاز دي په (وا) سره دمنادی نه ځکه واو خاص دي په مندوب پوري

**ای مثل حکمه:** اوّل دفع اعتراض دویم اجمال ، دریم دفع داعتراض، اول خبره: تا ووئیل چی حکم دمندوب حکم دمنادی دي نو یو شی خو دوو شیانو پوري نه شی متعلق کیدي **جواب:** حکم دمندوب په شان دحکم دمنادی دي **یعنی اذا وقع المندوب:** دویم خبره اجمال ذکر کوی، **ولا یلزم:** سره دریم خبره ذکر کوی چی هغه اعتراض دي. **اعتراض:** حکم دمندوب خو په شان دحکم دمنادی ندي ځکه مندوب نکره نه واقع کیږي او منادی نکره واقع کیږي ؟ **جواب:** مندوب چی کله واقع شی نو حکم به ئی دمنادی وی

**ای التباس ذلک اللفظ:** سره یوه قاعده ذکر کوی او هغه دا چی ته کله زیادت دالف وکړي او خوف دا التباس وی دغیر سره نو دغه الف به په داسي حرف مده چی مجانس دحرکت د اخر دمندوب وی بدل کړي **اذا المیم اصله الضم:** سره دفع اعتراض هغه دا چی تا ووئیل چی الف به په موافق دحرکت اخر سره په مده باندي بدل کړي په وا غلاماه کښی خو آخرنی میم ساکن دي او تا الف په واو سره بدل کړي واغلامکموه

**جواب:** اصل کښی میم مضموم وو

Maktaba Tul Ishaat. com



**وجاز ذالک الهاء:** سره ماتن دفع داعتراض کوی هغه دا چې تا ووئیل چې په آخر کښې به مجانست حرف راوړی نو هاء دکوم ځائی نه شوه دا خو مجانسه نده؟ **جواب:** هاء به په حالت دوقف کښې راوړي دپاره دبیان دحروف مده **من قسم المندوب الخ...** دفع داعتراض: تا وائی چې ولا یندب الا المعروف. زه به درته وښایم چې مجهول کښې به شوي وي لکه واحسرتاه؟ **جواب:** مراد دندبې نه په معدوم کښې ده او چې وجودي وی مندوب نو په معروف او مجهول دواړو سره ندبه کولی شی.

**الذی اشتهر المندوب:** سره معنی دمعروف ذکر کوی.

## یوه اهمه قاعده

**وامتنع الالف:** اول قاعده کلیه، دویم فرق، دریم دلیل دفرق، اول خبره: قاعده کلیه دا ده چې کله زیادت دالف په موصوف صفت کښې کیږي نو په موصوف پوري به الحاق دالف کیږي او په مضاف مضاف الیه کښې به دمضاف الیه پوري، **لان اتصاله بالصفة:** سره دویم خبره چې هغه فرق ذکر کول دي. **لانه جزء به:** دریم خبره چې دلیل دفرق ذکر کوی هغه داسي چې مضاف الیه راوړل شی لپاره د اتمام دمضاف ن مضاف الیه کا لجزء دمضاف نه شو او صفت دا راوړلی شی دپاره دتوضیح اویا تخصیص.

**خلافاً لیونس فانه:** سره دلیلین دیونس ذکر کوی، اول دلیل عقلي دي هغه دا چې صفت موصوف اګرچه لفظاً اتصال ئی کمزوري دي لیکن معنوی اتصال ئی اشد دي دمضاف او مضاف الیه ن ځکه په خارج کښې مصداق دصفت او موصوف یو دي او دمضاف او مضاف الیه جدا دي. وحکی یونس سره دویم دلیل نقلی ذکر کوی چې یو شاعر داسي ویلی دي چې:

**واجمجمتی الشامیتیناه:**

دلته ده الف په صفت کښې زیات کړي خو دده ددلیلینو نه مونږ جواب کوو، د اول دلیل نه جواب دادي چې دصفت او موصوف په مابین کښې معنی اتصال شته خو نحاة بحث کوی دمعنی نه خو سره دلحاظ دلفظ نه او د دویم دلیل نه جواب دادي چې دا شاذ دي. **ویجوز حذف حرف النداء: لقیام قرینة** سره شارح دلیل ته اشاره وکړه، **اذا کان مقارناً:** سره متعلق دمع ذکر کوی. **ویعنی به ماکان لکرة:** دي سره دفع

Maktaba Tul Ishaat. com



داعتراض، رجل اسم جنس دي وګرځولو او بيا حين النداء ترينه حرف نداء حذف کړه نو حذف خو راغلی، ؟ **جواب**: مونږه هغه جنس يادو چی نکره دي او دا خو علم دمعارفو څخه دي. **لان نداءه**: دي سره دليل ذکر کوی چی حذف دحرف نداء داسم جنس نه ولی ندي جائز ، **ای ولا مع اسم الاشارة** : اول قاعده دعطف ، دويم دليل. اوله خبره : دا عطف دي په مع اسم الجنس باندي.

**لانه کاسم الجنس**: دي سره دليل ذکر کوی چی اسم اشاره داسم جنس په شان ده په ابهام کښی. **والمستغاث والمندوب**: اول دليل بيانول، دويم دفع اعتراض ، **لان المطلوب**: سره دايل ذکر کوی، **سواء کان مع بدل عن**: اعتراض : زه به درته وښايم چی علم به وی او حذف د نداء به ترينه نه راځی اوکه راځی نو ميم مشدده ئی په عوض کښی راوړل شو نو اللهم شو او وجود دعوض دا داسي وی لکه وجود دمعوض؟ **جواب**: حذف دندا به ترينه راغلی وی برابره خبره ده که بدل اوعوض ترينه راغلی وي او که نه وی راغلی ، لکه اللهم او چی نه وی راغلی لکه يوسف ، خودا مذهب په لفظ ديا الله کښی دبصريانو دي خودي باندي اعتراض دادي چی د عوض او معوض په مابين کښی به جمع راغلی وي لکه لما صليت او سلمت يا اللهم يا اللهم ؟ **جواب**: دادي چی دا شاذ دي.

او کوفيان وائی چی يا الله په اصل کښی الله امنا بخير. خو دا مذهب ضعيف دي ځکه الله ﷻ په قرآن کريم کښی دقريشو يوه بده دعاء نقل کړيده چی اللهم ان کان هذا هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة . نو دا اللهم معنی د دوي په نزد داشوه چی يا الله امنا بخير، او وروسته قريش وائی چی فاطر علينا الخ. نو دا خو څه خير ندي،

**ولفظة ایّ اذا وصف**: سره شارح قاعده کليه ذکر کوی چی کله لفظ دایّ موصوف وی په ذی اللام سره نو حذف دحرف ندا جائز دي لکه ايها الرجل ، اويا موصوف وی په موصوف باللام سره لکه ايهذا الرجل. **فلا يجوز الحذف**: اول خلاصه ، دويم تتميم دمافات ذکر کوي، اول خبره : فلا يجوز سره خلاصه ذکر کوی **والمضاف**: سره شارح تتميم دمافات ذکر کوی.

**وشذ فی اصبح ليل**: سره ماتن دفع داعتراض کوی هغه دا چی تا وويل چی حذف دنداء دا ندي جائز داسم جنس نه، زه به درته وښايم چی حذف دحرف نداء به راغلی وي

Maktaba Tul Ishaat. com



لکه اصبح لیل، لیل اسم جنس دي ؟ **جواب**: دا شاذ دي. **ای صر صبحا یا لیل**: معنی دمتن ذکر کوی، دویم تصریح بالاعتراض ، دریم شان ورود **ای صرصبحاً**: دي سره معنی دمتن ، **حذف حرف النداء**: دي سره تصریح بالاعتراض ، **قالته**: دریم خبره شان ورود ددي قصي ، **وافتد مخنوق**: دي سره هغه اعتراض دي کوم چی په اصبح لیل کښی وو ، **ای یا مخنوق**: دي سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی، **قاله**: دي سره شان ورود دي متل ذکر کوی

**وقد یحذف المنادی**: دي سره احتمالین ذکر کوی، دویم تطبیق دمثال کوی، **بتخفیف**: دي سره احتمالین ذکر کوی، **فان ان**: دي سره تطبیق دمثال کوی دممثل سره **الثالث من تلک المواضع**: دي سره بیان دثالث کوی دهغه مواضعو نه چیرته چی حذف دعامل دمفعول به واجب وي قیاساً **ای مفعول به**: دفع اعتراض، ما نافیه وائی او که ما مصدریه وائی که ما نافیه وائی نو عکس دمطلوب راځی او که ما مصدریه وائی نو اضمر به اضمار شی صفت دمتکلم به شی او مونږ خو بحث کوو دالفاظو نه ؟

**جواب**: ( ما ) موصوفه ده او عبارت دمفعول به نه **الشریطة والشرط واحد**: اول دفع داعتراض، دویم تعین داضافت، دریم هم دفع داعتراض، څلورم وجه دحذف . اول غرض : شریط دا مصدر دي او دا مصدر کله مبنی للفاعل وی او کله مبنی للمفعول وی که مبنی للفاعل شی نو معنی به ئی شارط شی نو دا خو صفت دمتکلم شو او مونږ بحث دالفاظو کوو او که مبنی للمفعول شی نو مشروط به شی مخکي علی شریط التفسیر داشرط وو دپاره دحذف دعامل ناصبه اوس به شروط وګرځی . ؟ **جواب**: دا شریط په معنی مصدري سره دي **واضافتها الی التفسیر**: اضافت تفسیر ته دشریطة دا بیانی دي اضافت بیانی دیته وائی چی په مضاف او مضاف الیه کښی نسبت دعموم خصوص من وجه وي،

## د استعلاء اقسام

**بناء علی شرط**: دفع اعتراض ، علی راځی دپاره داستعلاء او استعلاء په دوه قسمه ده حقیقی لکه زید علی السطح او حکمی چی دقرب او دجوار دوجی نه وی لکه

Maktaba Tul Ishaat. com



مررت بزید ، او دلته استعلاء نه حقیقي ده او نه حکمي ؟ **جواب**: دلته علی داستعلاء دپاره نده بلکه دا بنائي دي مطلب دا چې حذف دعامل ناصبه دما اضمر عامله واجب دي دوجې دبناء نه په شرط دتفسیر سره.

## مفسر اقسام

**وانما وجب حذفه**: دي سره څلورم وجه دحذف دعامل څکه چې جمع به راشي په مابین دمفسَر او د مفسِر کښې او دا نده جائز، **اعتراض**: زه به درته وښایم چې جمع به راغلي وی په مفسَر او مفسِر کښې لکه اني رایت احد عشر کښې رایت مفسَر دي او وروستو رایتهم لی سٰجدین ئی مفسِر دي او دواړه ذکر دي ؟ **جواب**: جمله مفسِره په دوه قسمه ده یو دا چې بعد دا تمام دمفسَر نه راغلي وی هلته جمع نده جائز او دویم دا چې دپاره دا تمام دمفسَر راوړل شوي وي نو دلته جمع بین المفسَر والمفسِر جائز ده او تا چې کوم مثال راوړو دا دویم قسم دي

**وهو**: سره تعریف دما اضمر عامله ذکر کوی. **احترزبه**: سره فائده ذکر کوی چې بعده فعل او شبهه سره احتراز راغی دزیدٌ ابوك نه، څکه ابوك نه فعل او نه شبه فعل دي **ولا یرید به**: دي سره دویم غرض اعتراض، **اعتراض**: متبادر دبعدیت نه اتصال دي او زه به درته وښایم چې فعل شبه فعل به متصل نه وي ددغه اسم سره او حکم به ئی دا وی لکه زیداً عمرو ضربه زیداً عمرو ضاربه.؟ **جواب**: مراد دبعدیت نه اتصال ندي بلکه مراد دادي چې دا فعل به جزء وی دکلام نه او دلته جزء دي دکلام نه **عنه ای عن العمل**: سره معنی ذکر کوی چې مشتغل به وی دعمل کولو نه په دغه اسم کښې.

**بضمیره ای بالعمل**: سره معنی دبضمیره ذکر کوی **ای متعلق ذلك الاسم**: اول بیان داحتمالینو په ضمیر کښې کوی چې دا راجع دي متعلق ددغه اسم ته او یا راجع دي متعلق دضمیر ته **حاصله**: دویم غرض دفع داعتراض **اعتراض**: د اشتغال په صله باء راخي او تا عن راوړلي دي دا ولی ؟ **جواب**: اشتغال متضمن دي معنی دفارغ لره او دفارغ په صله کښې عن راخي نو دلته ئی څکه عن راوړي په صله داشتغال کښې دبهر نه پدي اعتراض، فارغ به دي ووئیلی وي ؟ **جواب**: دا طریقه دبلاغت ده چې فعل یو راوړي او صله ورته دبل فعل راوړي نو فائده پکښې دا وی چې دواړه معانی اخستی

Maktaba Tul Ishaat. com



شي. دويم جواب دادي چې مشتغل دلته په معنی دمعرض سره دي.

**لا بسبب آخر**: دريم خبره دفع اعتراض: **اعتراض**: زيدٌ ضربته كښې زيد اسم نه پس ددينه فعل راغلې او مشتغل دي په ضمير ددغه اسم كښې او سره ددينه حذف دعامل ئې واجب ندي ؟ **جواب**: دا فعل به مشتغل وي ددغه اسم نه صرف دوجې دعمل نه په ضمير ددغه اسم كښې اويا ئې په متعلق ددغه اسم كښې او تا چې كوم مثال راوړي، دي كښې فعل معرض دي داسم نه خود. سبب آخر دوجې نه چې هغه ابتدائيت عامل دي پدغه اسم كښې. **لوسلط بمجرد رفع**: سره معنی او طريقه دتسليط ذكر كوي.

**ای احد الامرين**: سره دفع اعتراض، مخكښې امرين ذكر دي فعل، شبه فعل او تا ضمير هو مفرد راوړي؟ **جواب**: احد الامرين چې مسلط نو هرواحد ته راجع دي. **ای ما يناسبه بالترادف او باللزوم**: سره قسمين د مناسب ذكر كوي،


**ای لنصب احد هذين الامرين**: بيان دضمايرو كوي چې نصب كښې ضمير احد الامرين ته راجع دي،او (ة) اسم ته راجع دي **فبقيد الاشتغال**: دي سره فوائد دقيودو ذكر كوي، قيد داشتغال سره په ضمير يا په متعلق كښې ددغه داسم دي سره خارج شو زيداً ضربت، او قيد دفراغ عن العمل فيه سره زيد ضربته ووتل ځكه مانع دعمل دضربته په زيدٌ كښې هغه يواځي اشتغال په ضمير ددغه اسم كښې نه دي بلكه عامل معنوي هم مانع دي او په قيد نصب بالمفعولية سره خبر د كان ووتلو لكه زيداً كنت اباه ځكه دا منصرب وي خو بناء برخبريت دپاره د كان.

**وههُنا صور اربع**: سره دفع اعتراض: هغه دا چې دتوضيح دممثل دپاره مثال واحده كافي وو او تا ځلور امثله راوړي دي؟ **جواب**: ممثلات دا ځلور دي اول چې مشغول وي فعل په ضمير ددغه اسم كښې خو بعينه دغه فعل هم مقدر ګرځولی شي لكه زيداً ضربته دويم دا چې فعل مشتغل وي په ضمير داسم كښې خو مناسب بالترادف ددغه فعل مقدر وګرځوی لكه: جاوزت .... زيداً مررت به... نو جاوزت مناسب مترداف دمررت دي. دريم دا چې فعل مشتغل بالضمير وي او تقدير دمناسب باللزوم دفعل كولی شي لكه: لابست زيداً حبست عليه. ځلورم دا چې فعل مشتغل وي په متعلق كښې سره دتقدير دمناسب باللزوم دفعل نه. لكه اهنت زيداً ضربت غلامَه.

Maktaba Tul Ishaat. com



دمزيد وضاحت لپاره دفعل او شبه فعل نقشه په راتلونکی صفحه کښې وګوره !




وقس على الفعل شبه الفعل وابدل كلمة (ضرب) ب (الضارب)

**والاحسن فی ترتيبها:** څلورم غرض دفع داعتراض : اول به دي دفعل دري مثالونه په يو ځاي راوړي وي چې فعل کله مشتغل وی په ضمير ددغه اسم کښې او بيا دي څلورم مثال داشتغال د فعل په متعلق کښې راوړي وي؟ **جواب:** دا زيداً ضربا غلامه او زيداً حبست عليه دا مشترك وو په باللزوم کښې اګرچه فرق ئی په اشتغال بالضمير او بالمتعلق کښې شته نو دي وجې نه ئی په مثالونو کښې دترتيب لحاظ ونه ساتلو.

**ثم ان الاسم الواقع فی مظان الاضمار:** دي عبارت سره غرض توطيه او تمهيد دمتن آتی دپاره ذکر کوی او غرض پکښې دفع اعتراض. هغه دا چې دماتن په عبارت کښې تضاد دي مخکښې ئی ووئيلی وو چې الثالث ما اضمر عامله الخ .. ينصب او اوس وائی چې يختار الرفع. **جواب:** يختار الرفع داد هغه اسم چې ماتن مخکښې ذکر

Maktaba Tul Ishaat. com



کړي وو حکم نه دي بلکه دا دهغه اسم کښې چې ګمان د مااضمر عامله على شريطة التفسير پرې کيږي ، نو دغه اسم چې په مظان دما اضمر عامله کښې واقع وی نو دي کښې به رفع او نصب يا غوره وی او يا واجب نو څلور صورته داشو او يا به پکښې دواړه امرين مساوي وی.

**ويختار الرفع**: سره اول خاى ذکر کوی. **فى الاسم المذكور**: سره غرض دفع اعتراض ، زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښې چې دمنصوباتو نه دي او ته مرفوعاتو ته لاړې **اى بكونه مبتدا**: اول دفع اعتراض. دويم قرينه دصحت درفع اوله خبره **اعتراض**: ته وائى مختاره ده رفع بالابتداء نو ابتداء خو صفت دمتکلم دي او مونږ بحث دالفاظو نه کوو نو دا خو صفت دپاره دمفعول به نه صحيح کيږي ؟ **جواب**: ابتداء په معنى دمبتدا سره نو اوس صفت دمفعول به دپاره صحيح شو. **اى قرينة ترجح خلاف الرفع**: اول تعين دضمير ، دويم بيان دخلاف ، دريم تتميم، څلورم مثال، اوله خبره ضمير راجع دي خلاف درفع ته، دويم يعنى النصب سره بيان دخلاف کوی چې درفع خلاف هغه نصب دي.

**لان قرينتى الصحة**: دريمه خبره : تتميم، قرينة مصححة درفع هم شته او دنصب هم، درفع دصحت قرينه خو مخکښې مونږ ذکر کړه او دنصب دصحت قرينه هغه وجود دهغه فعل دي چې صلاحيت دتفسير لري دهغه فعل محذوفه نو قرينه مرجحه درفع هغه د امن دي دحذف نه. **او عند وجود قرينة**: او رفع به مختاره وی په وخت دوجود دقرينه کښې چې اقوى وی دقرينى مرجحى دنصب نه. **اى بشرط**: اول معنى دمتن ، دويم توضيح بالمثال ، دريم تطبيق ، څلورم فائده . اول غرض : يعنى دا اما به داخل وی په دغه اسم خو دغه فعل به طلب نه وی يعنى خبر به وی انشاء به نه وی **لقيت القوم واما زيد فاكرمته**: دويم توضيح بالمثال ذکر کوی، **فالعطف على الفعلية**: دريم غرض تطبيق دمثال دممثل سره کوی که چيرته دا اما زيد فاکرمته جمله فعليه شی او عطف شی په مخکښې جملى فعليه باندي نو دا قرينه دنصب ده او کلمه د اما دا قرينه درفع ده ځکه اما غالباً داخليږي په مبتدا باندي

**وانما قال مع غير الطلب**: څلورم غرض فائده: که چيرته دغه فعل مشتغل دا

Maktaba Tul Ishaat. com



دطلب دپاره وی لکه اما زیداً فاضربه نو دلته بیا اختیار دنصب دي ځکه رفع تقاضا کوی چی دا وقوع دطلب به خبر وی او چی کله دغه فعل دپاره دطلب وی نو خبر خودا نشی واقع کیدي ځکه طلب خو د انشائیاتو نه وی او دا طلب دپاره چی دغه فعل وی دا خبر نه واقع کیږي مگر په تاویل سره لکه اما زید فمقول فی حقه اضربه . **ومثل اما مع غير الطلب**: سره اشاره کوی قاعدي دعطف ته چی واذا دا عطف دي په اما باندي،

**الواقعة على الاسم المذكور**: دي سره دفع اعتراض: زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښی او داد منصوباتو نه دي او ته لاړي ظروفو ته ؟ **جواب**: دغه ظرف به واقع وی په دغه اسم مذکور کښی . **فی كونها من اقوى القرائن**: اول وجه دشبه بیانول، دويم مثال، دريم تطبيق دمثال، څلورم دفع داعتراض، اول غرض : اذا مفاجاتی دا مشابه دي د اما سره ځکه دا هم اقوی قرینه ده. **مثل خرجت فاذا زيد يضربه عمرو**: دويم غرض بيان دمثال،

**فان المختار فيه**: تطبيق دمثال کوی دممثل سره هغه داسي چی په زید کښی مختاره رفع ده ځکه اذا مفاجاتی غالباً په جمله اسمیه داخلیږي . **وما وقع فی بحث الظروف**: څلورم دفع داعتراض، ستا په کلام کښی تضاد راغی دلته دي وويل چی اذا مفاجاتی نه وروسته غالباً جمله اسمیه راځی او په ظروف کښی دي ووئیلی وو چی د اذا مفاجاتی سره لازم جمله اسمیه ده. ؟ **جواب**: مراد دلزوم نه هغه وقوع دجمله اسمیه ده پس د اذا مفاجاتی نه غالباً .

**ويختار النصب بالعطف فی الاسم المذكور**: دي سره دفع د اعتراض هغه دا چی زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښی او ته لاړي معطوفاتو ته ؟ **جواب**: دا عطف به واقع وی په اسم مذکور کښی . **ای بسبب جملة هو فيها**: اول تعین دباء کوی چی دا سببیه ده، دويم تعین دالف لام کوي په بالعطف کښی چی، دا عوضی دي، عوض دي دمضاف الیه نه تقدیر داسي چی عطف الجملة **للتناسب ای لرعاية الخ**... اشاره کوی چی لام اجلیه دي په للتناسب کښی، **يعنی ما ولا وان**: اول تعین دحرف نفی کوی چی ما ولا او ان دي، **اذهی عاملة**: دويم غرض دلیل ذکر کوی چی لم ، لما او لن دا ددي جملی نه ندي ځکه دا داخلیږي په فعل مضارع او بل دا چی د دوي معمول نشی مقدر کیدي ځکه دوي

Maktaba Tul Ishaat. com



ضعیف العمل دي

**نحو مازیدا ضربته**: دریم غرض دي عبارت سره بیان د امثله کوی. **وبعد حرف الاستفهام**: اول مثال ذکر کول دي، دویم فائده او غرض پکښې دفع داعتراض. دریم دفع داعتراض. **نحو زیدا ضربته**: دي سره اول غرض وشو. **وانما قال حرف الاستفهام**: دویم غرض فائده: او دفع داعتراض پکښې دا ده چې زه به درته وښایم چې پس داستفهام نه به راغلی وی او اختیار دنصب به پکښې نه وی لکه من اکرمته دلته (من) محلاً مرفوع دي بنابر ابتدائیت. **ولم یقل همزة الاستفهام**: دریم دفع داعتراض، هغه دا چې داسي به دي ووئیلی وی چې بعد همزة الاستفهام نو اعتراض نه به هم خلاص شوي وي

**جواب**: همزة الاستفهام ئی ونه وویل چې هل زیدا ضربته ته هم شامل شي. ځکه داسي ووئیل هم جائز دي اګرچه نحاة دي لره بدګڼړی ځکه چې دا کلمه د هل تقاضا دلفظ دفعل کوی چې ما نه به وروسته خامخا فعل موجود وی ځکه دا په معنی دقد سره دي نو دا اکتفاء نه کوی په تقدیر دفعل. **وبعد اذا الشرطیة ای الدالة**: اول غرض معنی د اذا شرطیة ذکر کوی چې دا دلالت کوی په شرط او جزاء في الزمان باندي.

**نحو اذا عبدالله تلقه فاکرمه**: دویم بیان دمثال ئی وکړو، **وبعد حیث الدالة**: اول معنی دحیث ذکر کوی چې دا هغه حیث چې دلالت کوی په شرط اوجزاء خو په مکان کښې یعنی حیث مکانی وی او دویم غرض بیان دمثال. حیث زیداً تجده فاکرمه. **وفی ماقبل الامر الخ**.. اول تعین د (ما) کوی دویم مثال. دریم توطیه او تمهید او غرض پکښې تعین د اذ دي

**یعنی موضع**: ما عبارت دي دموضع نه چې په موضع دوقوع داسم مذکوره مخکښې دامر او نهی نه. **مثل زیداً اضربه وزیداً لا تضربه**: دي کښې بیان د امثله ؤ کوی **وانما اختیر**: دي سره توطیه اوتمهید ذکر کوی او غرض پکښې تعین د اذ، دي هغه دا چې اذ تعلیلی دي په وروسته متن کښې او اذ تعلیلی مدعی غواړي نو دا توطیه ئی مدعی شوه. **وکذالک یختار النصب**: شارح اشاره وکړه چې وعند خوف دا جمله عطف ده په بالعطف باندي نو دیختار النصب لاندي راغلہ. **ای التباس الخ**.. معنی دلبس ذکر کوی، دویم دفع داعتراض،اول خبره دادي چې لبس په معنی دالتباس سره

Maktaba Tul Ishaat. com



ده، دویم دفع اعتراض ده هغه دا چی تا دا مثال ذکر کړو انا کل شيءٍ خلقنه بقدر، دلته خوالتباس نشته ځکه که منصوب دي کل شيءٍ ووئیلو نو مابعد خلقنه بقدر به ورلره مفسِر شی او که کل شيءٍ مرفوع ووائی نو خلقنه به ورلره یا خبر شی او بل خبر به ورلره بقدر شی او یا کل شيءٍ مبتدا او خلقنه ورلره صفت او بقدر به ورلره خبر شی ؟ **جواب:** دلته التباس دوصف او دمفسر او دوصف دصفت نه ندي راغلی بلکه دوجی دذات دمفسِر او دوصف الصفة نه راغلی .

**فلا یعلم انه خبر:** دي سره تصریح په همدغه اعتراض کوی .

## افعال د بنده په څو قسمه دی

**بنصب کلّ:** سره تطبیق دمثال کوی هغه دا چی که خلقنه دا خبر کړي او کل شيءٍ مرفوع ووائی بناء بر ابتدایت نو معنی کښی فرق نه راځی خو که خلقنه صفت شی دپاره دشيءٍ نو پدي صورت کښی بیا معنی غلطیږي ځکه مخکښی معنی دا وه چی ( هر شی لره الله ﷻ په اندازه سره پیدا کړي ) او چی خلقنه صفت شی نو معنی به داسي شی چی ( کوم شی الله ﷻ پیدا کړي هغه په اندازه دي ) نو دي نه دا وهم پیدا شو چی بعض اشیاء داسي موجود دي چی هغه مخلوق د الله ﷻ نه دي نو دي سره مذهب دمعتزله ثابت شو هغه داسي چی افعال دبنده په دري قسمه دي، اول طبعی ، دویم اضطراري، دریم اختیاري ، اولنی دوه قسمه دا په اختیار دالله ﷻ کښی وي، او په دریم قسم کښی چی اختیاري دي اختلاف دي.

اول اشاعره وائی چی انسان دخپلو افعالو اختیاریو کاسب دي نه خالق،

دویم معتزله وائی چی هم خالق دي او هم کاسب دي .

دریم جبریه وائی چی نه کاسب دي او نه خالق بلکه یو جماد دي، خو د اشاعره مذهب بین الافراط والتفریط دي ځکه قرآن کریم کښی کله الله ﷻ ددغه نسبت ځانته کوی لکه : یضل به من یشاء ویهدی الخ . وما تشاءون الاان یشاء الله الخ . او کله ئی نسبت انسان ته کوی لکه: جزاءً بما کانوا یعملون

**ویستوی الامران:** اول تعین دامرین کوی، دویم معنی داستویٰ ذکر کوی **الرفع والنصب:** دي سره معنی د استویٰ ذکر کوی، رفع او نصب خو برابر ندي ځکه رفع

Maktaba Tul Ishaat. com



ځانته شي دي او نصب ځانته شي دي نو دي وائي چې استوی دا معنی چې متکلم لره اختيار وی درفع او نصب په وويلو کښې. **فللمتكلم**: اول دفع داعتراض، دويم قاعده کليه : دريم تطبيق دقاعده کليه، څلورم اعتراض ، پنځم جواب شپږم اعتراض ،اووم جواب : اول غرض زه دا نه منم چې عمرواً اکرمته عطف دي په زيد قام باندي ځکه قام کښې ضمير شته چې راجع دي زيد ته او عمرواً اکرمته کښې ضمير نشته چې راجع شي زيد ته؟ **جواب**: د زيد ضمير په عمرواً اکرمته کښې محذوف دي چې عنده دي او يا في داره دي تقدير داسي شو چې زيد قام وعمرواً اکرمته عنده.

**ای يستوی الامران فيما**: دي سره شارح قاعده کليه ذکر کوی چې استوی د امرينو به په هغه ځائ کښې چې عطف دهغه جمله دا اسم مذکور پکښې راغلی وی په ذات د داسي يو جملې چې دوه جهته ولری چې جمله اسميه وی خو خبر پکښې فعليه جمله واقع شوي وي نو په جمله معطوف کښې رفع صحيح ده بنابر ابتدا بل دا چې نصب پکښې جائز دي چې عطف شی صرف په خبر دمخکښې. جملي باندي خو نصب به داسم مذکور بنا په تقدير دفعل سره شي. **والوجهان مستويان**: دريم تطبيق دقاعدي کليه کوی دمثال سره. **فان قلت**: څلورم غرض اعتراض، ته وائی چې په زيد قام وعمرواً اکرمته کښې امرين متساوی دي، امرين خو متساوی ندي ځکه قرينه مرجحه درفع شته چې هغه سلامتيا ده دحذف نه.

**قلنا هی**: پنځمه خبره جواب : رفع دترجيح دپاره دا قرينه شته نو دنصب دترجيح دپاره قرينه هغه قرب دمعطوف عليه دي چې قام دا جمله فعليه ده دا قرينه ده دجملي اسميه نه. **فان قلت**: شپږمه خبره اعتراض : جمله اسميه او فعليه دواړو کښې قرب دي نو قرب دفعليه دا معارض نه ګرځی دپاره دقريني مرجحه درفع، **قلنا**: اوومه خبره دا چې اسميه او فعليه دواړه قريبی دي دا په اعتبار دمنتهی سره او زمونږ مراد دقرب دي په اعتبار دمبداء سره، او په اعتبار دمبداء سره فعليه قريبه ده داسميه نه

**ويجب النصب بعد حرف الشرط والتحضيض ای نصب الاسم المذكور**: اول دفع اعتراض هغه دا چې زمونږ خبره شروع وه په مفعول به کښې او ته لاړي مطلق نصب ته؟ **جواب**: دا منصوب به واقع وی په اسم مذکور کښې. **والمراد به ههنا**: اول تعين دحرف

Maktaba Tul Ishaat. com



شرط،دویم دفع اعتراض، دریم تعین دمعطوف علیه، اول غرض ، حروف شرط نه دلته (انْ او لَوْ) مراد دي. **فان اما**: دویم ستا په کلام کښې تضاد دي مخکښې دي ووئیلي ووچې اما نه نه وروسته دغه اسم مذکور راشي مع غیر الطلب نو یختار فیه الرفع او دلته وائي چې حرف شرط به وروسته ددغه اسم راشي نو یجب النصب .؟ **جواب**: دي وائي چې دلته اما ندي مراد اگرچه دحروف شرط نه مخکښې دي ځکه دده حکم مخکښې تیر شوي دي

**وکذا یجب نصبه**: دریمه خبره تعین دمعطوف علیه کوی چې والتحضیض عطف دي په بعد حرف الشرط نو د ویجب النصب لاندي راغلو **وهوهلا والا ولولا ولوما**: اول تعین دحروف تحضیض کوی، دویم وجه دوجوب دنصب اول غرض خو وشو چې هلا، الا، لولا، لوما دي دا حروف تحضیض دي. **وانما وجب النصب**: دویم وجه دوجوب دنصب داده چې دا دواړه قسمه حروف دا نه داخلیږي مگر په فعل اوس چې په دغه اسم داخل شوي وي نو فعل به ورته مقدر راوباسو لکه د اول مثال دي ان زیداً ضربته ضربك ، او د دویم مثال دي الازیداً ضربته .

**ولیس مثل ازیدٌ ذهب به منه**: اول تعین دضمیر، دویم دفع داعتراض، دریم غرض دماتن ، څلورم اعتراض، پنځم جواب : شپږم توطیه د متن آتی ته . **ای من باب الاضمار**: دي سره تعین دضمیر ئی وکړو، دویم غرض دفع داعتراض ، زمونږ کار دما اضمر عامله علی شریطة الفسیر سره دي هغه ذکر کړه نور به ترینه پخپله خارج شی ته څه شروع ئی چې دا ندي او دا ندي دما اضمر عامله نه ؟ **جواب**: پدي ترکیب باندي بعضو خلقو دا گمان کړي چې دا دما اضمر عامله څخه دي نو دهغی دفع وکړه

**وان صدق**: دریم خبره: دي سره شارح غرض دماتن ذکر کوی چې دفع اعتراض ده هغه دا چې پدي ترکیب کښې زید اسم دي بعد حرف الاستفهام دي، دي ن بعد فعل دي مشتغل دي بضمیر الاسم پکار داده چې منصوب شی؟ **جواب**: دا ما اضمر عامله به منصوب دي خو شرط پکښې بل هم شته چې بحیث لو سلط علیه هو او مناسبه لنصبه او دلته که عین فعل چې ذهب یا مناسب ددي چې اذهب دني مسلط کړي نصب نه ورکوی.

**فان قلت**: څلورم غرض اعتراض : هغه دا چې مناسب د ذهب خو یواځي اذهب

Maktaba Tul Ishaat. com


ندي بلكه يلابس او يا اذهب پري مسلط كړه چې نصب وركړي لكه زيد يلابسه الذهب، يا زيدا يلابسه احد بالذهاب او اذهبه احدٌ . **قلنا**: پنځم غرض مخكښې مونږ ووئيلي وو چې تسليط دمناسب به كوى خو چې مسند اليه دفعل او مناسب دفعل به يو وي او ستا په مثال كښې مسند اليه دا احدٌ دي او زمونږ مثال كښې مسند اليه دا زيد دي ؟ **واذا كان الامر كذالك**: اول غرض تعين دالف لام ، دويم دفع داعتراض دريم حاصل دمعنى ، اول غرض : الف لام عوضي دي عوض دي دمضاف اليه نه چې رفع زيد دي، دويم غرض ماتنه ! الرفع جزئي دي او جزئي په علومو كښې معتبر نه وى كه الرفع مبتدا وى نو خبر ئى څه شو او كه خبر وى نو مبتدا ئى څه شوه . ؟ **جواب**: الرفع مبتدا ده او خبر ئى محذوف دي چې واجب دي.

**ونصبه غير جائز**: دي سره حاصل دمعنى ذكر كوى. **وكذا اى مثل**: سره تعين دمشار اليه كوى چې ازيد ذهب به دي، **اى فى صحائف اعمالهم**: دي سره معنى دصحائف او غرض پكښې دفع اعتراض، دويم وجه دشبه، دريم دليل، څلورم تركيب. اوله خبره اعتراض: مراد زبر نه لوح محفوظ دي نو هر شي چې دوي كوى نو دا خو په لوح محفوظ كښې ندي. ؟ **جواب**: معنى دزبر هغه صحيفې د اعمالو د دوي دي.

**فهو ليس من باب الاضمار**: وجه دشبه داده چې دا هم داضمار علي شريطة التفسير نه ندي، **لانه لوجعل**: دليل ئى دادي كه چيرته دباب داضمار على شريطة الفسير شي نو تقدير به داسي شي چې فعلوا كل شيءٍ فى الزبر، كه چيرته فى الزبر متعلق شي دفعلوا پورې نو معنى فاسديږي ځكه چې زبر دا خو محل د دوي دافعالو ندي بلكه كرام الكاتبين پكښې د دوي اعمال ليكي .او كه فى الزبر صفت شي دپاره دشيءٍ نو معنى مقصوده فوت كيږي معنى مقصوده داده چې هر هغه شي چې دوي كوى دا مكتوب فى الزبر دي او غير مقصوده به داسي شي چې كوم شي په صحائف داعمالو د دوي كښې دي دا مفعول د دوي دي نو نتيجه دا شوه چې دا دباب داضمار نه ندي.

**فالرفع لازم**: اول تركيب كل شيءٍ مبتدا ، او فعلوا صفت دشيءٍ او فى الزبر جار مجرور دا محلاً مرفوع خبر دمبتدا شو. **واعلم**: دي سره غرض دشارح دماتن غرض ذكر كول دي چې هغه دفع داعتراض ده هغه دا چې هغه اسم مذكور چې مشتغل فعل دده نه

Maktaba Tul Ishaat. com



په ضمير يا په متعلق دده کښې خو که دا فعل امر يا نهي وو نو بيا مختاره پديکښې نصب دي نو پدي قول د الله جَلَّ جَلَالُهُ کښې مختاره هغه نصب وو درفع سره ددينه چې قراؤ اتفاق په رفع سره کړيدي نو ماتن دغه اعتراض دفع کوی او دغه آيت ددغه قاعدي نه راوباسي دپاره ددي چې اتفاق دقراؤ په غير مختار باندي را نشي .

**اعتراض**: دلته دسره اعتراض نشته څکه مونږه ويلي چې فعل به مشتغل وی په ضمير ددغه اسم کښې او په فاجلدوا کښې ضمير د اسم نشته دي؟ **جواب**: ضمير دلته محذوف دي چې فاجلدواهما . **فيه مرتبطة**: اول غرض دشارح دفع داعتراض ده هغه دا چې (فا) خو يا تفصيليه ده يا عاطفه يا زائده ده مونږه خو شرطيه نده ليدلی ؟ **جواب**: فاء دلته په معنی دشرط سره ده يعني جزائيه ده. **لكون الالف واللام**: سره اتمام ددليل کوی چې په الزانية والزانی کښې الف لام موصول دي او اسم فاعل ورلره صله ده مبتدا شوه او متضمن دي معنی دشرط لره او فاء جزائيه او فاجلدوا الخ .. ئی خبر دي.

**ومثل هذه الفاء**: په مثل ددغه فاء سره ئی وويل او داسي ئی ونه وويل چې ومثل مابعد الفاء څکه مابعد دفاء کله کله عمل کوی په ماقبل دفاء کښې چې کله فاء زائده وی لکه اذا جاء نصرالله الخ... فسبح کښې فاء زائده ده نو سبح دا په منزله دشرط او اذا جاء الخ. ورلره جزاء ده. دويم صورت چې فاء دځپل ځائ نه بی ځايه شوي بل ځاي ته دپاره ديو غرض لکه وربك فکبر اصل کښې فکبر وربك. وو او لکه واما اليتيم فلا تقهر اصل کښې فلا تقهر اليتيم وو

**اذا الزانية مبتدا**: تمام د دليل کوی دسيبويه صاحب . **وقيل زائدة او للتفسير**: دويمه خبره قول اخر ذکر کوی چې فاء پدي آيت کښې زائده ده خو دامذهب ضعيف دي څکه لږ مخکښې مونږ ووئيل چې فاء زائده وی نو دا ممتنع التسليط نده بلکه مابعد ئی په ماقبل کښې عمل کولی شی، او دا فاء تفسيريه هم صحيح کيږي خو دا په قيل سره شارح ذکر کړو څکه خلاف متبادر ده. **والا ای وان لم تکن**: سره معنی د الاذکر کوی. **الرابع التحذير**: تحذير مصدر په معنی د اسم مفعول سره بيان درابع کوی. **من تلك**: اعتراض په متن: **اعتراض**: هلکه ! تحذير دا خو عرض دي او مونږه بحث دالفاظو څخه کوو ؟ **جواب**: ذکر د تحذير او مراد ترينه موضع التحذير دي .

Maktaba Tul Ishaat. com



**وانما وجب**: دي سره وجه دوجوب دحذف دفعل ذكر كوي. **وهو فى اللغة**: دي سره تعريف لغوى دتحذير ذكر كوي. **اى اسم عمل فيه**: غرض دشارح دفع داعتراض ده هغه دا چې ته وائې چې دا تحذير به معمول وي په تقدير د اتق سره نو معمول خو صفت دي او مونږ بحث دالفاظو څخه كوو؟ **جواب**: اى اسم چې دا تحذير دا هغه اسم دي نو دا صفت دلفظ شو. **اى حذر ذلك**: دي سره شارح احتمالين دنصب ذكر كوي دتحذير **على صيغة المجهول**: اول تعين دمعطوف عليه او غرض پكښې دفع اعتراض، دويم اعتراض، دريم جواب: څلورم دفع داعتراض، اول غرض دفع داعتراض هغه دا چې ذكر دمحذر منه عطف دي په تقدير اتق تحذيراً باندي نو عطف دجملې راځي په مفرد باندي او دا ندي صحيح؟ **جواب**: دا عطف دي په حذر او يا ذكر مقدر باندي نو عطف دجملي راغلو په جملي باندي وهذا صحيح جداً:

**فان قلت**: بيان داعتراض، په معطوف كښې ضمير راجع وو معمول ته نو معطوف عليه كښې هم عائد پكار دي؟ **قلنا سره جواب**: عائد په دوه قسمه دي اول عائد چې ضمير وي، دويم عائد چې هغه وضع دمظهر ده په ځائ دمضمر چې مظهر دلته ذكر مكرراً دي. **الا انه**: دفع داعتراض هغه دا چې وضع دمظهر په ځائ دمضمر كيږي چې عظيم كار يا نكته وي لكه الحاقة ما الحاقة كښې، ؟ **جواب**: دلته اشاره ده دي خبري ته چې كوم شي مكرر ذكر شو نو دا محذر منه دي محذر ندي. **مثل اياك**: اول تعين دممثل له كوي چې دا دواړه مثالين د اولې نوع دي، دويم تقدير دعبارت ذكر كوي په بَعّدْ نفسك سره.

دريم دفع داعتراض كوي په وعلى التقدرين سره هغه دا چې تا ووئيل چې بتقدير اتق تحذيراً مما بعده ، نو بعد نفسك كښې خو من الاسد دا محذر منه شو او په بعد الاسد من نفسك كښې خو محذر منه من نفسك شو نو تعارض راغلو؟ **جواب**: مراد په تبعيد سره هغه تحذير دنفس دي د اسد او دحذف نه، نه تحذير د اسد و دحذف دنفس نه نو محذر منه په دواړو صورتينو كښې اسد او حذف شو او ثانى اسد دپاره دمبالغې راوړلى شوي.

**مثال لثانى نوعية**: اول تعين دممثل له كوي چې هغه دويمه نوع ده، دويم تقدير

Maktaba Tul Ishaat. com



ذکر کوی چی اتق الطریق الطریق ، دریم رد په ماتن، څلورم اعتراض، پنځم جواب. **ولا یخفیٰ**: سره رد په ماتن او هغه دا چی تقدیر د اتق په اوله نوعه صحیح ندي ځکه داسي څوك نه وائی چی اتقیت زیداً من الاسد بلکه بَعِّدْ او نج به دي ووئیلی وي او په مثال دنوع ثانی کښ بعد نه وو پکار ځکه تبعید خو په طریق کښی راځی بلکه اتق پکار وو ؟ **جواب**: دلته حصر مقصود ندي په اتق کښی بلکه دا اتق ئی په طور دمثال راوړو.

**فان قلت**: څلورم غرض اعتراض : لفظ د اسد په ایاك والاسد کښی خارج دي دواړونوعینو څخه، ددویمی نوعی نه خو ځکه خارج دي چی مکرر ندي، او د اولی نوعی نه ځکه خارج دي چی اوله نوع کښی دا وو چی تحذیر مما بعده نومابعد کښی خو څه نشته چی اسد ترینه ویرولی شی؟ **په اجیب سره جواب**: دا تابع دتحذیر دي او د توابعو بحث وروسته را راوان دي، او دویم جواب شارح کړي چی ایاك والاسد نه مخکښی بعد نفسك محذر شته او محذر منه ئی والاسد دي.

## بیان د مفعول فیه

المفعول فیه دا مبتدا ده او منها یا منه ئی خبر دي او منها مبتدا او المفعول فیه ورلره خبر دي، المفعول اسم مفعول او فیه ورلره نائب فاعل د ي فیه کښی ضمیر راجع دي ال ته او دا علم دي دپاره د الذی فُعِلَ ؟ **جواب**: مراد دفعل نه فعل لغوی دي چی حدث دي نه اصطلاحی. **تضمناً فی ضمن الفعل**: اول دفع داعتراض : دویم فوائد دقیودو، دریم اعتراض، څلورم جواب : پنځم اعتراض، شپږم جواب اول غرض دفع اعتراض : تا ووئیل چی مراد دفعل نه لغوی فعل دي چی هغه حدث دي نو په صمت یوم الجمعة کی خو مخکښی فعل اصطلاحی دي نه معنوی ؟ **جواب**: مذکور عام دي صراحتاً وی او که ضمناً دلته حدثی فعل ضمناً ذکر دي او ضمناً عام دي لفظاً وی او که تقدیراً او بیا فعل وی او که شبه فعل او که مطابقة وی خو چی کله عامل مصدر وی لکه صومی یوم الجمعة. **اعتراض**: تا مذکور عام کړو ضمناً او که مطابقةً وی نو التزاماً دی ولی ذکر نه کړو؟ **جواب**: مراد د تضمناً نه غیر صریحي دي او دمطابقةً نه صریحی دي نو په تضمناً کښی دي التزامی هم شامل شو ځکه دا هم غیر صریحی دي.

**فقوله ما فعل فیه**: دي سره فوائده دقیوداتو ذکر کوی. **لکن بقی مثل شهدت**:

Maktaba Tul Ishaat. com



اعتراض: تعریف دمفعول فیه کښی دي یوم الجمعة داخل شو ځکه یوم الجمعة دا زمان دي او فعل هم مذکور دي چی شهدت دي پکار داده چی مفعول فیه ورته ووئیلی شی او سره ددینه چی کتابونو لیکلی چی دا مفعول به ده ؟ **فلواعتبر فی التعریف سره جواب:** دلته یو قید معتبر دي چی من حیث انه فعل فیه فعل او شهدت یوم الجمعة کښی یوم الجمعة دا مفعول ندي ددي حیثیت نه چی فعل پدي کښی شوي بلکه فعل پده واقع دي نو دا مفعول به شوه او مفعول فیه نه شوو.

**ولا یخفی:** اعتراض: قید دحیثیت چی معتبر وو نو مذکور ته ضرورت نه وو پکار وه چی داسي دي ووئیلی وي چی المفعول فیه ما فعل فیه فعل من حیث انه فعل فیه فعلٌ ؟ **الا لزیادة سره جواب:** دا دپاره دزیادت وضاحت دمعرف.

## اقسام د مفعول فیه

**بیان لما الموصلة:** اول تعین د (ما) کوی، دویم قسمین دمفعول فیه، دریم اختلاف، څلورم دفع داعتراض، اول غرض: ما موصوله ده او یا موصوفه ده عبارت دظرف زمان یا مکان ده، **اشارة الی قسمی:** دي سره قسمین دمفعول فیه ذکر کوی چی مفعول فیه دا یو په تقدیر دفی سره دي او بل هغه چی فی پکښی لفظاً وی. **ما یظهر فیه فی:** دریم غرض بیان داختلاف چی، دجمهورو په نزد فی پکښی مقدره وی هغه مفعول فیه دي او چی مفعول فیه کښی فی لفظاً وی نو ددوي په نزد هغه جار مجرور دي او مفعول به دي. دویم مذهب دماتن دي ، دي وائی چی فی که لفظاً وی او که مقدر وي نو دا مفعول فیه ده صرف فرق پکښی دومره دي چی فی پکښی لفظاً وی نو هغه مفعول فیه به مجرور وي.

**وخالفهم:** دفع داعتراض هغه دا چی دجمهورو دمذهب اوتعریف نه دي ولی مخالفت کړي هغوی داسي ووئیلی دي چی المفعول فیه ما فعل فیه فعل بتقدیر (فی) **جواب:** ده مخالفت کړي دجمهورو نه او مجرور ئی هم مفعول فیه گرځولی خو د مفعول فیه دنصب دپاره ئی شرط هغه تقدیر د (فی) گرځولی.

**مبهماً کان الزمان:** سره معنی دکلها ذکر کوی، **تقبل ذالک:** اول تعین دمشار الیه کوی، دویم دلیل، دریم توضیح بالمثال، ای تقدیر فی سره اول غرض

Maktaba Tul Ishaat. com



وشولان المبهم سره دویم غرض ذکر کوی چی دلیل دي ځکه چی ظرف زمان مبهم دا جزء وی دمفهوم دفعل نه نو صحیح دي نصب ددي بغیر د واسطی دحرف نه لکه دمفعول مطلق پشان ضربت ضرباً . او ظرف زمان محدود دا محمول دي په ظرف زمان مبهم باندي دوجی د اشتراك ددي دواړو نه په زمانه کښی، نحو صمت دهراً وافطرت الیوم دا توضیح بالمثال دي.

**ای تقدیر فی:** پدي عبارت کښی هم هغه دري اغراض ذکر کوی، **اذ لم یکن:** دي سره دلیل ذکر کوی، **وهی امام وخلف:** دي سره بیان دجهات سته ؤ کوی چی هغه امام، خلف، فوق، تحت ، شمال، او یمین دي، دویم توضیح بالمثال کوی د امام زیدٌ سره، ولما لم یتناول سره دریم غرض دفع اعتراض هغه دا چی بناء د متونو په اختصار سره وی نو عند او لدی ته څه ضرورت وو ځکه دا داخل وو په جهات سته ؤ کښی ؟ **جواب:** دا جهات سته شامل نه وو عند او لدی لره نو ځکه مو ذکر کړل . **ای لابهام عند ولدی:** اول وجه شبه ذکر کول دي، دویم تعدد دنسخو ، دریم توطیه او تمهید. اول غرض : عند او لدی مشابه دي دجهات سته وو سره په ابهام کښی وفی بعض النسخ . غرض په بعضی نسخو کښی لابهامها دي نو ضمیر راجع دي عند ته او لدي پري عطف دي. وکذا حمل علیه دریم غرض: ولفظ مکان عطف دي په عند او لدی باندي نو هغه دحمل علیه لاندي وو دا به هم وی.

**علی الاصح:** اول تعین دموصوف، دویم اختلاف ذکر کوی، دریم رد په ماتن، څلورم تائید د رد ، پنځم قول اخر ، شپږم تائید دقول اخر ، **علی المذهب:** دي سره اول غرض چی المذاهب موصوف او الاصح صفت دي. **فانه ذهب:** دویم اختلاف،بعض نحاة وائی چی دخلت الدار کښی الدار مفعول به دي او اصح مذهب یعنی دماتن دي چی دا مفعول فیه دي. **وهذا محل تامل:** دریم خبره : رد په ماتن او هغه دا چی زه دا نه منم چی الدار دا مفعول فیه دي ځکه مفعول فیه راځی پس د اتمام دفعل نه لکه ضربت زیداً فی المسجد او دلته دخلت فعل بغیر د الدار نه ، نه تمامیږي .

## یوه اهمه قاعده

**ومما یؤیده ذلک:** څلورم خبره : تائید دخپل رد کوی او دا تائید بناء دي په یوه

Maktaba Tul Ishaat. com



قاعده باندي او هغه دا چې مفعول فيه کښې يو فعل وي او د هغه نسبت شوي وي يو مکان خاص ته لکه ضربت زيداً في الدار نو دا هم صحيح کيږي چې نسبت ددغه فعل يو داسي مکان ته وکړي چې دغه مکان ته هم شامل وي او غير ته هم لکه ضربت زيداً في البلد ، او فعل ددخول چې هغه داسي ندي ځکه يو سړي که داخل في البلد وي او ووائي چې دخلت الدار نو نسبت ددخول مکان خاص ته شوي نو او س داسي نشي وويلي چې دخلت البلد ځکه دا سړی په وخت دويلو کښې خو داخل دي، نو بناء پدي قاعدي سره چې دخلت الدار کښې نه جاري کيږي نو الدار مفعول به دي نه فيه .

**وقيل معناه:** پنځمه خبره : قول آخر دادي چې مراد داصح نه استعمال اصح دي نو ديکښې اشاره ده چې دخل سره دفی نه دا هم صحيح دي خو اصح دا بغير دفی نه دي . **ونقل عن سيبويه:** شپږم خبره : سره تائيد او هغه دا چې سيبويه وائي چې استعمال د دخلت سره دفی نه شاذ دي. **وينصب:** اول تعين دضمير کوی، او دويم بيان دقسمين دعامل مضمر کوی اول غرض ضمير راجع دي مفعول فيه ته، **بلا شريطة التفسير:** دويم غرض . عامل مقدره چې نصب ورکوی مفعول فيه دا به يا بغير دشرط دتفسير نه وی په مابعد کښې لکه يوم الجمعة ووائی ، او دويم چې سره دشرط دتفسير نه وی په مابعد کښې لکه يوم الجمعة صمت فيه نو دلته ديوم الجمعة عامل مقدر دي ځکه وروسته ئی تفسير په صمت فيه سره شوي دي.

## د مفعول له بيان

دلته هم هغه اعراب دي کوم چې په مفعول فيه کښې وو. **ای لقصد تحصيله اوبسبب وجوده:** اول دفع داعتراض ، دويم فائده دقيد ، اول خبره : **اعتراض:** خو اعتراض نه مخکښې يو تمهيد او هغه دا چې مفعول له په دوه قسمه دي اول هغه چې فعل دده دپاره شوي وی لکه ضربت زيداً تاديباً پدي قسم کښې به وجود دفعل مقدم وی په وجود دمفعول له باندي ځکه اول به ضرب راځی او بيا به ادب راځی، دويم هغه چې فعل په سبب دده سره راغلی وی لکه قعدت من الحرب جبناً دلته به وجود دفعل باندي وجود دمفعول له مقدم وی ځکه اول به جبن راځی او بيا به قعود راځی . اوس اعتراض : تعريف دمفعول له دي اول قسم ته شامل شو فقط ، ؟ **جواب:** دا فعل عام دي

Maktaba Tul Ishaat. com


دده دتحصيل دپاره شوي وي او که دده وجود نه فعل راغلی وي.

**وخرج به سائر الخ**... دي سره فائده ذکر کوی دقيد د لاجله . **ای حدث**: دفع داعتراض، او هغه دا چی تا ووئيل چی مفعول له دا هغه دي چی فعل دده دوجی نه شوي وي نو فعل کښی خو يو نسبت او زمان هم دي نو نسبت او زمان خو دچا دوجی نه ، نه کيږي ؟ **جواب**: مراد دفعل نه لغوی فعل دي چی هغه حدث دي **مذکور**: دفع داعتراض ، دويم فائده دقيد ، دريم اعتراض، څلورم جواب : پنځم اعتراض ، شپږم جواب ، اووم اعتراض ، اتم جواب :

**ای ملفوظا حقيقة اوحکماً**: دفع داعتراض : تا ووئيل چی فعل به مذکور وی زه به درته وښايم چی مفعول له به وی او فعل به نه وی مذکور لکه تاديباً په جواب دسوال دهغه چا کښی چی ووائی لم ضربت زيداً ؟ **جواب**: ملفوظ او مذکور عام دي حقيقتاً وی لکه ضربت زيداً تاديباً او که حکماً وی او په جواب دسوال کښی فعل حکماً ذکر دي ځکه مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب .

**فقوله مذکور**: سره دويمه خبره ذکر کوی چی فائده ده، مذکور سره دا ترکيب خارج شو چی اعجبنی التاديب ځکه التاديب سره فعل چی ضرب دي نه حقيقتاً شته او نه حکماً لهذا دا به دلته فاعل دپاره دا عجب وی. **فان قلت**: دريم خبره: اعتراض : د اعجبني التاديب نه به څرنګه احتراز راشی ځکه هغه فعل چی دمفعول له دپاره شوي هغه ذکر دي په يوه جمله کښی لکه ضربت زيداً پشان . **قلنا سره جواب**: مراد دمذکور نه عامل مذکور معه دي او دلته خو د التاديب سره فعل او عامل ددي نشته،

**فان قلت**: د التاديب سره هم فعل مذکور دي مخکښی لکه دضربته تاديباً په شان . **قلنا سره جواب**: مراد دمذکور دادي چی دمفعول له سره به په هغه ترکيب کښی وي چی مفعول له پکښی وی او دلته خو ورسره نشته . **ويرد حينئذ**: اوومه خبره اعتراض : دلته هم د التاديب سره فعل ذکر دي په ترکيب کښی تقدير داسي دي چی اعجبنی التاديب الذی ضربت لاجله . **اللهم**: اتم جواب : مراد ذکر معه نه دادي چی دغه فعل به پدغه مفعول له کښی عمل کړي وی او دلته ئی عمل ندي کړي، نو شارح ضمناً دري څلور قيودات ذکر کړل .

Maktaba Tul Ishaat. com



**مثال لما فعل لقصد**: اول تعین دممثل له او غرض پکښې دفع اعتراض او هغه دا چې دتوضیح دممثل لپاره مثال واحده کافی ده تا ولی دوه مثاله راوړل ؟ **جواب**: ممثل دوه وو **وقعدت عن الحرب جبناً**: تعین دممثل له کوی، دویم توطیه او تمهید، اول غرض دا ذ هغه مفعول له مثال دي چې دهغه دوجود دوجې دغه فعل کړي شوي وي.

**والقائل**: دي سره توطیه او غرض پکښې دفع اعتراض ده هغه دا چې قائل هغه جمهور دي او ته وائی چې والقائل یخالف نو نسبت دخلاف جمهورو ته دا سؤ ادب دي؟ **جواب**: دا صیغه دمجهول ده معني دا چې دجمهورو خلاف کړي شوي دي او دا خلاف زجاج کړي دي.

**من غیر لفظ فعله**: اول دفع داعتراض، دویم تاویل دزجاج، دریم رد په زجاج، اول غرض : ته وائی چې تادیباً او جنباً دا مفاعیل مطلقه دي نو مفعول مطلق خو هغه دي چې فعل مشتمل وي پده باندي دقبیلی داشتمال دکل نه په جزء باندي او دلته خو ضربت مشتمل دي په ضربا نه تادیباً او قعدت مشتمل دي په قعوداً نه په جنباً باندي ؟ **جواب**: مفعول مطلق محلی په دوه قسمه دي ، اول من لفظ الفعل، دویم من غیرلفظه او دلته دا مفاعیل مطلقه دي خو من غیر لفظ الافعال .

**فالمعنی عنده**: دویم زجاج پدي ترکیبونو کښې تاویل کوی چې ضربته تادیباً په اصل کښې ادبته بالضرب تادیباً وو او قعدت عن الحرب جبناً دا په اصل کښې داسي وو جبنت فی القعود عن الحرب جبناً وو ،

**ورد قول الزجاج**: دي سره رد په زجاج، او هغه دا چې تا چې مفعول له کښې تاویل وکړو او مفعول مطلق دي ترینه جوړ کړو خود صحت دیو نوع دپاره تاویل په بل نوع سره دا شی دخپل حقیقت نه نه اوباسی لهذا مفعول له هماغه شان باقی دي لکه د حال نه چې تاویل په ظرف سره وکړي لکه جاءنی زید راکباً په ځائی جاءنی زید وقت الرکوب ووائی سره ددینه چې حال دخپل حقیقت نه نۀ اوباسي هماغه شان حال دي.

**وشرط نصبه** : دفع اعتراض، دویم تعین دضمیر، دریم توضیح بالمثال، څلورم دفع اعتراض، اول : اعتراض : شرط دپاره دنصب دادي نو دنصب خو یو صفت دي دا پیدا کیږي په عامل سره نو چې عامل ناصبه راشي نو نصب به هم راځي نو شرط خو دنصب دپاره نشته ؟ **جواب**: ذکر د لازم مراد ترینه ملزوم چې مفعول له دي چې دنصب

Maktaba Tul Ishaat. com



دمفعول له دپاره شرط دادي

**وشرط انتصاب المفعول له**: دي سره تعين دضمير کوي **فالسمن والاکرام**: دي سره توضيح بالمثال کوي **وهذا ايضاً**: دفع داعتراض او هغه دا چي ئورو خو تعريف داسي کړي دي چي المفعول له مافعل لاجله فعل مذکور بتقدير اللام او تا دهغه نه مخالفت وکړو؟ **جواب**: هغوي تقدير دلام شرط دپاره دوجود دمفعول له ګرځولي وو او ماشرط دپاره دانتصاب دمفعول له ګرځولي دي پشان دمفعول فيه **تقدير اللام**: دليل دتقدير دلام، دويم دفع داعتراض، دريم توطيه او غرض پکښي دفع اعتراض، اول غرض: که تقدير دلام ونه شي او لام ظاهر شي نو بيا به دغه مفعول له مجرور وي لکه ضربت زيداً للتاديب.

**وخص اللام بالذکر**: دفع داعتراض: **اعتراض**: لکه څرنګه لام تعليلي راځي نو دغه رنګه باء في او من هم تعليلي راځي لام دي ولي خاص کړو؟ **جواب**: لام ده څکه خاص کړو چي غالباً په تعليلا تو دافعالو کښي لام استعماليږي سره ددينه چي باء، في، او من هم د دواخلو دمفعول له څخه دي

**ولما کان تقدير اللام**: توطيه: غرض پکښي دفع اعتراض: او هغه دا چي ملاصاحب: بناء دمتونو په اختصار سره وي داسي به دي ووئيلي وو چي وانما يجوز اوضميربه دي پکښي تقدير اللام ته راجع کړي وي نو حذفها ته به ضرورت نه وو؟ **جواب**: يو تقدير دي او دا ديته وائي چي يو شي په نيت کښي مراد وي او په لفظ کښي نه وي او بل اصل دي او اصل ديته وائي چي يو شي په لفظ او نيت دواړو کښي مراد وي که مونږ يجوز کښي ضمير راجع کړي وي تقدير اللام ته نو د اصل يو نوع ته چي نيت دي دا شامل شوي وي او بلي نوع ته چي لفظ دي نه به وي شامل نو ضمير ديجوز ئي تقدير دلام ته راجع نه کړو نو حذف او ذکر دواړو دلام جائز دي.

**واحترازعما اذا کان عيناً**: فائده ذکر کوي ماتن وفرمائيل چي حذف دلام جائز دي چي کله مفعول له دا فعل وي که عين وي نو لام به ملفوظ وي لکه جئتك للسمن. **اي اتحد فاعله**: معني دمتن، دويم فائده، اول خبره معني دمتن داده چي فاعل دمفعول له او فاعل دعامل دمفعول له دا به يو وي که يو نه وو نو لام به بيا هم ملفوظ وي لکه.

Maktaba Tul Ishaat. com



جئتك مجيئك اياى دلته فاعل دجئتك هغه ضمير د (تَ) دي او په لمجيئك كښي فاعل مخاطب دي، دي سره فائده كوم چي دويم غرض وو هم وشو. **بان يتحد زمان وجودهما:** معنى دمتن، دويم توضيح بالمثال ، دريم دفع داعتراض، څلورم، توضيح بالمثال، پنځم فائده، شپږم وجه د اشتراط، اول غرض : معنى د اقتران داده چي زمانه دفعل او دمفعول له به يوه وى.

**اويكون زمان:** دفع اعتراض: په قعدت عن الحرب جبناً كښي جبن مخكښي راغلى دفعل دزمانى او سره ددينه لام پكښي مقدر دي. ؟ **جواب:** د اتحاد زمانى يوه معنى داده چي زمانه دفعل دا بعض يعني جزء وى دزمانى دمفعول له نه لكه قعدت عن الحرب جبناً كښي زمانه دقعود دا جزء دي دزمانى دجبن نه او يادا چي زمانه دمفعول له دا جزء وى دزمانى دفعل نه لكه شهدت الحرب ايقاعاً للصلح بين الفريقين. دلته زمانه دايقاع دصلح دا جزء دي دفعل نه چي شهود دحرب دي او دي سره څلورم غرض توضيح بالمثال هم وشوو.

**واحترزبذالك:** دي سره فائده ذكر كوى. **وانما اشترط:** وجه د اشتراط دا شروط ورلره شرط كړي ځكه مفعول له پدي شرائطو سره مشابه دمصدر ګرځى نو تعلق به دفعل سره بلا واسطه راشي لكه تعلق دمصدر يعنى مطلق مفعول چي راغلى دفعل سره.

## د مفعول معه بيان

اول معنى لغوى، دويم تركيب ، دريم دفع اعتراض ، څلورم قول اخر . **اى الذى فعل لمصاحبته:** دي سره اول غرض معنى دمفعول له وشوه، **فقوله معه:** دي سره دويم غرض تركيب ، الف لام په معنى د الذى سره او مفعول په معنى دفعل مجهول سره او معه دا نائب فاعل دي اسناد دفعل ورته شوي لكه څرنګه چي په مفعول به، فيه او له كښي وو . خو پدي تركيب باندي اعتراض واردېږي چي دا تركيب خو په مفعول به، له او فيه كښي هم وو هلته دي ولى نه كولو. ؟ **جواب:** هلته خو به، له، او فيه، ضماير وو او ضماير خو مبني وى نو هغه مرفوع وو محلاً او دلته معه مضاف مضاف اليه نو دا نائب فاعل واقع شوي دي نو پدي اعتراض واردشو چي نائب فاعل خو مرفوع وى او معه كښي خو مضاف منصوب دي نو دجواب وكړو چي

Maktaba Tul Ishaat. com


**واعتذر عن نصبه**: دفع داعتراض، چې بعضې نحاتو دا جائز کړي چې کله اسناد دفعل یو لازم النصب شی ته وشی نو هغه به په هم هغه حال منصوب پریږدي لکه قرآن کریم کښې هم راځی چې لقد انقطع بینکم دلته دتقطیع نسبت بین ته شوي او دا لازم النصب دي نو هغه شانته اوس هم منصوب دي ، او بعض حواشی دا وائی چې دا توجیه شریفه ده ځکه یو خو د قرآن کریم سره موافقه ده او بل دا چې حذف پکښې نشته دي.
**وقیل الوجه**: سره څلورم غرض: بعضو ووئیلی دي چې داسي ترکیب به نسبت دفعل دمصدرُ ددغه فعل ته کیږي او ځان دپاره هغه شعر دلیل راوړي نو المفعول کښې به نسبت مصدر د المفعول ته وشی چې فعل دي دا به نایب فاعل شی ځکه معه دا ظرف دي او ظرف قایمقام دفاعل نشی جوړیدي. **هو مذکور بعد الواو**: تعریف دمفعول له ذکر کوی په احتراز سره فائده دقید دمذکور بعد الواو ذکرکوی.
**لمصاحبة معمول فعل اللام متعلق**: معنی یا تشریح دمتن ، دویم قسمین دمعمول ، دریم توطیه او تمهید متن ته، په سواء کان ذلك المعمول فاعلاً سره قسمین دمعمول ذکر کوی او وروسته وسواء ذلك الفعل سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته.
**لفظا ای لفظیا**: دفع داعتراض، لفظا خبر دي دمخکښې کان دپاره نو حمل په اسم د کان چې ذالك الفعل دي نه صحیح کیږي ځکه بیا حمل وصف راځی په ذات مع الوصف باندي. ؟ **جواب**: مراد دلفظا نه لفظیاً دي او دا هم ذات مع الوصف دي نو حمل هم صحیح شو.
**او معنی ای معنویاً**: اول دفع داعتراض، دویم مثال، دریم تطبیق دمثال دممثل سره، څلورم تتمیم دمافات دماتن رحمه الله ، پنځم دفع داعتراض، شپږم اختلاف ، اول غرض دفع داعتراض : ده په معنوي سره کومه چې مخکښې په لفظیا سره تیر شو ، دویم مثال مالك وزیداً دریم په ای ماتصنع وزیداً سره تطبیق. دمثال کوی دممثل سره. څلورم والمراد بصاحبة سره تتمیم دمافات دماتن کوی فلا ینتقض بالمذکور بعد الواو سره دفع اعتراض، غرض ته وائی چې مفعول معه دیته وائی چې مذکور بعد الواو، وی نو جاء نی زید وعمروا ته دي هم مفعول معه ووئیلی شی پس دواو نه هم دي او مصاحب هم دي؟ **جواب**: مراد دمشارکت نه مشارکت فی الزمان او فی المکان دي، او دلته خو

Maktaba Tul Ishaat. com



مشارکت په اصل فعل کښې دي چې هغه مجيئت دي او مشارکت فی الزمان یا فی المکان نشته دي.

## د مفعول معه په عامل کښې اختلاف

**واعلم**: شپږم اشاره کوی اختلاف ته، دجمهورو مذهب دادي چې عامل په مفعول معه کښې یا فعل دي او یا معنی دفعل ده په واسطه د واو سره چې دا واو به په معنی دمع سره وی ، دویم مذهب عبد القاهر دي دي وائی چې عامل په مفعول معه کښې هغه واو دي ، دریم مذهب داخفش دي ، دي وائی چې عامل په مفعول معه کښې هغه واو دي چې په معنی د(مع) سره وی او هسی ځائته واو عامل ندي.

**فان کان ای وجد**: په وجد قید لګولو سره شارح اشاره وکړه چې دا کان تامه دي خبر نه غواړي او اسم ورلره الفعل دي. **الفعل ای ما یدل علی الحدث**: دفع داعتراض، زه به درته وښایم فعل به نه وی او دا وجهین به پکښې جائز وي لکه اسم فاعل : ؟ **جواب**: مراد دفعل نه لغوی او دا بیا عام دي اسم فاعل وی او که اسم مفعول ، صفت مشبه دي ټولو ته شامل دي. **لفظا وجازای لم یجب**: دفع داعتراض، زه به درته وښایم عطف به جائز وی او وجهین به پکښې نه وی جائز لکه جاءنی زید وعمروٌ دلته فعل هم شته او عطف هم جائز دي؟ **جواب**: د جاز انه نه مراد امکان خاص دي چې نه عطف وجود ضروري دي او نه ئی عدم ضروري دي او پدي مثال کښې خو عطف ضروري دي نو ځکه وجهین پکښې نشته دي.

**العطف ولم یمتنع**: فلا ینتقض سره فائده ذکر کوی چې په ضربت زیداً وعمروا کښې وجهین نشته ځکه پدیکښې عطف واجب دي. **فالوجهان**: بیان دوجهین کوی چې عطف او نصب دي ، دویم اعراب دفالوجهان چې فالوجهان مبتدا ده او جائزان ورلره خبر دي. **والا**: سره معنی دمتن ذکر کوی چې که عطف جائز نه وو نو تعین النصب مثل جئت وزیدا فان العطف فیه سره دلیل ذکر کوی. **وان کان الفعل معنی**: ای امراً معنویاً سره دفع داعتراض ده کومه چې نزدي تیره شوي ده، دویم معنی دفعل معنوی کوی چې مستنبطاً من اللفظ ، وجاز ای لم یمتنع دلته دا ذکر کوی چې جواز په معنی د امکان عام سره دي. حیث لا یحمل سره دلیل ذکر کوی.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فانه امتنع العطف:** دليل ذكر كوى، دويم توطيه او تمهيد ذكر كوى په انما حكمنا سره، ومما يماثله سره شارح تشريح دمتن كوى.

## د حال بيان

شارح رحمة الله عليه ربط ذكر كوى دماقبل سره، البته حال ئى مقدم كړو په مستثنى او تميز باندي، په مستثنى ئى ځكه مقدم كړو چې په مستثنى كښې نصب په واسطه د الا سره دي او حال بغير دواسطى نه منصوب وى، او په تميز ئى ځكه مقدم كړو چې تميز سره نصب لازم ندي او دحال سره نصب لازم دي نو دي وجې نه چې مناسبت ئې منصوباتو سره زيات دي نو مقدم يي كړو . **وهو** دي عبارت سره تعريف دحال ذكركوى مايبين هيئة الفاعل او المفعول به اعتراض: حال به وي نه به هيئة دفاعل بيانوى او نه دمفعول لكه ضربت زيداً قائماً ابوه. **جواب:** الحال مايبين هيئة الفاعل او المفعول به او متعلقاتها ديته حال وائى.

**اى من حيث هو فاعل:** اول بيان ديو قيد، دويم فوائد دقيودو دريم دفع اعتراض، اول خبره: بيان ديو قيد اويادفع اعتراض: حال خو بيان دهيئت دفاعل يا مفعول حقيقى بيانوى او مراد زمونږ فاعل يا مفعول نحوي دي ددي حال خو نه بيانوى. ؟ **جواب:** حال هيئت دفاعل يا دمفعول بيانوى ددي حيثيت نه چې دا په تركيب كښې فاعل يا مفعول واقع شوي دي. **فبذكر الهيئة:** دي سره فوائد دقيودو ذكر كوى. **وهذا الترديد:** دفع داعتراض: تاوويل چې الحال ما يبين هيئة الفاعل او المفعول به او راځى دپاره داحد الامرين نو معنى دا چې حال به يا صرف هيئت دفاعل او ياد مفعول بيانوى، زه به درته وښايم چې هيئة دفاعل او مفعول دواړو به بيانوى لكه ضرب زيداً عمرواً راكبين ؟ **جواب:** دلته او دپاره دمانعة الخلو دي يعنى حال به ددي دواړو نه خالى نه وى او جمع ئى راتلى شى.

**لفظا اى سواء:** اعراب دلفظا دويم دفع داعتراض، دريم معنى دلفظا ،څلورم تعميم، اول خبره: لفظاً دا منصوب دي ځكه خبر دي دپاره د كان محذوفه اى سواء كان المفعول والفاعل الذى وقع حالاً عنه لفظاً : **اى لفظياً:** دفع داعتراض دا هغه مشهور اعتراض دي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**بان تكون**: دريم خبره : معنى دلفظا ذكر كوى سواء كان ملفوظين او حقيقتاً او حكماً دا څلور غرض تعميم ذكر كوى، **او معنى**: اى معنوياً دفع داعتراض مشهوره: معنى دمعنوياً ، دريم تتميم څلورم تعدد دنسخو، بان تكون سره دويم غرض معنى دمعنويا ذكر كوى، والمراد سره غرض تتميم دمافات دماتن ذكر كوى.

**ولو قرئ**: څلورم خبره : تعدد دنسخو ذكر كوى. مثل ضربت زيداً قائماً مثال اللفظى للمفلوظ حقيقة، اول تعين دممثل له او پدي سره به دفع داعتراض چې يو مثال كافئ وو هم اوشى چې ممثلات كثير دي، ممثلات ئې ځكه دري راوړل چې عامل دفعل به يا لفظي وى يا به معنوى بيا لفظي به يا ملفوظ حقيقتاً وى او يا حكماً نو دوه دا شو او دريم مثال دفعل معنوى راوړي.

**ولا شك**: دفع داعتراض ، په اشير او انبه خو مونږ تلفظ وكړو نو دا خو دملفوظ مثال شو نو دمعنوى جواب شته دي. **وعاملها**: دا تصريح كوى ماتن رحمه الله په ما علم التزاماً باندي ځكه مخكښې خو معلومه شوه چې عامل دحال فعل دي الخ.. **اما الفعل**: دفع توهم : متوهم به دا توهم كولو چې عاملها الفعل او شبهه او معناه پديكښې به دا او په معنى د واو سره وي نو شارح دفع دتوهم وكړه چې دلته او پخپله معنى چې اما ترديد سره دي نه په معنى د واو سره. **المفلوظ اوالمقدر**: اول تعميم ، دويم مثال ، اول تعميم دا چې دا عامل دحال چې فعل دي عام دي ملفوظ وى او كه مقدر وى، دويم مثال ضربت زيداً قائماً وزيد فى الدار قائماً يو مثال دفعل ملفوظ دي او بل مثال دفعل مقدر دي خو چې كله د فى الدار جار مجرور دپاره متعلق فعل مقدر را اوباسى بناء برمذهب بصريان .

**او شبهه**: اول معنى دشبه، دويم توضيح بالمثال . **او معناه**: اول معنى دمعنى، دويم توضيح بالمثال. **وشرطها اى شرط الحال ان تكون نكرة**: بله مسئله ذكر كوى چې حال به نكره وى او ذوالحال به معرفه وى غالباً لان النكرة سره دليلين ذكر كوى ښكاري يو دليل خو فى الحقيقة دليلين دي. **وان يكون صاحبها معرفة**: شارح (وان يكون) راوويستلو اشاره ئې وكړه قاعدي دعطف ته چې صاحبها معرفه دا عطف دي په نكرة باندي نو د (ان) تكون لاندي شو لانه محكوم عليه سره دليل ذكر كوى.

Maktaba Tul Ishaat. com



**غالباً**: اول معنی دغالباً ذکر کوی، دویم دلیل. دریم دفع داعتراض، څلورم رد په بعضو خلقو، اول خبره: ای لیس اشتراطها سره معنی دغالباً ذکر کوی. دویم، وبیان ذلك سره دلیل ذکر کوی، بان جَعَلْتَ امرا سره بل ترکیب ته اشاره کوی چی دا حال شی دضمیر مستتر دحکم نه نو د ا بیا دمانحن فیه نه ندي. **اوبعد الا**: اعتراض من الخارج: پدي مثال باندي چی مثال دي مطابق نشو دممثل سره چی ما جاءنی رجل الا راکباً د (او بعد الا) عطف دي په (او مغنیة غناء المعرفة) باندي پدي کښی ذوالحال ته ضمیر راجع دي نو معنی دا شوه چی ذوالحال به پس د الانه وی او په مثال کښی د الانه مقدم دي. **جواب**: یو جواب دادي چی دا او بعد الا عطف ندي په او مغنیة الخ .. باندي معنی دلته داده چی دا حال به وروسته د الانه وی او پدي مثال کښی دي داسي. **دویم جواب**: دادي چی داد کاتلب غلطی ده اصل کښی داسي دي چی او قبل الا یعنی یا به ذوالحال مخکښی وی د الانه او دلته مخکښی دي.

**دریم جواب**: دادي چی بعد دظروفو څخه دي او مبنی دي په ضمی سره مضاف الیه ددي حذف دي معنوی دي نو تقدیر دعبارت داسي دي چی بعده الا پس ددغه ذوالحال نه به الاوی او دلته هم دي.

**فقوله غالباً**: دا غالباً قید د ذوالحال دمعرفه والی دپاره ندي بلکه دا قید دپاره د اشتراط دي یعنی دا معرفه والی شرط ئی غالباً دي. **ویحتاج**: رد په بعضو خلکو کوی بعضو خلقو ددي اعتراض نه جواب کړیدي چی وشرطها ان تکون نکرة دا بس خلاصه شوه او داصاحبها معرفه ددي دشرط سره څه اړیکه نه لري بلکه دا ځانته جمله ده نو دي یحتاج سره پري رد کوی چی وصاحبها معرفه ده عطف دي په نکره باندي او لاندي دي دشرط نه. **وارسلها العراك**: غرض دماتن پدي سره دفع اعتراض ده هغه دا چی تاووئیل چی شرط دپاره دحال دادي چی دا به نکره وی نو دلته خو العراك حال دي معرفه دي نکره نده نو ماتن جواب کوی چی متاؤل دا مفعول مطلق دي.اول تتمیم دشعر، دویم تعین دشاعر، دریم غرض دشاعر، څلورم دفع اعتراض، پنځم معنی ددي شعر، شپږم دفع داعتراض.

**اول غرض**: ویزودها سره ذکر کوی، دویم دا شعر دلبید دي، دریم ویصف حمار

Maktaba Tul Ishaat. com



الوحش. **ای ارسلها**: وکان المراد بالارسال سره دفع داعتراض هغه دا چی ارسال صفت ذوي العقول دي او حمار وحشی خو عقل نه لري ؟ **جواب**: ذکر د ارسال او مرادترینه تخلی ده، ای ارسلها سره پنځم غرض معنی دشعر. **ولعل المراد ههنا**: دفع داعتراض، تاخو والد خال ووئیلو دا خو صفت د اوښانو دي او دلته دي د (اتان) یعنی خرو دپاره صفت وګرځولو. ؟ **جواب**: په تقدیر دمثل سره یعنی دلته مرادنفس مداخلت دي دبعضو په بعضو باندي ننوتل دي دبعضو په بعضو کښی.

**فلا یرد نقضاً علی قاعدة اشتراط کونها نکرة**: پدي سره بیان غرض دماتن، دویم بیان دتاویلینو، دریم نظیر، **فلا یرد**: غرض دماتن دفع داعتراض ده هغه دا چی تا ووئیل چی شرط دپاره دحال دادي چی دا به نکره وی نو دلته خو معرفه ده؟ **جواب**: متاؤل بالنکرة. وتاویلها علي وجهین: ذکر دتاویلینو کوی او کما ان حسن الوجه سره بیان دنظیر کوی کوم چی دریم غرض وو

**فان کان صاحبها ای صاحب الحال نکرة محضة**: دي سره بله قاعده ذکر کوی هغه دا چی کله ذوالحال نکره وی نو تقدیم دحال واجب دي په ذوالحال باندي لکه کله چی مبتدا نکره وی نو تقدیم دخبر پري واجب دي دپاره ددي چی نکارت دمبتدا رانه شی لکه رجل فی الدار رجل شو دغه شان په ذوالحال کښی هم، ځکه که حال مقدم نه کړي نو التباس ئی راځی دصفت او موصوف سره په حالت نصبی او په حالت جري کښی اګرچه التباس دصفت او موصوف سره نه راځی ځکه حال منصوب وی او صفت او موصوف مرفوع ومجرور هم راتلی شی خو تقدیم دحال واجب دي طردا للباب،

**محضة**: اول دفع داعتراض، دویم هم دفع داعتراض، اول خبره: زه به درته وښایم ذوالحال به نکره وی او تقدیم دحال به پري نه راغلی لکه جاءنی رجل من بنی تمیم فارساً. ؟ **جواب**: مراد دنکري نه نکره محضة ده چی شائبه دتخصیص پکښی نه وی،او دلته خوئی تخصیص په من بنی تمیم سره راغلی دي.**ولم تکن الحال مشترکة بینها**: دویمه خبره: دفع داعتراض، هلکه زه به درته وښایم چی ذوالحال به نکره وی او شبه دتخصیص به هم پکښی نه وی او تقدیم دحال به بیا هم پري نه وی راغلی لکه جاءنی رجل وزیدٌ راکبین ؟ **جواب**: دلته یو بل قید هم شته چی کله ذوالحال نکره وی نو

Maktaba Tul Ishaat. com


تقديمي دحال پري واجب دي خو دا حال به مشترك نه وی په مخکښې ذوالحال نکري اومعرفې کښې او دلته مشترك دي دا حال په ذوالحال نکري کښې چې رجل دي او ذوالحال معرفې کښې چې زيد دي نو لهذا تقديم دحال واجب نشو،

**وجب تقديهما** : اول غرض دضمائرو، دويم دليلين ذکر کوی اول غرض: اول دليل د ليختص النكرة سره او دوهم دليل دلئلا يلتبس بالصفة سره ذکر کوی،

**لا تتقدم:** اول تعين دضمير کوی چې راجع دي حال ته دفع داعتراض، هغه دا چې زه به درته وښايم چې حال به مقدم وی په عامل معنوی لکه زيد قائماً کعمرو قاعده داده دلته قائمامقام حال دکاف نه چې دا په معنی دشبهت سره دي نو دا عامل معنوی دي او قائماً حال پري مقدم دي؟ **جواب:** ماعدا ددي ترکيب کښې به حال نشی مقدم کيدي په عامل معنوی باندي او دلته ځکه مقدم کيديشی چې بيا به پته نه لږيږي چې مشبه به کوم يو دي او مشبه کوم يو دي.

## د عامل معنوی تعريف

**قد عرفت فيما قبل الخ..** اول غرض : تعريف دعامل معنوی، دويم توطيه او تمهيد اول غرض، تعريف دعامل معنوی تا مخکښې وپيژندلو.

**وان ما هو مقدر:** دي سره توطيه او تمهيد ذکر کوی چې هر هغه فعل يا اسم فاعل چې مقدر وی په اسم ظرف کښې يا په جار مجرور کښې دا خارج دي دعامل معنوی نه او داخل دي په عامل لفظی کښې چې فعل يا شبه فعل دي. **بخلاف الظرف:** اول غرض معنيين دبخلاف الظرف: دويم اختلاف، دريم توضيح بالمثال، څلورم قول اخر. اول غرض يوه معنی دا چې حال په عامل معنوی نشی مقدم کيدي مګر چې کله عامل ظروف وی او دويمه معنی داده چې حال کښې اګرچه دظرفيت معنی پرته ده خو سره ددينه ئی په عامل معنوی نشی مقدم کولی **فان فيه خلافاً:** دي سره بيان اختلاف کوی سيبويه وائی چې حال بالکل نشی مقدم کولی اګرکه ظرف وی دغه عامل، ځکه ظروف ضعيف العمل دي، او اخفش وائی چې حال مقدم کولی په عامل چې کله ظرف وی خو چې حال مقدم نه وی په مبتدا لکه زيد قائماً فی الدار دا صحيح دي خو که حال په مبتدا مقدم وو نو دا تقديم ندي جائز لکه قائماً زيد فی الدار ، دي سره دريم غرض

Maktaba Tul Ishaat. com



توضیح بالمثال هم وشو.

**هذا اذا لم یکن الظرف:** دي سره څلورم غرض قول اخر د اوجه هله جائز ده چی کله ظرف داخل نه وی په عامل معنوی کښی او که چیرته داخل وی په عامل معنوی کښی لکه څرنګه چی ظاهر ده کلام ددوي نه هغه دا چی داظرف داخل دي په عامل معنوی کښی که داخل نه وی نو بیا استثناء ترینه نه صحیح کیده، نو دا دویم احتمال دي. **سواء کان مجرورا بالاضافة:** اول قسمین ذکر کوی، دویم دلیل ، دریم اختلاف، څلورم، توطیه او تمهید، اول غرض قسمین، دا ذوالحال به یا مجرور وی په اضافت سره او یا به مجرور وی په حرف جر سره، وذالك دي سره دلیل ذکر کوی هغه دا چی کله ذوالحال مجرور بالاضافة وی نو حال پري نشی مقدم کولی څکه تابع او فرع د ذوالحال وی او مضاف الیه دا نشی مقدم کیدلی په مضاف باندي نو تابع د ذوالحال نشی مقدم کیدلی په حال چی مضاف دي، او که چیرته مجرور د ذوالحال په حرف جر سره وی نو پدیکی اختلاف دي، ففیه خلاف ، دریم خبره: اکثر بصریان وائی چی تقدیم دحال په هغه ذوالحال چی مجرور په حرف جر سره وي ندي جائز او دلیل ئی هم هغه د اضافت دلیل دي او دا مذهب دماتن دي نه دشارح،

**ونقل عن بعضهم:** اول بیان دقول، دویم دلیل دقول والا ، دریم وجه دفرق، څلورم جواب : پنځم دفع داعتراض، شپږم نور جوابات، اووم دفع اعتراض، اتم رد ،اول غرض بعضو ووئیلی چی تقدیم په دغه مذکور ذوالحال باندي دحال جائز دي، **استدلالاً:** دلیل ئی دادي چی الله ﷻ فرمائی چی (وما ارسلناك الا کافة للناس) الناس مجرور بحرف الجر دی او کاف ئی حال پري واحد الفرق. دي سره فرق ذکر کوی په مابین دمجرور بحرف الجر اوپه مابین د ذوالحال چی مجرور وی په اضافت سره، **واجاب:** دي سره جواب کوی د استدلال دبعضو نه چی کافة دا حال دي دکاف نه ، نه دللناس څخه. **والتاء للمبالغة:** دفع داعتراض هغه دا چی کافة خو مذکر دي او حال چی کافة دي مؤنث دي نو مطابقت مابین د ذوالحال او دحال کښی د رانغلو. ؟ **جواب:** دلته تاء دپاره دمبالغی ده نه دپاره دتانیث او کاف په معنی دمنع کونکی سره خودا مذهب ضعیف دي څکه نبی ﷺ خو یواځی منع کوونکی نه وو بلکه آمرهم وو.

Maktaba Tul Ishaat. com



**وبعضهم بجعلها**: نور جوابات ، بعضو ویلی چی کافة دا صفت دي دپاره دموصوف محذوفه چی رسالة کافة دي، او بعضو وویلی چی دا مفعول مطلق دي دفعل دمقدره دپاره چی تکف کافة دي کالکاذبة، اووم غرض: دفع داعتراض هغه دا چی هلکه کافة خو اسم فاعل دي او مفعول مطلق خو مصدر وی ، ؟ **جواب**: دا مصدر دي پشان دکاذبة او عافية ، والکل تکلف ، اتم غرض شارح رد کوی چی داټول تکلفات دي بلکه اصحه خبره داده چی تقدیم دحال په ذوالحال مجروره بحرف الجر سره راتلی شی، **وکل مادل علی هیؤة ای علی صفة**: اول غرض بیان دمعنی دهیئت چی هیئت په معنی دصفت سره دي.

**من غیر ان یؤول الجامد بالمشتق**: اول دفع داعتراض ، دویم دلیل، دریم بیان دغرض ماتن، اول غرض دفع د اعتراض هلکه مسائل دفن دا نظري دي او دا خبره خو بدیهی ده چی هرشی چی مشتق وی ا و که جامد حال واقع کیږي که جامدوو خو مشتق ته به مؤول کیږي . ؟ **جواب**: مونږه وایو چی بغیر ددینه چی په جامد کښی تاویل الی المشتق وشی حال واقع کیداي شی ، لان المقصود. دویم غرض دي سره دلیل ذکر کوی چی مقصود په حال سره بیان دهیئت وی او دا په جامد سره هم حاصلیږي .

**وهذا رد**: غرض دماتن رد کول دي په جمهورو ځکه چی هغوی دحال واقع کیدلو دپاره شرط اشتقاق ګرځولی او تکلف کوی په تاویل دجوامدو کښی مشتق ته، **وهو مابقی فیه حموضة اغراض**: دي سره بسر خرماؤ ذکر کوی، **وهو ما فیه حلاوة**: معنی درطب ذکر کوی چی هغه کجوره چی په هغی کښی خوږ والی وی، دویم تطبیق ، دریم تاویل دجمهورو، څلورم عامل په رطب کښی . **فهما مع کونهما**: دي سره تطبیق دمثال دممثل له سره کوی، **ولا حاجة**: دي سره تاویل دجمهورو ذکر کوی، **والعامل فی رطب**: عامل په رطباً کښی بالاتفاق اطیب دي او په بسراً کښی عامل په نزد دمحققینو هم دا اطیب دي.

**وتقدم بسرا علی اسم التفضیل**: اول غرض دفع داعتراض ده، دویم هم دفع داعتراض ده، دریم هم دفع داعتراض ده، څلورم قول آخر ، پنځم دوه ردونه په دغه قول، اول غرض دفع داعتراض، هلکه ! اطیب اسم تفضیل دي او اسم تفضیل ضعیف العمل

Maktaba Tul Ishaat. com



دي په مقدم کښې عمل نشي کولی پکار ده چې بسرا دي وروسته ذکر کړي وي؟ **جواب**: چې کله یو شی پوري دوه حاله متعلق شي په مختلفو اعتباراتو سره نو مناسب ده چې هر یو دخپل ذو الحال سره نزدې وي نوبسرا دا حال دي دهذا نه نو هذا سره نزدي دي، **وهذه الحيثية**: اعتراض : هلکه ! دا بسراً دا متعلق او حال د هذا وګرځیدو ددي حيثيت نه چې دا مفضل دي اودا مفضليت ئی داطیب نه معلومیږي چې کوم ضمير په اطيب کښې دي نو بسراً به دي د اطیب نه وروسته ذکر کړي وی داسي چې هذا اطيب بسراً منه رطباً ؟

**جواب**: دا بسرا اګرچه مفضل دي په اعتبار د اطيب سره خو دلته يو هذا اسم ظاهر دي او بل په اطيب کښې اسم ضمير دي او مضمر په نسبت سره مظهر ته كالعدم وی نو الحاق او تعلق دحال دمظهر سره اولی دي دمضمر نه. **قال الرضي**: دفع اعتراض : هغه دا چې هر کله رطباً دا حال شو د ضمير د اطيب نه، نو منه ته څه ضرورت وو؟ **جواب**: دا اګرچه مفضل او مفضل عليه دواړه دي خو ليکن کله چې مستکن شو نو دا كالعدم شو نو مونږه منه ضمير راوړو، **وذهب بعضهم**: قول اخر بعضی وائی چې عامل په بسراً کښې هغه اسم اشاره ده يعنى په معنى د اشير اليه سره.

**وهذا ليس بصحيح**: دي سره دوه ردونه ذکر کوی يو دا چې مشار اليه دا تمر يابسر وی خو دا رد ضعيف دي ځکه که مشار اليه تمر يا بسر وی نو بيا دهغه خو به بل نوم وي، دويم رد دادي چې اسم اشاره ځکه عامل نشي ګرځيدلی چې دا کيدلی شي چې داسم اشاره په ځاي يو داسي اسم واقع شي چې هغه عامل نشي ګرځيدلی لکه تمرة نخلي بسرا اطيب منه رطباً دلته تمرة نخلي مضاف اليه دي او دا عامل نشي ګرځيدی او دا رد صحيح دي

**وقد تكون**: تعين دضمير کوی چې ضمير راجع دي حال ته، **لدلالتها على الهيئت**: دي سره دليل ذکر کوی **ولكن يجب**: دي سره توطيه او تمهيد ذکر کوی چې دغه جمله به حاليه خبريه وي، **محتملة للصدق والكذب**: اول تعریف دخبريه ، دويم دليل، دريم توطيه. اول غرض ، جمله خبريه دا هغه ده چې احتمال دصدق او كذب لري، لان الحال بمنزلة الخبر، دويم دي سره دليل هغه دا چې حال دا په منزله دخبر وي د

Maktaba Tul Ishaat. com



ذو الحال نه او په حال سره حکم کیږي په ذو الحال او حکم دا په خبریه سره کیږي نه په انشائیه سره.

**ولما كانت الجملة:** دي سره توطیه هغه دا چې جمله دا مستقله وی نو چې کله حال واقع شي نو رابط پکار دی چې حال د ذوالحال سره وتړي نو هغه رابط به واو اویا ضمیر وي، **اى الجملة الاسمية:** دفع اعتراض ده هغه دا چې خروج عن البحث راغلو ځکه زمونږه خبره شروع وه په حال کښې او ته لاړي جملې اسمیي ته؟ **جواب:** مراد دجمله اسمیه نه هغه ده چې حالیه وی، **ولقوة الاسمية:** دي سره دلیل ذکر کوی چې رابط دجملې اسمي به واو او ضمیر دواړه ولې وي او دویم غرض توضیح بالمثال کوی. دریم دفع داعتراض ، اول غرض واو یواځې ځکه راوړي شي چې دا په الامر کښې دلالت کوی په ربط باندي، **مثل قوله:** دي سره توضیح بالمثال ذکر کوی، **وهذا:** دي سره دفع اعتراض کوی هغه دا چې زه به درته وښایم چې جمله اسمیه به وي او نه به په کښې واو وی او نه ضمیر لکه هو الحق لاشك فيه . ؟

**جواب:** مراد دحال نه هغه حال منتقله دي او دا خو حال مؤ کده دي، **وبالضمير وحده على ضعف:** اول دلیل ذکر کول دي، او دویم غرض توضیح بالمثال کوی، **والمضارع المثبت:** یو غرض دلیل ذکر کوی دویم غرض توضیح بالمثال، **وماسواهما:** یوغرض تعین دهما کوی چې یو جمله اسمیه ده او بل مضارع مشتبه ده او دویم غرض تعین د ماسوی کوی چې هغه مضارع منفي ماضی مثبته او منفی ده **اوباحدهما وحده من غير ضعف:** اول غرض فرق ذکر کوی، دویم توضیح بالمثال ، **المقربة:** اول معنی دقد ذکر کوی چې دقد معنی داده چې زمانه دماضی حال ته نزدي کوی په اعتبار دوضع سره، **اووقوعه عليه تجوزا :** دفع داعتراض : هغه دا چې قد خو زمانه دماضی را نزدي کوی حال حقیقی ته نه حال نحوی ته او خبره خو زمونږ په حال نحوی کښې ده؟

**جواب:** دا مجازاً داسي دي لکه زمانه دماضي چې حال نحوی ته رانزدي کوی.

**وهذا بخلاف:** دي سره اختلاف ذکر کوی چې کوفیان نه قد ظاهراً او نه مقدراً ثابتوی **سواء كانت ظاهرة:** دي سره اشاره کوی چې ظاهرة دا منصوب دي ځکه چې دا خبر دي دپاره د کان ، **نحو قوله تعالى:** یو غرض توضیح بالمثال ، دویم اختلاف ،

Maktaba Tul Ishaat. com



دريم دفع اعتراض، اول غرض: مثال دقد مقدره لکه (حصرت صدورهم) په کښې قد حصرت صدورهم. حصرت صدورهم دا صفت دي دمحذوفه دپاره چې قوماً دي او مبرد رحمة الله عليه وائي چې حصرت صدورهم دا جمله دعائيه ده او لامحل لها من الاعراب اصل کښې داسې دي چې اوجابؤکم للقتال حصرت صدورهم. **وانما لم يشترط**: دي سره دفع اعتراض ده هغه دا چې قد په ماضي مثبت کښې وائي او ماضي منفي څه ګناه کړي ده؟ **جواب**: ماضي منفي کښې استمرار دي بغير دمانع نه نو د ذوالحال سره نزدي وي.

**ويجب حذف العامل**: دفع داعتراض، هغه دا چې زمونږ بحث شروع وو په حال کښې او ته لاړي عامل ته؟ **جواب**: مراد دعامل نه عامل دحال دي. **اى الشارع فى السفر**: دفع اعتراض. هغه دا چې مسافر خو هغه ته وائي چې لاړشي دکور نه نو بيا ورته څرنګه وايي چې راشدا مهدياً، دريم تتميم دمافات دماتن کوي. دلته راشدا مهديا کښې (سرِ) حذف دي په قرينه دحال مخاطب سره **وقوله مهديا**: سره اعراب دمهديا ذکر کوي دا يا صفت دي دپاره د راشدا او يا حال د(من) نه يعني دويم حال دي.

**اومقالية**: دي سره دريم غرض تتميم دمافات دماتن کوي چې يا به دا حذف دعامل دوجې دقريني مقاليه نه راغلي دي لکه ته په جواب کښې ورته راکباً ووائې مثلاً تا نه څوك سوال وکړي چې کيف جئت او جواب کښې ورته ته راکباً ووائې نو دلته قرينه مقاليه شته دي چې مذکور في السوال کالمعاد فى الجواب وي. **ويجب فى بعض الاحوال المؤكدة**: شارح قيد دبعض الاحوال ولګولو ځکه دهر حال مؤکده عامل وجوبا نه حذف کيږي بلکه دهغه حال مؤکده عامل وجوبا حذف کيږي چې دا حال مؤکده وي جملې اسمي لره، نه دجملې فعليه لره.

## تعريف د حال مؤكد

**وهى اى الحال**: تعريف دحال مؤکده، دويم فايده دقيد دمطلقاً په فائده دموکده اول غرض تعريف دحال موکده دادي چې دا د ذوالحال سره موجود وي غالباً ترڅو چې ذوالحال موجود وي مطلقاً سره دفع دتوهم وشوه هغه دا چې متوهم به ويل چې داتعريف به دهغه حال موکده وي چې عامل يې حذف کيږي نو ده جواب وکړو چې دا دمطلق حال موکده تعريف دي. **بخلاف المنتقلة**: دي سره دريم غرض ذکر کوي چې دحال منتقلة

Maktaba Tul Ishaat. com



عامل به نه حذف کیږي ځکه چی حال منتقلة دا قید وی دپاره د ذوالحال نو چی عامل حذف کړي یعنی مقید نوقید به دچا دپاره راوړي. **بفتح الهمزة اوضمها**: یو غرض معنیین ذکر کوی داحقه : **قول آخر**: اول غرض عطوفا دا حال دي او عامل ئی احقه دي او ددي دوه معناګانی دي اول دا چی ماد زید دپلار دپاره عطوفت ثابت کړو، دویم معنی یي داده چی زه وګرځیدم په یقین سره چی دا د زید پلار دي او عطوف دي ،

**وقال صاحب المفتاح**: دي سره فائده دقید دمضمون دجملی ذکر کوی که چیرته حال وو دبعض نه نو بیا حذف دعامل ندي واجب لکه ﴿ انا ارسلناك للناس رسولا ﴾ دلته رسولاً حال دي صرف دکاف نه. **احترزبها**: فائده دقید . دویم توضیح بالمثال ، دریم داعتراض اول غرض جمله اسمیه سره احتراز راغی دجمله فعلیه نه ځکه ددي عامل نه حذف کیږي وجوباً **قال صاحب الکشاف**: دي سره توضیح بالمثال کوی. **ولا بدههنا**: دي سره دریم غرض دفع اعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم حال مؤکده به وی او عامل به حذف نه وی لکه ﴿ الله شاهد قائما بالقسط ﴾ ؟ **جواب**: دا جمله اسمیه به داسي اسمین شخه جوړه وی چی صالح دپاره دعمل به نه وی په حال کښی که صالح وی نو بیا هو عامل مذکوره شو نو څرنګه به یی حذف واجب شی او ستا په مثال کښی اسمین صالح للعمل دي

## بیان دِ تمیز

تمیز دا مبتدا مقدمه ده او خبر ئی محذوف دي چی من المنصوبات التمیز یا عکس ددي چی دا خبر شی نو تقدیر به داسي شی چی هذا بیان التمیز، تمیز دا مصدر دي که مبنی للفاعل شی نو معنی به ئی راشی چی داسي شی چی دا ممیز دي مراد دمتکلم لره دغیر مراد نه او که دا مبنی للمفعول شی نو معنی به داسي شی چی دا جنس ممیز دي د نورو اجناسو نه، **ما ای الاسم الذی**: تعین د ﴿ ما ﴾ کوی چی مراد دما نه اسم دي او غرض پکښی دفع اعتراض هغه دا چی زه به درته وښایم چی رفع دابهام به ئی کړي وی او څوك به ورته تمیز نه وائی لکه فعلت قتلت دلته رفع دابهام کړي ده دفعلت نه ؟ **جواب**: مراد دما اسم دي ای قتلت خو فعل دي **واحترزبه**: دي سره فائده دفع ذکر کوی چی پدي سره احتراز راغی دبدل نه ځکه بدل او مبدل منه کښی بدل

Maktaba Tul Ishaat. com



مقصود وی ترک دمبهم وی چی مبدل منه دی او اراده دمعین وی چی بدل دي او په ممیز او تمیز کښې دواړه مراد وی خو تمیز رفع دابهام کوی دممیز نه،

**ای الثابت الراسخ**: بیان دمعنی دمستقر، دویم بیان دیو قید، دریم دفع داعتراض، څلورم فائده داعتراض، پنځم بیان داختلاف، شپږم تتمیم دمافات. اول غرض: مستقر په معنی دثابت په معنی موضوع له کښې من حیث انه موضوع له. دي سره دویم غرض بیان دقید، فان المستقر، دي سره هلکه ماتن خو قید دمستقر عام وئیلی وو او تا ولی قید ورسره دمن انه موضوع له ولګولو؟ **جواب**: ابهام مستقر دا مطلق ذکر شوي وو او شی چی مطلق ذکر شی صرف ئی کیږي فرد کامل ته او فرد کامل په ابهام مستقر کښې هغه وضعی وي، **واحترز**: فائده دقید دمن حیث انه موضوع له دي سره دفع اعتراض راغله هغه دا چی رایت عینا جاریةً رفع د ابهام راوویستلی دعینا نه او عینا دا وضع دي دپاره دجاریة او سره ددینه چی جاریة ته څوك تمیز نه وائی؟ **جواب**: مونږ وایو چی ابهام به په وضع کښې وي خو ددي حیثیت نه چی وضع به ئی دپاره دابهام شوي وي او دلته وضع کښې ابهام نشته بلکه دلته ابهام دتعدد اوضاعو دوجی نه راغلی دي.

**وکذا یقع به الاحتراز عن اوصاف**: دي سره اشاره کوی اختلاف ته چی په انه موضوع له سره احتراز راغی دهغه اوصافو دمبهم نه لکه هذا الرجل دلته الرجل ته تمیز نشی ویلی څکه دلته ابهام هذا کښې نشته دي او پدي کښې دوه مذهبه دي، اول مذهب دعلامه تفتازانی رحمة الله علیه دي او دویم جمهورو مذهب دي، علامه تفتازانی رحمة الله علیه وائی چی دهذا وضع شوي دپاره دمفهوم کلی خو په شرط داستعمال ددي هذا سره په جزئیاتو کښې او مفهوم کلی دهذا هغه هر واحد مشهد بالبصر مذکر کوی. دویم مذهب جمهور وائی چی دهذا وضع دهر جزئي جزئي دپاره شوي خو په واسطه دمراعات مفهو کلی سره نو بناء په دواړو مذهبو سره ابهام په هذا کښې نشته دي بلکه ابهام دوجی دتعدد اوضاعو او دوجی دتعدد داستعمال نه راغلی دي.

**وکذا یقع**: دي سره شپږم غرض تتمیم دمافات دماتن کوی چی په انه موضوع له سره احتراز راغی دعطف بیان نه څکه عطف بیان کښې ابهام په ذات کښې نه وي

Maktaba Tul Ishaat. com


بلکه ابهام دوجې د عدم شهرت نه راغلی وي لکه ابو حفص عمر . **عن ذات**: فائده دقید: دویم فرق په مابین دحال او صفت دتمیز سره : اول غرض: ددي قید چې دذات نه به رفع دابهام کوی دي سره احتراز راغی دحال او صفت نه ځکه دوي دواړه رفع دابهام کوی خو دصفت نه،

**وتحقيق ذلك**: فرق په مابین دحال او دصفت کښې دادي چې مثلاً رطل دا واضع وضع کړي دپاره دیو معنی معیني چې هغه نصف مَنْ دي نو دغه رطل دانصف من جدا کړي داقل دنصف نه چې ربع ده او د اکثر دنصف من نه چې هغه یو من یا دوه منه دي اوس په دغه نصف نصف من کښې ابهام نشته مګر په جنس کښې ئې ابهام دي چې دانصف من دعسلو دي او که د سرکی دي او که دبل شی دي، او په دي رطل کښ دوصف په اعتبار سره هم ابهام شته ځکه په حسب دوضع سره ددي وصف ندي معلوم چې دا وصف بغدادي دي او که مدنی دي، اوس که ستاازاده رفع دابهام وصفی وي نو وروسته ددغه رطل نه به صفت یا حال راوړي چې رطل بغدادي دي او که اراده ستا رفع دابهام وی دجنس درطل نه نو داسي به وائی چې رطل زیتا یعنی تمیز به راوړي نو زیتا دا رفع دهغه ابهام کوی چې هغه مستقر دي په ذات او جنس درطل کښې.

**صفتان للذات**: اول اعراب بیانول ، دویم غرض دماتن، دریم توضیح بالمثال :
اول غرض : دامذکوره او مقدرة صفتین دي دذات دپاره نو هغه مجرور وو دوي به هم مجرور وي،

## تقسیم د ذات مقدره او مذکوره

**اشارة الى تقسيم الذات** : غرض دماتن تقسیم دذات کوی مذکوره او مقدرة ته چې رفع ئی راوستی وي دذات مذکوره نه لکه رطل زیتا او چې د ذات مقدره نه ئی رفع د ابهام راوستی وی لکه طاب زید نفسا دا په اصل کښې داسي دي چې طاب شئ منصوب الى زيد نفسا دلته نفسا رفع ابهام راوستی د شئی مقدره نه او دي کښې دریم غرض توضیح بالمثال هم وشو،

**فا الاول**: اول تعین دموصوف ، دویم بیان د اول، دریم دجار مجرور متعلق ،
اول غرض : الاول دا صفت دي او القسم ئی موصوف دي، **وهو ما يرفع**: اول هغه چې رفع

Maktaba Tul Ishaat. com



دابهام کوی دذات مذکوره نه، یرفع دعن مفرد متعلق یرفع دي، **مقدرا صفة**: اعراب دمقدار چی داصفت دي دپاره دمفرد ، او دویم غرض معنی دمقدار ذکر کوی چی مقدار وائی هغه شي ته چی په ده سره بل شی پیژندل کیږي.

**ای فی غالب المواد**: معنی دغالباً : دویم توطیه او تمهید، اول غرض: معنی دغالباً داده چی رفع دابهام مطلقا که د ذات مذکوره نه وی او که د ذات مقدره نه دا متحقق کیږي په ضمن ددغه خاص رفع کښی چی دذات مذکوره نه وی. **والمقدار**: دویم خبره ، توطیه او تمهید: توطیه چی دامقدار به یا په ضمن دعدد کښی الخ. موجودیږي

**اما متحقق فی ضمن عدد**: شارح قید دمتحقق راویستلو چی فی عدد دا متعلق دي په محقق پوري ، او قید دضمن ئی راویستلو دپاره د دفع دتوهم چی متوهم به دا ووئیلی چی په عدد کښی خوابهام نشته نو ده دغه وهم دفع کړو چی په ضمن دعدد کښی به وي.

**ای غیر العدد کالوزن**: یو غرض تعین دضمیر کوی چی ضمیر غیر عدد ته راجع دي او دویم غرض تعین دغیر کوی چی هغه وزن دي

**والمراد بالمقادیر**: دفع داعتراض، دویم دفع اعتراض، دریم وجه دنصب دتمیز، څلورم دفع داعتراض، اول غرض: تا چی څومره مثالونه ذکر کړي دا یو هم مطابق دممثل سره ندي ځکه تاوویل چی رفع به یا دعدد نه او یاد کیل نه او یا د وزن وغیره نه کوی نو ابهام خو په عدد او وزن او کیل کښی نشته دي؟ **جواب**: ذکر دعدد او مراد ترینه معدود یعنی مقدار، نه مراد مقدرات دی . **وانما اقتصر المصنف** رحمة الله علیه: هلکه ! ماتنه تا خود بعضو مثالونه ندي راوړي لکه د ذراع او بعضو مثالونه دي مکرر راوړي دي لکه وزن ؟ **جواب**: مراد زمونږه هغه بیان دامثله ندي بلکه مراد زمونږ هغه بیان داتمام داسم دي چی اسم تمامیږي په تنوین سره لکه رطل زیتاً او په الف نون سره لکه په منوان بدرهم او په اضافت سره لکه علی التمرة مثلها زبداً .

**ومعنی تمام الاسم**: وجه دنصب دتمیز مراد په تمام والی داسم سره دادي چی دا اسم به په داسي حال وی چی اضافت به ئی بل شی ته ممکن نه وی او اسم دا مستحیل الاضافة گرځی په تنوین او الف نون او اضافت سره نو دا مشابه وگرځیدو دفعل سره په دغه اشیاء ؤ سره لکه څرنگه چی فعل په فاعل تمامیږي نو دغه رنگه دغه اسم تمام شو

Maktaba Tul Ishaat. com



نو كلام تام وګرځيدو نو څرنګه چې دفعل او فاعل نه وروسته مفعول منصوب راځي دغه رنګه به وروسته ددغه اسم نه تميز راځي منصوب او دغه نصب به ورته دغه اسم تام ورکوي.

**وهذه الاشياء**: دفع داعتراض هغه دا چې لکه څرنګه په دغه اشياءؤ سره اسم تاميږي او بيا ئې اضافت نه کيږي نو په الف لام سره هم اسم تاميږي او بيا ئې اضافت نه کيږي نو دغه مدخول اللام اسم نه دي وروسته اسم منصوب شي او تميز دي شي؟

**جواب**: په الف لام سره اګرچې دغه اسم تام ګرځي اضافت ئې نه کيږي خو دغه نور اشياء په آخر کښې راځي او قايم مقام دفاعل دي او الف لام په اول کښې راځي نو قايم مقام دفاعل نشي ګرځيدلی. **فيرد**: تعين دضمير، دويم دفع دتوهم، اول غرض ضمير راجع دي تميز ته، **وان كان**: دي سره متوهم به دا توهم کولو چې دي مسئله ته چې فيرد به وي، ضرورت نشته ځکه تميز هسي هم مطابق دمميز راځي نو ده ددغه توهم دفع وکړه چې تميز کله جنس وی نو مفرد به ئې راوړي اګرکه مميز تثنيه او جمع وی.

**وهوما يشابه اجزاءه**: اول تعريف دجنس، دويم دليل، دريم توضيح بالمثال، اول غرض: چې اجزاء ئې سره مشابه وی او په قليل او کثير دواړو باندي واقع کيږي. **فلا حاجة**: دي سره دويم خبره دليل ذکر کول دي **كالماء**: توضيح بالمثال کوی، **اى مافوق الواحد**: اول دفع داعتراض، دويم دليل، دريم اعتراض، څلورم جواب: اول غرض: هلکه! انواع جمع ده او کم از کم افراد دجمع دري دي نو معنی دا چې دري نوعی دي مراد وی بيا دغه جنس تثنيه او جمع کوی جواب مراد دانواع نه مافوق الواحد ده، **لانه لا يدل**: دويم خبره دليل دادي چې جنس مفرد بيا په انواعو دلالت نه کوی نو خامخا به ئې تثنيه او جمع کوی، **قيل**: اعتراض هلکه! تا ووئيل چې تميز کله جنس وی نو دا به مفرد وی مګر که قصد وی ستا دانواعو نو بيا به تميز جمع او تثنيه راوړي نو طاب زيدٌ جلستين دنوع دپاره خو صحيح شو نو چې عدد وی نو بيا خو هم دغه تميز جمع کولی شی نو دا تخصيص دي په نوع پوري صحيح ندي؟

**ويمكن**: مراد دانواع نه حصی ددغه جنس دي او حصه بيا برابره ده چې کليه وی او که شخصيه وی چې کليه وی دا نوعه او که شخصيه وی نودا عدد شو. **اى يورد**

Maktaba Tul Ishaat. com



**التميز:** اول معنی دیجمع ، دویم دفع داعتراض، اول غرض : معنی دیجمع داده چې تمیز به جمع راوړي یعنی مافوق الواحد به ئې راوړي.او دویم غرض دفع داعتراض داده چې هلکه چې کله مراد تثنیه وی نو بیا به هم تمیز جمع راوړي. ؟ **جواب:** مراد په جمع سره مافوق الواحد ده

**ای فی غیر الجنس:** اول تعین دضمیر، دویم مثال، اول غرض ضمیر راجع دي جنس ته، دویم غرض لکه عندي عدل ثوباً دا جنس ندي که جنس وی نو تثنیه کیدو او جمع کیدو ته ئې څه ضرورت وو. **ثم ان کان:** یو غرض تعین دضمیر کوی چې دا راجع دي مفرد مقدارته او دویم غرض خبر دکان ئې وښودلو چې تامه دي او کان ناقصه ده، **او المعنی ان وجد:** دي سره دویمه معنی ذکر کوی پدي معنی سره بیا کان تامه دي ځکه ده ترینه تعبیر په وجد سره کړیدي. **لحصول الغرض:** دي سره دلیل وائی چې دي اضافت سره تخفیف هم راځی او غرض هم حاصلیږي چې رفع دابهام ده لکه رطل زیت کښې تنوین او په منوا سمن کښې نون ساقط کړي او دي سره دریم غرض هم وشو.

**والا:** معنی د الاذکر کوی، **فلا:** معنی د لاچې اضافت ندي جائز دویم غرض دلیل، **مثال اما فی الاضافة:** دلیل دادي چې اضافت دمضاف ندي جایز او په نون دجمع سره چې یو اسم تام وی نو دهغه اضافت غیر ممیز ته جائز دي لکه عشریك او عشري رمضان نو که اضافت ئې ممیز ته وشی نو التباسَ راځی دغه ممیز نو لهذا غیر ممیز ته هم اضافت نشی کولی طردا للباب ، لکه په وخت داضافتْ دعشرین رمضان اوس دا معلومات نه کیږي چې دلته مراد شلم درمضان دي او که شل رمضان دي.

**عطف علی قوله:** تعین دمعطوف علیه، دویم متعلق دعن غیر مقدار، دریم بیان دغیر مقدار، اول غرض : عن غیر مقدار عطف دي په عن مفرد مقدار باندي، **یرفعه:** دي سره ئې متعلق دعن غیر مقدار ذکر کړو چې هغه یرفع دي، **ای ما لیس:** غیر مقدار هغه دي چې نه عدد وی نه وزن وی نه کیل او نه ذراع او نه مقیاس وی ، **فان الخاتم:** تطبیق دمثال کوی دممثل سره، **ای خفض التمیز:** دي سره دوه دلائل ذکر کوی اول دا چې حصول دغرض چې رفع دابهام ده سره دخفة نه راځی ، او دا چې دا غیر مقدار طلب دتمیز ډیر نه کوی ځکه اصل په مبهماتو کښې هغه مقادیر دي نو په مقدار

Maktaba Tul Ishaat. com


طلب دتمیز ډیر نه کوی ځکه اصل په مبهماتو. کښی هغه مقادیر دي نو په مقدار کښی تمیز والی ډیر دي دغیر مقدار نه نو نصب به هم پکښی ډیر وی.

**ای القسم الثانی**: تعین دموصوف، دویم بیان دثانی، دریم متعلق دعن نسبته، اول غرض: الثانی صفت دي او القسم ئی موصوف دئي، او دریم غرض ثانی قسم دا هغه دي چی رفع دابهام کوی د ذات مقدره نه، او دریم غرض دعن نسبته متعلق هغه یرفع دي، **کان الظاهر**: دفع داعتراض، هلکه! ملا صاحب تا قسم ثانی دا مقابل دقسم اول چی رفع دابهام وه د ذات مذکوره نه وه ګرځولی دي نو هلته دي ذات مذکوره ووئیلی نو دلته به دي هم ویلی وي چی عن ذات مقدرة فی نسبة الخ .. نو تقابل به صحیح شوي وي؟ **جواب**: ابهام په نسبت کښی دا مستلزم دي ابهام لره د ذات مقدره نه او دلته تقابل د اول قسم سره په ذات کښی ندي بلکه په نسبت کښی دي په قسم اول کښی به رفع دابهام راولی د ذات نه او په قسم ثانی کښی به رفع دابهام زاولی دنسبت نه، **ای نسبة کائنة**: دي سره متعلق دعن نسبة ذکر کوی.

**اوماضاهاها**: معنی دمتن، دویم تعین دمعطوف علیه، دریم مصداق دماضاهاها. اول غرض: معنی دماضاهاها ما شابهها ده، **عطف علی جمله**: دي سره تعین دمعطوف علیه ئی وکړو، **وهواسم الفاعل**: دریم مصداق دماضاهاها اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه اسم تفضیل وغیره دي، **مثال للجملة**: تعین دممثل له کوی چی طاب زیدٌ نفساً دا مثال دجملی دي او غرض پکښی دفع داعتراض ده هغه دا چی توضیح دممثل دپاره مثال واحده کافی وي ؟ **جواب**: ممثلات ډیروو نو مثالونه ئی هم ډیر راوړل.

**مثال لما یشبه الجملة**: تعین دممثل، دویم فرق، دریم دفع دتوهم څلورم توطیه او تمهید دمتن آتی دپاره، اول غرض: زید طیب اباً دا مثال دشبه جمله دي، دویم غرض فرق دمثال دشبه جمله دمثال دجمله سره دادي چی دا احتمال لري چی تمیز شی دپاره دمنتصب عنه پوري . **وحیث لا فرق**: دي سره دفع دتوهم هغه دا چی متوهم ته دا وهم ندي پکار چی جمله کښی تمیز دا خاص وی په منتصب عنه پوري او په شبه جمله کښی احتمال د دواړو لري.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فهذان المثالان**: خلورمه خبره: ګویا دا مخکښې دوه مثالونه په قوة دخلورو مثالونو کښې شول، جمله طاب زید نفسا طاب زیدٌ اباً اول دمنتصب عنه دپاره، او دویم چې احتمال د دواړو لري، دویم شبه جمله، زید طیب نفسا زید طیب اباً **عطف علی نفسا**: تعین دمعطوف علیه، دویم دفع دتوهم، دریم فرق، اول غرض دا ابوه او علما او داراً عطف دي په نفساً باندي، غیر مختص، دویم غرض متوهم به دا ووئیل چې دا متن خاص په شبه جمله پورې نو دهٔ رد دتوهم وکړو چې دا جمله او دشبه جملې دواړو سره لږیږي ګویا د هریوي پنځه مثالونه شو.

**فا لنفس مثلاً**: فرق ذکر کوی بین الامثلة: **وترکه**: دفع داعتراض، هلکه! نفساً خو تمیز دي دا دی ولې پریښودو؟: **جواب**: ځکه دا اظهر التمیزات دي خفاء پکښې نشته دي. **اشارة الى ان التميز**: دفع اعتراض، دویم اختلاف، دریم معنی دمتن، اول غرض، اعتراض هلکه! لله دره فارساً دا مثال دي دلته ولې راوړو؟ **جواب**: دیکښې اشاره ده دیته چې تمیز کله کله صفت مشتقه هم راځي اعتراض من الخارج هلکه! دا خو دمخکښې نه معلومه وه چې او ماضاهاها؟ **جواب**: اکثر جوامد استعمالیږي او اقل مشتقې استعمالیږي نو دقلت استعمال دوجې نه به دا توهم کیده چې کیداي شي مشتقې نه استعمالیږي.

**وایضاً**: دي سره بیان د اختلاف هغه دا چې صاحب دمفصل دا مثال دپاره دتمیز دمفرد راوړي چې ضمیر د (دره) مفرد مبهم شي او فارساً ورلره تمیز وګرځوی نو دهٔ اشاره وکړه چې دا مثال صلاحیت لري چې مثال دپاره دتمیز دنسبت نه وګرځوی نو ضمیر د (دره) به معلوم شي او ابهام به په نسبت د در کښې شي دغه ضمیر ته او فارساً به ورسره تمیز شي. **والدرفى الاصل**: دي سره معنی دلله دره فارساً ذکر کوی. **ثم ان کان**: بیان دضمیر، دویم دفع اعتراض، اول غرض: ضمیر راجع دي تمیز ته، دویم غرض دفع اعتراض هغه دا چې زه به درته وښایم تمیز به صحیح وی او اسم به وی او د منتصب عنه نه تمیز صحیح کیږي نه دمتعلق نه. **والمراد بجعله**: معنی دجعل ذکر کوی دجعل یوه معنی صیرورت او نقل دي لکه جعلت الطین حجراً او بل په معنی داطلاق سره لکه دلته. نو دلته په معنی داطلاق سره دي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**ای للمنتصب عنه**: بیان دضمیر ، دویم معنی دجاز ، اول غرض دله ضمیر راجع دي منتصب عنه ته دویم غرض معنی دجاز داده چي شي رفع کوونکی ابهام لره دده نه، **بان یکون**: معنی دمتن، دویم توضیح بالمثال، اول غرض دا تمیز به رفع دابهام کوی دمتعلق منتصب عنه په حسب دقرائنو سره ، او دویم غرض لکه طاب زیدٌ اباً . **والا**: معنی د الاذکر کوی چيَ که چیرته تمیز دا خاص نه وو په منتصب عنه پوري نو دا به بیا خاص دمتعلق دمنتصب عنه دپاره تمیز وي. **نحو طاب**: مثال لکه طاب زید ابوه وعلما ودارا او دویم غرض تطبیق دمثال دممثل سره ذکر کوی دفان هذه الاسماء سره، **ای فیما جاز**: معنی دفیهما چی مطابق به وي تمیز په هغه صورت کښی چی تمیز وی دمنتصب عنه دپاره برابره خبره ده چی نص وی په منتصب عنه پوري یا د دواړو احتمال لري یا خاص وی په متعلق دمنتصب عنه پوري.

**ما قصد**: بیان دماقصد ، دویم توضیح بالمثال. دریم دلیل د راوړلو دمتن : اول غرض : ما قصد هغه عبارت د وحدت دتمیز نه او تثنیه والی او جمع والی نه، دویم غرض لکه طاب زید اباً وطاب الزیدان ابوین، الخ.. دریم غرض دلیل ئی دادي چی دصیغه دمفرد اطلاق په تثنیه او جمع نه کیږي نو ځکه به تثنیه او جمع راوړي، تمیز. **یقع علي القلیل والکثیر**: معنی دجنس ، دویم دلیل، دریم توضیح بالمثال، اول غرض جنس هغه ته وائی چی په قلیل او کثیر باندي ئی اطلاق کیږي ، دویم غرض دلیل ئی دادي چی تمیز کله جنس وی نو مفرد به ئی ځکه راوړي چی په قلیل او کثیر ئی اطلاق کیږي ، دریم غرض مثال لکه طاب زید علما وطاب الزیدان علما الخ.. **من حیث امتیازاتها النوعیة**: اول معنی دنوع، دویم توضیح بالمثال، دریم دلیل، اول غرض : نوع دیته وائی چی جنس مقید وی په یو ذاتی سره لکه حیوان ناطق، دویم غرض لکه طاب الزیدان علمین وطاب الزیدون علوماً ، دریم غرض دلیل ځکه صیغه دمفرد دا مقید ددغه معنی نده.

**مشتقة او مؤولة**: قسمین دصفت چی صفت یو مشتقه دي اوبل مؤول ، **ای لما انتصب عنه**: اول بیان دضمیر، دویم دلیل، دریم بیان دمثال، اول غرض : لکه کښی ضمیر راجع دي منتصب عنه ته، دویم غرض دلیل دادي چی صفت موصوف غواړي او

Maktaba Tul Ishaat. com



اولی هغه موصوف مذکوره ده لکه طاب زید ولدا دا صفت دي پکار دي چی دا صفت شی دپاره دزید نه د اب مقدره دپاره، او دي سره توضیح بالمثال هم وشوه، **وطبقه**: اول تحقیق لغوی، دویم معنی، دریم مصداق دمطابقت، څلورم دلیل، اول غرض: واو په معنی دمع سره دي او طبق په معنی دمصدر سره، دویم غرض معنی دا چی وی به صفت مطابق دممیز سره او ممیز مطابق دصفت سره، دریم غرض مراد دمطابقت نه هغه اتحاد دي په افراد تثنیه او جمع او تانیث او تذکیر کښی، څلورم غرض دلیل صفت به دممیز سره ځکه مطابق وی چی په صفت کښی ضمیر وی چی راجع وی ممیز ته،

**واحتملت**: اول بیان دضمیر کوی چی راجع دي صفت مذکوره ته، **لاستقامة**: اول بیان د دلیل، دویم توضیح بالمثال، دریم بیان دما هو الراجح، څلورم بل دلیل، اول غرض: احتمال دحال ځکه لری چی حال هم صحیح کیږي لکه طاب زید فارساً ای حال کونه فارساً دي سره توضیح بالمثال هم وشوه، لکن زیادة من دي سره بیان دما هو الراجح کوی هغه داسي چی من اکثر په دي صفت کښی زیاتی کیږي او من دا په تمیزکښی ډیر زیاتیږي نه په حال کښی، **وایضاً**: او همدارنګه دي سره مدحه کوی په فروسیت نه بیان دحال دفروسیت ځکه حال دفروسیت ئی کله بغیر دصفاتو نه بیانوی،

**اذا کان اسما تاما**: اول دفع داعتراض، دویم توضیح بالمثال، دریم دلیل، اول غرض: هلکه! بنا دمتونو په اختصار سره دي داسي به دي ویلی وي چی ولا یتقدم علی عامله والاصح ته وروسته څه ضرورت وو. ؟ **جواب**: د اسم په عدم تقدیم کښی اتفاق دي او په فعل کښی اختلاف دي چی مقدم کوی به ئی او که نه، نو دۀ رد وکړو چی فعل هم نشی مقدم کیدائ، دویم غرض داسي نشی ووئیلی چی عندی درهما عشرون.

**لان عامله**: ځکه په دغه وخت کښی عامل دا جامد وي او ضعیف العمل وی دفعل سره ئی هم مشابهت ضعیف دي **والاصح**: تعین دالف لام کوی چی دا عوض دي مضاف الیه نه، **علی ماهو عامل فیه**: سره دفع دتوهم هغه دا چی په مطلق فعل ئی تقدیم منع ندي بلکه فعل چی په ده کښی عامل وی، **الصریح وغیر الصریح**: اول تعمیم، دویم دلیل، دریم توضیح بالمثال، څلورم دفع اعتراض اول غرض: فعل عام دي صریح وی او که غیر صریح، دویم غرض توضیح بالمثال دفجرنا الارض عیوناً، سره ذکر کوی،

Maktaba Tul Ishaat. com



**وههنا بحث**: خلاصه د (رد) داده چې تاوویل د لازمی نه به متعدي او دمتعدي نه به لازمی جوړ کړي دیته هیڅ ضرورت نشته ځکه فاعل عام دي حقیقتاً وی او که حکماً او دلته ماء دا حکماً فاعل دي ځکه هر کله چې متکلم قصد داسناد وکړو بعض متعلقاتو د اناء ته اګرکه په طریقی دمجاز سره وی نو دغه اسناد کښې ابهام واقع شو نو خافی به رفع دابهام دغه ماءً کوی نو په معنی ددي قول کښې شو چې امتلاء الماء اناءً نو دا ماءً معنی فاعل دي،

**وذالك بعينه**: دفع اعتراض هغه دا چې ته وائې چې په حقیقت کښې تمیز یا فاعل وی او یا مفعول نو ربح زید تجارةً کښې خو تجارة یو هم ندي؟ **جواب**: فاعل عام دي حقیقتاً وی او که حکماً وی او دمخکښې رد نه جواب دادي چې ستا خبره صحیح ده خو مراد زمونږ دفاعل حقیقی نه دي او دا هله جوړېږي چې لازمی نه متعدي جوړ کړي. **خلافا للمازني**: مذهب د دوي ، دویم خبره دلیل. دریم دلیل اخر، څلورم جواب ، پنځم رد ، اول غرض : دوي وائی چې تمیز په خپل عامل صریحي باندي مقدم کولی شي او اسم فاعل او اسم مفعول باندي ، اول دلیل ځکه عامل دا قوی دي په عمل کښې تقدیم دتمیز پري جایز دي، او دویم دلیل شعر دي :

اتهجر سلمی بالفراق حبیبها. وما کاد نفساً بالفراق تطیب.

دلته نفساً دا تمیزدي دتطیب دفعل دضمیر نه او مقدم شوي دي پري **واما علی تقدیر**: څلورم خبره جواب : خلاصه دجواب داده چې یطیب فعل مذکر دي او دکاد ضمیر راجع دي حبیب ته او نفساً رفع ابهام کړي دنسبت کاد حبیب ته نو دا دعامل نه وروسته دي.

**وما قیل**: دي سره پنځم غرض ذکر کوی چې هغه رد په بعضو باندي بعضو وویلي وو چې تطیب همداسي مؤنث دي او ضمیر راجع دي حبیب ته خو په اعتبار دنفس سره نو معنی دا شوه چې وماکادت نفس الحبیب تطیب شارح پري رد وکړو چې دا تکلف دي او هسي ضد دي.

## د مستثنی بیان

اول غرض دفع داعتراض ده، دویم غرض اعراب بیانول دي، دریم دفع اعتراض، اول غرض اعتراض په دوو طریقو سره دي . اوله طریقه داعتراض، هلکه!

Maktaba Tul Ishaat. com



2 اول تعریف پکار وو او تا تقسیم مخکښې کړو؟ **جواب:** مستثنی من وجه معلومه ده هغه دا چې ما يطلق عليه لفظ المستثنى عند النحاة نو ځکه مو تقسیم وکړو، دویمه طریقه دا اعتراض داده چې استثناء په لغت کښې مخرج ته وائی نو تقسیم خو ئې متصل ته الى نفسه راغلو ځکه دا خو پکښې داخله نه وی؟ **جواب:** مراد دمستثنی نه ما يطلق علي لفظ المستثنى عند النحاة دي نه په معنی دمخرج سره،

## د مستثنی اقسام

**على قسمين:** دي سره اعراب ذکر کوی چې المستثنى مبتدا او على قسمين ئې خبر یا مبتدا منه ده او المستثنى ئې خبر دي او یا عکس ددي اویا مستثنی خبر دي په اعتبار دمضاف محذوفه سره چې هذا بحث المستثنى ، **ولما كان معلوميته:** دریم غرض دفع دا اعتراض هغه دا چې هلکه! چې ما يطلق عليه لفظ المستثنى سره تعریف وو خو ذکر کړي به دي وی؟ **جواب:** ما يطلق عليه لفظ المستثنى سره تعریف من وجه راتلو او تعریف من وجه دتقسیم نه هم معلومیدو نو که مونږ ذکر کړي وی نو بیا به تکرار لازم کیدو او تعریف حقیقی دمستثنی نه کیده ځکه دمتصل او دمنقطع ځانته ځانته احکام دي.

**اى الاسم الذى اخرج:** تعين دالف لام کوی دالمخرج واحترز به سره فائده ذکر کوی دالمخرج دقید ، **عن حكم شئى متعدد:** تعين دموصوف ئې وکړو شارح چې متعدد صفت دي او حکم شئی دا ورلره موصوف دي. **جزئياته:** سره قسمين دمتعدد او غرض پکښې دفع دا اعتراض جزئیات، اجزاء اعتراض هلکه! تا دمتصل تعریف وکړو چې مخرج وی دمتعدد نه زه به درته وښایم استثناء متصله به وی او مخرج به دمتعدد نه نه وی لکه اشتريت العبد الانصفه عبد خو متعدد ندي ؟ **جواب:** متعدد عام دي که متعدد وی په اعتبار داجزاء سره لکه اشتريت العبد الانصفه او که په اعتبار دجزئیاتو سره وی لکه جاءنى القوم الازيدا .

**سواء كان:** يو غرض وجه دنصب دلفظاً :دویم دفع دا اعتراض، دریم مثال . اول غرض لفظاً دا منصوب دي ځکه دا خبر دي دپاره د كان، دويم غرض : هلکه ! دا صرف مصدر دي حمل ئې په اسم د کان نه صحیح کیږي ځکه اسم د کان ذات مع الوصف وی؟

Maktaba Tul Ishaat. com



**جواب:** لفظاً نه مراد ملفوظاً دي او ملفوظا صيغه داسم مفعول ده ذات مع الوصف دي.
دريم غرض مثال ذكه جاءني انفوم الازيداً **او تقديراً اى مقدرا:** يو غرض هغه اعتراض چې كوم په لفظ وارد شوي او جواب هم حاصل دا چې تقديراً خو مصدر دي صرف وصف دي لهذا حمل دوصف راځي په ذات او دا جائز ندي ځكه چې دا مستلزم ګرځي اجتماع دنقيضينو لره ځكه حمل معنى ده اتحاد المتغايرين ذهنا في الخارج او پيښه داده چې خارج كښې مونږ دا فرض كړي وى چې دا ذات جدا شئى دي او دا وصف جدا شئى دي او اوس ئى مونږ يو شئى ګرځوو نو دا اجتماع دنقيضينو ده او اجتماع دنقيضينو په حقيقت كښې ارتفاع دنقيضينو ده او دا محاله ده بس دى وجې نه شارح دتقديراً معنى په مقدراً سره وكړه پس حمل د ذات مع الوصف په ذات راغلى او دا جائز دي. دويم نمبر توضيح بالمثال : **بالا:** سره دفع داعتراض هلكه زه به درته وښايم مخرج به وى متعدد لفظا نه پس د الانه به وى او ځوك به ورته مستثنى نه وائى لكه (لا اله الاالله) **جواب:** مراد د الانه غير صفتى دي او دلته خو صفتى دي په معنى دغير سره دي. **واحترزبه** سره فايده ذكر كوى دويم رد كوى : اول غرض غير مخرج سره احتراز راغى دمتصل دجزئياتو نه ځكه هغه مخرج وى دمتعدد نه.

**فالمستثنى:** دا رد كوى په بعضو باندي بعضى وائى چې مستثنى متصله دا هغه ده چې دجنس دماقبل نه وى او منقطع چې دجنس دماقبل نه ، نه وى شارح وائى چې متصله هغه ده چې ستا په ذهن كښې داخله وى په ماقبل د الا كښې برابره خبره ده چې دجنس دماقبل نه وى او كه نه او منقطعه هغه ددي عكس دي. **وهواى المستثنى مطلقا:** دفع اعتراض. دويم هم دفع اعتراض : اول غرض هلكه ! هو ضمير ته وائى چې مستثنى مطلقي ته راجع دي نو داخو مخكښى نده ذكر؟ **جواب:** مستثنى مطلقه خو من وجه معلومه ده چې مايطلق عليه الخ ... او من وجه دتقسيم نه معلومه ده. **ولهذا لم يعرفه:** دويم اعتراض : هلكه ! چې معلومه وه عند النحاة نو تعريف به دي همدا ذكر كړي وى؟ **جواب:** دپاره دقصد داختصار مو ذكر نه كړه
**اذا كان واقعاً:** دي سره ئى خبر د كان وښوده چې واقعاً دي **لا بعد غير:** دي سره فائده دبعد الا ذكر كوى **قيد به:** دي سره فائده غير الصفة ذكر كوى او غرض پكښى دفع

Maktaba Tul Ishaat. com



داعتراض ده هلکه ! مخکښې دي هم ووئيلي وو چې غير الصفة دلته ئې ويلو ته څه ضرورت نه وو ؟ **جواب**: دا دپاره دزيات وضاحت ، **فى كلام موجب**: اول تعريف دکلام موجب ، دويم توضيح بالمثال، دريم فائده، څلورم رد په شارح هندي، پنځم عامل په مستثنى کښې ، شپږم وجه دنصب : اول غرض: چې نفى نهى استفهام نه وى دا کلام موجب دي دويم غرض لکه جاءنى القوم الازيد ، دويم غرض واحترز به سره چې کلام غير موجب واجب النصب ندي،

**ولا حاجة**: څلورم : رد په شارح هندي، دلته يو اعتراض وارد شوي دي هغه دا چې زه به درته وښايم چې کلام به موجب وى او پس د الانه به وي او صفتي به هم نه وى او منصوب به بناء بزاستثناء نه وى بلکه بناء برظرفيت به وي لکه قرات الى يوم کذا نو شارح هندي ترينه جواب دا کړي چې دا به په کلام تام کښې وي او قرات الى يوم کذا خو کلام تام ندي ، نو شارح رد پري وکړو چې مراد زمونږ مطلق منصوب دي چې پس د الا نه وى برابره خبره ده چې د الادوجه نه منصوب او که دظرفيت دوجه نه، خو دومره ده چې دشارح هندي جواب سره به قري الا يوم کذا ووځى ځکه دلته پس د الاپه کلام موجب کښې دي خو منصوب ندي بلکه مرفوع دي نو دا کلام تام ندي.

## بيان د عامل د مستثنى

**والعامل**: عامل په مستثنى کښې هغه فعل مقدم دي يا معنى دفعل ده په واسطه د الاسره په نزد دبصريانو **وقد جاء بعد اتمام الفعل**: وجه دنصب ئې داده چې مستثنى پس دتماميدو دفعل نه راځى لکه دمفعول پشان نو مفعول منصوب وي دا به هم منصوب وى **اومقدماً**: تعين دمعطوف عليه کوى **سواء**: تعميم، دويم توضيح بالمثال ، دريم دليل ذکر کول دي. اول غرض : دا مقدمه مستثنى برابره خبره ده چې په کلام موجب کښې وي لکه چې جاءنى القوم الازيد او که په کلام غير موجب کښې وي لکه ما جاءنى القوم الازيد

**لامتناع**: سره ذکر کوى چې دغه مستثنى مقدمه که منصوب نشى او مرفوع شى نو بيا به بدل شى او بدل خو په مبدل منه نه شى مقدم کيدى نو دا به ضرور مستثنى وي نو منصوب به وي **اومنقطعاً**: تعين دمعطوف عليه : دويم توضيح

Maktaba Tul Ishaat. com



بالمثال ، **فى الاكثر**: تعين دالف لام دويم اختلاف ، دريم توضيح بالمثال ، اول غرض : الف لام دا عوض دي مضاف اليه نه، **فان اكثرهم**: دويم غرض اختلاف، حجازين وائى چى مستثنى منقطع مطلقا منصوب ده ځكه دوي وائى چى دبدل الغلط تصور پديكښى بالكل نه كيږي ځكه چى بدل الغلط په طريقى دسهوى سره صادريږي او مستثنى منقطعه په دوه قسمه ده يو هغه چى دومخكښى اسم حذف ترينه صحيح كيږي لكه جاءنى القوم الاحماراً دي كښى دوي وائى چى بدل دلته جايز دي نو داسي به وائى چى جاءنى القوم الاحمار او دويم هغه چى دمخكښى اسم حذف جايز نه وي لكه دا قول د الله ﷻ چى (لاعاصم اليوم من امر الله الامن رحم) نو دلته من رحم دا مرحوم معصوم ته وائى نو دا په عاصم كښى ندي داخل، او ددي سره توضيح بالمثال هم وشوه .

## يوه اهمه قاعده

**او كان بعد خلا وعدا**: تعين دمعطوف عليه، دويم معنى لغوى دخلا او عدا، دريم توضيح بالمثال، ځلورم قاعده كليه. پنځم ، تركيب ، شپږم دفع داعتراض ، اول غرض : بعد خلا او عدا عطف دي په او كان باندي نو دمنصوب لاندي راغلو ، من عدا يعدو ، دي سره دويم غرض معنى لغوى ذكر كوى جاءنى القوم عدا زيد ، دريم غرض توضيح بالمثال كوى، وهو فى الاصل لازم، ځلورم قاعده داده چى خلا په اصل كښى لازمى دي متعدي كيږي مفعول ته په واسطه د من سره لكه خلت الديار من لانيس او كله كله خلا متضمن وى معنى دجاوز لره نودجاوز په صله كښى من نه راځى متعدى بنفسه دي نو د خلا په صله كښى به هم من نه راځى متعدي به وى بنفسه ، او يا دغه من حذف كيږي او مابعدد من وصل كيږي دفعل سره نو بيا هم متعدي بنفسه ګرځى او ددي مثال په قرآن كريم هم شته لكه (واختار موسى قومه) اصل كښى من قومه وو.

**وفاعلهما ضمير راجع**: پنځم غرض تركيب هلكه! خلا وعدا كښى ضمائر چاته راجع دي ؟ **جواب**: ضمائر يا راجع دي مصدر دفعل مقدم ته تقدير داسي دي چى جاءنى القوم خلا او عدا مجئهم زيدا ، او يا ضماير راجع دي اسم فاعل ددغه فعل ته نو تقدير داسي دي چى جاءنى القوم خلا او عدا الجائى منهم زيدا . او يا ضمير راجع دي بعض مطلق دمستثنى منه ته نو تقدير به داسي شى چى جاءنى القوم خلا اوعدا بعض منهم

Maktaba Tul Ishaat. com



زیدا **ولم یظهر معهما قد**: دفع اعتراض هغه دا چې خلا او عدا ماضی ده او حال واقع شوي پکار ده چې قد پکښې ذکر شي؟ **جواب**: دپاره ددې چې مشابهت ددوي د الاسره راشي، **فی الاکثر**: تعین دالف لام، دویم دلیل، دریم قول آخر، څلورم تایید ددې قول، اول غرض: الف لام دا عوض دی مضاف الیه نه چې تقدیر ئی داسې کیږي فی اکثر الاستعمالات. او دویم غرض دا چې دا دواړه افعال ماضیه دي نو ضمایر پکښې فاعل او مابعد لره مفعول شو، دریم غرض وو قد اجیز الجر بهما: سره ذکر کوی څکه دا حروف جاره دي او مابعد به ترینه مجرور وي، او څلورم غرض صیرفی وایی چې په جواز دجر کښې هیڅ خلاف نشته

**او بعد ما خلا او ما عدا**: تعین دمعطوف علیه، دویم دلیل، اول غرض: دا هم عطف دي په اذا کان باندې نو دمنصوب لاندې راغلو. **لان ما فیهما مصدریة**: څکه چې ما پدې کښې مصدریه دي او دا مختص دي په افعالو کښې لکه جاءنی القوم ماخلا زیداً ، **وعن الاخفش**: دي سره قول آخر ذکر کوی اخفش وایی چې دا ما زائده ده او خلا او عدا حروف جاره دي او مابعد به ترینه مجرور وی، **ولعل هذا لم یثبت**: دفع داعتراض هغه دا چې دخلا او عدا سره دفی الاکثر قید ولږولو او دما خلا او ماعدا سره مو نه لګولو ددې لپاره څه وجه ده؟ **جواب**: یو جواب دادې چې مصنف ته معلومه نه وه او بل جواب دادی چې مصنف ورته اعتبار نه دې ورکړي.

**نحوسیجئ**: اول بیان دمثال، دویم دلیل، دریم بیان یوې قاعدې، اول غرض: مثال لکه سیجئنی اهلك لایکون بشراً دویم غرض دلیل او لایکون څخه مابعد به منصوب وی څکه چې دا افعال ناقصه دي او ضمایر به پکښې اسماء د دوي شي او مابعد به ترینه خبر شي او خبر ددوي څو منصوب وي. **واعلم**: قاعده داده چې لیس او لایکون نه مستعملیږي مګر په مستثنی متصله غیر مفرغ کښې او بل دا چې تصرف به پکښې نه کیږي یعنی تثنیه او جمع کیږي به نه.

**حال من الضمیر المجرور**: اعراب دفیما بعد الا ذکر کوی، دویم فائده دقید اول غرض: فیما بعد الا دا حال دضمیر دفیه نه، دویم غرض دي فیما بعد الاسره احتراز راغی دهغه مستثنی نه چې پس دنورو ادواتو داستثناء نه وی چې خلا او عدا دي

Maktaba Tul Ishaat. com



**وقدذکر**: شارح قید د ذوالحال رایستلو دي سره اشاره کوی چی واو حالیه دي. **احتراز عما**: فائده دقید، دویم دلیل، دریم تعدد دنسخو، څلورم دفع اعتراض، اول غرض: فائده داده که مستثنی منه مذکوره نه وه نو بیا به ئی اعراب علی حسب العوامل وی، دویم غرض هم دفانه سره وشو. دریم غرض، بعضو نسخو کښې قد ذکر بغیر د واو نه ذکر کړي نو پدي وخت کښې به دا صفت شی دپاره دکلام غیر موجب تقدیر به داسي شی چی فی کلام غیر موجب قد ذکر المستثنی منه.

**ولم یشترط**: دفع اعتراض، **اعتراض**: دادي چی مستثنی پس د الانه وی او کلام موجب نه وی نو اختیار دبدلیت دي نو که مستثنی منقطعه وی نو هم اختیار دبدلیت نشته نو دا قید به دي لړولی وی چی ان لا یکون منقطعاً: ؟ **جواب**: د استثناء منقطعه بیان او دمقدم علی المستثنی منه بیان مخکښې شوي دي،

**ونحو ما مررت باحد الا زید**: اول خبره دا چی دي سره مزید امثله بیانوی لپاره دزیادت وضاحت. دویم دلیل، اول غرض: پدي مثال کښې زید مجرور ویلی شی بناء بر بدلیت او منصوب ویلی شی بناء بر استثنائیت. **وانما اختاروا البدل**: دلیل ذکر کوی، دلته پدي صورتونو کښې بدل ځکه غوره دي چی دبدل اعراب اصالة او بغیر دواسطی نه دي او استثناء جائز ده غوره نده ځکه چی اعراب دمستثنی د وجه دمشابهت دمفعول نه ده او په واسطی د الاسره ده، **ویعرب**: تعین دضمیر کوی چی راجع دي مستثنی ته، **ای ما یقتضیه**: معنی دحسب ذکر کوی چی څرنګه عامل تقاضا کوی.

## مستثنی مفرغه څه ته وائی

**ویختص ذالک**: ددي مستثنی اسم، دویم دفع داعتراض، اول غرض: دي مستثنی ته مفرغه وائی، دویم غرض هلکه مفرغ صیغه داسم مفعول ده په معنی دفارغ شده سره نو فارغ شده خو عامل وی نه مستثنی ؟ **جواب**: ذکر دمفرغ مراد ترینه مفرغ له چی مستثنی ده **وهو**: یو غرض دا چی واو حالیه دی اوفی غیر موجب متعلق دي د واقع پوري: **اذ یصح**: دي سره دلیل دیفید دپاره ذکر کوی. **بان یکون الحکم**: دي سره معنی دیستقیم ذکر کوی، دویم توضیح بالمثال، اول غرض استقامت دمعنی یا په طریقی دعموم سره صحیح کیږي لکه کل حیوان یحرك فکه الاسفل عند المضغ

Maktaba Tul Ishaat. com



الاالتمساح ، او یا به دا استقامت او صحت دمعنی په طریقی دبعضیت سره وی لکه قرات الایوم کذا او دي سره توضیح بالمثال چی کوم دویم غرض وو هم وشو.

**ولقائل**: اول اعتراض : دویم هم اعتراض : دریم دهغی جواب : اول غرض : هلکه ! که مستثنی منه عامه کړي نو په کلام موجب کښې په بعضی صورتونو کښې معنی نه صحیح کیږي لکه ضربنی الازید" همدا رنګه په کلام غیر موجب کښی په بعضی صورتونو کښې هم معنی نه صحیح کیږي لکه ما مات الازید نو پکار ده چی په کلام غیر موجب کښی دي هم استقامت دمعنی قید لګولی وی؟ دویم غرض اعتراض : هلکه ! لکه څرنګه چی په قرات الایوما کذا کښی استقامت دمعنی کیده دارنګی په ضربنی الازید کښی دضرب نسبت یو خاص جماعت ته وکړه نو معنی به صحیح شی؟

**جواب**: مونږ غالب ته کتلی دي غالب په کلام غیر موجب کښی استقامت دمعنی دي نو څکه مو قید د الایستقیم المعنی ونه لګولو او غالب په کلام موجب کښی هغه دادي چی استقامت دمعنی نه وی نو څکه مو قید د الاان یستقیم المعنی ولګولو او بل دا چی قرات الایوم کذا دا پشان دضربنی الازید ندي څکه چی په اولنی مثال کښی قرینه داله شته په بعض معین دمستثنی منه باندي چی دمستثنی دخول پکښی یقینی دي او په ضربنی الازید کښی قرینه داله نشته.

**ومن ثم**: دي نه وروسته تعین دمشار الیه کوی. **اذ معنی ما زال**: معنی دمازال. دویم تطبیق دمثال دممثل سره، دریم رد په شارح رضی. اول غرض : معنی دمازال ثبت ده څکه نفی چی په نفی داخله شی اثبات پیدا کوی. دویم غرض **فیکون المعنی**: معنی دا شوه چی زید په ټولو صفاتو متصف دي مګر په علم سره نه. **ولا یخفی**: دي سره رد ذکر کوی په شارح رضی. دۀ ویلی دي چی دا ترکیب صحیح دي څکه زید دمتصف شی په داسي صفاتو چی په خپل مینځ کښی سره متضاد نه وی سواء دعلم نه، او یادا چی دا مبالغه ویل شوي لکه یو سړي وائی چی ممکنه ده چی ده.کښی ټول صفات وی سوي دعلم نه، نو شارح پري رد وکړو چی د داسي تاویلانو رجع بیا ټولو کلام موجبه وو ته کیږي چی معنی دي صحیح شی.

**واذا تعذر البدل علی اللفظ**: من حیث جملة سره شارح اشاره وکړه چی علی اللفظ

Maktaba Tul Ishaat. com



دا متعلق په جمله پوري او په اللفظ کښې الف لام عوض دي مضاف اليه نه چې مستثنى منه ده، ماتن وائی چې کله دبدل په لفظ دمستثنى منه متعذر وو نو حمل به ئی په موضوع دمستثنى منه کوی څکه عمل په مختار باندي کول پکار وی څومره چې ممکن وی، شارح ماتن دري مثاله په کتاب کښې ذکر کړل څه خاص خبره پکښې نشته. **ای لا يعتد به**: اول معنى د لا يعباء ، دويم تطبيق ، دريم تعدد نسخو. څلورم دفع اعتراض ، پنځم جواب ، شپږم توطيه او تمهدي متن اتی ته، اول غرض : معنی دلا يعباء لا يعتبر ده چې معتبر ندي ، **فشئ مرفوع**: دي سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی، **وقوله لا يعباء به**: دي سره تعدد دنسخو ذکر کوی چې په بعضو نسخو کښې لا يعباء به نشته اوپه کومو کښې چې شته نو دا صفت دپاره دشئ دي کوم چې مستثنى واقع شوي دي،

**قيل**: هلکه ! بناء دمتونو په اختصار سره وی دا به دي نه ذکر کولی؟ **جواب**: دپاره ددي چې لازم نشی استثناء دشی دخپل نفس نه. **خلاصه**: دجواب داده چې دلته که يعباء به را نه وړي نو هم استثناء دشی دخپل نفس نه نه راځی هغه داسي چې مستثنى منه عامه ده که شی وي او که نه وی او مستثنى خاص دي يعنى شئى به وي **وانما تعذر البدل**: سره توطيه او تمهيد ذکر کوی متن اتی ته، **ای بعد ما صار الکلام**: اتمام د دليل کوی، دويم تتميم دمافات دماتن، اول غرض : اتمام د دليل دادي چې (من) دا نه زياتی کيږي مګر په کلام منفي کښې اوس که مونږ دلته بدل حمل کړو په لفظ دمستثنى منه نو نفي به منتقضه شي په الا سره نو کلام به مثبت شی او په کلام مثبت کښې (من) نه زياتيږي او داسي نشی ويلی چې جاءنی مَن زيد ،

**وفی الصورتين الاخيرتين**: دويم تتميم دمافات دماتن کوی هغه دا چې په آخرنيو دوه مثالونو کښې بدل نشی حمل کولی په لفظ دمستثنى منه باندي څکه فتحه دبدل به دوجې ما ولا نه شي نو تقدير دما او لا به کوی حقيقتاً يا حکماً چې عمل وکړي په بدل کښې **وما ولا ، لا تقدران**: قسمين دلا تقدران ذکر کوی چې نه ئی حقيقت او نه ئی حکماً مقدر کولی حقيقةً دا چې تکرار دعامل وی بدل سره او حکماً دا معنى چې اکتفاء وکړي په دخول دعامل په مبدل منه او حکم سرايت وکړي بدل ته نو دا به داسي

Maktaba Tul Ishaat. com



عامل وګرځوی او داسې خو عامل نه ګرځي ځکه ما او لا راځي دپاره دنفی او نفی ئې په الا سره منتقضه شویده،

**وحیث تعذر:** اتمام د دلیل ، دویم اعتراض، دریم جواب ، اول غرض وحیث تعذر سره اتمام د دلیل ذکر کوی کتاب کښې مکمل ذکر دي، **فان دخلت:** اعتراض هلکه ! د حد دپاره دوه محله دي یو محل قریب چې هغه نصب دي د کلمه د لا دوجې نه او بل محل بعید دي چې هغه رفع ده بنابر ابتدائیت ، نو تاسو ولې محل بعید معتبر کړي ؟ **جواب:** خلاصه دا چې محل قریب کښې عمل لا کړي دي چې په معنی دنفی سره ده او دغه نفی په وروسته الا سره منتقضه شویده په خلاف دحل بعید ځکه هغی لا ځه دخل ندي کړي.

**بخلاف لیس زید شیئًا:** دي سره دفع اعتراض کوی هغه دا چې دلته کلام غیر موجب دي او سره ددینه بدل حمل دي په لفظ دمستثنی منه باندي؟ **جواب:** دلته نصب دشیاء دنفی دوجې نه ندي راغلی بلکه دوجې دفعلیت دلیس نه راغلی دي او خبر دي دپاره دلیس . **ومن ثم:** سره تفریعات ذکر کوی په مخکښې قاعده باندي، **ومخفض ای مجرور:** دي سره تعریف دغیر مشهور کوی په مشهور سره، **مع کسر السین وضمها:** دي سره قسمین دسوي ذکر کوی **وسواء:** یو غرض قسمین د سوي او دویم غرض لکونه مضاف الیه سره دلیل، **ویعد حاشا:** اول دلیل ، دویم قول اخر، دریم توضیح بالمثال: اول غرض ، پس دحاشا نه به ځکه مجرور وی چې دا حرف جر دي په اکثر استعمالاتو کښې **واجاز بعضهم:** بعضو نصب جایز کړي وائی چې دا فعل متعدي دي، او ضمیر پکښې فاعل دي او مابعد ئې په منزله دمفعول دي لکه ضرب القوم عمرواً حاشا زید،

**واعراب غیر فیه:** اول تعین دضمیر ، دویم فائده، دریم دفع اعتراض، اول غرض اعراب د (غیر) په استثناء کښې نه په صفت کښې دویم غرض ځکه که غیر صفتي وی نو بیا به ئې اعراب دموصوف مطابق وی، **فکانه لما الخبر به:** دفع داعتراض، هلکه ! (غیر) د (الا) پشان شو په (الا) خو اعراب نه جاري کیږي او په غیر جاري کیږي ؟ **جواب:** غیر که مضاف وی او مابعد ترینه مضاف الیه وی نو مضاف الیه کښې خو غیر عمل کړي بړئی ورکړي اوس چې استثناء عمل کوی نو په غیر کښې به اثر جاري کیږي

Maktaba Tul Ishaat. com



**وغيرٌ اى كلمه**: شارح وائي چې مراد لغوي غير ندي بلكه كلمه دغير مراد ده **صفة**: دليل ، غير صفتي څكه دي چې په ذات مبهمه باندي دلالت كوي څكه چې په دي كښې معنى دمغايرت پرته ده اصل په غير كښې دادي چې صفتي واقع شي لكه جاءنى رجل غير زيد خو كله كله حمل كيږي په الا باندي او استعماليږي په استثناء كښې . **وذالك الاشتراك**: دليل غير څكه كله د الا په معنى سره استعماليږي چې دا دواړه مشترك دي په مغايرة دمابعد كښې دماقبل خپل نه. **اى واقعة بعد متعدد**: معنى دمتن ، دويم يو قيد ، دريم توضيح بالمثال، څلورم تعميم، اول غرض : تابعة لجمع دا معنى چې واقع به وي پس دمتعدد نه. **فوجب ان يكون**: سره دويم غرض ضروري ده چې موصوف دغير به مذكور وي مقدر دريم غرض جاءنى رجالٌ غير زيد. **والمتعدد**: متعدد عام دي لفظاً وي لكه رجال او كه تقديرا وي لكه قوم او بيا تثنيه وي لكه جاءنى رجلان غير زيد ،

**منكور**: معنى دمتن ، دويم دليل، اول غرض : منكور دا معنى چې معرف باللام به نه وي، دويم غرض دليل ، كه معرف باللام چې شي نو يا به الف لام استغراقي وي نو دي كښې خو ټول افراد مراد وي نو استثناء متصله ترينه جوړيږي او كه الف لام عهدي شي نو كيدايي شي چې معهود پدي سره داسي يو جماعت وي چې هغه كښې زيد نه وي نو استثناء منقطعه به ترينه جوړه شي، **والمحصور نوعان**: قسمين دمحصور، دويم دليل ، دريم توضيح بالمثال ، څلورم توطيه او تمهيد : اول غرض : محصور يو هغه جنس مستغرق دي ټولو افرادو لره لكه رجال او يا به بعض ددغه جنس معلوم العدد وي لكه (له على عشرة دراهم) **وانما اشترط**: دليل ، كه چيرته محصور وو په يو ددغه دوو قسمينو سره نو بيا خو مابعد د الا په ماقبل د الا كښې داخليږي نو بيا خو مستثنى ترينه جوړيږي او دي سره توضيح بالمثال چې كوم دريم غرض وو هم وشو.

**وانما يصار**: توطيه او تمهيد ذكر كوي ، **وعند وجودها**: اتمام د دليل، دويم بيان ديو فائدي، دريم دفع اعتراض، اول غرض: صيرورت به كولى شي په وخت دوجود دشرائط مذكوره وو كښې حمل كولو د الا نه په غير باندي دوجې دتعدد داستثناء ، **او انما قلنا**: فائده دقيد دغالباً داده چې تعدد داستثناء په كلام محصوره

Maktaba Tul Ishaat. com



کښې هم کله کله راځي لکه جاءني مائة رجل الازيد ، او کله کله تعذر دا استثناء په کلام غير محصور کښې هم نه راځي لکه جاءني رجال الاواحد ، **ولكن كان**: دفع اعتراض : هغه دا چې هر کله دا خبره داسي شوه نودا قاعده خو غلطه شوه نو غالباً قيد دي بيا ولي لږولو ؟ **جواب**: دا خبره چې کومه مونږه وکړه دا نادر او شاذ وه نو ځکه ورته مصنف توجه ونه کړه: **جمع اله**: تطبيق دمثال دممثل سره ، دويم دفع اعتراض، دفع د اعتراض داده چې هلکه ته مثال دغير محصور ذکر کوی او الهة خو محصوري دي؟ **جواب**: الهه جمع داله دي او دا دلالت په عدد محصور نه کوی. **اى لخرجنا**: معنى دلفسدتا : دويم تطبيق دمثال، دريم دليل اخر، اول غرض لفسدتا معنى ده لخرجتا عن الانتظام . **فا الاصفة**: دويم دي سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی، **وفى الاية مانع آخر**: دي سره دليل آخر ذکر کوی دپاره ددي چې حمل د الاپه استثناء سره نه صحيح کيږي . **وضعف**: تعين دضمير کوی چې ضعيف دي حمل د الاپه غير، **اى فى غير جمع**: اول بيان دضمير، دويم دليل، دريم اختلاف ، ځلورم دليل دوخالف ، پنځم جواب : اول غرض، فى غيره کښې ضمير راجع دي غير دجمع منکور غير محصور ته دويم غرض دليل ئې دادي چې حمل د الا غير ځکه نشي کولی چې استثناء صحيح ده **ومذهب سيبويه**: اختلاف، سيبويه وائي چې سره دصحت داستثناء نه جائز ده چې الاصفتي واقع شي لکه ما اتاني احد الازيد ، الابه صفتي شي معنى به داسي شي چې ماته تول راغلي وو او زيد وو راغلی .

**تمسکا بقوله**: دليل دمخالف ذکر کوی تشريح په کتاب کښې شته حمل المصنف ذالك، دي سره جواب ذکر کوی چې استاذي دي . **وهو مذهب**: تعين دمذهب، دويم دليل، دريم قول آخر، ځلورم دليل د دوي، پنځم قول اخر، اول غرض : مذهب دسيبويه دي، **فهما عنده**: دا دليل د دوي دي چې دا لازم الظرف دي، **وعندالكوفيين**: قول اخر. کوفيانو دا سواء او سواء دا ظرفيت نه وباسي او تصرف پکښې کوی په حسب دعامل سره **متمسکين**: دا دليل دکوفيانو دي. **وزعم الاخفش**: دا قول اخر دي د اخفش دي ، دي وائي چې کوفيان دا ظرفيت نه ويستلی دي خو منصوب ئې وائي او رفع پکښې مکروه ګنړ.

Maktaba Tul Ishaat. com



## بیان د خبر اِنّ وَاَخَوَاتها

**هو المسند بعد دخولها ای دخول کان الخ..** دفع اعتراض، دویم معنی دبعدیت، دریم دفع اعتراض، څلورم جواب:اول غرض : اعتراض : هغه دا چی ته وائی خبر د کان به مسند وی پس د دخول د کان او داخواتو ددینه ددي مثال خو چیرته نشته دي؟ **جواب:** دلته مراد دا ندي چی خبر د کان به مسند وی خو هله چی کان او اخوات پري ټول داخل شی بلکه مراد دادي چی یا کان پري داخل شی یا یو د اخوات د کان پري داخل شی نو هله به خبر د کان مسند وی.

**والمراد:** دي سره معنی دبعدیت ذکر کوی، **ولا شك:** دریم خبره : دفع اعتراض :هغه دا چی هلکه ! پدي ترکیب کښی چی کان زید یضرب ابوه په یضرب باندي معرف صادقیږي چی مسند دي او معرف دي پري نه صادقیږي ځکه ځانته یضرب ته څوك خبر نه وائی بلکه یضرب ابوه ټولی جملی ته خبر وائی . ؟ **جواب:** مونږ چی ویلی وو چی خبر د کان به مسند به وی خو هغه پس د دخول د کان نه او دلته یضرب ابوه مسند وی مخکښی د دخول د کان نه.

**ویمکن ان یقال:** جواب آخر هغه دا چی مراد دخول د کان نه هغه ایراث داثر دي را پیدا کول داثر دي او کان پدي ټول یضرب ابوه کښی اثر کړي دي نو ځکه دغه ټولی مجموعه دجمله فعلیه ته خبر وائی دپاره د کان ، **وامره امر خبر کان واخواتها:** مراد دامر نه حکم دي : اول تعمیم ، دویم دلیل، دریم توضیح بالمثال. څلورم تتمیم دمافات دماتن کوی، اول غرض : حقیقة او حکماً سره ذکر کوی چی حقیقت کښی معرفه وی او که حکماً معرفه وی : **لاختلاف اسمها وخبرها:**. دویم خبره : دي سره دلیل ذکر کوی،

**نحو کان المنطلق:** توضیح بالمثال کوی ددي سره. **کذا انتفی الاعراب** , تتمیم دمافات دماتن کوی هغه دا چی کله اعراب منفی وی په اسم او خبر د کان کښی او بله څه قرینه هم نه وی نو تقدیم دخبر په اسم د کان جایز ندي لکه کان الفتی هذا . **وقد یحذف عامله:** اول بیان دضمیر دعامله ، دویم بیان دفائدي، دریم دلیل ، اول غرض : دعامله ضمیر خبر د کان ته راجع دي، دویم فائده ئی داده چی نه عامل خبر د کان چی پخپله دا خبر کان دی نشی حذف کولی، دریم دلیل، او خاص کان ځکه حذف کولی

Maktaba Tul Ishaat. com



شی لکثرۃ استعمالها. **ای فی مثال هذه الصورۃ:** اول قاعده کلیه ذکر کوی هغه دا چې مراد دمثل نه دادي چې پس د (ان) نه اسم راشي او بیا ثم او بیا دهغی نه وروسته اسم راشي. اربعة اوجه: دي سره بیان دخلورو وجوهو کوی. **وقوۃ هذه الوجوه:** دي سره بیان دیوي فائدي کوی هغه دا چې قوت اوضعف دذي څلورو وجوهو دا په قلت او کثرت دحذف سره دي. **فاصل اما انت:** اول تطبیق دمثال دممثل سره، دویم تعدد دنسخو، دریم دفع اعتراض، اول غرض: فاصل اما انت سره اول غرض ذکر کوی تفصیلاً په کتاب کښې ذکر دي، **وهذا علی تقدیر:** مذکوره اعلال په تقدیر دفتح د (اما) سره وو او که دا مکسور شي نو بیا په ان کنت کښې لام ته ضرورت نشته دي.

**واقتصر المصنف:** دفع داعتراض: هغه دا چې هر کله چې پکښې تقدیر دکسري وو خو دا به دي هم ذکر کړي وی؟ **جواب:** مصنف په مشهور سره اکتفاء وکړه کوم چې اولنی اصل وو **وبما عرفت من معنی العبدیه:** دي سره هم هغه دفع داعتراض ده کومه چې په یضرب ابوه باندي وه، **ای لنفی صفة الجنس:** دفع اعتراض، دویم هم دفع اعتراض، دریم جواب: اول غرض: هلکه ته وائی لالنفی الجنس او مثال دي زاوړي لا غلام رجل ظریف فیها دلته خو نفی دصفت راغلی چې ظریف دي نه دجنس؟ **جواب:** مراد دجنس نه صفت دي.

**وانما لم یقل اسم:** دفع داعتراض هغه دا چې بناء دمتونو په اختصار سره وی داسي به دي ویلی وو چې اسم لا التی لنفی الجنس **جواب:** مونږه داسي ځکه ونه ویل چې مطلق اسم د لا داد منصوباتو نه ندي نه ټول اسماء او نه اکثر بلکه اقل دا منصوب دي. **ولایبعد ان یقال:** دا جواب ثانی دي او یارد دي په جواب او جواب ثانی داسي دي چې اسم د لا به دي ویلی وی اسم د لا منصوب وی مرفوع او مجرور نه وی او رد ذکر کوی چې اسم دلا خو منصوب وی مرفوع خو اسم دلا نشي کیدائ چې مرفوع شي ځکه اسم دلا نشي کیدلی چې عمل ئی پکښې نه دي کړی.

**خرج به:** فایده ذکر کوی، دویم دفع داعتراض، اول غرض: په هو المسند الیه بعد دخولها قید سره ابوه ووتلو په غلام رجل قائم ابوه کښې ځکه چې ځانته ابوه خبر یعنی مسند الیه نه دي بلکه ابوه قائم ټول مسند الیه دي. **وهذا القدر:** دفع

Maktaba Tul Ishaat. com



داعتراض :هغه دا چې بناء دمتونو په اختصار سره وى نو تعريف په هو المسند اليه سره تماميدو، دي قيد نه وروسته قيودو ته څه ضرورت وو؟ **جواب**: المسند اليه سره دمطلق اسم دلاتعريف تماميدو ليكن مصنف اراده دمنصوب اسم دلادپاره تعريف كوى.

**اى يلى المسند اليه**: بيان دضمير ، دويم معنى ديلى : اول غرض: نزدي به وي مسند اليه لفظ دلاته، او دويم غرض يلى ديته وائى چې واقع به وى اسم دلا وروسته د لا نه بلا فاصله، **اى بالمضاف**: غرض په كښى ضمير راجع دي مضاف ته، دويم غرض مشابه دمضاف دا معنى چې داسم تعلق شى په يو داسي شى پوري چې دغه شى سره ددغه اسم معنى تماميږي.

**هذه احوال مترادفة**: تعدد دنسخو اول غرض: لاغلام رجل دا مثال دهغه اسم دي چې يلى هم دي او نكره او مضاف هم دي، ديم غرض بعض نسخو كښى داسي دي چې لاغلام رجل ظريف فيها ، دفيها يوه فائده داده چې خبر جمله او ظرف دواړه واقع كيدلى شى **فان كان**: ضمير د كان ذكر كوى چې دا راجع دي مسنداليه ته، **فانه لو كان مفرداً معرفة**: بيان دفائدي، دويم معنى دعلى ماينصب به، دريم توضيح بالامثلة ، څلورم وجه دبنا ، پنځم وجه دنصب ،

اول غرض : فانه لو كان مفرداً معرفه سره وشو ، وقوله على ما ينصب به سره معنى دعلى ما ينصب به ذكر كوى كوم چې دويم غرض دي، په نحو لا رجل الخ. سره دريم غرض توضيح بالامثلة كوى، دلته په تعنى بالمفرد ما ليس بمضاف الخ سره دفع داعتراض هم وشوه هغه دا چې متن كښى دي ويلى وو چې فان كان مفردا او مثال دي دتثنيه او جمع راوړي چې مُسْلِمَيْنِ او مَسْلِمِيْنِ دي؟ **جواب**: دا شو چې مراد په مفرد سره هغه دي چې نه مضاف وى او نه شبه مضاف وى ، وانما بنى سره څلورم غرض وجه دبناء ذكر كوى **فان كان**: بيان دمرجع **اى بين ذالك**: بيان دضمير. **على سبيل منع الخلو**: دفع داعتراض دويم بيان دامثله، اول غرض : هلكه ! چې مسند اليه معرفه او مفعول دواړه وى نو بيا به رفع واجب وى او تكرار به واجب وى؟ **جواب**: نه خلوه ئى مانع ده يعنى يو كه هم وى نو رفع او تكرار واجب دي وهى ست صور. دي سره دويم غرض بيان دامثله كوى.

**الرفع على الابتدا**: دليل ذكر كوى چې معرفه وى رفع ځكه واجب ده چې لا

Maktaba Tul Ishaat. com



پکښې اثر نه دي کړي ځکه لا راځي دپاره دنفي دجنس او معرفه ځکه واجب ده چې لا ضعيف العمل ده سرد فصل نه عمل نشي کولی . **اى وجب تكرير اسمه**: اول تعين دالف لام دويم دفع دتوهم ، دريم دليل ، اول غرض : په التكرير کښې الف لام عوض دي دمضاف اليه نه چې تقدير ى داسي کيږي چې تكرير اسمه . **لكن مطلقا لا بعينه**: دويم دِفع دتوهم . متوهم به ويل چې عين اسم به راوړي نو دۀ دفع ددغې وهم وکړه چې نه مطلقا . **اما فى المعرفة**: دي سره دليل دپاره دتكرير ذكر كوى، **ونحوقضية** :اول غرض دفع داعتراض ، هغه دا چې تا وويل چې اسم د لاچې معرفه وى نو واجب الرفع والتكرير نو پدي قضيه کښې چې لا ابا حسن لها اسم د لا معرفۀ دي او نه رفع شته او نه تكرير؟ **جواب**: ماتن وائى چې متاؤل **هذا جواب دخل مقدر**: دي عبارت سره شارح غرض دماتن ذكر كوى

**اما بتقدير المثل**: بيان دتاوويلينو كوى، يو تاويل داسې شوي چې دلته مثل مقدر دي تقدير داسي دي چې لامثل ابا حسن لها نو مثل خو نكره ده اګرچه اضافت ئى معرفه ته شوي وي خو دوجې دتوغل فى الابهام نه معرفه نه ګرای نو ځکه دلته رفع او تكرير نشته دي. او دويمه طريقه دتاويل داده چې مراد داباحسن نه هغه وصف مشتهر دي چې فيصل دي نو فيصل خو نكرة ده معرفه نده . **اى فيما كررت**: دي سره بيان دمثل كوى چې مراد په مثل سره هر هغه تركيب دي چې تكرار د لا پکښې راغلى وى په طريقې دعطف سره اووى وروسته دهر لا ته نكره بلا فصلة :

**بحسب اللفظ**: دي سره دفع اعتراض هغه دا چې په دي تركيب کښې شپږمه وجه هم شته چې هغه عكس دپنځمې وجې دي؟ **جواب**: په حسب دلفظ سره پکښې پنځه وجې دي او په حسب دتوجيه سره پکښې شپږو جې جوړيږي. **على ان تكون لا**: دليل ذكر كوى او دويم غرض احتمالين ذكر كوى دعطف مفرد سره، **اما فتح الاول**: سره دليل ذكر كوى او دويم غرض د ان يجوز سره احتمالين ذكر كوى، او دويمه او څلورمه وجه کښې هم دا دوه غرضه دي.

**فان عمل لا**: دي سره دليل ذكر كوى. **على ان تكون لا**: دليل ، دويم رد په ماتن، دريم دفع داعتراض . اول غرض دليل ذكر كوى دعلى ان تكون لا لنفى الجنس

Maktaba Tul Ishaat. com



سره، **وضعف**: دي سره رد کوی په ماتن چی کومه وجه دضعیف د لا په معنی دلیس ویلی ده دا ضعیفه ده بلکه لا په معنی دلیس سره کثیره راځی او دا هم جائز ده چی لا ملغات العمل وګرځوی او دغه اسم دي مرفوع بناء بر ابتدایت شی.

**لان شرط صحة**: دفع داعتراض. هلکه دلا دملغات العمل ګرځولو دپاره دوه شرطه دي يو تکرار اوبل توافق داسمين؟ **لا فی الاعراب**: جواب: دي وائی چی شرط ورلره هغه صرف تکرار دي فقط. **ای عمل لا**: اول تعین دعمل دلا، دویم دلیل، اول غرض: عمل د لا هغه تاثیر ددي، دي په مدخول خپل کښی. **اعراباً اوبناءً لان العامل**: دلیل دادي چی په مدخول داستفهام سره عمل نه متغیر کیږي. **مثل الا نزول عندی**: مثال، دويم اختلاف، اول غرض مثال د عرض لکه الانزول عندی، او دويم غرض: اختلاف دسيبويه دا خبره نده ذکر کړي چی حال د لا به پشان دحال د لاوی مخکښی دهمزي نه په عرض کښ دويم سيرافی او جزولی او مصنف دا خبره ذکر کړيده، دريم او اندلسبي رد کړي دي، دي وائی چی دا کله عرض شو نو دا پشان دحروف افعالو و ګرځيدو په شان د ان او لو او پشان دحروف دتخصيص وګرځيدل نو په دغه وخت کښی نصب واجب دي لکه الازيداً تکرمه. **واما قوله**: دفع اعتراض، دويم جواب اخر، اول غرض دفع اعتراض هغه دا چی ته وائی چی اسم د لا به پس د دخول دحرف استفهام نه په خپل حال وی زه به درته وښايم چی منصوب به وي لکه الارجلاً جزاه الله خيراً؟ **جواب**: داد خليل په نزد لانفی جنس نده چی همزه داستفهام پري داخل شي بلکه دا حرف تحضيض دي براسها وهی عند یونس. دويم جواب آخر یونس وائی چی دا لائی نفی جنس ده په معنی دتمنی سره ده خو تنوين پري دضرورت شعري دوجی راغلی دي.

**ونعت المبنی**: دي سره ماتن يوه قاعده ذکر کوی هغه دا چی د اسم دلا دپاره چی مبنی وی يو صفت راشي او دا اول صفت وی او مفرد وی او يلی هم وی نو دا مبنی اومعرب دواړه کيدای شی. **لا نعت اسمها العرب**: دي سره فائده دالمبنی ذکر کوی، **والمبنی فی قوله**: دفع داعتراض، هغه دا چی زه به درته وښايم چی داټول شروط به پکښی وی او سره ددينه بناء به ئی نه وی جائز لکه الاماء ماء باردا دلته باردا صرف معرب ويلی شی؟ **جواب**: مراد داسم مبنی نه اسم مبنی اصالة دي او دلته دا دويم اسم

Maktaba Tul Ishaat. com



مبنی دي خو بالتبع دي او که دا باردا صفت دپاره داول اسم مبنی گرځوو بیا نی هم بناء نده جائز ځکه چې یلې پکښې نشته

**ومعرب**: نه دي وروسته دلیل دمعرب دپاره ذکر کوی، **والا**: دي سره معنی دالا ذکر کوی، **ای فحکمه**: دي سره معني د فاالاعراب ذکر کوی، **والعطف علی اسم لا**: اول بیان ديو قید، دویم فائده دقید، دریم توضیح بالمثال. **اذا کان**: قید دادي چې عطف په اسم د لاچې مبنی وی جایز دي چې کله معطوف نکره وی بغیر دتکرار د لا نه، **فانه اذا کان**: فایده دقید داده چې کله معطوف معرفه وی نو بیا وجب الرفع لکه لاغلام لك والفرس دلته والفرس معرفه ده او که لامکرره وی په معطوف کښې نو حکم ئی دلاحول ولاقوة پشان دي او دي سره توضیح بالمثال هم وشو چې کوم دریم غرض دي، **بان یحمل**: دا متعلق دعلی اللفظ دپاره دي. **ای لفظ اسم لا**: دي سره تعین دالف لام کوی په اللفظ کښې چې عوض دي دمضاف الیه نه چې اسم د لا دي .

**ویجعل**: دا متعلق دي دپاره دعلی المحل جار مجرور دپاره . **ولا یجوز فیه البناء**: دي سره تتمیم دمافات دماتن کوی هلکه ! بناء پکښې ولی نده جایز نو شارح وائی چې بناء پکښې ځکه نده جایز چې فصل پکښې راغلی په عاطف سره. **ولم یجعل**: دفع اعتراض. هلکه ! واو وګرځوه ؟ **جواب**: واو ځکه نشی ګرځولی ځکه چې کله په معطوف منفی کښې لاهم زیاتیږي دپاره دتاکید نو هغه بیا زائده نشی ګرځولی **فی قول الشاعر**: تتمیم دشعر، دویم دفع داعتراض ، اول غرض تتمیم، ولااب وابنا مثل مروان وابنه اذ هو بالمجدار تدی وتاز را

**وسائر التوابع**: دفع اعتراض : هلکه ! تا صرف نعت او معطوف ذکر کړل نه نور توابع دا ولی ؟ **جواب**: نحویانو دي طرف ته توجه نده کړي بلکه دهغوی حکم پشان دتوابعو دي. **ای کل ترکیب**: دي سره قاعده کلیه ذکر کوی یعنی ان الاصل، دفع اعتراض هغه دا چې هلکه مخکښې دي وویل چې اسم د لابه دا وی اوس وائی چې اسم دلاباندي به احکام داضافت جاري کوی. ؟ **جواب**: ګویا دا په منزله داستثناء کښې دي دهغی نه ،

**ای لاسم لا**: مرجع دضمیر د له ذکر کوی، **ای مشارکه**: یو غرض دادي چې لام په لمشارکته کښې تعلیل دي او دا مخکښې دعوه غواړي نو وذالك التشبیه انما هو

Maktaba Tul Ishaat. com



سره دعوه شوه او دويم غرض معنى دمشاركت ذكر كوى . **اى معنى المضاف**: معنى ذكر كوى چى دغه اسم دلا چى مبنى وى دابه مضاف سره مشارك وي په اصل كبنى چى هغه تخصيص دي، **ومن ثم**: تعين دمشاراليه كوى، **لا ابا فيها اى فى الدار**: مرجع دضمير ، دويم دليل ذكر كوى اول غرض : ضمير فيها كبنى دار ته راجع دي، دويم غرض دليل، داتركيب ځكه ندي جائز ځكه دلته اختصاص د اب نشته دار پوري نو دمضاف سره شارك نشو اصل معنى كښې چې اختصاص دي نو دمضاف احكام هم پري نه جاري كيږي چى اثبات دالف او حذف دتنوين دي .

**وليس بمضاف حقيقة**: دا تركيب چى لاابا له ولا غلامى له دامضاف حقيقتاً ندي ځكه فساد دمعنى راځى د دوو وجوهو نه، يو دا چىكه د لااباه مضاف شى نو مضاف خو غير تمام وى نو خبر به غواړي نو تقدير به داسي شى چى لااباه موجود ولاغلاميه موجود او حالانكه لااباً له ولاغلامى له دا كلام تام دي. او دويم طريقه دفساد داسي ده چى مراد ددي تركيب نه نفى دجنس اب او جنس غلامين ده او كه حقيقتاً مضاف شى نو بيا به نفى دوجود داب او دوجود د غلامين شى،

**خلافاً لسيبويه**: دفع اعتراض، دويم مذهب دسيبويه، دريم رد په ده، اول غرض : هلكه خلاف خو يواځى سيبويه ندي كړي تا ولى دا خاص كړو؟ **جواب**: ځكه دا عمده دي په مخالفت كښى او يا دا چى مراد زمونږ بيان دخلاف دي نه تعين دمخالفينو . **فمذهب سيبويه والخليل**: دي سره مذهب دسيبويه ذكر كوى، **وحكم المصنف**: دي سره رد ذكر كوى په مذهب دسيبويه باندي چى دده قول فاسد دي دهغه مخكښى دوو وجوهو په بناء .

**ولا يحذف الا مع وجود الخبر**: تتميم دمافات ذماتن كوى، دويم دفع اعتراض ، اول غرض : تتميم مصنف صرف دا ويلى وو چى اسم د لابه حذف كولى شى دخبر په باره كښى ئى څه نه دي ويلى نو دي وائى چى حذف د لاد اسم به راځى خو سره دوجود دخبر نه كه خبر هم حذف شى نو بيا به كلام ، كلام پاتى نشي،

**وقولهم لا كزيد**: دفع اعتراض : هغه دا چى لاكزيد كښى اسم او خبر دواړه محذوف دي؟ **جواب**: دلته كاف په معنى د مثل سره دي نو كزيد اسم د لادي او خبر ئى

Maktaba Tul Ishaat. com



محذوف دي چې موجودٌ دي په لا مثل زيد موجود کښې ، او دا هم کيدی شي چې کزيد خبر شي او اسم ئې حذف شي چې احد دي نو تقدير به داسي شي چې لا احد کزيد ای مثل زيد.

**وخص الخبريه**: دفع اعتراض. دويم بيان دِ اختلاف ، دريم ترجيح ديو قول، اول غرض: هلکه خبر دي ولې خاص کړو دپاره دعمل کولو دما ولا ؟ **جواب**: اسم دلاخو که ما او لا عمل وکړي او که نه هغه مرفوع وی اختلاف په خبر دي نو ځکه مو دا خاص کړو په ذکر سره. **واما بنو تميم**: دي سره بيان داختلاف کوی، **ولغة اهل الحجاز**: دي سره ترجيح ذکر کوی چې لغت داهل حجاز وو دا راجح دي ځکه موافق دي دقرآن سره په قرآن کښې خبر دما دا منصوب دي لکه ما هذا بشراً او ما هن امهاتهم. **نحو ما ان زيد قائم**: توضيح بالمثال. دفع اعتراض، دريم اختلاف ، اول غرض وشو چې ان سره دما نه زياتی شوي وی دهغی مثال دي ما ان زيد قائم. **قيل**: دفع اعتراض ، هلکه ان دادي دما سره ولې خاص کړو چې داد ماسره زياتيږي او دلا سره نه زياتيږي ؟ **جواب**: ان د لا سره نه زياتيږي ځکه عرب داسي نه کوی يا نحاة. **وهذا عند البصرين**: اختلاف ، دا مذهب دبصريانو دي چې عمل د لا ختموی او هر چې کوفيان دي هغوی وائی دا ان نافيه دي او مؤکد دي دمانفيی دپاره او عمل دما نه ختموی.

**بطل العمل**: تعين دالف لام ، دويم دليل دپاره دبطلان عمل دما ، اول غرض: العمل کښې الف لام عوض دي دمضاف اليه نه چې ما دي، **اما اذا ازيدت**: دي سره دلائل ذکر کوی. **ای بعاطف**: معنی دموجب ، دويم مصداق دموجب ، دريم توضيح بالمثال، اول غرض: معنی دموجب داده چې عطف وکړي شی پداسي عاطف سره چې مفيد د ايجاب وي سره دنفی نه، **وهو بل ولكن**: مصداق دموجب هغه بل او لکن دي ، دريم غرض لکه مازيدٌ قايماً بل مسافر، وما عمرو قائماً لكن قاعدٌ. **فالرفع لكونهما**: دليل ذکر کوی، رفع بيا دمعطوف ضروري ده ځکه دا دواړه په منزله د الا کښې دي په نقض دنفی کښې يعنی خرنگه چې نفی په الا سره ختميږي دارنګه پدي سره هم ختميږي.

## د بيان د مجرورات

هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان دمنصوباتو نه نو شروع ئې وکړه په مجرورات کښې، المجرورات ياخبر دي مبتداء يې محذوفه ده او يا مبتدا ده او خبر

Maktaba Tul Ishaat. com



ئی محذوف دي او يا المجرورات مبتدا ده او ما اشتمل على علم المضاف اليه ئی خبر دي، او مجرورات دا جمع دمجرور ده نه مجرورة او مجرور دا صفت دمذكر غير عاقل دي، او داسي صفت جمع كيږي په الف او تا سره.

**اي اسم اشتمل:** تعين د ما، دويم فايده داسم، دريم دليل، اول غرض: ما عبارت دي د اسم نه. **ليخرج:** فايده، ما عبارت د اسم څخه دي نو پدي سره خارج شو هغه حرف اخير چی هغه محل داعراب دي لكه په زيد كښې دال ديته مجرور نشی ويل كيدي، **لانها:** دليل، ځكه مجرورات دا داقسامو داسم نه دي، **اى علامة المضاف اليه:** تعين دمعنى دعلم، بيان ديو قيد، دريم مصداق دغلامی، څلورم تعميم، پنځم فايده دهغه قيد، شپږم دفع داعتراض: اول غرض: علم په ډيرو معنو سره راځی خو دلته په معنى دغلامی سره دي، **من حيث هو مضاف اليه:** دي سره دويم غرض ذكر شو چی قيد دي، **يعنى الجر:** دي سره مصداق دغلامی ذكر كوی، چی هغه جر دي، **سواء كان:** دي سره تعميم ذكر كوی چی دا جر عام دي كه دكسري په صورت كښې وي او كه فتحی او كه دياء په صورت كښې وی، **وانما قلنا:** من حيث هو مضاف اليه مونږ ځكه وويل كه پدي حيثيت سره ئی وا نخلی نو د ذات دمضاف اليه دپاره جر دا علامه نه ده لكه تحرك داصابع دا علامه دكاتب ده نه د ذات دكاتب بلكه دوصف دكاتب علامه ده چی كتابت دي.

**والمضاف اليه وان كان:** دفع داعتراض هلكه بناء دمتونو په اختصار سره وی مخكښې دي ويلی وو چی المجرورات ما اشتمل على الخ. اوس بيا تعريف دمضاف اليه ته ضرورت نه وو ځكه دا هم مشتمل دي په علم دمضاف اليه چی جر دي، ؟ **جواب:** مونږ دمضاف اليه تعريف نه كولی خو چی دمجرور او دمضاف اليه په مابين كښې ترادف وی او ددوي په مابين كښې ترادف نشته ځكه مجرور عام دي دمضاف او شبه مضاف دواړو نه.

## د مضاف اليه په تعريف كښې اختلاف

**وهوههنا غير ما هو:** اختلاف: مشهورين وائی چی مضاف اليه هغه دي چی حرف جر پكښې تقديراً وي، او سيبويه وائی چی مضاف اليه عام دي حرف جر پكښې

Maktaba Tul Ishaat. com



لفظاً وی او که تقدیراً او ماتن دده په مذهب دي،

**حقیقتاً اوحکماً**: هلکه ! تاوویل چې مضاف الیه دا هر هغه اسم دي نوزه به درته وښایم چې مضاف الیه به وي او فعل به وی لکه یوم ینفع ؟ **جواب**: اسم عام دي حقیقتاً وی لکه غلام زید او که حکماً وی هغه دا چې په تاویل دمصدر سره وی لکه دلته په تاویل دیوم نفع الصادقین سره دي.

**اسما کان اوفعلاً**: دي سره تعمیم دمانسب الیه ذکر کوی، ای ملفوظا دي سره دع داعتراض مشهوره ده چې حمل نه صحیح کیږي ځکه حمل دصرف راځی په ذات؟ **جواب**: واضحه دي چې لفظ په وملفوظاً سره دي حال کون ذالك المقدر. دي سره اعراب دمراداً ذکر کوی چې دا حال دي دتقدیرا نه. **من حیث العمل**: معنی دمراد ، دویم توضیح بالمثال ، دریم دفع داعتراض، یا فایده دمرادا ، اول غرض : دا حرف جر تقدیري به حیثیت دعمل نه به باقی وي اثرددي چې جر دي، لکه غلام زید دلته دحرف جر تقدیري اثر په زید کښې باقی دي او دي سره دویم غرض توضیح بالمثال هم وشو،

**بخلاف صمت یوم الجمعة**: فایده دمرادا ، داده چې دي ترکیب کښې اګرچې نسبت دقیام یوم الجمعة ته شویدي په حرف جر مقدره سره چې فی دي لیکن دا مراد ندي ولی که مراد وی نو اثر به ئی باقی وی په یوم باندي. **اذ لوکان فعلاً**: سره فائده د اسما قید ذکر کوی، **ای منسلخا عنه**: معنی دمجرد اذ کر کوی، او ماقام مقامه، دي سره تعمیم ذکرکوی، **ای لاجل الاضافة**: تعین دضمیر، دویم دلیل، دریم بیان داعتراض، څلورم جواب ، پنځم اعتراض، شپږم جواب : اول غرض : ضمیر راجع دي اضافت ته، **لان التنوین**: دي سره دلیل وائی چې تنوین یا قایمقام دتنوین دا دلیل دي په اتمام ادهغه شی چې ذا پکښې وی اوس نحاة چې وغواړي چې یو کلمه د بلی سره متصله کړي نو دوي اوله اودویمه کلمه ترې دپاره دتخصیص یا تعریف یا تخفیف نو دوي د اولی کلمی نه هغه علامه دتمام والی حذف کړي چې هغه تنوین یا قایمقام دتنوین دي او په جمله ثانیه سره اتمام کړي.

**ثم المبتادر**: اعتراض دادي چې په نزد دنحاتو دا تعریف داضافت دا شامل ندي اضافت لفظی لره ځکه دنحاتو په نزد په اضافت لفظی کښې حرف جر نه لفظا وی او نه

Maktaba Tul Ishaat. com



تقديراً دماتن دمتن نه او دشرح دمتن نه داسي معلوميږي چی دا تقسيم داضافت لفظی او معنوی ته داد هغه اضافت دي چی په تقدير دحرف جر سره وی يعنی دده دتقسيم نه معلوميږي چی په اضافت لفظی کښې صرف جر مقدر وی ليکن ماتن نه دا ثابته نده چی په اضافت لفظی کښې تقدير دحرف جر وی، وقد تکلف بعضهم: دي سره جواب کوی بعضو حلکو دا ويلی دي چی اضافت دصفت کله مفعول ته وشی نو هلته تقدير دلام وی دپاره دتقويت دعمل دمضاف لکه ضارب زيد، او همدارنګه چی اضافت دصفت وشی فاعل ته نو هلته تقدير د من وی لکه په حسن الوجه کښې تقدير ئی داسي دي چی زيد حسن من حيث الوجه. **فان قلت**: بيان داعتراض هغه دا چی هلکه مونږ دا ويلی وو چی اضافت لفظی دا تخفيف فايده کوی او اضافت معنوی دا تخصيص نو دلته په حسن الوجه کښې اضافت لفظی دي او تخصيص پکښې راغلی دي؟ **قلنا**: جواب دادی چی حسن الوجه کښې مخکښې داضافت نه تخصيص موجود وو مخکښې داضافت نه حسن دا صفت مشبه وه او وجهه ئی فاعل او تخصيص پکښې وو اوس په اضافت سره پکښې صرف تخفيف راغلی.

## د اضافت معنوی تعريف او ده تسميه

**وهی ای الاضافة**: بيان دضمير کوی چی راجع دي اضافة په تقدير دحرف جر سره. **ای منسوبة الی المعنی**: دي سره وجه تسميه دمعنوی ذکر کوی چی دا معنی په مضاف کښې تعريف او يا تخصيص راولی. **ای منسوبة الی اللفظ**: دي سره وجه تسميه دلفظی ذکر کوی چه ديته اضافت لفظی ځکه وائی چی معنی ته سرايت نه کوی صرف په لفظ کښې تخفيف راولی، **فالمعنوية علامتها**: ماتن تعريف داضافت معنوی کوی اعتراض دادي چی هلکه تا تعريف داضافت معنوی داسي وکړو چی مضاف به غير وی او مضاف به وی معمول خپل ته او حالانکه اضافت معنوی ديته وائی چی غير صفت وی او مضاف وی غير معمول ته، يا اعتراض دادي چی تا داسي تعريف وکړو او حالانکه حقيقی تعريف داضافت معنوی دادي چی دا يو نسبت ديو شی دي بل شی ته په واسطه دحرف جر تقديري سره ؟ **جواب**: دواړو نه دادي چی تعريفات حقيقی هم دادي کوم چی تاسو وکړل او مادا علامه ذکر کړه داضافت معنوی.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فاعلها ومفعولها**: مصداق دمعمول ، دويم تعميم، دريم توضيح ، څلورم فائده، اول غرض : معمول دمضاف هغه فاعل يا مفعول دده دي، **سواء لم يكن**: دي سره تعميم برابره خبره ده چې دا مضاف صفت نه وي لکه غلام زيد ، او يا صفت وي خو مضاف معمول ته نه وي لکه مضارع مصر او کريم البلد دلته دمضارع دپاره مصر او که کريم دپاره دمعمول نه وي بلکه ظرف دي ورلره او دي سره توضيح بالمثال کوي، **واحترزبه**: فايده په دي قيد سره چې صفت به وي مضاف به غيرمعمول ته نو پدي سره ترينه ضارب زيد او حسن الوجه خارج شو ځکه ضارب صفت دي او خپل مفعول ته ئې اضافت شويدي او حسن صفت دي او خپل فاعل ته ئې اضافت شوي دي نو لهذا دا به اضافت لفظي وي نه معنوي.

**اى لا يكون المضاف**: معنى دجنس ، دويم توضيح بالمثال ، اول غرض : چې مضاف اليه به جنس نه وي دپاره دمضاف معنى داده چې مضاف به صادق وي يواځې په مضاف باندي نه په غير دده نه لکه مثال دي غلام زيد ، **الصادق عليه**: معنى دجنس دويم توضيح بالمثال ، اول غرض : چې مضاف اليه به جنس وي دپاره دمضاف معنى داده چې مضاف اليه به په مضاف هم صادريږي او په غير هم خو شارح ورسره يو قيد لږولى دي چې دا صفت به په مضاف کښې هم وي مثال ئې دي لکه خاتم فضة پدي صورت کښې به په مابين دمضاف او دمضاف اليه کښې نسبت دعموم او خصوص من وجه وي او دي سره دويم غرض توضيح بالمثال هم وشو.

**والحاصل**: اول وجه دحصر ، دويم توضيح بالمثال ، دريم دفع داعتراض، څلورم رد ، اول غرض : د والحاصل سره وشو ، او دويم امثله هم ورسره ذکر دي، **واعلم**: دفع داعتراض : هغه دا چې تا وويلى چې مضاف اليه دا خاص وي دمضاف نه دلته به اضافت لامى وي او مثال دي راوړو چې علم الفقه اويوم الاحد ، نو پدي کښې خو تقدير دلام نه کيږي ؟ **جواب**: دادي چې دا ضروري نده چې تصريح دلام دي پکښې صحيح وي بلکه چې فايده دلام ورکوي چې تخصيص دي دا کافى ده، **ولا يحتاج فيه**: رد په شارح هندى کوي چې هغه ددغه اعتراض ددفع دپاره ډير تکلفات کړي نو شارح هندي وائى چې دي تکلفاتو ته څه ضرورت نه وو. **وردها اكثر النحاة**: دليل دقليل دپاره،

Maktaba Tul Ishaat. com



دویم اعتراض، دریم جواب : اول غرض : اضافت په معنی دفی سره ځکه قلیل دي چې اکثرو نحاتو دا رد کړی دي په اضافت بمعنی اللام سره .

**فان قلت:** اعتراض دادي چې لکه څرنګه اضافت په معنی دفی سره داپه معنی داضافت بمعنی اللام سره دي دارنګې اضافت بمعنی من دا هم په معنی دلام سره راتلی شي ځکه دمبیّن او مبیَّن په مابین کښې اختصاص وی لکه خاتم فضة نو دقلیل ویل دا خاص کول اضافت په معنی دفی پوري صحیح نه دي ؟ **جواب:** هر کله داضافت قلیل په نو دائی رد کړو اضافت په معنی دلام سره چې اقسام داضافت قلیل شي او هر چې اضافت په معنی دمن سره وو نو دائی کثیر وو نو دا ځانته قسم وګرځوه . **نحو غلام زید:** تعین دممثل له : دویم تطبیق دمثال دممثل له سره. **وخاتم فضة:** تعین دممثل له، دویم تطبیق ، **وضرب الیوم:** تعمیم دممثل له، دویم تطبیق، **ای اضافة المعنوية:** دي سره بیان دضمیر کوی. **ای تعریف المضاف:** دي سره تعین دتنوین کوی چې عوض دمضاف الیه څخه دي. **ان الهیاة الترکیبة:** دلیل او غرض پکښې رد ، دویم اعتراض، دریم جواب ، څلورم تتمیم دمافات دماتن، اول غرض : تعریف دمضاف ځکه راځي په اضافت معنوی سره چې واضع هیات ترکیبي داضافت معنوی وضع کړي دي دپاره دمعلومیت دمضاف او پدي سره ئی رد وکړو په بعضو باندي بعضی وائی چې نسبت دیو مجهول شي معلوم ته وشي نو پدي کښې تعریف راځی نو په مضاف کښې ددي وجې نه تعریف راځی نو ماتن په دوي رد وکړو.

**فان قلت:** بیان داعتراض: هلکه ! پدي ترکیب کښې چې جاءنی غلام زید به غیر د اشاري نه یو واحد معین ته اضافت معنوی شته او تعریف پکښې ندي راغلی؟ **جواب:** جواب دادي چې دا اضافت معنوی وضع شوي دپاره دتعریف خو کله خلاف دوضع نه مجازا استعمالیږي لکه ددي پشان الف لام هم دي وضع ئی شوي دپاره دتعریف خو کله ئی استعمال خلاف دوضع نه راځی لکه پدي شعر کښې چې ( ولقد امر علی اللئیم یسبنی ) دلته اللئیم معرف باللام او موصوف دي او یسبنی جمله ئی صفت واقع شوي او جمله من حیث الجمله دا نکره وی نو نکره صفت دمعرفی واقع شوي ځکه چې دلته الف لام خلاف دوضع واقع شوي، دلته الف لام عهدي ذهنی دي او دا په قوت

Maktaba Tul Ishaat. com



دنکري کېنبي وي. او ددي أعتراض نه هغه بعض چپ پاتې شوي او جواب ئې ندي کړي.

**وليس يجري**: دي سره تتميم دمافات دماتن کوی هغه دا چې هلکه زه به درته وښايم چې اضافت معنوی به وی او دنکري اضافت به معرفی ته شوي وي او تعريف به پکښبي نه وی راغلی لکه دغير او دمثل؟ **جواب**: داقاعده په غير او مثل کښي نه جاري کيږي ځکه دا دواړه متوغل فی الابهام دي که ددوي اضافت معرفی ته هم وشی نو تعريف پکښي نه راځی مگر چې کله دمضاف اليه دپاره ضد واحد وی لکه عليك بالحرکة غير السکون کښي غير دا معرفه ده ځکه دمضاف اليه داپاره چې سکون دي ضد واحد دي چې هغه حرکت دي او يا دمضاف اليه دپاره مثل مشهور وي يعنی وصف مشهور لکه ته وائی جاءنی مثلك. مضاف سره به مشابه وی په يو وصف کښي چې علم يا بل کوم صفت واخلی.

**وتفيد الاضافة**: دي سره اشاره کوی تعين دمعطوف عليه ته چې تخصيصا دا عطف دي په تعريفا باندي نو دتفيد لاندي راغلو نحو غلام رجل. دي سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی. **وشرطها ای الاضافة المعنوية**: بيان دمرجع دضمير کوی، **فان كان**: طريقة دتنکير، دويم دفع داعتراض، دريم دليل دتجريد، څلورم اعتراض پنځم جواب: اول غرض ك طريقة دتنکير يوه داده چې که معرف باللام وو نو لام به حذف کړي او که علم وو نو نکره به ئی کړي په داسي شان سره چې دا علم به جنس کړي او دغه به ترينه يو فرد وګرځوی.

**وان لم يكن معرفة**: دفع اعتراض: هلکه شرط په اضافت معنوی کښي هغه خامخا تجريد دمضاف دي تعريف نه که مضاف معرفه نه وی نو بيا به اضافت معنوی پکښي نه وی؟ **جواب**: يو جواب دادي چې که معرفه نه وی نو تجريد ته يي دسره ضرورت نشته دي. او دويم جواب دادی چې مراد دتجريد نه تجرد اوخلو ده او خلو بيا عامه ده که دمخکښي نه نکره وی او که وروسته اضافت نه. **وانما يجب التجريد**: دليل دتجريد. تجريد ئی ځکه ضروري دي چې که دمضاف اضافت نکري ته وکړي نو طلب د ادنی به راشي چې تخصيص دي سره دوجود د اعلی نه چې تعريف دي او که دمضاف اضافت معرفی ته وکړي نو تحصيل دحاصل به راشي نو د اضافت فائده څه شوه.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فان قیل**: بیان داعتراض : هلکه ! لکه څرنګه چې اضافت دمضاف معرفی ته ندي جائز دغه رنګې دمعرفی علم ګرځول دي هم جایز نشی ؟ **جواب**: معرفه چې علم ګرځی نو په هغی کښی تبدیل دیو تعریف وی په بل تعریف باندي او په اضافت دمضاف معرف کښی تحصیل دحاصل راځی. **المعرف باللام المضاف**: دي سره بیان دشبه ددغه ترکیب کوی چې هغه معرف باللام چې اضافت ئی خپل معدود ته وشی لکه الخمسة الدراهم او المائة الدینار اما قیاسا : دلیل دضعف ، دویم دفع داعتراض، اول غرض : قیاسا هم دکوفیانو قول ضعیف دي ځکه چې لازمیږي تحصیل دحاصل او استعمال شوي شعر ، ثلاث الاثافی والدیار بلاقع ،.واما ما جاء فی الحدیث : دفع داعتراض هغه ذا چې هلکه دکوفیانو نه خو دي جواب وکړو او په حدیث کښی چې مضاف معرف استعمال‌شوي لکه الالف الدینار ، ؟ **جواب**: دا بدل دي اضافت ندي **علامتها**: دي سره هم هغه دفع اعتراض ده کومه چې په اضافت معنوی کښی وه، **ولا تفید**: تعین دضمیر کوی چې راجع دي اضافت لفظی ته او دویم غرض وجه دنصب دتخفیفا ذکر کوی چې دا مفعول مطلق دي دتفید دپاره په اعتبار دموصوف محذوف سره چې فایده دي، **لا فی المعنی**: معنی دمتن ، دویم تتمیم دمافات دماتن کوی، اول غرض : چې تخفیف به صرف په لفظ کښی راولی نه په معنی کښی چې بعض معنٰی ساقطه شی په مقابله دهغی شی چې په لفظ کښی حذف شوي وي بلکه معنی چې قبل الاضافة څرنګه وه هم هغه شان به وی

**والتخفیف اللفظی**: دي سره تتمیم دمافات دماتن ذکر کوی، **ومن ثم**: سره بیان دمشار الیه کوی چې هغه امور ثلاثه دي چې اضافت لفظی تخفیف فایده کوی تعریف نه فایده کوی او نه تخصیص ، **باضافة الصفة**: دي سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی، **فلوافاد تعریفاً**: دلیل ، دویم دفع داعتراض دریم توطیه او تمهید دمتن لپاره . اول غرض دلیل، اضافت الفظی که تعریف پیدا کولی نو اول ترکیب به جایز نه وو چې مررت برجل حسن الوجه ځکه صفت به معرفه ګرځیدلی وی او دویم ترکیب به جایز شوي وي چې مررت بزید حسن الوجه ځکه صفت او موصوف به دواړه معرفه وي،

**والمراد ان المشار الیه**: دفع داعتراض هلکه تا ومن ثم سره دا وویلی چې اضافت

Maktaba Tul Ishaat. com



لفظي مفيد دتخفيف دي او دتعريف او دتخصيص ندي نو ددي وجى نه دغه مخكيني تركيبونو كښي يو جايز اوبل ندي جايز نو دينه دا معلوميږي چې ددي دري وارو امورو به دخل وى په جواز او عدم جواز ددغه تركيبونو كښي او سره ددينه چې تخصيص لره پكښي بلكل دخل نشته دي؟ **جواب**: مراد ددغه امورو مجموعه مراد ده بيا برابره خبره ده چې دغه دخل دبعض وى او كه نه، **ومن ثم جهة**: دي سره توطيه او تمهيد ذكر كوى متن اتى دپاره.

**لعدم التخفيف**: اول دليل، دويم بيان دمتفرع عليه، دريم بيان داعتراض، څلورم جواب، اول غرض: دليل دالضارب زيد ځكه ندي جايز ځكه تخفيف پكښي ي راغلى او هر چې سقوط دتنوين دي نو هغه دالف لام دوجى راغلى دي، **ولاشك**: تعين دمتفرع عليه، دا تفريع پدي چې په الضارب زيد كښي تخفيف نشته دي پدي تركيب كښي انتفاء دتعريف لره او انتفاء دتخصيص لره څه دخل نشته دي. **وعلى هذا**: دينه مخكښي دويم غرض باندي اعتراض دي چې هر كله دا تفريع شوه په دي چې دا مفيد تخفيف ندي نو پكار ده چې دائى مخكښي ذكر كړي وى.

**لكنه اخره**: جواب دائى ځكه وروسته كړه چې ملحقات ددي ډير دي **فانه يجوز**: بيان دمذهب : دالضارب زيد تركيب جايز دي **اما لانه**: دي سره دليل دده ذكر كوى چې دۀ وهم كړي چې دي تركيب كښي اول اضافت راغلى او پدي سره سقوط دتنوين راغلى او بيا دخول دلام راغلى ، **واجاب المصنف عنه**: مصنف رد كوى په جواب كښي وايي چې دا خبره په اعتبار دظاهر سره صحيح نده ځكه چې لام مقدم دي په اضافت سره . **واما لمّا وقع**: توطيه او تمهيد ، دا دويم دليل دفراء دي دي وائى چې دي شعر كښي چې **الوهب المائة الهجان وعبدها**: دلته عبدها دا عطف دي په المائة باندي نو دمعطوف عليه نه چې مخكښي كوم شى وي نو هغه معطوف كښي هم مرادف وى نو معنى داسي شوه چې الواهب عبدها دلته اضافت دمعرف باللام راغلى دي نو دا جايز دي نو الضارب زيد هم جايز شو او دا شعر دبليغ شاعر دي. **فاجاب المصنف**: دي سره جواب كوى مصنف دفراء د دويم دليل نه، يعني **ان هذا القول**: دليل دضعف ، دويم بيان داعتراض، دريم جواب څلورم تشريح دشعر ، پنځم توطيه او تمهيد ، اول دليل،

Maktaba Tul Ishaat. com



دا قول ضعیف دي ځکه دي اضافت کښې څه فایده نشته دي ځکه سقوط د تنوین هغه په الف لام سره راغلی ، **ولا یخفی**: اعتراض دادي چې دا خو مصادره علی المطلوب شوه ځکه مدعی دي موقوفه شوه په دلیل باندي او دلیل دي موقوف شو په مدعی مدعی دي دا وه چې الضارب زید دا ممتنع دي او دلیل دي دا وو چې وضعف الواهب الخ .. او دلیل دي ځکه موقوف شو په مدعی باندي چې وجه دضعف د دا اوښودله چې لامتناع مثل الضارب زید ،

**اللهم**: جواب مراد په ضعف سره دادي چې دلیل پدي شعر سره دا ضعیف دي ځکه په وعبدها کښې جر دا نص او صریح بلکه احتمال دنصب هم لري چې دادي منصوب شي او حمل دشي په محل دالمائة باندي اویا دمفعول معه شي او یادا چې کله حمل کولی شي په معطوف کښې هغه شي چې نه شي حمل کولی په معطوف علیه لکه په رب شاة وسخلتها کښې ځکه رب دا نه داخلیږي په معرفه باندي **والبیت بتمامه**: دي سره تشریح دشعر کوی **واما لانه قاسه**: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن اتی ته فراء وائی چې الضارب زید دا جایز ځکه دي چې الضارب الرجل دا جایز دي **وهو جر الاضافة**: بیان دوجه مختار، دویم اتمام دمافات دماتن. دریم دلیل دجواز، اول غرض وجه مختاره په احسن الوجه کښې هغه جر د الوجه دي په اضافت سره **وفیه وجهان**: دي سره تتمیم دمافات دماتن کوی چې دي الحسن الوجه کښې دوه وجه نوري هم جایز دي رفع ددي بناء برفاعلیت او نصب ددي دوجې دمشابهت نه دمفعول به سره .

**ووجه الحمل**: دي سره دلیل دجواز دي چې دا حمل دي په الحسن الوجه باندي او وجه داشتراك ددي دواړو په مینځ کښې داده چې مضاف په دواړو کښې صفت دي او مضاف الیه پکښې جنس دي او معرف باللام دي او دا اشتراك مفقود دي په الضارب زید کښې او په حسن الوجه کښې . **والضاربك**: دا څلورم دلیل دفراء دي چې الضاربك زید دا جایز دي ځکه چې الضاربك جایز دي نو مصنف ترینه جواب کوی. **ای فی قول من**: تعین دفیمن قال کوی چې هغه سیبویه دي اودده اتباع دي **دون من قال**: دي سره فایده دفیمن قال ذکر کوی چې الضاربك عطف دي په ضاربك په نزدي دسیبویه باندي نه په نزد دهغه چا چې وائی چې دا غیر مضاف دي او کاف دا منصوب دي محلاً دوجې

Maktaba Tul Ishaat. com



دمفعولیت نه او تنوین دا محذوف دي دوجی داتصال دضمیر نه نه دوجی داضافت نه.
**ای لمحمولیته**: دفع داعتراض، هلکه؛ قاعده داده چی فاعل دفعل او دمفعول له دایو وي دلته فاعل دجاز هغه الضارب الرجل دي او حملاً دا صفت دمتکلم دي؟
**جواب**: حملاً په معنی دمحمول سره او محمول دا خو کلام وی نو فاعل د دواړو یو شو
**وبیانه انهم**: دلیل دمتن ذکر کول دي، دویم دلیل آخر، دریم تشریح دمتن بعبارة أخري اول غرض: دلیل دمتن، ضاربك ځکه جایز دي چی کله نحات اسم فاعل او اسم مفعول دا پیوسته کړي دمفعولاتو سره او دا مفعولات ئی مضمرات وی او متصلات وي نو دوی اضافت لازموی او دوي تحقیق دتخفیف ته نه ګوري اګرکه تخفیف په اضافت سره نه حاصلیږي بلکه په اتصال ددنفس ضمیر سره حاصل شو نو ددي وجی نه ئی الضاربك دا هم حمل کړو پدي باندي ځکه دا دواړه دیو باب څخه دي.
**ولقائل ان یقول**: دي سره دلیل اخر ذکر کوی دپاره دحمل دالضاربك په ضاربك باندي. **واعلم**: دي سره تشریح دمتن کوی په عبارت اخر سره هغه داسبي چی مونږه داقول چی وضعف او الضارب الرجل او الضارب حمل کړو په خپلو امثالو او جواب مو وګرځولو د استدلالا تو دفراء نه دمصنف دطرف نه او دا هم جائز ده چی هر یو ددي دریو ترکیبونو نه ځانته ځانته مسئله وګرځوی مناسب دحکم د امتناع د الضارب زید سره ، **ولا یضاف موصوفة الی صفته**: دفع داعتراض، دویم لیل ، اول غرض: دفع داعتراض، هغه دا چی هلکه مونږه خو په کتابونو کښی اوریدلی چی دا اضافت دقبیلی داضافت دموصوف نه دي صفت ته ، ته څرنګه وائی چی ولا یضاف موصوف الی صفته ؟ **جواب**: اضافت دموصوف صفت ته نشی کیدی چی کله هغه معنی وصفی باقی وی په خپل حال که نه وه پاتی بیا کیدی شی . **لان لکل**: دلیل ذکر کوی چی ځکه ترکیب توصیفی نه ترکیب اضافی نشی جوړیدي ځکه چی ددي دواړو په مابین کښی منافات دي. **فلا یقال**: توضیح بالمثال ، دویم اختلاف ، دریم توطیه او تمهید ، اول غرض: مسجد الجامع په ځاي دالمسجد الجامع سره نشی ویلی .
**خلافا للکوفیة**: کوفیان وائی چی مسجد الجامع او المسجد الجامع دایو شی دي او همدارنګه جرد قطیفة او قطیفة جرد دا یو شی دي، **ویرد علی القاعدة الاولی**: دي

Maktaba Tul Ishaat. com



سره توطیه او تمهید ذکر کوی **فان کل واحد**: دي سره متن ذکر کوی چی دي ټولو ترکیبونو کښې اضافت دموصوف شوي دي صفاتو خپلو ته. **فمسجد الجامع**: بیان دتاویلونو. دویم اعتراض، دریم جواب، څلورم توطیه او تمهید. اول غرض: **مسجد الجامع** دا مؤول دي په مسجد الوقت الجامع او دا احتمال دوو معانیو لری، اول دا چی مسجد مضاف او الوقت موصوف شی او دا مضاف الیه شی او الجامع صفت شی دپاره د الوقت او دویم دا چی الوقت محذوف شی او الجامع صفت قائم مقام د الوقت شی، نو په دواړو صورتینو کښې اضافت دموصوف صفت ته را نغلو. او همدارنګه صلوة الاولی او بقلة الحمقاء پدي قیاس کړه.

**لکن هذا التاویل**: بیان داعتراض هغه دا چی هلکه دا تاویل مونږ په جانب الغربی کښې نشو کولی ځکه که هلته مونږ مقدر کوو نو مکان به مقدر کوو او زمونږ مقصود هغه توصیف دجانب په جانب الغربیه سره نه توصیف دمکان په الغربیه سره.
**اللهم الا ان یقال**: جواب دلته دوه مکانه دي یو جز او بل کل دي هغه مکان چی اضافت ئی شوي جانب ته دا جزء دي اویو هغه مکان چی معتبر دي جانب په نسبت سره هغه ته هغه کل دي نو توصیف کول دکل په الغربیة سره دا داسي دي لکه موصوف کول دجز نو لهذا اضافت دجانب موصوف خپل صفت ته ندي راغلی. **ویرد علی القاعدة الثانیة**: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته، **فان اصلهما**: سره تشریح دمتن ذکر کوی. **بانهم حذفوا**: بیان دتاویل کوی تاویل پکښې داسي شوي چی قطیفة جرد کښې ئی قطیفة حذف کړو نو جرداً دا جنس پاتی شو نو دوي پکښې دتخصیص قصد وکړو نو اضافت ئی قطیفة ته وکړو نو دا اضافت دصفت موصوف ته ندي بلکه اضافت دا اسم جنس دي بل جنس ته.

**اوغیر مترادفین**: سره تتمیم دمافات دماتن کوی، **بخلاف**: دي سره شارح قاعده کلیه ذکر کوی چی اضافت دعام جایز دي خاص ته، **فانه**: دي سره تعین دضمیر کوی. **ای یصیر خاصا**: تشریح دمتن، دویم توطیه او تمهید متن آتیه ته، اول غرض: دا مضاف چی کوم عام د په اضافت سره خاص ځکه مضاف الیه به ئی خاص وی.
**ویردعلی قولهم**: دي سره توطیه تمهید ذکر کوی متن آتیه ته او غرض پکښې دفع

Maktaba Tul Ishaat. com


اعتراض او هغه دا چی هلکه ته وائی چی لا یضاف اسم مماثل زه به درته وښایم چی اضافت د اسم به راغلی وي خپل مماثل ته لکه سعید کرز دا پشان دلیث اسد دي.
**بحمل احدهما**: بیان دتاویل ، دویم دفع داعتراض، اول غرض : تاویل دلته داسي شویدي چی دا یو اسم حمل دي په مدلول او بل په لفظ باندي نو ددي ترکیب چی جاءنی سعیدِ کرز معنی داده چی جاءنی مدلول هذا اللفظ. **ولم یقولوا کرز سعید**: دفع داعتراض، هلکه چی دیو حمل په دال او بل په مدلول جایز وو نو دادي هم جایز شی چی کرز سعید ، ؟ **جواب**: داسي ځکه نشو ویلی چی مقصود په اضافت سره هغه توضیح ده او لقب دا اوضح وي داسم نه غالباً : **واذا اضیف الاسم الصحیح**: وهو دي سره تعریف داسم صحیح کوی ، **وانما کان ملحقا**: وجه دالحاق باالصحیح ذکر کوی ځکه چی حرف علت چی دسکون نه بعد واقع شی نو په ده باندي حرکت ثقیل نه وی دوجی دخفت دسکون نه ځکه دا معارضه کوی ذحرکت دثقل سره نو گویا دا حرف علت داسي دي لکه په اول دکلمه کښی چی راشی ،
**للتناسب**: دلیل، دویم توضیح بالمثال : ، اول غرض : مکسوره به وی ماقبل دیاء نه دپاره دمناسبت دیاء دویم غرض مثال، لکه ثوبی داري اوظبی اودلوی، **وقد اختلف**: دي سره شارح مسئله اخري ذکرکوی چی دي یادمتکلم کښی فتحه اصل ده او که سکون، صحیح داده چی مفتوحه وی دا یاء ځکه اصل په هغه کلمه کښی چی په یو حرف وی هغه حرکت دي د پاره ددي چی لازم نشی ابتدا باالساکن حقیقتاً ځکه دا مستقله کلمه نه ده نو گویا دلته حقیقتاً ابتدا الساکن نه راځی ځکه ډیر حروف ندي راغلی او حکماً ابتدا لساکن راځی ځکه دا مستقله کلمه ده، او بل دا چی اصل په هغه شی کښی چی مبنی کولی شی په حرکت سره هغه فتحه ده او سکون دا خو عارضاً راځی دپاره دتخفیف نو فتحه ځکه اصل شوه.
**ای الالف**: بیان دضمیر ، دویم اشاره وئی وکړه اختلاف ته چی الف به په لغت فصیح سره ثابتولی شی. لعدم موجب الانقلاب .دي سره دلیل ذکر کوی، **نحو عصای ورحای**: توضیح بالمثال ، **تقلبها**: بیان دضمیر کوی چی الف ته راجع دي او دویم غرض دا چی لغیر التثنیه دا حال دي دتقلبها دضمیر نه. **لمشاکلته**: دلیل ، دویم

Maktaba Tul Ishaat. com



توضیح بالمثال . دریم فائده دلغیر التثنیه. اول غرض : هذیل قبیلی والاوائی چی دا الف الف به په یاء باندي ځکه بدلوي چی دا د یا سره شاکل دي ځکه الف واو یاء نه جوړ دي. دویم توضیح بالمثال لکه عصی او رحی . **ولا تقلب**: دي سره فائده دلغیر التثنیه ذکر کوی، ځکه که دتثنیه الف بدل کړي نو په حالت نصبی او جري کښی هم بدل شوي نو بیا التباس راځی دهغی سره.

**اخر الاسم**: دي سره بیان دضمیر کوی . **لاجتماع المثلین**: دلیل ، دویم توضیح بالمثال ، اول غرض : یاء به په یاء کښی ځکه مدغم کولی چی دا پشان کلمه واحده دي: دویم غرض : لکه مسلمین نه مسلمی جوړ شوي، **لاجتماع الواو والیاء**: دلیل ، دویم توضیح بالمثال، اول غرض : لاجتماع الواو والیاء والاولی منهما ساکنة سره ذکر کوی، دویم غرض : لکه مسلمون **لانها لما انقلبت یاءً**: دلیل ذکر کوی او دویم غرض توضیح بالمثال کوی دومسلمی سره، **وفتحت الیاء**: تعین دیاء کوی چی مراد ددینه یاء دمتکلم ده، **التی مرالبحث**: دفع اعتراض، هغه دا چی اسماء سته خو مونږ نه پیژنو؟ **جواب**: اسماء سته خو معلوم دي مخکښی ئی ذکرتیر شوي . **ای فالحال**: قاعده کلیه ذکر کوی چی حال په اخ او اب ددغه اسماء سته څخه چی کله ئی اضافت وشی یاء دمتکلم ته نواخی او ابی به ویلی شی بغیر د رد دمحذوف نه پشان د (یدي) او (دمی) او هغه محذوف به نسیا منسیا وګرځوی، **ویرد لام الفعل فیهما**: دلیل، دویم جواب : اول غرض : مبرد وائی چی لام کلمه به را واپس کوی په دي اخی او ابی کښی او دلیل دیو شاعر قول پیش کوی چی هغه داشعر دي لکه وابی مالك ذولجار بدار، **واجاب عنه المصنف**: دي سره جواب وکړو مصنف چی دا دقیاس او استعمال دنحاة نه خلاف دي او ماتن وائی چی دا احتمال هم لري چی پدي شعر کښی مقسم به دا جمع وی ابی جمع داب اصل کښی ابین وو نون دوجی داضافت نه یاء دمتکلم ته ساقط شو او یاء په یا کښی مدغم شو او ددي مثال هم شته ذي، شعر

فلما تبین اصوتنا وابکین وفدیننا باالابینا

**وانما فصلهما عن اخی وابی**: دفع اعتراض، هلکه ! بناء دمتونو په اختصار سره وی نو حمی او هنی به دي هم د ابی او داخی سره ذکر کړی وی؟ **جواب**: دا موځکه

Maktaba Tul Ishaat. com



جدار راوړل چی پدیکښی دمبرد نه خلاف ندي منقول په قول مشهور سره اویو قول غیر مشهور سره هغه پدیکښی هم خلاف کړي. **ای جواز حم**: معنی دمطلقاً ذکر کوی چی په حم کښی په مثل ددغه اسماء اربعه وو جواز شته دي په حالت دافراد او اضافت دواړو کښی. **ای فی الافراد والاضافة**: معنی دمطلقاً ذکر کوی. **لانه وضع وصلة**: دلیل، دویم دفع اعتراض، دریم بیان داعتراض، څلورم جواب: اول غرض: دلیل د ذو اضافت اسم ضمیر ته ځکه نه کیږي چی دا وضع کړي شوي دپاره دتوصیف دشی په اسم جنس سره. **اضیف الیه**: دفع اعتراض: هلکه! ته وائی چی اضافت د ذو اسم ضمیر ته نه کیږي زه به درته وښایم چی ذو اضافت به ضمیر ته شوي وي شعر:

انما یعرف ذو الفضل من الناس ذؤووه:

**جواب**: دا شاذ دي **ولوقیل**: بیان داعتراض: هلکه! دلا یضاف الی مضمر په ځاي ئی چی لا یضاف الی غیر اسم الجنس ویلی وي نو دا به ډیر اشمل وو ځکه هغه ضمیر چی اسم جنس وی نو هغی ته به هم شامل شوي وي او هغه اسم ظاهر چی اسم جنس نه وی هغه به ترینه وتلی وي. **وکانه خص المضمر**: جواب: خلاصه دجواب داده چی دلته مونږ د ذو تول احکامات نه ذکر کوو بلکه خاص حکم ئی ذکر کوو چی هغه دا چی د ذو اضافت ضمیر ته نه کیږي او هر چی اسم ظاهر ته کیږي او که نه هغی سره ئی زمونږ کار نشته دي. **ولا یقع**: دلیل ئی دادي چی مقطوع عن الاضافة ځکه نه راځی چی ګرځولی ددي وسیله دپاره دتوصیف په اسم جنس سره دا نه وی مګر په اضافت دده سره اسم جنس ته.

## د توابع بیان

هر کله چی فارغ شو مصنف دمتبوعاتو نه نو شروع ئی وکړه په توابعو کښ **وهو جمع تابع**: دفع اعتراض: دویم دفع اعتراض: اول غرض: هلکه! توابع جمع تابع ده او فاعل دا جمع کیږي په فاعلون سره نه په فواعل سره نو تا څرنګه تابع جمع کړي په فواعل سره؟ **جواب**: توابع دا جمع دتابع ده او تابع دا په وزن دفاعل دي او دا دصفتی نه اسمی ته نقل شوي او فاعل اسمیی دا جمع کیږي په فواعل سره نه په فاعلون سره نوځکه تابع جمع شوي په توابع سره. **والمراد بها**: دفع اعتراض، هلکه ته وائی چی تابع

Maktaba Tul Ishaat. com



دا کل ثان باعراب سابقة ته وائی نو تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه (اِنّ اِنّ) او ضرب ضرب ځکه دوي کل ثان دي او باعراب سابقه ندي معرب ځکه ان دا حرف او ضرب فعل دي او دا خو مبنی وی؟ **جواب:** مراد په توابع سره هغه توابع دمرفوعاتو او دمنصوباتو اومجروراتو دي کوم چی اقسام داسم دي او ان دا خو حرف دي او ضرب فعل دي. **ای کل متاخر:** دفع داعتراض، دویم متعلق دباعراب دپاره، اول غرض دفع داعتراض، هلکه تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه تابع ثالث او رابع ځکه دا خو کل ثان ندي؟ **جواب:** مراد د ثانی نه هر متاخر دي چی په اعتبار دمخکښی سره ئی واخلی نو هر یو بل ته ثانی دي نو ثالث او رابع هم پکښی داخل شو. **متلبس:** دا متعلق دباعراب دپاره دي او مجرور ځکه دي چی صفت دي دپاره دثان.

**ای بجنس اعراب:** معنی باعراب سابق، دویم متعلق دمن جهة واحدة ، اول غرض دا چی تابع به معرب وی په جنس داعراب دسابق باندي یعنی دمتبوع ، دویم غرض: من جهة واحده دا متعلق دي په ناشئ پوري او دا هم صفت دي دثان دپاره، **شخصية:** دفع دتوهم ، دویم توضیح بالمثال، دریم فوائد دقیودو، څلورم دفع داعتراض، پنځم بیان داعتراض، شپږم جواب : اول غرض : دفع دتوهم متوهم به دا وهم کولو چی مراد دوحدت نه به وحدت جنس وی نو بیا خواعراب دتابع عام دي که مرفوع وی که مجرور که منصوب وی ځکه دا دریو واړه دجنس دسابق نه کیدي شی نو دهٔ دا توهم دفع کړو چی مراد دوحدت نه وحدت شخصی دي چی وحدت به ئی ورسره په شخصیت کښی که سابق مرفوع وی خودا به هم مرفوع وی او که منصوب او مجرور وی نو دابه هم مجرور وی او منصوب به وی. **مثل جاء نی زید العالم:** دي سره دویم غرض توضیح بالمثال ذکر کوی، **فقوله کل ثان:** دي عبارت سره فواید دقیودو ذکر کوی **واعلم ان المعتبر:** دفع داعتراض هغه دا چی تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه دا ترکیب چی جاءنی هو لاء الرجال دلته الرجال ثان دي او معرب باعراب سابقه ندي؟ **جواب:** مراد داعراب دسابق دا عام دي لفظاً وی که تقدیراً وی او که محلاً وی او بیا حقیقتاً وی او که حکماً وی نو هو لاء دلته محلاً مرفوع دي ځکه که

Maktaba Tul Ishaat. com



پدې ځائې يو اسم معرب واقع وي نو هغه به خامخا مرفوع وي.

**ثم ان لفظة كل:** بيان داعتراض ايراد دكل په تعريفاتو كښې دا مستكره دي ځكه دا راځي دپاره داحاطې دافرادو او تعريف دماهيت په افرادو سره نه كيږي بلكه دماهيت په ماهيت سره كيږي ، (ځكه دافرادو تعريف دچند خانو تول دي چې يو تلې بل به ترينه پرې وځي . )

**والحد مدخول كل:** جواب تعريف دلته دمدخول دكل نه شروع شوي نو لهذا په تعريف كښې دا داخل نشو او دويمه وجه داده چې يو اصطلاح دمنطقيانو ده او هغه دلته نده مراد او بله اصطلاح داهل عربيه ده او نحات يعني اهل عربيه كل دا راوړي په تعريفاتو كښې دپاره دجامعيت او مانعيت ځكه كل چې كله داخل شي په تعريف نو دمحدود په ټولو افرادو حد صادق شي نو مانع وګرځي په دي صورت كښې او محدود منحصر شي په خپلو افرادو كښې، يعني دتعريف په افرادو كښې نو جامع وګرځي خپلو افرادو لره،

## د نعت بيان

نعت ئې مقدم كړو په نورو توابعو باندې ځكه چې دا په متابعت كښې دماقبل سره اؤفر وي (يعني مكمل) وي او دويم دا چې دا اكثر استعمالاً دي. **جنس:** دي سره فوائد دقيودو ذكر كوي **اى يدل بهياة:** بيان دمتن كوي، **اى دلالة مطلقة:** معنى دمطلق ، دويم فائده ددې قيد، اول غرض: دا نعت به دلالت كوي په هغه معنى چې په متبوع كښې وي غير مقيده په يوې خاصې مادې پورې دموادو نه. **احتراز عن سائر التوابع:** فائده دمطلقا قيد. پدې مطلقا قيد سره دنورو توابعو نه احتراز راغې ځكه نور توابع په يوه خاصه معنى باندې دلالت كوي بغير دمتبوع نه او نعت سره دومتبوع نه چې دا دواړه مركب واخلې په يوه معنى باندې دلالت كوي نه دا چې تابع چې دا نعت دې په يوه خاصه معنى ځانته دلالت كوي.

**اى فائده النعت:** دي سره بيان ضمير كوي، **اذ الوحدة تفهيم:** تطبيق دمثال دممثل سره كوي، دويم توطيه او تمهيد ، اول غرض تطبيق ، په نفخة واحده كښې واحده دپاره دتاكيد دي ځكه وحدت دا دنفخة دتاء نه معلوميده نو واحده سره پكښې تاكيد راغلو. **ولما كان غالب مواد الصفة:** دي سره توطيه او تمهيد دپاره دو لا

Maktaba Tul Ishaat. com



فصل متن ته ذکر کوی، **ای لافرق**: دي سره معنی د لافصل ذکر کوی، **فی صحة وقوعه**: دفع اعتراض : هغه دا چی هلکه فرق خو په مابین دنعت مشتقه او جامده کښی شته یو مشتق دي او بل جامد؟ **جواب**: په اعتبار د ذات سره خو پکښی فرق شته خو په اعتبار دصحت دوقوع دنعتیت کښی پکښی فرق نشته، دواړه نعت واقع کیدي شی. **اذا کان وضعه**: **ای وضع غیر المشتق**: دي سره بیان دضمیر کوی دوضعه ای لغرض الدلالة دي سره شارح اشاره کوی چی مراد دمعنی نه خاص معنی مراد ده او غرض ئی پکښی دفع داعتراض ده او هغه دا چی هلکه دي قید ته چی لغرض المعنی هیڅ ضرورت نشته ځکه چی لفظ موضوعه شو نو هغه خو په یوه معنی دلالت کوی؟ **جواب**: مراد دمعنی نه هغه خاصه معنی ده کومه چی په متبوع کښی ده، **ای فی جمیع الاستعمالات**: دي سره معنی دعموماً ذکر کوی، **فان التمیمی**: دي سره تطبیق دمثال دممثل سره بیانوی ای فی بعض الاستعمالات ، معنی دخصوصاً دویم فرق اول غرض دا چی دلالت به کوی په بعض موضعو کښی په حصول دمعنی باندي په یو ذات کښی او دویم غرض فرق، په دغه کښی چی په بعض مواضعو کښی په حصول دمعنی باندي دلالت کوی په یو ذات کښی نو نعت به واقع کیداي شی او که نه ئی کولو نو نشی واقع کیداي، ای کامل فی الرجولیة : دي سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی، **فان هذا**: تطبیق دمثال دممثل سره، دویم اختلاف بیانول دي، دریم وذهب بعضهم ، دي سره اختلاف ذکر کوی بعض وائی چی دلته الرجل دا بدل دي او هذا دا مبدل منه دي، او بعض وائی چی هذا مبهم دي او الرجل دا ورلره عطف بیان دي، **ای بزید**: دي سرتطبیق دمثال دممثل سره کوی، **لان الدلالة** : دلیل ، دویم فایده دجملی خبریه ، اول غرض بې جمله دا نعت ځکه واقع کیدای شی لکه څرنګه چی مفرد دلالت کوی په دغه معنی وانما قید الجمله الخبریه : دي سره فائده د جملهٔ په خبر قید سره ذکر کوی ځکه انشائیه دا صفت دنکري نه واقع کیږي مګر په تاویل بعیده سره. **ویلزم للربط**: دلیل ، دویم توضیح بالمثال ، اول غرض : دلیل، په جمله کښی عاید ځکه ضروري دي چی ماقبل سره دجملی ربط نه وی مستقله وی نو په دغه ضمیر سره به ئی ربط راشی، او دویم غرض توضیح بالمثال لکه جاءنی رجل ابوه قایم. **ای بحال**: دي سره معنی

Maktaba Tul Ishaat. com



دتوصیف ، دویم توضیح بالمثال ، اول غرض معنی دیوصف بحال الموصوف داده چی دا موصوف پداسي حال موصوف وي چی قائم وي پدي موصوف پوري دويم غرض ، لکه مررت برجل حسن .

**ای متعلق الموصوف:** دي سره معنی دمتن ذکر کوی چی دي موصوف لره صفت اعتباري وی چی حاصل دي ده ته په سبب دمتعلق سره، اذ کون الرجل : تطبیق دمثال دمشل سره کوی، **الا اذا کان صفة** : دي سره تتمیم دمافات دماتن کوی هغه دا چی دصفت بحاله مطابقت دخپل موصوف سره ضروري ندي چی کله دا صفت داسي صفت وی چی مذکر او مونث پکښی برابر وی لکه فعول په معنی دفاعل سره لکه رجل صبور او امراة صبور ، یا فعیل په معنی دمفعول سره لکه رجل جریح او امراة جریح . او یا صفت دمونث وي خواطلاق ئی په مذکر هم کیږي لکه علامة **وهی الرفع:** دي سره بیان دخمسة اول کویو وهی ایضاً دي سره بیان دخمسة باقی کوی **یعنی ینظر الی فاعله:** معنی دمتن، دویم توضیح باالامثلة ، دریم اعتراض، څلورم جواب اول غرض معنی دمتن داده چی دصفت فاعل ته به کتلي شی که فاعل اسم ظاهر وو برابره خبره ده چی افراد او تثنیه او جمع وی نو صفت به پشان دفعل واحد راوړي شی او که فاعل دصفت مذکر وی یا مونث حقیقی وي بلا فصله نو صفت به دفاعل سره وجوباً مطابق راوړي هم په اعراب او هم په تذکیر او تانیث او افراد او تثنیه او جمع کښی، او که فاعل مونث غیر حقیقی وو یا حقیقی وو خوسره دفاصل نه وو نو بیا جواز دي په تذکیر او تانیث کښی، **تقول مررت برجل:** ددي ځائ نه توضیح باالامثله ذکر کوی، **فان قلت:** بیان داعتراض هغه دا لکه څرنګه وصف بحال متعلقه دا په خمسه باقیه کښی پشان دفعل دي دا رنګی وصف بحاله هم په خمسه باقیه کښی پشان دفعل دي ځکه فاعل دوصف دا پشان دضمیر مستکنه دي په فعل کښی چی راجع وی موصوف دفعل ته او دفعل اسناد چی ضمیر ته وشی نو په افراد تثنیه او جمع او تذکیر او تانیث کښی دفاعل سره برابر وی نو دغه رنګی وصف بحاله د ددغه ضمیر سره برابر شی او پشان ددغه فعل دي شی .

**قلنا المقصود الاصلی:** جواب : مقصود اصلی په دي مقام کښی هغه بیان دنسبت دوصفی نو دي موصوف ته په اعتبار دتبعی او عدم تبعی سره نو اول دا تابع دي

Maktaba Tul Ishaat. com



دموصوف سره په امور عشره ؤ کښې او دي دپاره قاعده وه اګرچې مشابه دي دفعل سره په خمسه باقیه کښې خو دغه مشابهت دي وصف لره دمتابعت نه نه وباسی او هر چې وصف بحال متعلقه دي نو ددي دپاره خمسه باقیه کښې دمتابعت لپاره څه قاعده نه وه نو مونږ حکم وکړو په عدم تبعیت سره او دا مو وویل چې دا به پشان دفعل وی، **من ثم**: بیان دمشار الیه کوی شارح ددینه وروسته **لانه بمنزلة**: دي سره دلیل ذکر کوی چې قام رجل قاعدون غلمانه ولی ضعیف دي. **ویجوز من غیر حسن ولا ضعف قعودٌ غلمانه وان کان قعود**: دي سره دلیلین ذکر کوې ددي لپاره چې پدیکښې نه حسن شته او نه ضعف : **والمضمر لا یوصف لان ضمیر المتکلم**: دلیل، دویم دفع اعتراض، اعتراض دادي چې دضمیر صفت نشی راتلی ځکه چش صفت راځی دپاره دوضاحت نو صفت موضحه دي نه وی بلکه صفت ذامه او مادحه دي وی جواب وصف موضحه په دي باندي وصف ذامه او مادحه دواړه حمل دي. **ولا یوصف به لانه لیس فی المضمر معنی الوصفیة**: دلیل، دویم تعدد دنسخو، دریم دفع اعتراض، ولهذا اعتذر الشارح رضی. دفع اعتراض هغه داده چې په دوهم غرض چې تعدد دنسخو دي کښې ویل کانه لم یوقع فی بعض النسخ نوشارح رضی خو ددي لپاره عذر بیان کړي نو دده عذر خو بیان صحیح نشو عذر شارح رضی داسي کړی چې مصنف دا خبره ذکر نه کړه چې لا یوصف باالضمیر وائی ځکه چې دا خبره دماتن ددي قول نه معلومیدله چې والموصوف اخص او مساوٍ له نو بهر حال دشارح رضی عذر صحیح نشو ځکه ماتن خو ذکر کړي چې . **ولا یوصف به**: جواب دا عذر د شارح رضی بناء دي په هغه نسخه چې دا پکښې نشته، **والمنقول عن سیبویه**: دفع داعتراض درجه بندي دمعارفو ذکر کوی، **فلو وقع اخص نعتاً**: دفع داعتراض، اعتراض دادی چې که موصوف اَللام وی او صفت ورلره اسم اشاره راشي نو دا به څرنګه وی؟ **جواب**: که چیرته واقع شی اخص نعت لپاره دغیر اخص نو دا به محمول وی په بدل باندي موصوف به نه وی . **ای باب اسم الاشارة**: دفع داعتراض، اعتراض دادي چې تاوویل چې موصوف به اخص وی نو پکار داده چې داسم اشاره دپاره ذي اللام صفت راوړلی شی دغه شان موصول دي هم ورلره صفت راوړلی شی او مضاف الی احدهما دي هم ورلره صفت راوړلی شی او سره ددینه چې تاسو وائی

Maktaba Tul Ishaat. com


چی وانما التزم وصف باب هذا بذي اللام مثل مررت بهذا الرجل. **للابهام**: دي سره جواب ذکر کوی.

## د عطف بیان

یعنی المعطوف بالحرف ، عطف په لغت کښې امالی ته وائی یعنی میلان دیو شي بل شی ته او دلته هم میلان او راوړل دمابعد دي ماقبل ته په حکم کښې چی دا ما بعد د ماقبل سره پدي حکم کښې شامل دي لکه جاءنی زیدٌ وعمرٌ دلته زید او عمر دواړه په حکم دمجیئت کښې سره یو دي دلته ماتن دعطف معنی لغوی نه ذکر کوی چی ددي تعریف کوی بلکه دمعطوف بالحرف تعریف کوی. **تابع مقصود ای قصد**: دي سره معنی دمقصود ذکر کوی یعنی قصد دنسبت ددي تابع یو شی ته یا نسبت دیو شی دي تابع ته، **باالنسبة الواقعة فی الکلام**: په الواقعة قید ذکر کولو سره شارح اشاره کوی دي خبري ته چی په بالنسبة کښې الف لام عهد خارجی دي مراد پدي سره هغه نسبت دي چی واقع وی په کلام کښی ، **فقوله بالنسبة**: دي سره شارح دبالنسبة متعلق ذکر کوی چی بالنسبة جار مجرور متعلق دي په قصد پوري چی کوم فهم کیږي د المقصود نه، **مع متبوعه ای کما یکون**: معنی دمع متبوعه ، دویم توضیح بالمثال، دریم فواید دقیودو، څلورم اعتراض، پنځم جواب شپږم توطیه او تمهید دمتن آتی دپاره، اول غرض : دمتبوعه داده لکه چی څرنګه چی دا مقصود وی په دغه نسبت سره چی کوم نسبت واقع دي پدي کلام کښی دغه شان متبوع ددي تابع هم مقصود دي پدي نسبت سره، لکه جاءنی زیدٌ وعمرٌ، **فقوله مقصود بالنسبة**: دي سره دریم غرض فواید دقیودو ذکر کوی : **قیل**: اعتراض دادي چی تعریف بالحرف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه هغه معطوف چی په، لا، بل، لکن، ام، اما، او ، او په ای سره وی ځکه خارج شو چی په معطوف بالحرف کښی نسبت واقع وی په دغه کلام کښی او کوم عطف چی په دغه حروف سته سره وی نو هلته خو مقصود په نسبت سره احد الامرین من التابع او المتبوع وی. **واجیب**: جواب دادي چی مراد دي سره چی مونږه وایو چی دا متبوع به مقصود بالنسبة وی دادي چی نه به وی ذکر دا مبتوع توطیه او تمهید لپاره ددغه ذکرشوی تابع، او چی مونږه دا وایو چی دا تابع به مقصودوی پدي نسبت

Maktaba Tul Ishaat. com



سره هغه دا چی نه به وی دا تابع پشان دفرع په متبوع باندي بغير د استقلال دتابع نه یعنی چی تابع مستقل ندي بلکه دا تابع به مستقل وی شك نشته پدي خبره کښی چی معطوف عليه پدي حروفو سره چی کوم دا مخکښی شپږ حروف دي دا دواړه مقصود وی په نسبت سره يو ځائ په همدي معنی سره يعنی پدي حروفو سره چی کوم معطوف او معطوف عليه راځی هلته دغه دواړه معانی شته دي نو صحيح شو هغه دواړه معانی نو خارج نشو بلکه متبوع او تابع دواړه مقصود شول

**ولما تم الحد**: دي سره توطيه او تمهيد ذکر کوی دمتن اتی لپاره، **ولم يكتف**: بيان داعتراض، دويم جواب ،دريم تائيد دخپل ځان دپاره ذکر کوی، څلورم قول آخر، اول غرض : اعتراض دادی چی بناء دمتونو په اختصار سره وی داسي تعريف به دي کړی وي چی العطف تابع يتوسط بينه وبين متبوعه احد الحروف العشرة نو ديته به ضرورت نه وو چی مقصود بالنسبة او تعريف به هم پوره شوي وو. **لان الحروف**: جواب داسي ئی ونه ويل ځکه کله دموصوف او صفت ترمينځ هم دا حروف عشرة راځی نو بيا به په موصوف او صفت باندي تعريف دتابع معطوف بالحرف صادق شوي وي نو تعريف به مانع نه وو دخول دغير نه داخل شوي به وو پکښی موصوف او صفت ځکه چی ددوي په مينځ کښی هم دا حروف عشرة راځی کنا الشاعر والدبيرلها جهتان الخ.. د دي سره به فرق په مابين دعطف او صفت کښی هم ذکر کړي **وقيل قد جوز الزمخشرى**: دي سره تائيدو دخپل ځان دپاره ذکر کوی، **وقال بعضهم**: دي سره قول اخر ذکرکوی، **وذلك لان المتصل المرفوع**: دليل ، دويم فائده دمتصل ، دريم فايده دمرفوع **فان الضمير**: سره دويم غرض ذکر کوی او وکذا ان کان متصلاً منصوباً سره دريم غرض ذکر کوی **بين الضمير المرفوع المنفصل**: دي سره معنی دمتن ذکر کوی، **ای ترك التاكيد**: بيان دمرجع دضمير دترکه ذکر کوی، سواء سره قسمين دفصل ذکر کوی، **بعده**: مثال د دوهم قسم دفصل دپاره، دويم **وانما قال يجوز تركه**: سره بيان دئوي فائدي ذکر کوی، دريم **واعلم**: دي سره بيان ديوي بلی فايدي هم کوی نو گويا دا بله فايده هم شته او بيان هم شته او بيان ديو قسمه اختلاف هم پکښی شته دي. **واذا عطف على الضمير المجرور اعيد الخافض حرفاً كان او اسماً**: تعميم، دويم دليل، دريم دفع داعتراض ،

Maktaba Tul Ishaat. com



څلورم دفع اعتراض، پنځم دفع اعتراض، اول غرض دادي چې دا جز علم وی او که حرف وی او که اسم وي. **لان اتصال الضیر المجرور**: دي سره دلیل ذکر کوی، **ولیس للمجرور ضمیر منفصل**: دفع داعتراض هغه دا چې کله عطف کوی په ضمیر مرفوع متصل باندي نو دا به موکده وی په ضمیر منفصل سره اولاً او بیا به پري عطف کوی نو دلته هم چې کله عطف کوی په ضمیر مجرور متصل باندي پکار دي چې تاکید ئی وکړي په ضمیر مجرور منفصل سره اولاً او بیا به پري عطف وکړي داسي ولي نه کوی؟ **جواب**: دادي چې ضمیر مجرور منفصل خو راځی نه نو څنګه به پري دضمیر مجرور منفصل تاکید وکړي. **وفی استعاره المرفوع**: دفع داعتراض، اعتراض داده چې صحیح ده چې ضمیر مجرور منفصل نه راځی لیکن استعاره به وکړو دضمیر مرفوع منفصل لپاره دتاکید دضمیر متصل، ؟ **جواب**: تاکید دضمیر مجرور متصل ضمیر مرفوع منفصل کښي او چت والی دي او چې مونږه ئی استعمال کړو په ضمیر مجرور متصل خو ښکته وی، او بله وجه داده که مونږه داسي کار وکړو نو بیا به التباس راشی هغه داسي چې آیا دا ضمیر مرفوع منفصله تاکید لپاره دي او که دمخکښی فعل لپاره فاعل دي. **ولا یکتفی بالفصل**: اعتراض دا ده چې مخکښی دي وویل چې الاان یقع فصل یعنی چې عطف په ضمیر مرفوع متصل باندي کوی نو اولاً به دضمیر مرفوع متصل تاکید وکړي په ضمیر مرفوع منفصل سره او بیا به پري عطف وکړي خو که چیرته فصل واقع شی په مابین دضمیر مرفوع متصل کښی او په مابین دهغه څه کښی چې هغه پدي باندي عطف کیږي نو فیجوز ترکه یعنی بیا جائز دي ترک دتاکید چې دضمیر مرفوع متصل تاکید په ضمیر مجرور متصل کوی نو ووایه چې الاان یقع فصلٌ؟ **جواب**: په ضمیر مرفوع متصل کښی چې کله فصل راشی په ترک دضمیر مرفوع منفصل سره نو دلته خو دسره تاکید راتلی نشی نو اختصار به څرنګه وکړو په ترک دتاکید **فالمعطوف هو المجرور**: تطبیق دمثال دممثل سره کوی، دویم بیان دعامل، دریم بیان داختلاف، څلورم اعتراض، پنځم جواب : **والعامل مکرر**: دي سره بیان دعامل ذکر کوی. **وقیل جره بالثانی**: دي سره اختلاف ذکر کوی په یو ولسمه حاشیه کښی څه شته بیا لږ شانته هغی ته هم توجه وکړه چې کوفیان کوم قول دخپل قول

Maktaba Tul Ishaat. com


ددلیل لپاره راوړی دهغی نه په همدي حاشیه کښی څلور جوابه دي خو پدي جوابونو کښی څلورم جواب هسي یوه خبره ده بلکه څلورم ښه دلیل دادي چی تسالون به والارحام کښی دا ارحام منصوب دي مجرور ندي ځکه دا مفعول به ده دپاره دفعل مقدر چی ان تقع الارحام.

**فان قیل**: اعتراض داده چی تاکید او بدل او عطف ددوي په مینځ کښی خو فرق نشته دي او سره ددینه چی ته دا خبره کوی کله په ضمیر مرفوع متصل باندي عطف کوی نو لم یجز العطف الابعد التاکید بالضمیر المرفوع المنفصل او چی کله عطف کوی په ضمیر مجرور متصل باندي نو اعید الخافض یعنی دا حرف جر به معطوف کښی هم راوړي چی مجرور شی نو څرنګه دا خبره دلته په عطف کښی کوی او په تاکید او بدل کښی ئی نه کوی او سره ددینه چی ددوي په مینځ کښی فرق نشته دي. **قلنا**: دي اعتراض نه دشارح تفصیلی جواب ذکر کوی هغه دا چی ګوره وروسته په شرحه کښی په جواب کښی یو سخت لفظ دي چی طرفه الاتصال یعنی خالص اتصال معنی ئی ده، **بشرط ان لا یکون**: دي سره بیان دیو قید کوی او وروسته اذ ما قلنا او انما قلنا سره بیان دفوایدو دقیودو کوی. **واما نحورب شاة وسخلتها**: دفع اعتراض دادی چی وسخلتها عطف دي په شاة باندي نو دلته خو معطوف په حکم دمعطوف علیه کښی ندي ځکه چی معطوف علیه چی شاة دي نکره ده او رب پري داخل شوي دي ځکه دا درب تقاضا ده او په معطوف کښی چی یو وسخلتها دي د رب دخول نه صحیح کیږي ځکه دلته دسخلتها اضافت ضمی ته شوي دي پدي سره معرفه ګرځیدلی ده او رب خو په نکري داخلیږي ؟ **جواب**: دلته دوه جوابونه دي اول دادي چی دلته اضافت دسخله ضمیر ته عهد ذهنی دي او دغه شان اضافت دا په قوت دتکري کښی وي مدخول درب نکره شوه، دوهم جواب دادي چی په اضافت کښی دغه ها ضمیر نکره ده لکه په دي قول دعربی کښی چی ربه رجلاً دلته ۃ ضمیر ده ځکه رب په معرفه نه داخلیږي نو چی په سخلتها کښی ضمیر نکره شو نو سخله په اضافت سره نکره ونه ګرځیده نو تقدیر داسي شو چی رب شاة وسخله شاة **اذ لو نصب**: دي سره دلیل ذکر کوی. **ولما کان لقائل ان یقول**: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی دپاره دما سبق چی دا قاعده دي

Maktaba Tul Ishaat. com


منقوضه شوه پدي قول سره چې الذی یطیر فیغضب زید الذباب دلته الذی موصول یطیر فعل ضمیر مستتر پکښې فاعل دي او راجع دي موصول ته موصول سره دصلی نه دا معطوف علیه شو او فیضغب زید دا معطوف دي بیا دامعطوف علیه سره دمعطوف نه دا مبتدا شوه او الذباب ورلره خبر دي مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه، قاعده دا وه چې والمعطوف فی حکم المعطوف علیه نو دلته راشه الذی یطیر دامعطوف علیه دي نو دلته خو یطیر کښې ضمیر شته دي چې راجع دي موصول ته نو معطوف څرنګه په حکم دمعطوف علیه کښې شو او سره ددینه چې دا ترکیب جایز دي پکار خو دا وه چې داترکیب دي جایز نشي نو مصنف جواب ورکړو چې دا ترکیب جایز دي ځکه لانها ای الفاء جوابین ذکر کوی اول جواب دادي چې دا فاء دپاره دعطف نده بلکه لپاره دسبب ده نو اعتراض پرې وارد شو چې فاء خو مونږه دسبب لپاره نده اوریدلی نو ته څرنګه وائی چې فاء سببیه ده؟ **جواب:** فاء دپاره دسببیت دا معنی چې دهغه فاء لپاره نسبت وی سببیت ته یعنې چې معنی ددي فاء سببیت وی نه دعطف لپاره نو وراد نشو نقض پدي قاعده باندي چې والمعطوف فی حکم المعطوف علیه ځکه فاء عاطفه نده او یا فاء لپار دعطف ده خو خالص دپاره دعطف ده خو خالص دپاره دعطف نده بلکه معنی دسببیت پکښې پرته ده نو بیا هم پدي قاعدي څه نقض نه راځی ځکه چې پدي صورت ثانی کښې دا نسبت ګرځی جملتین لره پشان ته دجملی واحدي نو په اوله جمله کښې چې معطوف علیه یطیر دي دیکښې ضمیر دیا څې ربط شته نو په همدي اکتفاء وکړي شوه اګر که په معطوف فیغضب کښې ضمیر نشته دي بس دا پشان دجملی واحدي شو. **ویمکن:** دي سره جواب ثانی ذکر کوی هغه دا چې ممکنه ده چې پدي معطوف کښې ضمیر مقدر کړي نو تقدیر به بیا داسي چې الذی یطیر فیغضب زید بطیرانه الذباب نو صحیح شو معطوف په حکم دمعطوف علیه کښې شو ځکه دواړو کښې ضمیر شته دي او راجع دي الذی موصول ته نو ضمیر عام شو که ښکاره وي او که پټ دلته معطوف کښې پټ دي

**واذا عطف ای اذا وقع العطف:** دفع اعتراض دادي چې اذا عطف دا مجهوله صیغه ده معنی دا چې کله عطف وکړي شو نو بیا وروسته څرنګه ماتن وائی چې لم یجز

Maktaba Tul Ishaat. com



یعنی چې کله عطف وکړي شی په معمولینو دعاملینو مختلفینو باندي نو دا جائز ندي نو لم یجز صحیح نشو. **جواب:** واذا عطف دلته اسناد دفعل شوي مصدر ته اصل کښې دي اذا اوقع العطف .... نو لم یجز صحیح شو، بناء علی وجود عاملین شارح قید دوجود راوویستلو اشاره کوی متعلق دعلی عاملین ته، **بان عطف اسمان:** معنی دمتن، دویم جواب ثانی، دریم جواب ثالث ځلورم فوائد دقیودو وقال بعض شارحی اللباب ، دي سره جواب ثانی ذکر کوی بعض شارحینو دلباب نه، واکثر الشارحین. دي سره جواب ثالث ذکر کوی **وانما قال:** دي سره فواید دقیودو ذکر کوی، **ای غیر متحدین:** معنی دمختلفین ، غرض ددي مختلفین قید ، دریم مثال، ځلورم دفع اعتراض، **وذالک لدفع وهم:** دي سره غرض دمختلفین قید ذکر کوی، **وذالک العطف:** دي سره مثال ذکر کوی فهذا وان کان، ځلورم دفع داعتراض داده چې دا خو جایز شو دا نه ګوري چې راغلی دي نوڅنګه وائی چې لم یجز ؟ **جواب:** دا اګرکه په اعتبار دظاهر سره جایز دي لیکن ندي په نزد د جمهورو په اعتبار دحقیقت سره لان الحرف الواحد سره دلیل ذکر کوی چې څرنګه جایز ندي په اعتبار دحقیقت سره، **خلافا للفراء فانه یجوز:** مذهب دده په وعدم جواز العطف سره توطیه او تمهید ذکر کوی دمتن اتی دپاره **یعنی الافی صورة تقدیم المجرور:** قاعده کلیه ذکر کوی، دویم لمجیئة الخ ... سره دلیل ذکر کوی خلافا لسیبویه مذهب دده تاویل دده ذکر کوی ای حاله شانه عند السامع معنی د امر ذکر کوی چې کوم امر ذکر شوي په التاکید تابع یقر امر المتبوع کښې راغلی دي چې امر دمتبوع ثابتوی هلکه متبوع خه امر کړي دي چې دا تاکید ئې ثابتوی ورلره، ای فی کونه منسوبا او منسوب الیه. معنی د فی النسبة ذکر کوی، فایده دتاکید ذکر کوی په **وذالک اما لدفع ضرر الغفلة:** توضیح بالمثال ،

## د تاکید بیان

**اوفی الشمول ای التاکید:** اشاره کوی قاعدي دعطف ته، معنی دشمول ذکر کوی، **واذا عرفت سره فواید:** دي سره قیودو ذکر کوی، دفع اعتراض، **وافادتها توضیح متبوعها:** دفع اعتراض داده چې تاویل چې تاکید دیته وائی چې تابع یقرر امر المتبوع نو صفت خو هم بعضی ځائی کښې یقرر امر المتبوع وی چې هغه توضیح دمتبوع

Maktaba Tul Ishaat. com



- راولی نو بیا دیته هم تاکید ووایه، ؟ **جواب:** تاکید چی تقریر دامر دمتبوع راولی دا بالوضع دي یعنی دا تاکید ددي لپاره وضع شوي دي چی یقر امر المتبوع او پاتی شو هغه وضاحت دموصوف دمتبوع راولی خو بالوضع نه ځکه صفت وضع شوي وي دپاره د دلالت په هغه معنی چی کومه په متبوع کښی وي اصل معنی دموصوف وي **ای منسوب الی اللفظ:** دي سره وجه تسمیه ذکر کوی چی تاکید لفظی ته تاکید لفظی ولی وائی نو ځکه چی دا منسوب دي لفظ ته دوجی دحصول ددي تاکید لفظی نه دتکریر دلفظ نه دغه شان په تاکید معنوی کښی هم ځان پوه کړه. **ویجوزای التکریر مطلقاً:** دفع اعتراض داده چی یجري کښی ضمیر راجع دي تاکید ته نو معنی داسي شوه چی تاکید لفظی په ټولو الفاظو کښی جاري کیږي او سره ددینه چی دلته کښی تاکید لفظی صرف په اسما کښی راځی نه په حروفو او فعل کښی ځکه دا خو بحث ذاسم دي؟ **جواب:** په یجري کښی ضمیر راجع دي او مطلق تکرار ته نه هغه تکریر ته چی هغه تاکید اصطلاحی دي او مطلق تکریر بیا عام دي. هغه معطوف چی په بل سره وی دلته خو مقصود تابع دي لکه ما جاءنی زید بل عمرو؟ **جواب:** دا منم چی معطوف کښی مقصود متبوع نه وی بلکه ابتداً مقصود دمتکلم متبوع وی خو لیکن وروسته ورته دا ښکاره شوه چی عدم مجیئت دا خو زید ته ندي ثابت بلکه عمرو ته ثابت دي نو دمتبوع نه ئی اعراض وکړو او قصد دعدم مجیئت ئی عمرو لره وکړو چی زه خطاء شوي یم نو مقصود دواړه شو نو بدل په تعریف کښی داخل نشو معطوف ببل. **فان قیل:** دي سره بیان داعتراض کوی لیکلو ئی ضرورت نشته دي بلکه کتاب کښی ښه واضحه ذکر کوئ، ؟ **قلنا:** دي سره مکمل وضاحت سره جواب لیکلی دي. **ویمکن ان یقصد بنسبة الی شئی:** دي سره دهمدغه فان قیل اعتراض نه جواب اخر ذکر کوی چی هغه دادي ممکنه ده چی نسبت ددي فعل وشی متبوع ته نفیا او تابع ته اثباتاً او دا متبوع به هسي توطیه او تمهید شی لپاره دتابع نو دغه اعتراض وارد شو.

خو لیکن دا جواب ضعیف دي ځکه دا به شامل شی هغه بدل لره چی په الا حرف استثناء سره راغلی وي لکه ما جاءنی زیدٌ الا عمروٌ خو لیکن کوم ځائی کښی چی بدل راغلی وی او په الاسره نه وی نو بیا ورته دا خبره نه شاملیږي لکه ماجاءنی زید

Maktaba Tul Ishaat. com



اخوك نو دلته خو دمجيئت نسبت زيد ته هم نفياً دي چې متبوع دي او اخوك بدل ته هم نفيا دي نه اثباتاً ،

## د بدل اقسام

**وهواى البدل انواع اربعة:** اوس اقسام دبدل ذكر كوى چې بدل په څلور قسمه دي بدل الكل اى بدل الخ .. پدي سره وجهٔ تسميه ذكر كوى چې ولې ورته بدل كل وائى **فا الاول:** دي سره تعريف دهر يو ذكر كوى، يعنى متحدان ذاتاً : معنى دمتن دويم دفع دتوهم، دريم اختلاف، اول غرض: فا الاول اى بدل الكل مدلول الاول ددي معنى داده چې په بدل الكل كښې به مبدل منه او بدل متحد وى ذاتاً يعنى په خارج كښې به ما صدق عليه د دواړو يو وي، لان يتحد مفهوما هما : دي سره دفع دتوهم كوى هغه توهم دادي چې چا ويلى چې مفهوم د دواړو به يو وي نو شارح ورته وائى چې نه په بدل الكل كښې به مفهوم د دواړو يو نه وى مفهوم به ئې جدا جدا وى ځكه كه ددواړو مفهوم يو شى نو بيا خو مترادفين شو نو خلاصه داشوه چې مفهوم به ددواړو جدا جدا وى خو ليكن متحد به وي ذاتاً لكه جاءنى زيد اخوك نو دلته زيد او اخ اګركه مختلف دي مفهوماً خو ليكن دواړه متحد باالذات دي.

**قال الشارح الرضى:** دي سره اختلاف ذكر كوى مكمل په كتاب كښى شته دي **والثا نى اى بدل البعض جزؤه اى جزء المبدل منه** ، تعين دضمير كوى چې جزؤه كښې ضمير راجع دي مبدل منه ته، دويم توضيح بالمثال، لكه ضربت زيدا راسه، والثالث اي بدل الاشتمال ، دي سره ئې بيان دثالث وكړو چې هغه بدل الاشتمال دي : **بحيث توجب النسبه:** معنى دملابست، دويم توضيح بالمثال، دريم بيان دفرق، اول او دويم غرض كتاب كښى شته بخلاف زيدا حماره ، دي سره بيان دفرق كوى په مابين دبدل الاشتمال او بدل الغلط كښى، بغيرها اي تكون تلك النسبة دي سره بيان دهما دضمير كوى، دويم بيان دقسم اخر كوى، دريم دفع اعتراض اول غرض دا چې وى به دا نسبت بغير دكليت او جزئيت نه ، **فيدخل فيه:** دي سره بيان دقسم اخر كوى هغه دا چې داخل شو په بدل الاشتمال كښى هغه مبدل منه چې جزء وى دملابست سره چې كوم ملابست په بدل الاشتمال كښى دي لكه نظرت الى القمر فلكه . **وانما لم يجعل:** دي سره دفع اعتراض

Maktaba Tul Ishaat. com



هغه داده چې ماتن دغه بدل الکل من البعض قسم اخر يعنی پنځم قسم ولی ونه ګرځولو دبدل نه او مسمي ئی نه کړو په بدل الکل من البعض سره؟ **جواب:** داسي ئی ونه کړل لقلته وندرته بل قيل لعدم وقوعه فی احکام العرب نو هلکه دا مثالونه ئی چې بدل الغلط ان تقصد. ای ان يکون بان تقصد ، اشاره کوی شارح دي خبري ته چې ان تقصد الخ .. دلته عبارت په حذف دجر سره دي **ای ان يکون بان تقصد لان المضمر المتکلم؛** دليل؛ دويم فائده ددي قيد چې بدل الکل په بخلاف الخ ... سره عطف البيان ... يوضح متبوعه احترز فايده دقيد ديوضح متبوعه او په کتاب کښې مذکور دي، دويم رد ذکر کوی په ولا يلزم من ذالك سره چا ويلی چې عطف بيان دا اوضح وی دمتبوع خپل نه شارح پري رد کوی چې دواړه برابر دي په وضاحت کښې او دا وضاحت به په ذکر کولو ديوه سره نه حاصليږي بلکه په دواړو سره به حاصليږي.

**فان قوله بشر ان جعل عطف بيان الخ.** تطبيق دمثال دممثل سره کوی ، دويم تتميم دبيت کوی، دريم تشريح دمتن ، څلورم فرق معنوی، پنځم مراد دشعر واخره، دي سره تتميم دبيت کوی وعليه الطير ثانی مفعولی دي سره شارح تشريح دمتن کوی واما الفرق المعنوی دي سره فرق معنوی ذکر کوی والمراد بمثل دي سره مراد دشعر ذکر کوی.

**تمت بالخير**

**وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين**

**وصلی الله تبارك وتعالی علی خير خلقه محمد وآله وصحبه اجمعين برحمتك يا ارحم الراحمين**

**کاتب حبيب الله درويش فاضل امداد العلوم بجامعه درويش پشاور صدر**

**۲٤ مئی ۲۰۱٤**

**جديد مکتبه رشيديه سر پرست مولوی سيد محمد پروانی**

Maktaba Tul Ishaat. com

مکتبہ رشیدیہ

جی ٹی روڈ۔ اکوڑہ خٹک۔ نوشہرہ

0344-9084693

الفلاح

محلہ جنگی پشاور

0333-9173398

0345-6931477